



Ketabton.com

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||

کتاب :: فضل الرحیم د قران پاک پښتو تفسیر

لیکوال:: علامه محمد معین الدین ابوالفضل

خپرونکي :: دبېنوا پاڼه

دخپریدو طرز :: پرلپسې لړۍ

کمپوز/ ډیزاین ::خپله لیکوال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د(أعوذ بالله ) تفسيراو تحقيق :

-----------------------------------------------------------------------

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُ لِلَّهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرهُ وَنُؤْمِنُ بِهِ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا ،مَن يَّهْدِهِ اللهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلاَهَادِيَ لَهُ ، وَأَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلَهَ اِلَّااللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ .

أمابعد : فَيَقُولُ الْعَبْدُالْعَاصِيْ اَلخاطئ احقرالمخلوقين ابوالفضل محمد معين الدين ابن مقرء القران صاحب البنان المرحوم قاري بلوڅ غفرالله له هذاتفسيرالقران الكريم بلغة البشتو قدبذلتُ كل جهدي فيه في تفسيرايات القران الكريم كلمةً كلمةً ثم في تحقيقهاوتفصيلهاحرفاًحرفا بحيث يكونُ نافعاًاشدالنفع للعوام ومغنياً وكافياً غاية الاغناءوالكفاية للخواص وفقني الله لاتمامه وجعله الله سبباًلرضاه ولارضائه اياي في دنياه وعقباه ومقبولاًلكل مخلوقاته ونافعاًلعوامهم وخواصهم ورجالهم ونسائهم ،امين ويرحم الله عبداً قال امين .وهاانا اشرع وعلي الله اتوكل

د(أعوذبالله من الشيطان الرجيم ) ترجمه اوتحقيق :

( أَعُوذُ ) پناه غواړم ( بِاللهِ ) په خدائ ( مِنَ الشَّيطَانِ ) له شيطانه (الرَّجِيمِ ) ويستل سوي ،يا سنگسارسوي ــ يعني په لعنت سره د الله جل جلاله ،يا شړل سوي يعني له رحمت څخه د الله (جل جلاله )

يعني په قدرت اوپه حفظ ،اوساتنه د الله پاک سره، له هغه شيطان څخه پناه غواړم کوم چي د الله (جل جلاله) له رحمت څخه شړل سوئ دئ ،اود الله پاک د لعنت په ډېرو سنگسارسوئ او ويشتل سويدئ ـــ يعني له دي څخه په الله جل جلاله پناه غواړم چي شيطان ملعون و دين ،اوياودنياځما ته ضرر راورسوي ،اويادَئ ملعون ماله کولو څخه د هغه کار راوگرځوي چي الله پاک زه په کولو دهغه کارسره مأمور کړئ يم ،اويامي پرهغه کارباندي راوپاره وي ،راپورته مي کړي، باعث مي کړي کوم چي الله پاک زه له کولوڅخه د هغه کار منع کړئ يم .

ځکه شيطان هغه دښمن دئ چي له انسان څخه يې پرته له الله (جل جلاله) بل هيڅوک نه سي دفعه کولاێ .

## تفـــــصيل

پوسه چي ده اعوذبالله دويلو په حکمتوکښي يو حکمت مفسرينوداذکرکړيدئ چي دقران کريم په تلاوت شروع کول داسي مثال لري لکه يوڅوک چي ديوه بادشاه ودربارته اووحضورته ورداخليږي ، اودا معلوم خبرده چي دبادشاه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وحضورته بي له اجازت غوښتلويوڅوک نسي ورتللای نودقران کريم دتلاوت په سرکښي اعوذبالله ويل داسی مثال لري چي ګواکي دغه سړي له الله پاک څخه دده وعظيم حضورته کوم چي هغه دلته عبارت دئ له کلام پاک دده څخه دورداخليدلواجازت غواړي ، نواعوذبالله ويل په حکم کښي داجازت غوښتلوسودورداخليدلوودربارالهي ته ، خوزما احقر په قاصرعلم کښي داخبره راګرځي چي اعوذبالله ويل په حکم کښي ددي دئ چي ګواکي دغه سړي له الله پاک څخه دده ودربارته دورداخليدلواجازه وغوښتله اوالله پاک هم اجازه ورکړه . ځکه چي دبادشاه ودربارته صرف په اجازه غوښتلوسره يوسړي نسي ورداخليدلای ترڅوچي دبادشاه له لوري اجازه ورنه کړه سي، پاته سوه داخبره چي د اعوذبالله ويل په څه وجه وتلاوت کوونکي ته له الهي لوري څخه په حکم کښي داجازت ورکولوهم دئ نوددي جواب دادئ چي څرنګه چي الله پاک فرمايلي دي.

(فَأَذَاقَرَئْتَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَعِذْبِاللهِ مِنَ الشَّيْطَنِ الرَّجِيْمِ )يعنی نوهغه وخت چی اراده وکړی ته يعنی ای رسوله دقرائت دقران نوپناه وغواړه په الله سره له شيطان رټل سوی څخه

نوګواکي داالله پاک له طرفه وتلاوت کوونکي ته داسي فرمايل سويدي چي کله چي ته اعوذبالله ووايې نوزماله طرفه څخه وتاته اجازه ده چي زما ودربارته راداخل سي يعني زما دکلام په تلاوت شروع وکړي.

دوهم حکمت داعوذبالله په ويلو کښي دادئ چي اعوذبالله ويل داسي مثال لري لکه ويوه بادشاه ته چي ددي دپاره يوڅوک واسطه برابره کړي چي بادشاه دَيْ وخپل حضورته ومني، ځکه چي داعوذبالله په ويلوکښي دشيطان ملعون سخت توهين اومذمت موجوددئ اوله ده څخه دبيزاره کيدلو اظهار دئ اوداثابته خبره ده چي دبادشاه ددښمن توهين څوک وکړي اوله هغه څخه خپله بيزاري ښکاره کړي نودا ودغه بادشاه ته دتقرب سبب ګرځی نو څرنګه چي شيطان ملعون د الله پاک اودهغه ددوستانوپه دښمنانو کښي ترټولو لوی دښمن دئ نوپه دي وجه دده توهين اوله ده څخه دبيزارئ اظهار والله جل جلاله ته دنزديکت سبب ګرځي.

دريم حکمت داعوذبالله په ويلوکښي دادئ چي دقران پاک تلاوت وډيروداسي امورو ته ضرورت لري چي که تلاوت کونکئ هغه امورپه ځان کښي رانه ولي نو دثواب پرځاي به دغه تلاوت ود ته سبب دعذاب جوړسي لکه تصفيه دنيت اواخلاص اوحضوردزړه اودغه راز نورادبيات

پوه سه چي د شيطان لفظ په عربي زبان کښي يا له ( شَطَنَ) څخه مأخوذ دئ چي معنی يې ده : ليري سوئ . نوشيطان به په معنی د( بعيد) شي ، يعني ليري له رحمت څخه د خدائ پاک ، ايا ليري له هره خيره او پردغه تقديربه دشيطان په لفظ کښي نون له أصلي حروفو څخه سي .

اويا له ( شَاطَ ) څخه مأخوذ دئ چي په معنی د ( بَطَلَ ) دئ.پردغه تقدير به شيطان په معنی دباطل سي او الف اونون به دواړه پکښي زائد سي . (تفسير بيضاوي او مظهري )

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوه سه چي د شيطان لفظ كه څه هم په إبليس او دده په اولاده كښي شهرت لري، خو له دې سره سره و هر مُتَمَرِّد او سرکښه ته کوم چي په خپله هم گمراه وي اود نورو خلگو په گمراه کولوکښي هم کوښښ کوي هم شيطان ويل کيږي .

اونظر ودغي معنى ته شيطان پر دوه قسمه دئ : يو شيطان الإنس دئ ،اوبل شيطان الجن دئ لکه چي الله (جل جلاله ) په يوه مبارک آيت کښي فرمايلي دي :

)وَكَذَالِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَاطِينَ الإِنْسِ وَ الْجِنِّ(

يعني اواې رسوله لکه چي تالره موږ شيطانان د انسانانو اودپيرانانو دښمنان گرځولي دي ،دارنگه هرنبي لره موږ دغه دواړه قسمه د شيطانانو دښمنان گرځولي ؤ .

مطلب دادئ چي هر هغه انسان چي په ظاهره شکل کښي خو انسان وي ،مگرله الله اود الله له دين څخه سرکښه وي ،اودمؤمنانو،مسلمانانو په دښمني کښي لوېدلئ وي .

اولکه څنگه چي په خپله بې دينه وي نور هم بې دينه کوي ،ودغه رازانسان ته هم شيطان ويل کيږي ،بلکه دغه قسم انسان تر أصلي شيطان ،دشيطان په نامه سره ډير لائق دئ .

ځکه چي اصلي شيطان چي جني شيطان دئ له دې وجي چي دَئ په حقيقت کښي له انسان څخه بيل دئ، د انسان ودين اودنياته دومره ضرر نه سي رسولائ لکه څرنگه چي يې إنسي شيطان رسولائ سي .

په موجوده وخت کښي چي انسي شيطانان بيخی ډيردی کوم چی په خپله هم بی لاری دي اونورخلگ هم بيخې په اسانی سره بی لاری کوی نوکه ددوئ پرحال باندی يوڅوک نظر واچوی نوپه دی به ښه پوه سی چی بيشکه چي انسی شيطان ترجنی شيطان ډيربددئ اودابه ورته معلومه سی چي څونه خلگ چي انسي شيطان له سمي لاري څخه اړوي نوجني شيطان دهغه په سلمه حصه کار نه سي کولائ . ځکه څونه خلگ چي په دغه حاضردَور کښي انسی شيطانانودخپلو شيطاني فريبونو په سبب په ډيره لږ موده کښي له سمي لاري څخه واړول اويايې اړه وی اوهمدارنگه څونه ضررچي د مسلمانانوودين اودنيا ته او د دوی ننگ او ناموس ته او د دوی و عنعناتوته دوئ وررسوی نوجني شيطانانو په پيړيو ،پيړيو عُشرعَشير دهغه نه سوائ کولائ .

پوه سه چي شيطان كه انسي وي اوكه جني وی د خروړي اويا دليوني سپي په مثال دئ د يوچا له كور څخه چي خروړئ ياليونئ سپئ پر يو چا باندي راوغورځي نو دغه سړئ ددغه سپي و مالک ته نارې وروهي چي وروره داسپئ دي دروگرزوه

(دأعوذ بالله ) د ويلو مطلب هم دادئ چي پروردگاره دغه ستاخروړئ او ليونئ سپئ چي شيطان الإ نس والجن دئ له ماڅخه دروگرځوه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کومو ځايوکښي (أعوذبالله ) ويله کيږي ؟

محترمو که څه هم د( أعوذبالله) ويل خو په هروخت کښي د مسلمان لپاره په کاردئ ،خو ځيني ځايونه د شرعي دلائلوله مخي د) أعوذبالله) ويلو لپاره په مشخص ډول په ګوته سوي دي چي اول له هغو ځايو څخه دقرآن کريم د تلاوت دشروع ځائ دئ ، چي کله يو مسلمان دقرآن کريم تلاوت شروع کوي نوپه سرکښي بي أعوذبالله وايې

په دليل ددې قول د خدائ (جل جلاله) چي :

]فَإِذَاقَرأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَنِ الرَّجِيْمِ [

يعني کله چي ته ،اې رسوله، د قرآن کريم د ويلواراده وکړې نوړومبئ (أعوذبالله من الشيطان الرجيم) وايه .

۲دوهم : دلمانځه په اول رکعت کښي له (سبحانک اللهم) څخه وروسته .

۳دريم په وخت دغضب کښي، لکه چي له سليمان بن صرد (رضي الله عنه) څخه روايت دئ چي ده وويل چي : دوو۲ نفرو دنبي عليه السلام په حضورکښي په داسي حال کښي چي موږ هم دده په حضورکښي ناست وو ويوه اوبل ته بَد رَد په داسي حال کي ويل چي هريو په غضب کښي ؤ ،اومخ يې تک سور ګرځيدلئ ؤ . نونبي (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل چي : بېشکه زه په يوه داسي کلمه عالم يم چي که چيري هر يوه له دوی‌څخه هغه کلمه ويلې وائ نودغه غصه اوغضب به ورڅخه تللئ وائ ،چي هغه کلمه (أعوذبالله من الشيطان الرجيم) ده .

۴څلرم : په وخت کښي د داخليدو وبيت الخلاء ته لکه چي له حضرت أنس (رضي الله عنه ) څخه روايت دئ چي نبي (عليه الصلاة والسلام) چي به کله اراده د داخليدو وبيت الخلاء ته وکړه، نو به يې وويل: اللّهم إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الخُبُثِ وَالخَبَائِثِ .

يعني اې الله پاکه بېشکه زه پناه غواړم په تا له نرانو دشيطانانو،اوله ښځو د شيطانانو .

۵پــــنــــځم : کله چي انسان دسپي غفا ،يا دخره اِنګاره واوري .لکه چي رسول (عليه السلام) فرمايلي دي : کله چي په شپه کښي تاسي د سپي غفا يا دخره اِنګاره واورۍ نو (أعوذبالله) واياست .ځکه چي دغه سپئ او خر په دغه وخت کښي هغه څهويني چي تاسي يې نه وينۍ .

٦ شپږم : د خوف او دويري په وخت کښي . لکه چي روايت دئ چي : داسلام پيغامبربه وخپلو أصحابوته داسي تعليم کاوه چي د ويري په وخت کښي دغه کلمې واياست ( أَعُوْذُبِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ وَمِنْ هَمَزاتِ الشَّيَاطِيْنِ وَأَنْ يَّحْضُرُوْنَ ) .

يعني پناه غواړم په کلمودالله پاک چي تامي اوپوره دي له غضب څخه دده اوله عذاب څخه دده اوله شرڅخه دبندګانودده اوله فريبوڅخه دشيطانانواوله دي څخه چي حاضريږي دوی ،يعني شيطانان وماته ،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷ اووم : پر یو چاباندي د دَم کولوپه وخت کښي . لکه چي روایت دئ چي نبي علیه السلام به پر حسن اوحسین باندي د دم کولوپه وخت کښي داسي ویل

)أُعِيْذُ ُكُمَا بِ ِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّ ةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَةٍ . (

۸ اتم : په وخت د داخلیدوکښي و مسجد ته . ځکه نبي علیه السلام چي به کله ومسجد ته داخلیدئ نو بې داسي ویل :

)أَعُوْذُ بِاللهِ الْعَظِيْمِ وبِ ِوَجهِ ِهِ الْكَرِيْمِ وَسُلْطانِهِ القَدِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ. (

یعني پناه غوام په الله ډیرلوی سره اوپه بلاکیفه وجهه یاپه ذات کریم دده سره اوپه باچاهي دده سره چي قدیمه ده له شیطانه رټل سوي څخه.

د(اعوذبالله) ښیګڼي،لطائفي،اوباریکۍ.

پوسه چي امام فخرالدین رازي د (اعوذبالله) ډیري په زړه پوري ښیګڼي اوباریکۍ ذکر کړیدي چي تفصیل یې په دي شرحه دئ.

اوله ښیګڼه یې داده چي کله یومسلمان ووایې چي (اعوذ) نوپه دي سره ده ګواکۍ په خپل فقراوحاجت اوپه خپل عجزاوناوسۍ اقراراواعتراف وکړچي اي الله پاکه زه فقیریم حاجتمند یم اوعاجزاوناوسه یم اوکله چي بیا (بالله) ووایې نوپه دي سره ده په دووشیانواقرار وکړ ،اول په دي چي الله پاک وماته پرراکولودتولوښیګڼو باندي اودارنګه له ما څخه پردفعه کولوباندي دټولوافتواومصیبتو قادردئ . اودوهم په دي سره چي له الله جل جلاله څخه پرته بل هیڅوک ددي توان او وس نلري چي وماته دي یاکوم خیرراورسوي اویادي له ما څخه کوم شر اوافت دفعه کړي.

اودوهمه ښیګڼه اوباریکي یې داده چي داعوذبالله په ویلو کښي ودي ته اشاره ده چي والله جل جلاله ته دقرب اودنزدیکت وسیله داده چي بنده خپل ځان په عجز او په احتیاج سره وپیژني اووالله جل جلاله ته دخپل عجز اظهار وکړي اوددي اظهاروکړي چي اي الله پاکه ته قادرمطلق یې اوهرڅه ستاپه اختیاراوپه قدرت سره کیږي همداسبب دئ چي دطریقت بزرګانو فرمایلي دي چي دولایت اودالله جل جلاله دمعرفت اودپیژندني په مقاماتو کښي اخیري مقام مقام دعجز دئ اودارنګه دوی فرمایلي دي چي هرڅونه چي بنده والله پاک ته ورنزدیکیږي نوهغومره دده دنفس شکستګۍ اوعجز زیاتیږي.

حضرت بایزید بسطامي رحمه الله تعالي په یوه مناجاتي کلام کښي فرمایلي دي. بیت

چار چیزاورده ام شاهاکه در ګنج تونیست ـــــ عاجزي ومسکنت فقروګناه اورده ام.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني ځلور شيان مي راوړيدي اي بادشاه يعني الله پاکه چي هغه ځلور سره ستا په خزانه کښي نسته اول عاجزي دوهم مسکنت دريم فقر اوځلورم ګناه.

داسلام پيغمبر په يوه مشهورحديث کښي کوم چي امام رازي هم په تفسير کبير کښي ذکرکړيدئ فرمايلي دي ( مَنْ عَرَفَ نَفْسَهُ فَقَدْعَرَفَ رَبَّهُ ) معني ددغه مبارک حديث داده چي هرچا که وپيژندئ ځان خپل يعني په ضعف اوپه قصور اوپه عجز سره نوپه تحقيق سره وپيژندئ ده رب خپل يعني په قدرت اوپه کمال اوپه جلال سره .

دريمه ښيګڼه اونکته اوباريکي داعوذبالله په ويلوکښي داده چي په دي کښي ودي ته اشاره ده چي شيطان ملعون چي دانسان تاريخي اوبنيادي دښمن دئ دَيْ دخپل عداوت اودښمنئ په مقتضي سره په هغه وخت کښي له انسان سره خپل مکراوفريب عملي کوي چي انسان دالله جل جلاله ديوه طاعت اوعبادت اراده وکړي.

ځلورمه نکته په اعوذبالله کښي داده چي په اعوذبالله کښي له الهي لوري ښځه وبندګانوته ددي خبري تعليم سويدئ چي نافرماني اوسرکښي دالله جل جلاله له حکمه ښځه سبب ددونه بدبختئ ګرځي چي بيا دالله پاک هرنيک بنده دده له قربه اووده له حاله اودارنګه دده له شر اوفساد ښځه پناه غواړي لکه چي ددي پرخلاف هغه ځوک چي دالله پاک اطاعت اوفرمان برداری يې کړې وي نوخلګ دهغه په نزديکت سره تبرک کوی او په دي کښي کوښښ کوي چي دده دعاګوېي اوبرکت اوفيض حاصل کړي

پنځمه نکته داعوذبالله په ويلوکښی داده چی داعوذبالله په ويلوسره وانسان ته هغه تاريخی پيښه پيادورځی کومه چی دادم عليه السلام اودابليس په منځ کښی په غه وخت کښی چی الله پاک ابليس وادم ته په سجده کولوسره امرکړاوپه هغه وخت کښ چی ادم عليه السلام اوحواءرضی الله عنها وجنت ته ورداخل کړه سول اوبيادشيطان په توسط له جنت ښځه راوايستل سوه،واقع سويده

## د ( بسم الله الرحمن الرحيم) : تفسير او تحقيق

لفظي ترجمه

(بسم) خاص په نامه سره (الله )دخدائ پاک (الرحمن) ډيرمهربانه په دنياکي پرهرچا( الرحيم ) ډيرمهربانه په آخرت کښي خاص پرمؤمنانوشروع کوم ياتلاوت کوم.

تفصيل اوعلمي تحقيق.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوه سه چي دالله (جل جلاله) دټولونومونو له جملې څخه په( بسم الله )کښي دغه درې مبارک نومونه چي ،الله، رحمن، اورحیم، دئ په دې وجه خاص کړه سوي دي چي انسان چي هرکارکوي که د دنیاکاروي ، اوکه دآخرت نودغه کاردده پر دروشیانوباندې موقوف دئ :

اول برابریدل د أسبابود هغه کار .

دوهم دوام اوبقا ددغو أسبابوله ابتدا د کارڅخه ،بیا تر انتها او ترپایه دکاره .

دریم مرتب والئ دګټو او د فائدو د هغه کار ، پر هغه کار باندې .

ځکه که أسباب د کار و سرې ته برابرنه سي ،نوکار نه سي کیدلائ . اودارنګه که دغه أسباب د کار تر پایه پوري دوام ونه لري نوکار پائ ته نه سي رسیدلائ . اوکه پر دغه کارباندې هغه ثمرې اونتیجې مرتبې نه سي کومې چي له دغه کاره څخه مقصود دي ، نوهم دغه کار عبث اوبې فائدې وګرځیدئ .

دمثال په ډول په دې موجوده روان حال کښي مسلمانان د شر او فساد ،اودکفراوالحاد اود اِرتِداد په مقابل کښي په جهاد مقدس مشغول دي ، نوجهاد د ټولو مسلمانانوپه مشترک ډول یوکاردئ .په دغه کارکښی مسلمانان

په اول قدم کښي ودې ته مجبوردي چي الله تعالی څه ناڅه د جهاد اسباب او وسائل و دوی ته وربرابر کړي

اوپه دوهم قدم کښي ودې ته مجبوردي چي الله پاک دغه أسباب او وسائل له دوی سره د برې تر وخته پوري دائم ولري .

اوپه دریم قدم کښي ودې ته مجبوردي چي الله ( جل جلاله)د دوی پر جهاد باندې هغه ثمرې او نتیجې مرتبې کړي ،دکومولپاره چي په اسلام کښي د جهاد وضعه راغلې ده .

نودکارپه ابتداکښي د کار داسبابو برابروالئ د(الله) دنامه کوم چي اسم ذات دئ اوپه اجمالي ډول یې په معنی کښي د خدائ ( جل جلاله ) دټولو اسماوو او صفاتو معناګانې پرتې دی له تصرفاتو او مقتضاګانو څخه دئ ..

او دوام او بقا دأسبابو له ابتدا دکارڅخه بیا تر پایه دکاره پوري ،مقتضی دنامه د (رحمن) ده .

او پرکارباندې د ثمرو او نتیجو مرتبوالئ مقتضی د نامه د ( رحیم) ده . نوپه دې وجه دغه درې نومونه په بسم الله کښي خاص کړه سویدي .

د بسم الله په اړه یو بل دقیق مضمون :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولیاءکرامو اود طریقت علماؤ فرمايلي دي چي ابتدا د بسم الله چي په مکسور یعني زیرداره حرف سره سوې ده ،په دې کښي الله پاک و مسلمانانو ته ددې خبري اشاره کړې ده چي ستاسي کامیابي اوستاسي د شان لوړوالئ په تواضع او خاکساري کښي دئ .

لکه چي د اسلام پیغامبر فرمايلي دي ( مَن تَواضَعَ لِلهِ رفعَه الله) ، یعني هرچا چي د الله ( جل جلاله ) د رضا دپاره عاجزي او خاکساري غوره کړه ،نو الله ( جل جلاله) به د مقام او د مرتبې په لحاظ و ده ته رَفعَت او لوړوالئ ورنصيب کړي .

اوهمدارنگه اولیاءکرامو فرمايلي دي چي ابتدا د(بسم الله ) چي په داسي حرف سره سوېده چي هغه یو ټکئ لري نوپدی کښی اشاره ده ودې ته چي معبُود، خالِق او مالِک ، اوحاکم د کائناتو یوذات دئ چي له هرقسم شریک څخه پاک دئ .

همدارنگه دوی فرمايلي دي چي ابتدا د( بسم الله) چي په داسي حرف سره سوې ده چي د هغه ټکئ دلاندي و طرف ته دئ نوپه دیکښی اشاره ده ودې ته چي انسان باید خپل ټول هغه شهوات او خواهشات وشاته وغورځوي کوم چی له إلهي ارشاداتو سره ټکروی .

همدارنگه دوی فرمايلي دي چي دالله (جل جلاله )هرمبارک نوم دیوه خاص قسم موجوددپیداکولوتقاضاکوله اوبیادهرنامه په تقاضاسره خدائ پاک یو قسم مخلوق پیداکړئ هم دئ دمثال په ډول دالله پاک د( رزاق) نامه ددې تقاضا کوله چي یو داسي مخلوق باید پیداسي چي هغه ورزق اوو روزي ته اړتیا ولري اوبیا وهغه ته روزي ورکړه سي نو ددې تقاضا په مطابق الله پاک روزي خوړونکئ مخلوق لکه انسان پیدا کړوهکذا

د اسلام دپیغامبر تخلیق الله (جل جلاله) په مقتضی د نامه د (الله)سره کړئ دئ . ځکه چی د الله نوم دالله (جل جلاله) دټولو أسماؤ او صفاتو پرمعناگانو باندي په اِجمَالِي ډول دلالت کوي نوپه دې وجه دغه مقدس نامه ددې تقاضا کوله چي یوداسی مخلوق پیداکړسی چی هغه دنورو ټولو مخلوقاتو إجمَال و ي اوهغه قسم مخلوق ذات مطهر د حضرت محمد ( صلی الله علیه وسلم) دئ کوم چی سبب دپیدایښت دټولوکائناتوگرځیدلئ دئ .

پوه سه چي لفظ د( الله) د ځینو علماؤ په قول نوم دئ د ذات بَحت یعني د خالص ذات دالله پاک بې له ملاحظې د صفاتو .

اودځینو علماؤپه قول نوم دئ لپاره د ذات دالله (جل جلاله) سره له ټولوصفاتوکامله ؤ دده . همداسبب دئ چي د طریقت په استاذانو کښي ځیني داوايي چي په وخت د ذکر د( الله) کښي کوم چي په پنځولطائفو کښي کیږي باید التفات د زړه وخالص ذات ته دالله کړ کیږي . اوځیني وايي چي په وخت دذکردالله کښی به د الله پاک دذات

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودموصوفوالی دذات دده په ټولو کاملوصفتوسره اودارنگه دپاکوالی دده له ټولونقصاناتوڅخه ددغودری واړو ملاحظه کوله کیږی .

پوه سه چی د (رحمن) نوم د( الله ) له نامه سره په دې خصوصیت کښي شریک دئ چي له الله (جل جلاله)څخه پرته نه په زمانه د جاهلیت کښي اونه په زمانه کښي د اسلام وبل چاته ویل سوئ دئ لکه څرنگه چی دالله دنامه اطلاق له الله پاک څخه سوی پربل هیچاباندی دهیچاله خواپه هیڅ وخت کښی ندی سوی، صرف داخبره سته چی د مسَیلمة الکذاب ،کوم چي په دروغو يې د نبوت دعوه کړې وه ، په صفت کښي یوه کافرپه دې شعرکښي چي : أنتَ غَیثُ الوَری لا زِلتَ رَحمانًا ، ومسیلمه ته رحمن ویلئ دئ . خو دا فقط او فقط د تعصب اوعناد په وجه ؤ .

همداسبب دئ چي علماوو فرمایلي دي چي : (رحمن) د لفظ په اعتبار خاص دئ . یعنی که څه هم دمعنی په اعتبارسره عام دی ځکه چی دمعنی په لحاظ ومومن اووکافرودواړوته ورشامل دی

(رحیــــم ) درحیم په نامه سره له خدائ پاکه ماسوا بل څوک هم یا د یدلائ سي لکه چي الله پاک د اسلام و پیغامبر ته په دغه آیت کریمه کښي چي ( بِالْمُؤمِنِيْنَ رَؤفُ رَّحِیم) رحیم ویلئ دئ . همدا سبب دئ چي علماؤ فرمایلي دي چي رحیم د لفظ په اعتبار عام دئ .

پوه سه چي مفسرینو ذکر کړیدي چي د خدائ تعالی ټول اسماني کتابونه یعني د مضمون په اعتبار په قرآن کریم کښي دي ، او دقرآنکریم ټول أحکام په ( یس شریف) کښي موجود دي ، او د (یس شریف) ټول أحکام په (الحمدلله) کښي موجود دي ، او د (الحمدلله) شریفي ټول أحکام په (بسم الله) کښي موجود دي ، او د (بسم الله)ټول أحکام بیا په ( باء ) د بسم الله کښي موجود دي .

ځکه چي مقصود له ټولو إلهي أحکاموڅخه الصاق او پیوستون د بنده دئ له الله ( جل جلاله ) سره ،اود (بې جاره ) وضع د الصاق لپاره راغلې ده .

د (بسم الله) د ویلو شرعي حکم :

پوه سه چي د(بسم الله) ویل کله فرض وي لکه په وخت د ذبحه کولو دحیوان کښی ، البته د ذبحی په خت کښي ډیرعلماء داسي وایي چي پوره( بسم الله) به نه ویله کیږي بلکه فقط (بسم الله) ،الله أکبر به ویل کیږي . او په ( جوهره) کښي داسي راغلي دي چي ښه کار دادئ چي د ذبح په وخت کښي ټوله (بسم الله) وویله سي ،

اودارنگه د (بسم الله) ویل فرض دي په وخت کښي د ویشتلو د ښکارپه غیشي سره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودارنگه د (بسم الله) ویل فرض دي په وخت کښی د خوشي کولو د تعلیم یافته سپي په ښکار پسي .

دلته یوسوال پیداکیږي په دې ډول چي که یوسړئ یوپسه مثلاً ذبحه کړي ،اوبسم الله ویل یې هیرسي نودغه پسه حلال دئ ،نوکه په وخت د ذبح کښي بسم الله ویل فرض وائ نو باید دغه پسه مرداروائ ؟

جواب ددې سوال دادئ چي د هیري په وخت کښي دعذر په وجه د ذبحه کونکي مسلمانتوب پرځائ باندي د (بسم الله) ویلو دریږي .

اوکله د(بسم الله) ویل واجب وي ، لکه د لمانځه په هغو رکعتو کښي چي په هغو کښي (الحمدلله) ویل واجب دي ، خوالبته دهغه چاپه قول چي (بسم الله) د(الحمدلله) جُزء بولي ، مگر ځمونږ مذهب دانه دئ .

اوکله بسم الله ویل سنت وي لکه د اوداسه په سر کښي ، اوپه اول کښي د هرهغه کار چي (ذي بال) یعني خاوند د شرف وي ، چي خوراک ،اوجماع هم له دې جملې څخه دئ .

اوکله (بسم الله) ویل مُبَاح وي، لکه د فاتحې او دسورت په منځ کښي ، بناپر قول راجح باندی ، اودارنگه په ابتداکښي د تگ کولو،اودکښینستلو.

اوکله د بسم الله ویل حرام وي ،لکه د زناکولوپه وخت کښي ،او دارنگه دغصب شوي یاد غلا سوي شي د خوړلو په وخت کښي ،له مخه تردې چي دهغه شي ضمأن ادا کړي اویایې مالک وروبخښي .

او کله بسم الله ویل مکروه وي لکه په اول د سورت براءت کښي ، اویا لکه په مردارځائ کښي .

)مراقي الفلاح ص ۲ـ ۳ . سره له څه زیادته (

په کومو ځایوکښي (بسم الله) ویله کیږي ؟ :

محترمومسلمانانو

دپاره د زیاتوالي د فائدې ستاسی دوولس ۱۲ځایونه له هغو ځایو څخه درته ذکرکوم کوم چي بسم الله پکښي ویله کیږي :

اول : تر استنجا وهلو له مخه .

دوهم : د اوداسه په شروع کښي .

دریم : دذبحی او دښکارکولو په وخت کښي .

څلرم : په ابتداکښي د خوراک اوڅښاک .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم : د دَم کولو په وخت کښي پر مریض باندي . لکه چي روایت دئ چي حضرت عثمان بن ابي العاص ثَقَفي ورسول علیه الصلاة والسلام ته عرض وکړچي له هغه وخته چي ما اسلام قبول کړئ دئ دبدن په یوه حصه کښي مي درد پیداسوئ دئ . نورسول �علیه الصلاة والسلام � ورته وفرمایل چي ته خپل لاس ستا د بدن پر هغه حصه کښیږده کومه چي درد کوي ،اودرې ۳ واره داسي ووایه چي بسم الله ، او اووه۷ واره داسي ووایه ( أعوذ بالله من شَرِّ ما أجِد وَ أُحَاذِر) .

دارنگه له حضرت ابي سعید الخدري څخه روایت دئ چي حضرت جبرئیل (علیه السلام) ونبي ( صلی الله علیه وسلم) ته راغئ ، بیا يې ورته وویل چي اې محمده

لکه چي مریض سوئ يې ؟

ده مبارک ورته وفرمایل چي هو !

نو جبرئیل علیه السلام وویل یعني د دَم کولو په نیت (بسم اللهِ ارقِیکَ من کُلَّ شَئ یُؤذِیکَ ، من شر کلِّ نفسٍ او عینِ حاسدٍ ، اللهُ یشفیک بسم اللهِ اَرقِیک ) .

شپږم : په وخت د داخلیدو او راوتلو کښي له مسجده . ځکه له حضرت انس (رضي الله عنه ) څخه روایت دئ چي : رسول الله( صلی الله علیه وسلم) چي به کله و مسجد ته داخلیدئ نو داسي به يې ویل ( بسم الله اللهم صل علی محمد ، اللهم افتح لي ابواب رحمتک ). اوچي کله به له مسجد څخه راوتئ نو بې داسي ویل ( بسم الله ،اللهم صل علی محمد، اللهم افتح لي أبواب فضلک .)

اوم ۷ : د جماع کولو په وخت کښي . ځکه له حضرت ابن عباس (رضي الله عنه ) څخه روایت دئ چي : رسول الله صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي : چي که څوک له تاسي څخه په وخت د ارادې کښي د جماع له خپلي ښځي سره داسي ووایي :

(بسم اللهِ ،اللهم جَنِّبنا الشیطانَ ، و جنِّب الشیطان ما رزَقتَنَا) . نو که په دغه جماع کښي د دوی لپاره د ولد یعني ځوی یا لور فیصله وکړه سي نو وهغه وَلَد ته به هیڅکله شیطان ضرر ونه رسوي .

اتم ۸ : په وخت کښي د سهار او د ماښام . ځکه له حضرت عثمان بن عفان (رضي الله عنه ) څخه روایت دئ چي : رسول الله صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي : چي هر بنده چي د هري ورځي په سهار کښي ،او د هري شپې په ماښام کښي درې۳ واره داسي ووایي : ( بسم اللهِ الذي لا یَضُرُّ معَ اسمِه شئ في الأرضِ ولا في السَّماءِ و هُو السمیعُ العلیم ) نو هیڅ شئ به و ده ته ضرر ونه رسوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهم ۹ : په شپه کښې په وخت دبيدېدلو کي ،چي کله د سرائ او دخونو دروازې رابنده وي ،اويا د لوښو سرونه پټوي ،اويا د مشکولاوو خولې ورتړي ،نودغه کارونه به په بسم الله ويلو سره کوي . لکه چي د حضرت جابربن عبدالله (رضي الله عنه ) په يوه دراز حديث کښې دغه مضمون راغلئ دئ.

لسم۱۰ : په وخت کښې دراوتلو يا د داخليدو و کور ته . لکه چي له حضرت انس بن مالک (رضي الله عنه ) څخه روايت دئ چي : رسول الله صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي: چي کله يو سړئ له خپله کوره څخه وځي، نو داسي ووايي :

(بسم اللهِ توکَّلتُ على اللهِ ،لاحول ولاقوة الا باللهِ) . نو وويل سي په دغه وخت کښې يعني ووده ته د فرشتو له طرفه ،يا دالله ( جل جلاله) له لوري چي : هدايت وکړسو و تاته ،اوکفايت وکړ سو ستا ،او وساتل سوې ته .

نوله دغي وجي شيطانان له ده څخه ډير ليري سي . همدارنگه له حضرت جابر بن عبدالله (رضي الله عنه ) څخه روايت دئ چي له رسول عليه السلام څخه ده واوريدل چي ويل يې : کله چي يوسړئ وخپل کورته راداخليږي نود داخليدو په وخت کښې الله تعالی ياد کړي ، او دارنگه يې د خوراک په وخت کي ياد کړي ، نوشيطان ووايي :

يعني و خپلواتباعو ته ) چي تاسي ته د شپې د تيريدو ځائ نسته،اونه دماښام ډوډۍ سته ،يعني په دغه کور کښې . اوکله چي يو سړئ وکورته راداخليږي نو د داخليدو په وخت کښې الله عزوجل ياد نه کړي ،نوشيطان ملعون ووايي چي دشپې ځائ تاسي پيداکړ . اوکله چي دغه سړئ بيا ډودۍ خوري نو د ډوډۍ په وخت کښې هم الله ياد نه کړي ،نوشيطان ملعون وخپلو اتباعو ته ووايي چي تاسي د شپې ځائ هم پيداکړ ، او د ډوډۍ ځائ هم .

يولسم ۱۱ : په وخت کښې د سپريدوپر يوه چارپائ يا په يوه موټرکښې مثلا. څکه چي رسول صلی الله عليه وسلم) چي به کله پر يوه چارپائ باندي سپريدئ نو بې داسي ويل ( بسم اللهِ الحمدللهِ ،سبحان الذي سخَّرلنا هذا و ما کُنا له مقرنين (

دوولسم ۱۲: ټوله بسم الله ذکر کيږي په ابتداکښې د قرآنکريم ،اودارنگه په وخت کښې دليکلو د خط ويوچاته .

د بسم الله الرحمن الرحيم فضيلتونه

محترمووروڼوهر مسلمان ته چي ځما تفسير ګوري نوورته ضرور دئ چي زما له دغه راز بيانو څخه پوره نفعه اوفائده حاصله کړي ، د بسم الله شريفي له فضيلتوڅخه

اول فضيلت دادئ چي امام دارقطني له ابن عمر رضي الله تعالي عنه څخه روايت کړي دئ چي بيشکه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي چي جبرئيل عليه السلام چي کوم وخت ماته وحي راوړي نواول څه چي دي يې و ماته وايي هغه بسم الله الرحمن الرحيم دئ. دوهم فضيلت ،ابو نعيم اوابن السلمي له حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روايت کړي دئ چي کله چي بسم الله الرحمن الرحيم نازل سو نو د مکي مکرمي غرو دونه په زوره دخداي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تبارک وتعالي تسبيح وويلي چي دمکي شريفي ټولو خلګو دغه تسبيحات واوريدل بيا دمکي مکرمي کفارو وويل چي محمد صلي الله عليه واله وصحبه وسلم پر غرونو باندي هم سحر اوجادو وکړ بيا خداي پاک يوقِسم دود پيداکړ چي دمکي مکرمي پر خلګو باندي دسائبان په ډول سايه سو بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم وفر مايل چي هرڅوک چي دزړه په يقين سره بسم الله الرحمن الرحيم ووايي نوغرونه هم دخداي پاک تسبيح ورسره وايي مګر خودغه څوک دغه تسبيح دغرونو نه اوري.

دريم فضيلت ،په درمنثورکښي له ابن عباس رضي الله عنهما څخه داسي روايت ذکر دئ چي رسول الله صلي عليه وسلم وفرمايل هر څوک چي بسم الله الرحمن الرحيم ولا حول ولاقوة الا بالله العلي العظيم ووايې نو الله پاک به له ده څخه اويا (70) رقمه بلاوي اوغمونه اوليونتوبونه لري کړي ،څلورم فضيلت ، پو سه چي الله جل جلاله لره دري زره (3000) نومونه دي په دغو دري زره نومونو کښي زرنومونه يوازي وملائکوته معلوم دي اوزرنومونه بيايوازي ونبيانوعليهم السلام ته ورمعلوم وه اودري سوه (300) نومونه په انجيل کښي راغلي وواودري سوه نومونه په تورات کښي راغلي وو اودري سوه نومونه په زبور کښي راغلي وو اونه نوي (99) نومونه په قران کريم کښي دي اويونوم چي اسم اعظم دئ هغه مستوردئ اووهر چاته نه دئ معلوم له عامو خلګو څخه پوشيده اوپټ دئ ددغو دريوزرو (3000) نومونو دټولو معني ګاني په دغو دريو نومونو کښي چي الله او رحمن اورحيم دئ اوپه بسم الله الرحمن الرحيم کښي راغلي دي موجودي دي نو هر څوک چي په صدق اودزړه په يقين سره بسم الله الرحمن الرحيم ووايي ګواکي دغه دري زره نومونه يي وويل.

دبسم الله الرحمن الرحيم دويلو طريقي

اول ، په شپه کښي دشيطان اوپيري اودغله له شره اوداراز دنورو افاتو دحفاظت دپاره دي دخوب په وخت کښي يوويشت(21) واره ويله کيږي.

دوهم ، ددردو دبدن دليري کولو لپاره اودارنګه دسحر اوجادودفعه کولوياليري کولو لپاره دي تراوو(7) ورځوپوري پرله پسي ويله کيږي پرمريض باندي چُپ کيږي.

دريم (3) درزق دفراخ والي لپاره دي هره ورځ دلمر دراختو په وخت کښي دري سوه اوديار لس (313) واره ويله کيږي سره له سل (100) واره درود شريفه

څلورم (4) دهر حاجت دپوره کيدلو دپاره دي بسم الله ترپايه هره ورځ اوه سوه اواوه اتيا(787) واره ويله کيږي

پنځم(5) که په يوه ورځ کښي دوولس زره (12000) واره وويله سي اوله هرزرواره وروسته دوه دوه رکعته لمونځ کوي نو په تلوار سره بي حاجت پوره سي.

خزينة الاسرار وغيره .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ( سورة فاتحې ) تفسير او تحقيق:

شان نزول:

مولانا يعقوب چرخي له حضرت أميرالمؤمنين علي ( كرم الله وجهه) او له حضرت عبدالله ابن عباس څخه روايت كړئ دئ چي دغه مبارک سورت په مکه مکرمه کښي نازل سوئ دئ ، او کيفيت د نزول يې په دې ډول دئ چي رسول الله فرمايلي دي چي كله چي به زه و صحرا ته ولاړم ، نو د يامحمد اواز به مي واوريدئ ، اويو نوراني شخص به مي وليدئ چي د زرو پر يوه تخت باندي به چي په منځ کښي د اسمان او د مزکي به ؤ، ولاړ ؤ ، زه به له همدغه اواز څخه وبيريدم ، او وبه تښتيدم .

نوځرنګه چي دغه حادثه مکرره پيښه سوه،نو و وَرَقه بن نوفَل ته مي دغه واقعه بيان كړه او ورقه بن نوفل يو داسي سړئ ؤ چي په تورات او په انجيل عالم ؤ ، او له علماؤ د نصارى ؤ څخه يې ډير علم حاصل كړئ ؤ ده راته وويل چي كله ته دغه اواز واوري نو مه ورڅخه تښته اوغوږ ورته ونيسه چي څه درته وايي . نوماهم دغه ډول وكول ،نوبيا چي كله د �يا محمد� اواز راغئ ، ما لبيک ووايو ده راته وويل چي زه جبرئيل يم او ته نبي ددغه أمت يې بيا ده را ته وويل چي ووايه

أشهد ان لا إله الا الله ، و أشهد ان محمدا عبده ورسوله.

بيا جبرئيل وده ته ( الحمدلله ) له سره تر پايه وويله.

لفظي تفسير او ترجمه:

(الحَمدُ) هر ثنا اوصفت ( لِلهِ ) خاص الله لره دئ ( رَبِّ ) پالونكئ( العَلَمِين) دټولو عالميانو ، يعني داسي الله چي پالونكئ او تربيه كونكئ د ټولو عالميانو دئ .

َ(مالِكِ) خاوند( يَومِ ) د ورځي( الدِّينِ ) دجزا ،

يعني اوداسي الله چي په هغه ورځ کښي چي و خلګو ته دخير،اودشر جزا وركړه كيږي ،په ظاهر اوپه باطن کښي دهرشي مالک دئ ، په دې معنی چي په دنيا کښي خو كه څه هم حقيقي مالک الله دئ ،مګرخو په ظاهركښي انسانان مثلاً هم د قسم،قسم شيانو مالكان ګڼل كيږي . دقيامت په ورځ کښي به په ظاهركي هم له خدائ څخه پرته هيڅوک د هيڅ شي مالک نه وي .

(اِيَّاکَ) خاص تالره ، يعني اې الله پاكه ( نَعبُدُ) عبادت كوو موږ ،يعني ځكه چي له تا پرته بل هيڅوک لائق د عبادت نه دئ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)و)اَو( اِيَّاکَ ) خاص له تاڅخه( نَستَعينُ ) طلب د مدت کوو موږ .

(اِهدِ ) وښيه ياروان کړه ( نَا ) وموږ ته ياموږ( الصِّرَاط ) لار( المُستَقِيم ) برابره ،يعني اې پروردګاره و موږ ته په هر باب کښې د سمې اوبرابرې لارې هدايت وکړه .

(صِرَاطَ ) لار (الذين ) دهغوکسانو (اَنعَمتَ) چې انعام کړی دئ تا (عَلَيهِم) پر دوی باندې ـ يعني چې هغه دغه څلورقسمه نزدې بندګان د الله دي چې انبياء،صديقين، شهداء ، اوصالحين دي . (غَيرِ) نه (المَغضُوبِ) هغه خلګ چې غضب کړسويدئ (عَلَيَهِم) پردوی باندې ـ يعني دهغو خلګو دلارې هدايت راته وکړه ، چې هغه غيردي له هغوخلګو چې ستاغضب پردوی باندې سوئ دئ ،چې هغه مطلق فاسقان اويا يهودان دي .

(وَلَا) اونه (الضاَلِّينَ ) اونه هغه خلګ چې ګمرهان دي ( آمين) څما دعاقبوله کړه يعني اې پروردګاره .

تفصيل اوعلمي تحقيق :

)الحمدلله(

پوه سه چې دغه مبارکه کلمه د قرآنکريم د پنځوسورتو په سرکښې ذکرده ،چې هغه دادي : سورت فاتحه ، سورت أنعام، سورت کهف ، سورت سبا، سورت فاطر،.

په فضيلت کښې ددغه مبارکې کلمې ډېر روايتونه راغلي دي ،چې له جملې د هغو روايتو څخه يو هغه روايت دئ چې ترمذي ،اوابن ماجه له حضرت جابربن عبدالله (رضي الله عنهما) څخه کړئ دئ ،چې ده مبارک ويلي دي :

چې رسول الله فرمايلي دي :

أفضل الذکر لااله الاالله ، وأفضل الدعاء الحمدلله .

يعني بهترين د ذکر کلمه د لااله الاالله ده، او بهترينه د دعاوو الحمدلله ده .

اوبل روايت هغه دئ چې قرطبي وغيره يې له أنس څخه روايت کړئ دئ ،چې رسول الله فرمايلي دي :

(لوأن الدنيا بِحَذَافِيرِها في يَدِ رَجلٍ مِّن أُمَّتي ،ثُمَّ قالَ الحمدلله لَکانَ الحمدلله افضل من ذلک ) يعني که چيري دا خبره وجود پيداکړي چې دنيا (بتمامها) ټوله کښېښودله سي په لاس کښې د يوه سړي له أمت څخه څما،بيا ووايي دغه سړئ چې: الحمدلله نو دغه الحمدلله به ډېره بهتره وي له هغه څخه .، يعني داچې الله پاک وده ته ددې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



الهام وکړ چي دَئ يو واري الحمدلله ووايي ،نودا به د الله پاک له لوري ډير لوی احسان وي پر ده باندي ،له دې ځخه چي ټوله دنيايې دده په لاس کي کيښودله .

ځکه چي ثواب د الحمدلله فنا نه لري اود دنيا نعمتونه ټول فاني کيږي .

خلاصه اومطلب ددې مبارکي کلمې دادئ چي ټول کامل صفتونه په الله کښي حصر دي . ځکه چي په بل چاکښي لکه نبي يا شهيد، ياصديق ،ياولي که څه هم په ظاهره کښي کامل صفتونه موجود دي ،خوهغه وده ته الله پاک ورکړي دي ،اودده له خپل ځان څخه نه دي . او الله پاک چي په ټولوکاملو صفتو موصوف دئ اوله ټولونقصاناتوڅخه پاک دئ نودادخپل ذات له وجهي دئ اودارنګه هرڅوک چي دکامل صفت خاوندوي نوهغه هم خاص داالله پاک له طرفه دئ ځکه چي وبل هرچاته د کامل صفت ورکونکئ هم خاص دَی دئ .

)رب العالمين (

پوه سه چي دالفظ په ترکيب کښي صفت دئ د (الله) د کلمې دپاره .

امام راغب فرمايلي دي چي د رَب لفظ له (ربوبية) يا له (تربية) څخه جوړ دئ ،چي معنی د دغو دواړو لفظو(انشاء شئ حالافحالا الی حدالتمام) ده .

يعني پيداکول ديوشي حال په حال يعني سوکه په سوکه ترڅوچي دغه شي وحددتمام ته رسيږي.

اوقاضي بيضاوي فرمايلي دي چي د( رب) لفظ له ( تربية ) څخه مأخوذ دئ ،اوتربية رسول دشي دي و کمال خپل ته لږ لږ ، درجه په درجه .

پوه سه چي تربية (يعني پالنه ) پردوه قسمه ده :

اول قسم يې دادئ چي يوڅوک پالنه د يوشي د خپل ځان د فائدې او د ګټي په خاطر کوي ، داقسم تربية د مخلوق شان دئ .

دوهم قسم دادئ چي ديوشي پالنه ددغه شي دفائدې لپاره وسي او وپالونکي ته هيڅ ګټه اوفائده په دې کښي نه وي اوپالونکئ په خپل ذات کښي غني اوبې پروا وي له دې څخه چي له خپلي پالني څخه ګټه اوفايده ترلاسه کړي داقسم تربيه تر الله پوري خاصه ده .

همدارنګه پوسه چي د (رب) لفظ دصيغې په اعتبار يا په أصل کښي صفت مشبه ده ، په معنی داسم فاعل کښي مستعمل سوئ دئ ،او يا صيغه د اسم فاعل ده په أصل کښي ( رابٌّ) ؤ په تشديددباءسره . اويا مصدردئ مبالغةً صفت د الله واقع سوئ دئ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام راغب اوابن کثیر فرمايلي دي چي د رب لفظ چي مضاف نه وي نوله الله پاکڅخه پرته يې پربل چا اطلاق نه دئ صحيح ،او په اضافة سره يې ،يعني كه چيري يو ښكاره مانع موجود نه ؤ پرغير د الله تعالى هم اطلاق صحيح دئ .

دارنګه په تفسيرقرطبي ، روح المعاني ، مدارک، مُسَيَّر کښي هم راغلي دي .

پوه سه چي لفظ د رب په قرآنکريم کښي ٩٦٩نهه سوه اونهه شپيته واره راغلئ دئ اودغه مبارک لفظ ډيري معناوي لري چي هره يوه يې دلته صحيح کيږي چي هغه په دې ډول دي ، مالک، يعني خاوند ، سَيِّد، يعني بادار ، مُصلِح ، يعني اصلاح کونکئ ، مدَُّبِّر، يعني تدبيرکونکئ ، معبود ،يعني هغه ذات چي عبادت يې کړکيږي اولائق دعبادت وي، مُرَبِّي ، يعني تربيه کونکئ ،پالونکئ ،

د ( عالمين) لفظ جمع ده د عالَم ، عالـَم په أصل کښي و هغه ته ويل کيدئ چي په ده سره به بل شئ معلوميدئ ،بياپه معنى د ( مَايُعلَمُ بِه الصَّانع ) يعني هغه چي په ده سره الله پاک پيژندل کيږي چي هغه عبارت دئ له مخلوقاتو څخه .

اوځيني وايي چي عالـَم په مخلوق کښي يواځي وهغه چاته ويل کيږي چي دعقل خاوند وي ،چي هغه دغه څلور ډلي دي: انسانان، پيريانان ، ملائکه ،اوشيطانان .

پوه سه چي په سورت فاتحه کښي الله ( جل جلاله) خپل پنځه نومونه ذکر کړيدي :

اول : الله . دوهم : رب العالمين . دريم : رحمن . څلرم : رحيم . پنځم : مالک يوم الدين .

وجه د تخصيص د دغو پنځو نومو داده چي د الله ( جل جلاله) په نعمتوکښي چي کوم ډير عمده نعمتونه دي هغه د همدغه پنځو نومونو آثار دي . ځکه نعمت د وجود يعني داچي الله پاک کوم مخلوقات له نيستۍ څخه و هستۍ ته را ايستلي دي اوياپې له دي څخه وروسته پيداکوي نو دا له آثارو څخه د نامه د (الله) دي ، اوبيا چي يې سوکه په سوکه وروسته له وجود ورکولو څخه پرورښ ورکړيدئ اوياپې ورکوي تر څوچي وکمال ته رسيږي ،نو داله آثارو څخه د نامه د (رب العالمين ) دئ ،او بياچي الله پاک د مخلوق ګناهونه او نافرمانۍ او عيبونه ورپوټوي ، اوپه نورو خلګو کښي يې نه رسوا کوي نو داله مقتضا اوآثاروڅخه د نامه درحمن دئ ،او بياچي الله پاک د بنده پرمخ باندي د توبې دروازه خلاصه کړې ده ، اوکه چيري بنده په اخلاص باندي توبه وکاږي نوالله پاک دده توبه قبلوي ، ګناه وربخښي ، بلکي اضافه احسان هم ورسره کوي نو دامقتضا د نامه د رحيم ده ،او بيا چي د قيامت په ورځ موافق له اعمالوسره وبنده ګانو ته جزا ورکوي نو دا مقتضا د مالک يوم الدين ده .

)اياک نعبد (

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوه سه چي دلته دنحوي قانون له مخي داسي سوال کيږي چي (اياک) خو د (نعبد) دپاره مفعول دئ ، او په مفعول کښي خو أصل دادئ چي له فعل څخه به وروسته ذکر کيږي ، اوکه چيري له فعل څخه مخکي ذکر سي نو به خامخا ديوه غرض او نکتې له وجې وي ، نو دلته دکومي نکتې له رويه لفظ د اياک ، پر نعبد باندي مقدم ذکرسوئ دئ ؟

جواب په دغه تقديم کښي ډيري نکتې په نظر کښي نيولي سويدي :

اوله نکته داده چي د اياک لفظ ځرنګه چي پر الله (جل جلاله) دلالت کوي ،اودغه دلالت يې هم په شکل کښي د خطاب دئ ، اوکوم لفظ چي پر الله پاک دلالت کوي نو هغه سبب د پيداکيدو د ويري وي دذکر کونکي اود اوريدونکي په زړه کښي ، نوځرنګه چي د الله تعالى په عبادت کښي په کارهم داده چي انسان يې په داسي حال کښي وکړي چي زړه يې له خشيت او إجْلال څخه اود الله تعالى له ويري څخه ډک وي ، نو لپاره د اشارې ودغي نکتې ته لفظ د اياک مقدم فرمايل سوئ دئ .

دوهمه نکته داده چي دالله تعالى د ذکر له خاصيتو څخه يو خاصيت دادئ چي شيطان ملعون د انسان له زړه څخه ليري کوي ، نوپه دغه تقديم کښي وبندګانو ته ددې تعليم سوئ دئ چي تاسي چي کله د الله(جل جلاله) عبادت کوی نو ړومبئ بايدد الله تعالى ذکروکړی ددې لپاره چي شيطان ملعون درڅخه ليري کړسي ..

دريمه نکته داده چي په کلام کښي د هغه شي رامخته کول چي حق يې وروسته کول وي اختصاص او حصَر فايده کوي ، همداسبب دئ چي اوس يې معنى په دې ډول کيږي چي خاص تالره عبادت کوو موږ ، يعني نه بل چاله . اوکه چيري اياک له نعبد څخه وروسته ذکر وائ ، نو بيا يې معنى په دې ډول کيدله چي عبادت کوو موږ تالره ، نود خاص والي معنى يې نه ورکوله .

پوه سه چي يو عبادت دئ او بل عُبُودِيَت دئ ، اوبل عُبُودَت دئ ، ځينو علماؤلکه صاحب دمراقي الفلاح ددغو لفظو تر منځ په دې ډول فرق کړئ دئ چي :

عبادت وهغي بندګئ ته دالله پاک ويل کيږي چي ددې لپاره يې انسان کوي چي د قيامت په ورځ د خدائ ( جل جلاله) له عذاب څخه خلاص سي ، او دجنت نعمتونه ورته حاصل سي .

اوعبوديت وهغي بندګئ ته دالله پاک ويل کيږي چي ددې لپاره يې انسان کوي چي تلذذ ، خوند ، او روحاني غذا په حاصلوي ځکه د الله پاک په بندګۍ کښي يو مقام د استلذاذ الطاعات دئ ، دا داسي مقام دئ چي کله انسان ور ورسيږي نو د الله په طاعت سره داسي خوند اخلي لکه يو انسان چي يې په خوراکي موادو کښي په ډيرو خوندورو خورکو سره اخلي . په قرآنکريم کښي په دغه قول دخدائ پاک کښي : چي ( والناشطات نشطا ) او د نبي ( عليه الصلوة والسلام) په دغه مبارک حديث کښي چي : ( ثلاث من کن فيه وجد حلاوة الإيمان ) وهمدغه مقام ته اشاره سوې ده . دعبوديت مقام د عبادت تر مقام بالاتر دئ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوعُبُودَت وهغې بندګۍ ته ويل کيږي چي انسان يې صرف په دې خاطر کوي چي الله(جل جلاله) لائق د عبادت دئ ، اوزه لايق ددې يم چي عبادت دده وکړم .

سوال : لمونځ کونکۍخو يو نفر دئ نو دَی خوبايد دقانون له مخي (اياک أَعْبُدُ) ووايي ، نه اياک نَعبد ، ځکه چي د نعبد لفظ د متکلم مع الغير صيغه ده چي د جمع لپاره راځي ؟ .

جواب :خبره خوپه دغه ډول ده لکه رنګه چی تاوويل مګردلته ځکه داډول فرمايل سويدي چي د اياک نعبد په ويلو کښي ډيري نکتې دي :

اوله نکته داده چي ځکه ( اياک نعبد ) فرمايل سويدئ چي د لمونځ کونکي عبادت په عبادت کښي دنورو عبادت کونکو چي په هغوی کښي انبياء ، ملائکه ، اولياء هم داخل دي ګډ سي ، نوبه په طُـفَيل دعبادت دهغو عبادت دده هم الله ( جل جلاله) قبول کړي .

او دوهمه نکته داده چي په دې کښي اشاره ده ودې ته چي مسلمانان بايد د الله( جل جلاله ) دغه عظيم عبات په جماعت سر اداکړي .

اودريمه نکته داده چي له هرلمونځ کونکي سره حفظه ،اوکِرام کاتبين ملائکه موجود دي ، نوکله چي دَی لمونځ کوي نو دغه ملائکه هم لمونځ ورسره کوي، نوپه دې اعتبار خو که څه هم لمونځ کونکئ يو وي ، خوسره له ملائکه ؤ جمع ورڅخه جوړيږي .

او څلرمه نکته په دې کښي داده چي الله پاک د نعبد په لفظ کښي ودې ته اشاره کړې ده چي ته چي اي ځما بنده ځما عبادت کوې ، نوته که څه هم يوېې وماته د بسته ډلې په صورت اوشکل کښي منظور يې .

داستدراک په ډول دسورت فاتحي اوددغه مبارک سورت داياتوپه اړه ځني نورعلمي بحثونه.

د(الحمدلله) دلفظ دالف لام تعريفي داقسامو اودارنګه دحمددمصدري معني دانواعوپه اعتبار دالحمد دلفظ معني ګاني په دې ډول دي

(الحمد) هرثنا ويل کيدل يا جنس ثنا ويل کيدل يا هر ثنا ويل يا جنس ثنا ويل يا فرد کامل دثنا ويلو يا هره ثنا وينه يا جنس ثنا وينه يا فرد کامل دثنا ويني يا هره ثنا وينه کيدنه يا جنس ثنا وينه کيدنه يا هرثنا ويل دهر ثنا ويونکي يا جنس ثنا ويل د هر ثنا ويونکي يا فرد کامل دثنا ويلو د هرثنا ويونکي يا هرثنا ويل کيدل دهر ثنا ويل سو ي ياجنس ثنا ويل کيدل دهر ثنا ويل سوي يا هر هغه چي حمد ورته ويل کيږي( للـــــــه) ثابت دئ خاص خداي ج لره( رب ) تربيه يا اهل د تربيي يا ډير تربيه کونکئ يا تربيه کونکئ يا پيدا کونکئ يا سردار يا بادشاه يا نعمت ورکونکئ يا اصلاح کونکئ يا معبود يا خاوند( العلمين )د ټولو عالميا نو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



علمي تفصيل

پوسه چي( الحمد لله )اته(8) حرفونه دي په حساب د دروازود جنت او دغه مبا ركه جمله دوه تعلقه لري يو تعلق ئي له هغو نعمتو سره دي چي وبنده ته الله( ج )وركړي دي دغه تعلق ئي عبارت دي له دي څخه چي شكر دهغو نعمتو دئ د همدغه تعلق په اعتبار دغه مباركه جمله سبب ګرځي د نجات له دوږخو څخه او بل تعلق ئي له اينده نعمتو سره دي چي سبب د زيات والي دنعمتو ګرځي ددي تعلق په اعتبار سبب د حصول د نعمتو د جنت ګرځي

)رب العلمين(

پوسه چي په صيغه كښي د لفظ درب متعدد قولونه دي اول(1) قول دادئ چي لفظ درب مصدر دئ په معني د تربيي دئ او تربيه و( تبليغ الشئ الي كماله الذي كان في استعداده من الازل شيئا فشيئا) ته ويل كيږي يعني رسول د شي وكمال ته دده هغه كمال چي له ازله په علم د خداي ج كښي دده په استعداد او صلا حيت كښي ؤ . سوكه په سوكه يعني په تدريج سره ، پر دغه قول باندي نوتوصيف د الله ج په رب سره يا مبالغة دئ اويا په حذف دمضاف سره دئ يعني ذي رب العالمين اويا رب په معني دمربي دي دوهم (2) قول دادئ چي رب صيغه دمبالغي د اسم فاعل ده چي راب دئ په شدباسره اودريم (3) قول دادي چي رب داسم فاعل صيغه ده اصل يي راب ووپه شددباسره بيا په حذف دالف سره تخفيف پكښي راغلي دئ لكه بار، وبراوڅلورم (4) قول دادئ چي رب صفت مشبه دي خودغه قول رد سوي دئ پدي سره چي په رب العلمين كښي درب اضافت ومفعول ته راغلي دي

اوصفت مشبه خو وفاعل ته مضاف ګرځی نه و مفعول ته ځكه مفعول خو صفت مشبه لره نسته پوسه لكه چي په لفظي تر جمه كښي ما اشاره ورته كړي ده درب لفظ په ډيرو معني ګانو راځي اول (1) تربيه دوهم (2) المربي المبالغ في التربيه دريم (3) مطلق مربي څلورم (4) خالق پنځم (5) سيد شپږم (6) ملک اووم (7) منعم اتم (8) مصلح نهم (9) معبود لسم (10) مالک په هره يومعني دلته صحيح كيږي خواولي دري (3) معني ګاني په ترتيب سره پرباقي معني ګانو ترجيح لري روح المعاني دمذكور تفصيل په ارتباط وګوره البته لږ شاني تغير موجود دي، د( عالمين )په لفظ كښي اختلاف دي ځني وائي چه د عالَم جمع ده او ځني وائي چه د عالم لپا ره اسم جمع ده اوځني وائي چه عالمين هم د مفرد صيغه ده لكه عالم البته داسي مفرد دي چي پر لفظ د جمع باندی راغلي دی، لكه عرفات اوعرفه چي دواړه په يوه معني دي خو عرفات په صيغه دجمع مؤنث سالم راغلي دي عالم په اصل كښي وهغه ته ويل كيږي چي بل شي په معلوميږي يا پر بل شي باندي علامه وي مشتق دي له علمه يا له علا مي څخه او په عرف كي هغه ته ويل كيږي چي صانع پيدا كونكي يعني خداي پاک په معلوميږي چي مخلوقات دي، دعرفي معني په لحاظ بايد ويوه شخص ته هم عالم وويل سي لكه زيد مګر په استعمال كښي عالم يا مجموع مخلوق ته ويل كيږي لكه عالم المخلوق، عالم المخلوقات اويا ئي پر يوجنس يا پر يوه نوعه د مخلوق اطلاق كيږي لكه عالم الحيوان يا عالم الانسان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال جمع په ياء او په نون يا په واو او نون سره خو د ذوي العقولو لپاره راځي او عالمين خو ذوي العقو ل وغيرهم ټولو ته ور شامل دئ

جواب اول عالمين چي له عالم څخه مشتق دي وروسته له تخصيصه دلفظ د عالم په ذوي العقولو پوري په دي ډول چي اول دعالم لفظ له ،ما يعلم به الصانع ،څخه ومن يعلم به الصانع ته راوړل سويدئ اوبيا په عالمين سره جمعه سويدئ.

دوهم جواب دلته تغليب دذوي العقولو كوم چي جن اوانس وملائكه دي پرغيرذوي العقولوباندي راغلئ دئ.

دريم جواب په نسبت والله جل جلاله ته ټول مخلوقات په حكم كښي دذوي العقولودي ځكه چي هرمخلوق دالله جل جلاله تسبيح وايې همداسبب دی چی مولانارومی رحمه الله فرمايلی دی ،بامن وتومرده باحق زنده اند،

طريقي دوينا دسورت فاتحي

اوله طريقه (1)كه څوک مريض وي نوسورت دفاتحي دي يوڅلويښت (41)واره سره له بسم الله ووايي په دي ډول چي پرلفظ د الرحيم به نه دريږي بلكه دالرحيم دلفظ ميم به له لامه دالحمد سره تړي اوپر مريض باندي دي چف كړي دوهمه طريقه (2) كه څوک هرسهار دسنتو وروسته اوله فرضو دمخه يو څلويښت واره (41) بسم الله سره له سورته دفاتحي وايي نو كه مسكين وي خداي پاک بي غني كړي اوكه پوره وړي وونو خداي پاک بي له پوره خلاص كړي اوكه مريض وونوخداي جل جلاله بي جوړكړي اوكه ضعيف وو نوخداي جل جلاله بي قوي كړي اودغه رازبي نور ډير مشكلات حل كيږي دريمه طريقه (3) هره ورځ دي دسهار له لمانځه وروسته ديرش واره (30) واره اودماپښين له لمانځه وروسته پنځه ويشت (25) واره اود مازديگر د لمانځه وروسته شل (20) واره اودماښام ده لمانځه وروسته پنځلس (15) واره اودماخستن دلمانځه وروسته لس (10)واره ويله كيږي.

د الحمد لله داوو(7) مباركو اياتو تناسب د لمانځه له اوو (7) ركنوسره

پوسه چي د الحمد لله شريفي يعني دسورت فاتحي اووه(7) اياتونه دي اودلمانځه ركنونه هم اووه(7) دي اول (1) قيامه يعني ولاړه دريدل . دوهم (2) ركوع . دريم(3) قومه څلورم(4) اوله سجده پنځم (5) جلسه په مابين كښي ددوو سجدو شپږم (6) دوهمه سجده اوم (7) قعده په تشهد كښي ،دسورت فاتحي هر يو ايت دلمانځه په دغو ركنوكښي له يوه خاص ركن سره مناسبت لري په دي اړه دتفصيل دپاره فتح العزيز وگورئ.

)مالک يوم الدين(

پوسه چي په لفظ د مالِک كښي متواتر قرائتونه هم مختلف راغلي دي اوشاذ قرائتونه هم مختلف راغلي دي دشاذو قرائتو داختلاف تفصيل په تفاسيرو كي وگوريه اود متواتروقرائتو اختلاف پدي ډول دئ چي عاصم اوكسائي دغه لفظ مالِک په الف سره ويلي دئ اونورو قاريانو مَلِک بي الفه ويلي دئ په ترجيح كښي ددغو دوو (2) قرائتو هم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختلاف دئ ځني دمَلِکِ قرائت راجح بولي پرمالِک باندي اول (1) لدي وجهي چي داقرائت داهل حرمينو دئ دوهم (2) له وجهي ددي قوله دخداي پاک چي لِمَنِ المُلک اليَومَ ، يعني داخرت په ورځ به الله پاک وفرمايي چي چالره ده بادشاهي نن ورځ يعني هيچالره نسته بي له خداي جل جلاله څخه اوبل له وجهي ددي قوله دخداي جل جلاله چي مَلِکِ الناسِ يعني بادشاه د خلگو ، اوبل له دي وجهي چي مَلِک عام دئ ترمَالِک ځکه څوک چي مَلِک يعني بادشاه وي مَالِک به هم وي اوداضرور نه دئ چي يوڅوک مَالِک ديوشي وي نوبادشاه به هم وي اوځني علماء بيا دمَالِک وقرائت ته ترجيح ورکوي پرمَلِک باندي چي زموږ احناف هم اکثر په دغه قرائت عمل کوي دغه علماء دمقابل طرف دعلماؤ ددلا ئلو په دي ډول جوابونه ورکوي د اول دليل جواب داسي ورکوي چي داخبره چي دملک قرائت داهل حرمينو دئ سبب دترجيح دملک پر مالک نسي گرځيداي ځکه موطأ دامام مالک صاحب چي د يوه له حرمينو دئ چي مدينه منوره ده په درجه کښي کښته ده تربخاري شريف سره له دي چي ا مام بخاري صاحب د يوه له حرمينو ندي ددوهم دليل جواب داسي ورکوي چي لکه چي مذکوره ايت پردي باندي دلالت کوي چي الله پاک دقيامت په ورځ کي ملک دئ داراز ځني نور ايتونه بيا پردي باندي دلالت کوي چي الله ج داخرت په ورځ کښي مالک دئ لکه داقول دخداي ج يوم لاتملک نفس لنفس شيئا اوددريم دليل جواب داسي ورکوي چي په ملک الناس کښي ملک ويل سوي دئ اومالک ندي ويل سوي داپه دي سبب چي مخکښي دربِ الناس توري ذکر سوي دئ چي معني يي داده مالک دخلگو نو که دلته هم مالک الناس وويل سي نو تکراربه لازم سي سوال په الحمد لله کښي خوهم مخکښي رب العلمين ذکر دئ چي معني يي داده مالک دعالميانونوکه په مالک يوم الدين کښي هم مالک وويل سي نو تکرار به لازم سي جواب دلته مضاف اليه دربِ اودمالک سره جلادئ نوتکرار نه لازميږي داخودعلماؤ دويناوو تحقيق وو بهتر دادئ چي دغه دوه قرائتونه يوپر بل بهتر ونه بلل سي ځکه دادواړه قرائتونه متواتر دي اوهر يو دترجيح وجهي لري اودڅلورم دليل جواب داسي ورکوي چي دمالک اودملک تر منځ عموم اوخصوص مطلق ندي بلکه ددوي ترمنځ عموم اوخصوص من وجهٍ دئ پوسه چي لفظ د(يوم )په عرف کښي وهغه وخت ته ويل کيږي چي له لمر راختوڅخه بيا تر لمر لويدوپوري دئ اوپه شريعت کښي په نزد داهل سنتو ماسوي له اعمشه وهغه وخت ته ويل کيږي چي د صبح صادق دراختوڅخه بياتر لمر لويدو پوري دئ اوومطلق وخت ته هم ويل کيږي اودقيامت وورځي ته هم ويل کيږي خوالبته سره له مقيدوالي په يوقيد سره اودقيامت ورځ وهغه وخت ته ويله کيږي چي ددوهمي شپيلئ څخه داسرافيل عليه سلام شروع کيږي بيا تر داخليدوپوري دجنتيانو وجنت ته اوددوږخيانو ودوږخ ته دوام لري پوسه چي ديوم په لفظ کښيي يونادر خوصوصيت دادئ چي فا کلمه يي ياء اوعين کلمه يي واو دئ اوداډول په عربي زبان کښي بله کلمه نسته پوسه چي له دين څخه يامراد ملت داسلام دئ نوبه دمالک يوم الدين معنى داسي سي ،خاوند دورځي دښکاره کيدو دگټي دملت داسلام اوياخاونددورځى دښکاره کيدو د حقيت دملت داسلام وهرچاته يعني الله پاک مالک دئ دهغه ورځي چي په هغه ورځ کښي به داسلام دملت گټه اوداسلام دملت حق والي وهرچاته ښکاره سي اويا دين په معني دانقياد دئ انقياد وتابعداري ته ويل کيږي نوبه معني داسي سي خاوند دورځي دتابع دارئ دټولو مخلوقاتو الله ج لره اويا په معني دجزا دئ يعني خاوند

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دورځي دجزا اويا په معني دحساب دئ يعني خاوند دورځي دحساب ياپه معني دسياست دئ يعني خاوند دورځي دسياست پراول تقدير الف لام عهد خارجي دئ پر نورو ټولو تقديرو استغراقي دئ انظر تبصير الرحمن جلد اول صـ ،سوال ،مالک يوم الدين صفت دئ د الله لپاره سره لدي چي صفتيت يي نه صحيح کيږي ځکه چي نکيره دئ پدي وجه چي مالک داسم فاعل صيغه ده ومعمول ته مضاف دئ نو په اضافت سره معرفه نه ګرځي جواب دلته اسم فاعل يا په معني دفعل ماضي دئ اويا په معني ددوام اوداستمراردئ اوپه داسي وخت کښي اضافت دده معنوي وي چي اضافت يي معنوي سو نو معرفه سو، سوال ،يوم الدين خو لدي وروسته راځي نو مالکيت دورځي دجزابه والله ج ته په ماضي کښي څنګه ثابت سي اودارنګه معني دمالکيت استمراري به دلته څنګه صحيح سي (جواب) څرنګه چي مالکيت دالله ج ورځي دجزالره اوهغو ټولوشيانو لره چي په ورځ دجزاکښي واقع کيږي يقيني راتلونکي دئ نوپه دي سبب دغه مستقبل مالکيت لکه ماضي اولکه واقع سوئ داسي بلل سوئ دئ اودارنګه دقيا مت ورځ اوهرهغه څه چي هلته پيداکيږي لکه متحقق سوي شئ داسي ګڼل سوي دئ ځکه عرب ډير ځله له متيقن مستقبل څخه په ماضي تعبير کوي اوکه دمالک لفظ په معني د استمرار سي نو معني به داسي سي چي الله پاک خاونددهميشه مالکيت دورځي دجزا دئ يعني کله چي دجزاورځ راسي نو الله پاک هميشه مالکيت دټولو هغو امورو لري کوم چي په همدغه ورځ کښي پيداکيږي پوسه ! که دمالک پر ځاي باندي ملک وويل سي چي صفت مشبه دئ نو بيا سوال مذکور نه کيږي ځکه دصفت مشبه اضافت معنوي وي سوال اضافت داسم فاعل خوومفعول به ته راځي نه ومفعول فيه ته اويوم الدين خومفعول به نه دئ دمالک لپار ه بلکي مفعول فيه دئجواب کله کله ظرف جاري پرځاي دمفعول به ګرځي مجازاً نو بيا منصوب هم راځي بيله تقديره دفي اومضاف اليه داسم فاعل هم راځي پوسه ! چي ظرف پر دوه قسمه دئ يومتصرف اوبل غير متصرف اول (1) هغه دئ چي له ظرفيت سره لازم نه وي لکه لفظ ديوم اولفظ دليلة په دغه قسم ظرف کښي توسع جائزه ده پدي ډول چي مرفوع مستعمل سي يامجرور يامنصوب شي بي له تقديره دفي نوجاري سي پرځاي دمفعول به خوله دي سره سره له معني دظرفيته هم نه خارجيږي له دي وجهي فعل لازمي هم متعدي ورته ګرځي که څه هم ومفعول ته تعدي نسي کولاي اوغير متصرف ظرف هغه دئ چي له ظرفيته سره لازم وي سوال کله چي يومتصرف ظرف منصوب واقع سي نو دا معلومات به له کومي لاري کيږي چي داظر ف بنا پرظر فيت په تقدير دفي سره منصوب راغلي دئ اوکه دتوسع له لاري بي له تقديره دفي منصوب دیاوجاري پرځاي دمفعول به دي جواب کله چي اسم ظر ف اسم ظاهر وي نوبيا يي فرق دقرائنو له لاري کيږي سوال که يو فعل متعدي و مفعول ته ؤ نو سره له تعدي وخپل مفعول ته ومتصرف ظرف ته هم تعدي کولاي سي اوکه يا جواب که فعل غيرمتعدي وو نو وظرف متصرف ته متعدي ګرځيداي سي اوکه فعل متعدي و يوه مفعول ته ؤ نوسره له تعدي وهغه مفعول ته وظرف متصرف ته هم متعدي ګرځيداي سي لکه حفرت بئراليوم اوکه فعل متعدي و دوو مفعولو ته ؤنو ځني نحويين ومتصرف ظرف ته بيا تعدي ددي فعل صحيح نه بولي اوځني يي صحيح بولي اوکه فعل متعدي و درو مفعولو ته ؤ نوبيا دغه فعل په اتفاق ومتصرف ظرف ته تعدي نسي کولاي ،اعلم ان معني التوسع في الظروف جعل ،الفعل متعديا اليها ومتعلقابها باعتبار کونه واقعا فيها بمنزلة نسبته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



الي المفعول به الواقع عليه لمابينهما من الملازمة والمشابهة والتوسع في الظروف تجوز حكمي في النسبة الظرفيةالواقعة بعد نسبة المفعول به الحقيقي واعلم ايضا ان الظرف المتوسع فيه مما جمع فيه بين الحقيقة والمجاز وهووان لم يكن جائزا لاكن ههنا جائز بالا تفاق لان التجوز ههنا تجوز حكمي لاحقيقي لبقاء الظرف علي معنا ه الظرفي فيه پوسه ! چي دملک په لفظ کښي دري احتماله دي اول دا چي مبالغة داسم فاعل سي دوهم دا چي ملحق سي په اسماء اجناس پوري لکه دسلطان لفظ دريم دا چي صفة مشبه سي دمذکوره بيان په ارتباط تفسير بيضاوي اوتفسير خفاجي وګورئ (اِيَاکَ) خاص تالره (نَعْبُدُ)عبادت کوو مونږ (وَاِيَاکَ) اوخاص له تاڅخه( نَسْتَعِينُ ) طلب دمعاونت کوو مونږ، پدي مبارک ايت کښي ومسلمانانو ته دالله جل جلاله له طرفه مختلفي لارښوني سوي دي اوله لارښوونه داده چي دمسلمان طاعت اوبندګي بايد په داسي ډول وي چي وار په وار والله جل جلاله ته دده دنزديکت اوقربت سبب وګرځي . تر داسي حده پوري چي اخير دخداي جل جلاله سره دونه معنوي قرب پيدا کړي لکه الله پاک ته چي په سترګوګوري دوهمه لارښوونه داسي په دي مبارک ايت کښي مونږ ته سوي ده چي أي بندګانو کله چي زماعبادت کوئ نوستاسي باطن اوزړه بايد وماته داډول متوجه وي لکه ماچي په سترګووينئ چي ودغه قسم عبادت ته په شريعت کښي احسان ويل کيږي له خدايه جل جلاله سره دريمه لارښوونه په دي ايت مبارک کښي مونږ ته داسوي ده چي أي بندګانو دبندګي اوعبادت لائق به يواځي مابولئ بل څوک به لائق دعبادت نه بولئ اوکله چي ماته عبادت کوي نو هغه به خالص زمالپاره کوي ،ريااونمايش وخلګوته به زما له عبادت سره نه ګډوئ اوخپل عبادت به له هرقسمه شرکه که خفي وي، که جلي وي پاک ساتئ اوکله چي عبادت کوئ نوبايد دغه عبادت سبب دعُجب اودمغرورئ دخپلوځانولپاره ونه ګرځوئ اوهم په دي ايت کښي الله جل جلاله داسي لارښوونه راته کړيده چي أي بندګانو کله چي له ما يوحاجت غواړئ نو بايد دحاجت تر غوښتني له مخه يو قسم طاعت اوبندګي وماته دواسطي اووسيلي په ډول وکړئ اوهمداسي لارښوونه الله پاک راته کړي ده چي حقيقي مددګار اوکومک دررسونکي بايد ما وګڼۍ اوپه هر مشکل کښي له ماڅخه کومک وغواړۍاوهم په دي ايت مبارک کښي داسي لارښوونه الله پاک مونږ ته کړي ده چي تر انفرادي عبادت اوتر انفرادي غوښتني زماپه دربار کښي اجتماعي عبادت لکه دجمعي لمونځ اوپه جمعه واري له ماڅخه ديوښي سوال کول زيات معتبر دئ .

علمي تحقيق

سوال = ددغه مبارک ايت له ماقبل سره چي د مالک يوم الدين کلمه ده څه قسم تعلق اومناسبت سته جواب = ددواړو ايتو اول جزءونه چي دمالک اواياک لفظونه دي په مدلول کښي سره متحد دي چي خداي پاک دئ اودنعبد کلمه له اول جزء سره دماقبل مختلف مناسبتو نه لري، اول مناسبت يي مناسبت دمعلول دئ له علت سره ځکه چي مالکيت دالله تعالي مونږلره علت دئ دعبادت زمونږ الله پاک لره ، دوهم مناسبت يي مناسبت دعبادت دئ له معبود سره ، دريم مناسبت يي مناسبت دفعل دئ له مقصود سره دفعل ،څلرم مناسبت يي مناسبت دفعل دئ له مُجازي سره پردغه فعل باندي اومناسبت دنعبد له يوم الدين سره دادئ چي يوم الدين وخت دئ د حصول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دثمرو دعبادت سوال = مخکښي الله پاک له خپله مقدسه ذاته دغائب په الفاظو تعبير کړئ ؤ اودلته يي داياک په لفظ دخپل ځان څخه تعبير وکړ نوپه دي بدلون کښي مقصد څه دئ جواب = مقصد په دي کښي دادئ چي په کلام کښي التفات راسي سوال = التفات وڅه ته ويل کيږي جواب = ځني وايي چي التفات دادئ چي په مقام دخطاب کښي دغائب په صيغه سره تعبير وسي ياددي عکس وسي اويا په مقام دتکلم کښي دغائب په صيغه سره تعبير وسي يايي عکس وسي يا په مقام دتکلم کښي دمخاطب په صيغه تعبير وسي يايي عکس وسي عام له دي که يواري په بله طريقه تعبير سوئ وي اوکه نه اومشهور دادئ چي التفات ودي ته ويل کيږي چي يواري له يوچا په يوه طريقه سره تعبير وسي اوبيا په بله طريقه تعبيرورڅخه وکړسي، په مذکوره ايت کښي په دواړومذهبو التفات موجود دئ سوال = دالتفات عامه نکته کومه نکته ده اودلته په دي مبارک ايت کښي چي التفات راغلی دئ نو په دغه التفات کښي خاصه نکته کومه يوه ده جواب = دالتفات عامه نکته چي په هرالتفات کښي بايد موجوده وي هغه تطريه دنشاط دسامع ده يعني تازه کول دشوق دسامع اوکوم التفات چي په دغه مبارک ايت کښي راغلي دئ نو ترهغه پوري خاصه نکته داده چي الله پاک بندګانوته ددي التفات له لاري دالارښوونه کوي چي زماحمد اوشکر اوزما ذکر چي تاسي کوئ هغه بايد په دي ډول وي چي وار په وارمو ماته دونه رانژدي کوي چي اخيرله ماسره دحضور اومشاهدي ومقام ته ورسيږئ . سوال =داياک لفظ خو مفعول دنعبد دئ مفعول خو له فعله وروسته ذکر کيږي دلته يي تقديم دڅه نکتي لپاره سوي دئ . جواب = په دي کښي ډيري نکتي دي اوله نکته افاده د حصر اواختصاص ده ځکه که اياک له نعبدڅخه وروسته ذکر سوي واي نومعني به داسي کيدله چي ( نعبد) عبادت کوو مونږ اياک تالره اواوس چي اياک پر نعبد رامخکښي سوي ده نو معني يي داسي کيږي اياک خاص تالره يعني نه بل چالره( نعبد) عبادت کوو مونږ ،دوهمه نکته په تقديم داياک کښي تعريض دئ ومشرکانو ته چي هغوی دبتانو عبادت هم کاوه ، دريمه نکته پکښي داده چي تقديم راسي دهغه چي هغه په وجود کښي له مخه دئ هم ترعابد اوهم تر عبادت دده په اعتبار دذات نو به وضع اوطبع سره موافق سي ، څلرمه نکته پکښي داده چي عبادت کوونکي ته له اوله وهلته اګاهي ورکړه سي پر دي باندي چي معبود ستا الله جل جلاله دئ ، پنځمه نکته پکښي داده چي عابد ته تنبيه ورکړه سي پر دي باندي چي په وخت دعبادت کښي دَيْ بايد هم په ظاهر کښي اوهم په باطن کښي والله پاک ته متوجه وي اوحضور يې برابر وي اودخداي پاک په تعظيم کښي کاهلي اوسستي بايد ورڅخه ونسي اونه دده زړه اوباطن له خدايه اوله عبادته دده څخه پرته په يوه اوبل شي مشغول سي، اوشپږمه نکته پکښي داده چه اهتمام راسي په هغه شي چي هغه تر هرڅه ومؤمنانو ته مهم دئ په هر حال کښي خاص بيا په حال کښي دعبادت چي هغه عبارت دئ له ذکره دخدايه ، اومه نکته پکښي داده چه دفعه دوسوسو دشيطان راسي ، اتمه نکته پکښي داده چي له اوله وهلته تصريح راسي پر دي باندي چه دغه عبادت الله پاک لره دئ ، نهمه نکته پکښي داده چي عبادت کونکي اګاه سي پر دي خبره باندي چه نظردده ومعبود خپل ته په وخت دعبادت کښي اولا اوبالذات وي اووعبادت ته يي نظر بايد له دي حيثه وي چي دغه عبادت يو نسبت دئ دده اودالله تعالي په منځ کښي . پوسه چي لفظ د(نعبد) جوړ سوی دئ له عبادت څخه عبادت په اصل کښي ودي ته ويل کيږي چه يوڅوک

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اخيره درجه کښې اظهار دذلت اودعجز خپل په خپل اختيار سره ويوچاته وکړي لپاره ددي چه په اخيره درجه کښې عظمت اولويي دهغه چاښکاره کړي ،کله چي دعبا دت په معني پوه سوي نو اوس په دي پوه سه چي دعبادت لايق هغه څوک دئ چه عبادت کوونکې ترهغه لوي اوبالا ترمنعم يعني نعمت ورکونکئ نه لري اوهغه له الله پاک څخه ماسوي بل څوک نسته ځکه وهيچاته هغه ډول نعمتونه چي الله پاک ورکړي دي اوورکوونکې يي دئ بل هيڅوک نسواي ورکولاي نونتيجه داسوه چي لايق دعبادت ماسوي له الله تعالي بل هيڅوک نسته نوځکه به موږ داسي وايو چي( اياک نعبد) يعني خاص تالره خدايه عبادت کوو نه بل چالره ،. پو سه چي عبادت کله په معني دطاعت راځي لکه په دي قول کښي (لاتعبدواالشيطان )اوکله په معني ددعاراځي لکه په دي قول دخداي تعالي کښي (ان الذين يستکبرون عن عبادتي) اوکله په معني د توحيد راځي لکه په دي قول دخداي پاک کښي (وما خلقت الجن والانس الا ليعبدون) . سوال = څه وجه ده چي د (نعبد)لفظ دمتکلم مع الغير په صيغه سره ويل سوئ دئ سره له دي چي هر لمونځ کونکې په لمانځه کښي سورت فاتحه وايي اوهر لمونځ کونکي خو يو نفر وي .جواب = په دي کښي ډير اسرار دي اول سر دادئ چي لمونځ کونکي سره له دي چي يوسړي دئ اوداسي ووايي چي اياک نعبد نوګواکي ده وخداي پاک ته داعذر اوعجز وړاندي کړ چي خداي پاکه زه قاصر يم اوعبادت مي قاصر دئ ددي وړ نه دئ چي تنهايي وتاته وړاندي کړم نوزه عبادت خپل په ضمن کښي دعبادت دنوروعبادت کونکيو درته ذکر کوم . او خپل ځان په حيث د عبادت کونکي دنورو عبادت کونکيو په جمله کښي درته عرضه وم چي ددوئ دعبادت په طفيل ځما عبادت هم قبول کړي اوددوئ دمنظوريدو په ترڅ کښي زه هم منظور سم.

شنيدم که درروزاميد وبيم ـــــ بدان را به نيکا ن ببخشد کريم ، بدان را در اقبال نيکان زيند ،

وګر نه بدان اهل نيکي نيند، اودوهم سِر دادئ چي لمونځ کونکي يوه اندازه له دروغ ويلو وساتل سي ځکه چي دی په لمانځه کښي مثلا داسي ووائي چه اياک اعبد يعني خاص تالره عبادت کوم اوپه عين حال کښي دغه لمونځ کونکئ دريا په مرض مبتلا وي اوددنيوي منافعو په طمع هميشه واهل ددنيا ته سر کښته کونکئ وي نو سخت کاذب بلل کيږي اوچي عبادت خپل په جمله کښي دعباداتو دصادقينو ذکر کړي نو څه قدر به صادق وبلل سي . دري يم سِر دادئ چه و بندګانو ته تنبيه ورکوله سي چي تاسي ټول بايد په دي کښي سره متفق ياست چي هر يوخاص دالله تعالي عبادت کونکې وي اوعبادت دالله تعالي بايد ستاسي مابه الاشتراک وي ، اوڅلرم سِر په دي کښي اشاره ده وبندګانو ته ددي چي لمونځونه بايد په جماعت سره ادا کوئ ، اوپنځم سِر په دي کښي دادئ چي حفظه اوکرام کاتبين ملکو ته هم شامل سي ،اوشپږم سِر په دي کښي دادئ چي الله تعالي بنده ته ددي اشاره کوي چي که دي زما عبادت کاوه نو دلوړ عظمت والا به وګرزي چي ته به تنها دپوره ډلي په سريي ، ولي نعبد تر نستعين له مخه ذکر سو

سوال = په څه وجه الله پاک دعبادت ذکر پر استعانت له مخه کړي دئ . جواب = ددي کار مفسرينو رحمهم الله ډيري وجهي بيان کړي دي ، اوله وجه داده چي که دنعبد جمله راوروسته سوي واي نو بيابه داياتو داخيري حرفونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سجع نه واي برابره سوي ، دوهمه وجه داده چي نستعين دعاده اودعاهلته ښه قبليږي چي دوسيلي په ډول يو طاعت اوبندگي له مخه تر دعا وکړه سي ، دريمه وجه داده چي عبادت هغه شي دئ چي الله پاک يي له موږ څخه غواړي اوپه نستعين کښي ځموږ غوښتنه درج ده نو پکارده چي غوښتنه دالله جل جلاله له مخه سي پر غوښتنه ځموږ اوداسي هم نوري ډيري وجهي سته ( واياک نستعين ) پوسه چي نستعين له استعانت څخه مشتق دئ استعانت طلب دمعونت اودکومک ته ويل کيږي اوکومک پرڅلورقسمه دئ اول قسم يي دادئ چي الله پاک پر کار باندي قدرت وبنده ته ورکړي دوهم قسم يي دادئ چي کار ورته اسانه کړي اواسانه يي په خيال کښي ورولي ،دريم قسم يي دادئ چي وکار ته يي ورنزدي کړي ،څلرم قسم يي دادئ چي پر کار يي باعث کړي اوشايق اوراغب يي کړي وکار ته مثلا دعقل اوشعور اودلاسو اوپښو ورکو ل وبنده ته له اول قسم کومک څخه دئ اوفراغت دزړه ورکول اوموانع دکار ورڅخه لري کول له دوهم قسم څخه دئ اود کار مينه دبنده په زړه کښي پيداکول اوکا ر دبنده په نظر کښي ښائسته وروستل اودکار لذت اوخوند په ده کښي پيداکول له دريم قسم څخه دئ اويومرشد اولارښوونکئ ورته پيداکول چي هر ساعت وده ته پند اونصيحت کوي اوپر کار دعبادت ترغيب اوباعثتوب ورکوي له څلرم قسم څخه دئ ، پو سه چي مقصود له اياک نستعين څخه ياطلب دکومک دئ په عبادت کښي نوبه معني داسي شي چي خاص له تاڅخه أي خدايه طلب دکومک کوو په عبادت ستا کښي اويامقصود ورڅخه طلب دکومک دئ په ټولو روا کارو کښي نوبه معني داسي شي واياک اوخاص له تا څخه نستعين طلب دکومک کوو په ټولو کارو کښي يعني هغه کارونه چي روااودخير کارونه دي

اِهْدِِراوښيه نَا موږ ته الصِرَاطَ لار المُسْتَقِيْمَ سيده برابره يايي داسي معني وکړي اهد روان کړه نا مو ږ الصراط پر لار المستقيم برابره باندي يايي داسي معني وکړئ اهد بوزه نا موږ الصراط پرلار المستقيم برابره باندي ، پوسه چي يو ښوونه ده دلاري حقي او يو رسول ولاري حقي ته دي او يو روانول يابيول پر لار حقه باندي دئ که مقصود ښوونه دلاري حقي وه نواهدنا الي الصراط المستقيم ويل کيږي اوکه مقصود رسول ولاري حقي ته وو نواهدنا للصراط المستقيم ويل کيږي اوکه مقصود بيول ياروانول پرلارحقه وونو اهدنا الصراط المستقيم ويل کيږي دغه ډول شاه عبد العزيز قدس سره په خپل تفسير کښي ذکر کړي دي سره له لږ اضافه توبه زما په بيان کښي، نودلته که اوله معني مراد سي نوتقديردالي به ورسره ملاحظه کيږي اوکه دوهمه معني مراد شي نوتقدير دلام جاره به ورسره ملاحظه کيږي اوکه دريمه اويا څلرمه معني مرادسي نو بيا ملا حظه دتقدير دحرف جرنه کيږي سوال = ددي مبارک ايت له مخکښي ايت سره څه مناسبت دئ؟ جواب = دغه مبارک ايت دمخکني ايت دواياک نستعين له جملي سره تړلي دئ په دي ډول چي زموږ له خوا داوويل سي چي واياک نستعين يعني اوخاص له تا څخه معونت غواړو نوگويا دالله تعالي له طرفه داسي راته وويل سوو چي په څه ډول زه کومک اومعونت درسره وکړم نوموږ دخپل رب په جواب کښي داعرض وړاندي کوو چي داسي کومک راسره وکړه چي دحق پرلارباندي موږ محکم اوثابت ولره ،سوال = هر لمونځ کونکي دلمانځه په هررکعت کښي سورت فاتحه وايي نودَئ چي داووايي چي موږ ته هدايت وکړه دصراط مستقيم نوداخو ده دداسي شي غوښتنه وکړه چي هغه وده ته ورکړسوي دئ څکه دَيْ چي لمونځ کوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوخو مسلمان دئ نودصراط مستقيم کوم چي دين داسلام دئ هدايت خو حتماً ورته سوی دئ جواب = ددي سوال مختلف جوابونه سته اول جواب دادئ چي مرتبي دقرب اونزديکت دبنده والله پاک ته بيشماره دي نولمونځ کوونکئ چي په هره مرتبه کښي وي نودَي سوال دهدايت دهغه صراط مستقيم کوي چي وهغه ته لاهنوز دَي نه دئ وررسيدلی دوهم جواب دادئ چي مقصود له دغه سواله څخه ثبات اوټينګوالي پر صراط مستقيم دئ تر مرګه پوري اوداسي نور جوابونه هم سته خودغه هغه بيخي عمده جوابونه دي،سوال = دمفعول ضميرکوم چي په اهدنا کښي دجمع په لفظ سره راوړل سوئ دئ په دي کښي څه حکمت دئ ، جواب = يوحکمت دادئ چي دنعبد اودنستعين له صيغوسره موافق سي ځکه هغه هم دجمع لفظونه دي اودوهم حکمت دادئ چي په جمع واري سره دعاښه مقبوله ګرزي دريم حکمت دادئ چي يوانسان لکه چي دځان وهدايت ته مجبور دئ داډول دخپل ماحول دخلګو وهدايت ته هم مجبور دئ ځکه يوه خوداوجه ده چي کله يوانسان پر سمه لار روان وي اونوربي لاري وي نودغه انسان په دغه بي لارې تږلنه اوجامعه کښي له سختو کړاوو اوستونځو سره مخامخ ګرزي اوبله داوجه هم ده چي هر انسان لکه چي دخپل ځان پر اصلاح مکلف دئ همدارنګه پر امر بالمعروف اونهي عن المنکر هم مکلف دئ نو په دي وجه هر مسلمان ته ضرور دئ چي دنورو دهدايت سوال هم کوي په دي وجه چي دامر بالمعروف له ستونځو څخه تر يوحده پوري خلاص سي . سوال = هدايت پر څو قسمه دئ جواب = هدايت بي حسابه نوعي لري خوسره له دي په شپږو جنسوکښي حصر دئ اول هدايت هدايت الهامي دئ په ابتداء کښي دولادت دوهم هدايت هدايت الهامي دئ وروسته له دي چي انسان وسِن دتميز ته ورسيږي دري يم هدايت په ذريعه دوحي دئ څلرم هدايت په ذريعه دصادقو خو بو دئ پنځم هدايت په ذريعه دفراست دئ شپږم هدايت په ذريعه دکشف دئ اوم هدايت په ذريعه دحواسو دئ اتم هدايت په ذريعه دعقل دئ نهم هدايت په ذريعه ددلائلو دئ لسم هدايت په واسطه درسولانو اوپه واسطه دانزال دکتابو دئ اخيري هدايت بيا پر دوه قسمه دئ يوعام دئ اوبل خاص دئ عام بيا پر دوه قسمه دئ يو تبياني دئ بل توفيقي دئ خاص بيا پر دري قسمه دئ يومن الله دئ بل الي الله دئ بل بالله دئ ، دذکر سويو اقسامو تفصيل ، پوسه چي کله يو کوچني ځنګه له موره پيداسي نو الله پاک ده ته داښوونه مثلا وکړي چي کله وږي سي نوژاړه چي موردي په دي پوسي چي ته وږی سوی‌يي اودارنګه ددي ښوونه ورته کوي چي دي بايد په څه رقم دمور تی ورودي دغه ته هدايت الهامي په حال دطفوليت کښي ويل کيږي اوکله چي و يوه صالح انسان ته ويو ولي ته دخداي پاک ديوي خبري معلومات په زړه کښي خداي پاک ورواچوي نوودي ته هدايت الهامي وروسته له سِنه دتميزه ويل کيږي چي ودي ته وحي عرفاني هم ويله کيږي اوکله دوحي فطري له لاري ويوه حيوان ته الله پاک ديوه کار نقشه معلومه کړي لکه دعسلوومچمچيو ته اولکه عنکبوت ته ودغه قسم ته هدايت فطري ويل کيږي اوکله يوه انسان ته عام له دي که کافر وي اوکه مسلمان وي ديوه شي دجوړولو نقشه په ذهن کښي ورواچوي لکه دتياري (جهاز) اويا دموټر ياداسي دنورو شيانودجوړه ولو نقشي چي اول واري الله پاک دځينو انسانانو په ذهنو کښي ورواچولي چي ودغه قسم ته هدايت ايجادي ويل کيږي اوکله داعلام بالشرائع له لاري الله تعالي يوچاته هدايت وکړي چي ودي ته هدايت په واسطه دوحي شرعي ويل کيږي دغه قسم هدايت تر نبيانو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اورسولانو پوري خاص دئ اوکله دخوب ليدلو په ذريعه الله پاک يوڅوک په يو شي خبر کړي ودي ته هدايت په واسطه دخوب ويل کيږي خو نسبت ونبي اوورسول ته حکم دوحي لري اوکله دفراست له لاري الله پاک چاته هدايت وفرمايي چي ودي ته هدايت په واسطه دفراست ويل کيږي اوکوم معلوما ت چي انسان ته دظاهري حواسو په واسطه کيږي لکه دسترګو ليدل دغوږ اوريدل په پَزه ديو شي بويه ول په خوله ژبه ديوه شي څکل په مسه کولو ديوه شي دګرم والي يايخوالي مثلا معلومه ول اودارنګه دباطني حواسو په واسطه ديوه شي معلومول ودي ته هدايت په ذريعه دحواسو ويل کيږي همدارنګه الله پاک چي وانسانانو ته عقل ورکړی دئ اودوی ته دهمدغه عقل په ذريعه دحقائقو معلوماتونه کيږي ودي ته هدايت په ذريعه دعقل ويل کيږي اوکوم دليلونه چي الله پاک پرخپل ذات اوپر خپلو صفاتو باندي پيداکړي دي لکه مخلوقات چي هر شي په مخلوقاتو کښي دلالت کوي پر ذات اوپر صفاتو دخداي پاک باندي و دي ته هدايت په واسطه ددلائلوويل کيږي اوهمداراز پيغمبران نبيان اورسولان چي الله پاک وانسانانو ته راليږي دي اوددوئ په سبب انسان حق اوباطل معلومه وي ودي ته هدايت په توسط دپيغمبر ويل کيږي اوکومه لارښوونه چي الله پاک يي په واسطه دخپل نازل سويو کتابو وبندګانو ته کوي لکه ومونږ ته چي يې په واسطه دقران کريم کړيده ودي ته هدايت په واسطه دکتابو ويل کيږي اوکوم هدايت چي په واسطه دهغو معجزو وو چي دنبيانو په لاس وخلګوته ښکاره سوي وي وهغه ته هدايت بالمعجزات ويل کيږي دانبيا وو اوکتابو په ذريعه عام هدايت دادئ چي دخير اودشر لار الله پاک ومونږ ته ښکاره کړي ده په دغه عام هدايت کښي بيا تبياني هدايت دادئ چي الله پاک هغه څه چي نبي اورسول دخداي پاک له طرفه ومونږ ته راوړي دي اوهغه څه چي دخداي پاک په کتاب کښي دي ويوچاته داسي ښکاره کړي چي هيڅ شک اوشبهه دده په زړه کښي نسي پاته اوکامل اوپوخ يقين باندي ورته حاصل شي اوتوفيقي هدايت ودي ته ويل کيږي چي الله پاک وبنده ته پر دغه هدايت باندي دکامل اوټينګ عمل توفيق ورکړي اوخاص هدايت دادئ چي دنبي ياولي په واسطه الله جل جلاله يوقسم نور ديوه سړي پرمدرکه قوه باندي وځلوي چي په نتيجه کښي ددي حقائق په واقعي توګه ودته منکشف سي اودغه خاص هدايت به يامن الله وي کوم چي په دغه قول دخداي پاک سره اشاره ورته سويده ( قُلْ اِنَّ هُدَى اللهِ هُوَالْهُدَي) اويابه الي الله وي کوم چي په دغه قول دخداي پاک کښي اشاره ورته سويده ( اِنِيّْ ذَاهِبٌ اِلَيَ رَبيِّْ سَيَهْدِينِ) اويابه بالله وي کوم چي په دغه قول کښي درسول عليه السلام اشاره ورته سويده ( لوْلَااللهُ مَااهْتَدَيْنَا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له اول ا يت څخه تراتم آيت پوري مصحح اومکمل

## پاره الم / سورة البقره

--------------------------------------------------------------------------------

تفسير سور ة بقره:

پوسه چي د قرآن کريم سورتونه دوه قسمه دي ـ اول مَکِي سورتونه دي ، دوهم مَدَنيِ سورتونه دي . پر اصح قول مکي سورتونه هغه دي چي د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم تر هجرت کول له مَکي مکرمې څخه و مدينې منورې ته له مخه نازل سوي دي . او مَدَني سورتونه هغه دي چي له هجرت څخه وروسته نازل سويدي.

د بقرې سورت له مَدَنيِ سورتو څخه دئ ،دغه مبارک سورت دبقرې سورت ځکه بولي چي بَقَرَه په عربي زبان کښي و غوا ته ويل کيږي ، اوپه دې سورت کښي د بني اسرائيلو د يوې غوا يوه ډيره له عبرت څخه ډکه نادره قصه راځي . نو ځکه دغه مبارک سورت په همدې نامه سره نامداره سوئ دئ.

دغه مبارک سورت نور ټول په مدينه کښي نازل سوئ دئ ،ماسوی له دوه سوه اوياتيايم ( ٢٨١) آيت څخه ،چي په مِنی کي په حجة الوداع کي نازل سويدئ . ددغه سورت (٢٨٦) اياتونه دي ،څلويښت (٤٠)يې رکوع ګاني دي . او د المطففين د سورت څخه وروسته نازل سويدئ ، په تلاوت کي دوهم سورت دئ . ځکه اول سورت په تلاوت کي د فاتحې سورت دئ . او په نزول کي اوه اتيايم (٨٧) سورت دئ ، يعني شپږ اتيا ،٨٦ ـ سورتونه له مخه نازل سوي وو . أوه اتيايم سورت همدغه سورت ؤ ،چي پر رسول باندي - صلی الله عليه وسلم- نازل سو .

لفظي ترجمه.

( الــم ) خداي پاک عالم دئ په معني اوپه مطلب ددي لفظ يا معني ددي لفظ پټ سردي دخداي پاک اودرسول حضرت محمد صلي الله عليه وسلم په منځ کښي ، (ذالک) دا(الکتاب) کتاب يعني داقران کريم ( لا ) نسته ( رَيبَ ) هيڅ شک (فيِ) په (هِ ) ده کښي ، يعني په دغه کتاب کښي چي قران کريم دئ هيڅ شک نسته په دې معنی په دغه کتاب، قرآن کريم کښي هيڅ شک نسته ،چي د خدائ جل جلاله کلام دئ ، او د خدائ پاک له طرفه پر حضرت محمد ـ صلی الله عليه وسلم ـ باندي نازل سوئ دئ او ټولي خبري ،او مضمونونه يې حق دي او دکفارودغه ټولی خبری چی ددغه قران په باره کښی يې کوي باطلې اوددویپرکفر،عناداوپرتعصب باندی بنادیـ .. (هُدی) لار ښوونه ده ، يا لارښوونکئ دئ يعني دغه کتاب ( لِلمتقين) پرهيزګارانولره ، يعني لکه څرنګه چي دغه قرآن کريم بې شک او شبهې داالله پاک کتاب دئ ، پر حضرت محمد ـ صلی الله عليه وسلم ـ نازل سوئ دئ ، او ټولي خبري يې حقي دي . دغه رنګه دا قرآن هدايت کونکئ ، او دسمي لاري ښوونکئ هم دئ پرهيزګارانو لره .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفصيل اوعلمي خبري (الم)

ّ پوسه چي ددغي مباركي كلمې په شان چي كومي كلمي دسورتو په اول كي راځي لكه ( الم ،الر وغيرهما،ودغو ته مُتَشابِهَات او يا حروف مُقَطعَه ، يا مُقَطعات قرآنيه ويل كيږي . كه څه هم دغه كلمي هره يوه اسم ده ځكه مثلاً په الف لام ميم كښي الف اولام ميم هريو ديوه معلوم حرف نوم دئ خوحروف په دي وجه ورته ويل كيږي چي دمتقدمينوپه اصطلاح كښي دحرف اطلاق پراسم اوفعل اوحرف دروسرو باندي كيږي اومقطعه په دي وجه ورته ويل كيږي چي هرتوري په تقطيع سره يعني په پريكړون سره له هغه بل حرفه څخه ويل كيږي اومتشابهات په دي وجه ورته ويل كيږي چي ددوی معني ګاني پوشيده اوپټي دي اوقرانيه په دي وجه ورته ويل كيږي چي دقران دسورتو په سروكښي راغلي دي

همدارنګه پوسه چي په دغوكلموكښي علماؤرحمهم الله سخت اختلاف كړئ دئ ،

په دي ډول چي ايا پرته ،سوی له الله (جل جلاله)څخه بل څوک د دغو كلمو په معنی ګانو عالم كيداځ سي اوكه يا ، او كه عالم كيداځ سي نو بيا تنها د خداځ پاک رسول د دغو كلمو په معنی پوهيدئ ،اوكه له رسول - صلى الله عليه وسلم- څخه پرته بل چا ته هم د دغو كلمو پر معنی ګانو علم حاصليدلاځ سي ، او كه حاصليدلاځ سي نو بيا يې معنی ګاني څه دي ؟ . دغه ټول اختلافونه ذكر كول موږ له اصلي مقصد څخه وروسته كوي فقط هغه بيان په دې باب ذكر كوم كوم چي د امام الهمام ابو حنيفه رحمه الله تعالى د مذهب مفسرينو غوره كړيدئ.

هغه بيان دادئ چي ځيني علماء ځموږ د مذهب وايي چي : د دغو كلمو معنی له خداځ پاک څخه بغير و بل هيڅا ته نه ده معلومه . او ځيني علماء وايي چي و رسول ته هم د دغو كلمو پر معنی باندي علم حاصل ؤ ، او معنی ګاني د دغو كلمو ، د خداځ پاک او حضرت محمد - صلى الله عليه وسلم- په منځ كښي پټ رازونه ؤ ، چي جبرئيل عليه السلام ته هم په هغوئ باندي علم نه ؤ حاصل.

ځموږ په مذهبي علماؤ كي د ځينو له قوله څخه ، اول قول بهتر معلوميږي .. او له خلفاووراشدينو څخه هم د اول قول مطابق روايت راغلئ دئ . او د بعضو علماوو له قوله ، د دوهم قول بهتروالئ معلوميږي . بهرحال د اول قول مطابق چي الم ووايې نو به دا ډول وايې الله پاک عالم دئ

په معنی د دې ، يعني د ( الـــمّ ).

او د دوهم قول مطابق چي (الم)و وايې ، نو به داسي وايې ، معنی ددي كلمي پټ سردئ د خداځ اود رسول په منځ كښي ، هر ډول چي په دغودووډولوكښي و وايې صحيح دئ .

عرفاني فايده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوسه چي ددغومقطعه حروفو په دي شرط چي مکررپه دوی ـ کښي حذف کړه سي ټول تعداد څوارلس یادیارلس دي په دي شرحه (الم ــ المص ــ الر ــ المرا ـ کهیعص ــ طه ــ طسم ــ طس ــ یس ــ ص ــ حمعسق ــ ق ــ ن )

اوشاه عبدالعزیزرحمه الله فرمایلي دي چي سورت بقره له جملي څخه دهغو نهه ویشتوسورتوڅخه دئ کوم چي دهغوی ـ ابتداء په حروفومقطعه ۋ سره سویده اودغه حروف مقطعه په دي شرط چي مکررحرفونه ورڅخه حذف کړه سي ټول څورلس حرفونه دي په دي ډول، الف، لام ،میم ، صاد، را، کاف، ها ،یا ،عین ، طا ،سین، حا، قاف، نون ، انتهی ماقال.

همدارنگه پوسه چی په دغو ذکرسویو حروفوکښي ودغولاندی اسماء الهیه ۋ ته اشاره راغلي ده خو نه په دي معني چي دغه حروف له دغواسماء الهیه ۋ څخه رامختصرسوي دي بلکي په دي معني چي دغه حروف په دغواسماء الهیه ۋکښي موجوددي، هغه اسماء الهیه دادئ:

)یاالله جل جلاله یااحد جل جلاله یااخرجل جلاله ، یالطیف جل جلاله ، یا ملک جل جلاله ، یا مبدئ جل جلاله ، یا معید جل جلاله، یا محیي جل جلاله ، یا ممیت جل جلاله ، یاماجد جل جلاله ، یا مقتدر جل جلاله ، یا مؤخر جل جلاله ، یا منتقم جل جلاله، یا متعال جل جلاله، یا مالک الملک جل جلاله، یا مقسط جل جلاله، یا مغني جل جلاله، یامعطي جل جلاله ، یا مانع جل جلاله،یا صمد جل جلاله، یا صبور جل جلاله، یا رحمن جل جلاله، یا رحیم جل جلاله یا رزاق جل جلاله ، یارافع جل جلاله، یارقیب جل جلاله، یارؤف جل جلاله، یا رشید جل جلاله، یا کبیر جل جلاله ،یا کریم جل جلاله، یا هادي جل جلاله، یا عزیز جل جلاله، یاعدل جل جلاله، یا عظیم جل جلاله، یا علي جل جلاله، یاعفو جل جلاله، یا سلام جل جلاله، یا سمیع جل جلاله ، یا حلیم جل جلاله، یا حفیظ جل جلاله، یا حسیب جل جلاله، یار حیم جل جلاله، یا حق جل جلاله، یا حمید جل جلاله، یا حي جل جلاله، یا قادر جل جلاله، یا قیوم جل جلاله، یا قوي جل جلاله، یاقهار جل جلاله، یاحسیب جل جلاله، یاقدوس جل جلاله، یا نور جل جلاله، یا نافع جل جلاله، یاطیب جل جلاله (

دغه مذکورحروف مقطعه غیرمکرره سره له دغوالهي نومو دپاره دحل دمشکلاتو چي دري ورځي پرلپسي وویل سي او په دغودریوورځوکښي وشپږسوه دري نوي(٦٩٣) واره ته یې دویلو شمیر ورسیږي نو دایوډیر مجرب عمل دئ.

)ذالک الکتاب (

پوسه چي د(ذالک الکتاب) دمبارکو دووکلمولفظي ترجمه په دري ډوله کیدلای ـ سي دوه ډوله ترجمه یې پردي تقدیرده چي ذالک مبتداء سي اوالکتاب یې خبرسي په دغه تقدیرکښی بیادوه احتماله دی اول احتمال دادی ـ چی دذالک په لفظ سره وهغه ته اشاره وکړه سی کوم چی له رسول علیه السلام سره ئی ددغوایاتو ترنازلولوډیرږومبی ـ دانزال وعده الله پاک کړئی وه اودوهم احتمال دادی ـ چی په ذالک سره وهغه ته اشاره وکړه سی کوم چی په تورات اوپه انجیل کښی الله پاک دهغه دنازلولو وعده فرمایلی وه چی تفصیل به ددواړواحتمالودرته راسی ، اودریم ډول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه يې پردي تقديره چي ذالک موصوف يا مبدل منه سي اوالکتاب يې صفت يابدل سي مجموع مبتدا سی او(لاريب الخ )ئی خبرسی چي دغه دري سره ډولونه په دي شرحه درته ذکرکوم.

اول ، (ذٰلِکَ) هغه چي وعده يي سوي وه له تاسره دنازليدو (الْکِتاَبُ) دغه کتاب دئ يعني کوم چي ته يې وخلگوته وايې، دوهم (ذلک) هغه چه وعده يي سوي وه دنازليدوله پخواڅخه‌لا ـ يعني په تورات کښي کوم چي پرموسي عليه السلام نازل سوي دئ او په انجيل کښي کوم چي پرعيسي عليه السلام نازل سوي دئ (الْکِتاَبُ) دغه کتاب دئ ــ يعني هغه دغه قران کريم دئ چه ته يي وخلگوته وايي اوځني يي مني اوعمل په کوي اوځني يي نه مني سحرجادواوياشعريي بولي . پوسه چه په تورات کښي اوپه انجيل کښي ددي وعده الله پاک کړي وه چه دغه قران کريم به په خپل وخت کښي پر حضرت محمدصلي الله عليه وسلم نازلوي لکه چه له حضرت کعب څخه روايت دئ چه ده وخلگوته وفرمايل .

)علَيْکُم ْبِالْقُرْاٰنِ فَاِنَّهُ فَهْمُ الْعَقْلِ وَنُوْرُالْحِکْمَةِ وَيَنَابِيْعُ الْعِلْمِ وَاَحْدَثُ الْکُتُبِ بِالْلّٰهِ عَهْدًاوَقَالَ فِي التَّوْرَاةِ يَامُحَمَّدُ اِنِّي مُنَزِّلٌ عَلَيْکَ تَوْرَ ةً حَدِيْثاً تُفْتَحُ بِهَااَ عْيُناًعُمْياًوَاٰذَاناًصُمًّاوَقُلُوْباًغُلْفاً(

يعني اي خلگولازم سي له دغه قران کريم سره يعني هم عمل په کوي اوهم يي تلاوت کوي اوهم يي زده کوي په خپله اوهم يي ونورو ته ورزده کوي ځکه چه دغه قران کريم داسي مقدس کتاب دئ چه هم دانسان دعقل لپاره فهم دئ اوهم له حکمته ډک نوردئ اوهم دده مبارک اياتونه دعلم اودپوهي چيني دي اودالله جل جلاله ترنورو ټولوکتابويي تعلق له الله سره تازه اونوي دئ ځکه دخداي ج ترټولوکتابووروسته نازل سوي کتاب دئ اوالله پاک په تورات کښي له پخوالافرمايلي وو چه اي محمده بيشکه زه نازله وونکي يم پرتاباندي دداسي يوه نوي تورات يعني چه قران کريم دئ چه په هغه سره به خلاصيږي هغه سترگي دخلگوچه دحق له ليدلوړندي وي اوهم به په ده سره خلاصيږي هغه غوږونه دخلگوچه دحق له اوريدلوڅخه کاڼه وي اوهم به په ده سره خلاصيږي هغه زړونه دخلگوچه له حق څخه په پردوکښي وي يعني دده په وجه به خلگ داسي هدايت پيداکړي چه هم به دحق نښاني په سترگووېني اوهم به دحق خبري دقبول په ډول په غوږواوري اوهم به دده په وجه دخلگوله زړوڅخه دکفراودگناووپردي ليري سي اوددوئ دزړوسترگي به خلاصي سي نوبيا به حق حق بولي اوباطل به باطل بولي دارنگه په انجيل کښي هم الله پاک دقران کريم دنازلولوپرحضرت محمدصلي الله عليه وسلم باندي وعده کړي وه اودااړ الله پاک له رسول عليه السلام سره هم له مخه ترنازليدودسورت بقري پرده باندی دپاته قران پاک دنازلولو وعده کړي وه په دي قول سره چه الله پاک فرمايلي دي( اِنَاسَنُلْقِيْ عَلَيْکَ قَوْلاًثَقِيْلاً )ترجمه بيشکه موږ به ژرده چه وابه چوويعني نازل به کړوموږپرتاباندي قول دروندچه عبارت دئ له قران کريم څخه نوځکه مادذلک دلفظ په لفظي ترجمه کښي دوه ډوله تعبيرونه ذکر کړل دادواړه ډولونه پرهغه تقديردي چي ذالک الکتاب مبتداء اوخبرسي ، او دريم ډول ترجمه يې داده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ذالک ) دا ( الكِتاب ) کتاب( لا ـ) نسته( ريب) هيڅ شک( فيه )په ده کښې يعني په دغه قرآن كريم کښې. تنبيه ، دغه ترجمه يې پردي تقدير د ه چي د (الکتاب) لفظ له( ذالک) څخه بدل اويا يې صفت سي اومجموع مبتداء سي اولاريب فيه يې خبرسي ، پوسه چي دلته يوڅلورم ډول هم سته هغه دادئ چي په ذالک سره اشاره وقرانكريم ته وکړه سي اومبتداء سي او د(الکتاب) په لفظ کښي الف لام جنسي سي او د(ذالک) خبرسي نوبې ترجمه په دي ډول سي چي دغه قران جنس کتاب دئ يعني ګواکي له ده څخه پرته بل هيڅ کتاب نسته اومطلب به ورڅخه داسي چي په كتابوالي کښي ترده كامل كتاب نسته، سوال دذلک په لفظ سره اشاره وکوم شي ته ده ځکه دذلک لفظ خوداسي مشاراليه غواړي چه بعيدوي جواب په مشاراليه کښي دذلک ډيراحتمالونه دي خوله جملي دهغوڅخه زه هغه احتمالونه درته ذکرکوم چه هغه ډيرپه زړه پوري دي اول احتمال دادئ چه په ذلک سره وهغه کتاب ته اشاره ده چه په تورات اوپه انجيل کښي يي دنازليدووعده سوي وه دوهم احتمال دادئ چه په ذلک سره اشاره ده وهغه کتاب ته چه وعده دنازليدو يي له رسول عليه السلام سره په خواترنازليدودسورت بقري سوي وه ددغودوواحتمالوتفصيل مخکي درته ذکرسودريم احتمال دادئ چه په ذلک سره اشاره ده ودغه حاضرقران کريم ته دغه حاضرقران کريم که څه هم بعيداوليري نه دئ بلکي قريب دئ خوپه ذلک سره چه اسم اشاره دبعيدده يادتعظيم له وجهي اشاره ورته سوي ده لکه چه علماؤدعلم بلاغت ذکرکړي دي چه کله کله وقريب شي ته په ذلک سره اشاره کيږي لپاره دښکاره کولودعظمت دهغه شي ځکه دغه قريب شي که څه هم دمکان په حيث نژدي وي خودمرتبي په اعتبارلوړاوليري وي نودغه ليري والي اولوړواليدمرتبی دده داسي فرض کړل سي لکه ليري والي په مکان کښي نوپه ذلک سره اشاره ورته وسي اوياله دي وجهي په ذلک اشاره ورته سوي ده چه مشاراليه چه قران کريم دئ کله چه دخداي له لوري پررسول عليه السلام نازل کړسواوځموږپه حضورکښي وګرزيدی نوګواکي له اشاره کونکي څخه په ذلک سره چه الله پاک دئ راليري کړسواوبعضي مفسرينوفرمايلي دي چه په ذلک سره اشاره ده وصراط مستقيم ته هغه صراط مستقيم چه په سورت فاتحه کښي ذکرسوي دئ بنا پردغه قول مناسبت دبقري دسورت دفاتحي له سورت سره په ډيره کامله وجه راځي پوسه چه په مشاراليه کښي دذلک يوشي بل هم ضروردئ هغه داچه محسوس به وي يعني ليدل کړکيدونکي به وي په سترګوسره اوحاضربه وي واشاره کونکي ته په وخت داشاري کښي دلته دذلک مشاراليه پرهرتقدير له ذکرسويوتقديروچه يي واخلي محسوس په سترګوسره نه دئ ددي سوال جواب په دي ډول دئ چه که څه هم حقيقة خوداسم اشاري په مشاراليه کښي محسوس والي دسترګوضروردئ خوکله کله په اسم اشاره سره اشاره کيږي وهغه شي ته چه محسوس والي يي محال وي اويامحسوس وي خوپه وخت داشاري کښي حاضرنه وي خودغه اشاره بنا پرمجازاواستعاره باندي ده په دي ډول چه دغه غيرمحسوس مشاراليه مشابه کړي په ذهن کښي له محسوس شي سره اويادغه مشاراليه چه په وخت داشاري کښي حاضرنه وي مشابه کړي په ذهن کښي له حاضرشي سره بياهغه لفظ چه په مشبه به کښي مستعمليږي داستعاري په ډول په مشبه کښي مستعمل کړي نوپه دغه وخت کښي په اسم اشاره کښي استعاره مصرحه جوړيږي ،د(الکتاب )په لفظ کښي الف لام ياعهدخارجي دئ نوبه په دغه الف لام سره وهغه فردته دکتاب اشاره وسي چه پرمحمد صلي الله عليه وسلم نازل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوي دئ اوده وخلګوته وايه لکه چه لفظي ترجمه هم ماددغه صورت مطابق کړي ده اويا الف لام په الکتاب کښي جنسی دئ نوبه بياظاهري ترجمه په دي ډول سي ذلک هغه قران چه پرتاباندي نازل سوي دئ اي رسوله ياذلک هغه قران چه دخداي پررسول باندي نازل سوي دئ اي خلګو الکتاب جنس کتاب دئ يعني ماسوي له ده بل کتاب نسته نوبه حصردمطلق کتاب راسي په قران کريم کښي خوحصرد جنس شي چه په يوشي کښي وکړل سي نو دغه په دوه ډوله دئ يوډول يي دادئ چه په نفس الامرکښي هم دغه جنس شي حصروي په دغه شي کښي بل ډول يي دادئ چه حصرددي جنس په دي شي کښي دمبالغي په ډول وکړل سې مرادورڅخه داوي چه دغه شي چه ماجنس شي په ده کښي حصرکړفرد کامل دهمدغه جنس دئ دلته چه جنس کتاب حصرسوي دئ په قران کريم کښي دغه حصرله دغه دوهم قسم څخه دئ ځکه چه په نفس الامرکښي خوکتاب حصرنه دئ په قران کريم کښي بلکي نورهم ډيرافرادلري (،لاَ رَيْبَ فِيْهِ ). يعني نسته هيڅ شک په دغه کتاب کښي چه قران کريم دئ پوسه چه کلمه د(لا)دپاره دنفي دجنس ده اود(ريب) لفظ مبني پرفتحه دئ له وجهي ددي چه متضمن دئ حرف استغراق لره چه کلمه دمن ده ځکه تقديردکلام داسي دئ لامن ريب يعني نسته هيڅ له يوشکه په دي قران کريم کښي او اسم دلادئ اود(فيه) لفظ په اعتباردمتعلق مقدرسره چه( ثابت) دئ خبردئ دلادپاره اَي (لاريب ثابتاً فيه) همدارنګه پوسه چي درېب لفظ په اصل کښي مصدردرَابَ دئ اومعني يې په اضطراب اوپه سرګرداني کښي اچول، ده اودريبة لفظ په معني داضطراب اودسرګردانئ ده بيادريب لفظ په معني دشک سره مشهورګرځيدلئ دئ ځکه چي شک سبب داضطراب اودبي اطمنانئ دنفس دئ، امام رازي فرمايلي دي چي دريب لفظ په معني کښي وشک ته ورنزدی ده مګردريب په معني کښي يوڅه زياتوالئ سته هغه دادئ چي ريب ودي ته ويل کيږي چي پريوشي باندي دبدوګمان وکړسي مطلب دا چي ريب وظن سوء يعني ګمان دبدوته ويل کيږي لکه چي داسلام پيغمبرفرمايلي دي ( دَعْ مَايُرِيْبُکَ اِليَ مَالاَ يُرِيْبُکَ) حديث صحيح . يعني پريږده هرهغه شي چي اچوي تاپه بدګماني کښي وهغه شي ته،يعني اوځه وهغه شي ته چي هغه تاپه شک اوپه بدګماني کښي نه اچوي همدارنګه پوسه چي دلته يوسوال کيږي چي جواب يې ضروري دئ سوال په دي ډول کيږي چي کافران دمکي اودنوروځايودقران کريم دنازليدوپه زمانه کښي ځيني له قران کريم څخه منکروه اوځني پکښي شک کونکي وه نوله دي سره سره به دخداي پاک ددغه قول چي لا ريب فيه دصحت وجه څه وي جواب ددي سوال په مختلفوډولوکيدلای سي اول په دي ډول چي دخداي پاک دذکرسوي قول مطلب دانه دئ چي دخلګوله طرف څخه هيڅ شک په قران کريم کښي نه دي واقع سوئ بلکي مطلب ورڅخه دادئ چي په قران کريم کښي نسبت وهغه چاته شک نه پيداکيږي کوم چي سالم عقل لري اوله تعصب اوعنادڅخه پاک وي اودحق په لټه کښي وي اوله دي سره سره يې په هغوښکاره دلائلو کښي تأمل اوفکرکړيوي کوم چي دقران کريم پرحقيت باندي لالت کوي.

اودوهم په دي ډول چي لاريب فيه څخه مطلب دادئ چي قران کريم لائق په دي سره نه دئ چي په ده کښي شک وکړسي يعنی مرادله نفی دريب څخه نفی دلياقت دريب ده اودريم پدي ډول چی مقصودله آية څخه نهی ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعنی شک مکوئ ای خلگو په دغه کتاب،قرآن کریم کښی نو به لاریب فیه په معنی دلاترتابوافیه سی ،بیضاوی وغیره

(هدًي )لارښوول دی ، يعني دغه قران کريم دډېري کاملي لارښووني په وجه چه حقه اوسمه لاروخلگوته ورښه يي گواکي ټول سره لارښوول يالارښوونه گرزيدلي دئ يا(هدي )په معني دلارښوونکي دئ مصدر دی په معنی داسم فاعل دیيعني دغه قران کريم دحقي لاري ښوونکئ دئ پوسه چی دترکیب په لحاظ سره دهدی په لفظ کښی دوه احتماله دی اول احتمال دادی چی حال سی له ضمیرمجرورڅخه دفیه دوهم احتمال دادی چی خبرسی دمبتدامحذوفی دپاره چی لفظ د هو دی پوسه چی که دهدی لفظ پرخپله مصدری معنی باندی حمل سی نوبه په حمل دده کښی پرضمیرمجروباندی یاپرمحذوفه مبتدا باندی مجازفی النسة راسی اوکه په معنی داسم فاعل سی نوبیابه دهدی په لفظ کښی مجاز فی الطرف اومجاز مرسل راسی همدارنگه پوسه چی دهدايت په اړه يوه برخه دتفصيل دسورت فاتحی په تفسير کښی مادرته ذکر کړاومکمل تفصيل بې په بل ځاي کښي انشاءالله درته راسي خودلته په خلاصه ډول په دي دي اړه بيان درته کوم،پوسه چي دهدًی اودهدايت لفظونه داکثروعلماؤپه قول په يوه معني دي دغه دواړه لفظونه متعدي اولازمي دواړه قسمه راغلي دي چي متعدي سي نومعني ددواړو ښوونه دلاري ده اوچي لازمي سي نومعني ددواړوليدل دلاري دئ ، پوسه چي په هدايت کښي څلورمذهبه دي اول مذهب دادئ چي هدايت په لغت کښي په معني دلارښوولودئ چي په فارسي په راه نمودن اوپه عربي په الدلالة علي مايوصل الي المطلوب ياپه الدلالة سره تعبيرورڅخه کيږي داداهل سنت والجماعت مذهب دئ اودوهم مذهب دادئ چي هدايت په لغت کښي وداسي لارښوولوته ويل کيږي کوم چي ومطلب ته رسوونکئ وي چي په عربي کښي په الدلالة موصلة الی المطلوب سره تعبيرورڅخه کړکيږي دادمعتزله ؤ مذهب دئ ، دريم مذهب دادئ چي هدايت مشترک لفظي دئ دغودواړومعني گانوپه منځ کښي دغه مذهب ځينو وعلامه تفتازاني صاحب ته منسوب کړيدئ که څه هم دغه انتساب غلط دئ، اوڅلورم مذهب دادئ چي هدايت مشترک معنوي دئ ددغودوذکرسويومعني گانوپه منځ کښي دامذهب وقاضي بيضاوي ته منسوب سويدئ خودااتساب هم غلط دئ،همدارنگه پوسه چي له معتزله ؤسره زموږيعني داهل سنت والجماعت په هدايت کښي له يوي بلي لاري څخه هم اختلاف سته هغه دادئ چي موږ وايوچي په شرعي استعمال کښي هدايت په غالب ډول په معني دخلق الاهتداء راځي اودوی وايي چي په معني دبيان الطريق الحق والصواب راځي دغه اختلاف زموږاوددوی‌په علم عقائد کښي مذکوردئ اوکوم اختلاف چي مخکښي ذکرسوهغه دتفسيرپه کتابوکښي اودارنگه دمنطقوپه کتابوکښي ذکرسويدئ .

په دغودوومعني گانوکښي دهدايت دلفظ داستعمال طريقه.

پوسه چي ځني علماؤفرمايلي دي چي که چيري دهدايت نسبت والله پاک ته سوئ نوبيا هدايت په معني ددلالة موصلة دئ اوکه يې چيري نسبت ورسول اووقران ته سوئ نوبيا په معني ددلالة علي مايوصل دئ، اوعلامه تفتازاني رحمه الله فرمايلي دي چي کچيري هدايت ودوهم مفعول خپل ته بي له واسطي دحرف جرڅخه متعدي سوئ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوبیاپه معني ددلالة موصله دئ، اوکه په واسطه دلام جاره یادالي جاره متعدي سویؤ نوبیاپه معني ددلالة علی مایوصل دئ.

نبراس، شرح مقاصد، نورالانوار، میرزاهدوحواشیه.

مادمخه لاوِعده کړیوه چي په مکمل ډول به دهدایت بیان په بل ځایکښی انشاء الله په نایاب ډول درته کوم.

لِلْمُتَقِیْنَ پرهیزگارانولره.. یعني دغه قران کریم وهغه چاته دحق لارښیي چه هغه داغواړي چه په تقوي سره مشرف سي اویامراددادئ چه قران کریم که څه هم سمه لارخو وهرچا ته ورښیي که کافروي که مؤمن وي اراده ددي لري چه حقه لارورته معلومه سي اوپرهغه لار باندي ولاړسي اوکه یي نه لري خوځرنگه چه دقران کریم په لارښوونه گټه اوفائده هغوخلگوحاصله کړي ده چه هغه متقیان اوپرهیز گاران دي نوگواکي قران کریم تنهاودوئ ته لارښوونه کوي خاص ددوئ لار ښوونکئ دئ نه دنورو

پوسه چی د(متقین)لفظ جمع دمتقٍ دی، کوم چی داسم فاعل صیغه ده له باب څخه دافتعال اصل ئی موتقی ؤاومصدر ئی اتقاءً دی، چی په اصل کښی اِوتقاءً

وواومجردمصدرئی وقایة دی کوم چی وسختی ساتنی ته دیوشی ته ویل کیږی په شریعت کښی متقی وهغه چاته ویل کیږی کوم چی له هرهغه څه څخه دخپل ځان ساتنه کوی کوم چی په اخرت کښی دده په ضرر تمامیږی پوسه چی تقوی لره په شریعت کښی دری مرتبی دی اوله مرتبه ئی ځان ساتل دی داخرت له همیشنی عذاب څخه په سبب داجتناب کولوله کفراوشرک اونفاق څخه په دغه مرتبه کښی تقوی په دغه مبارک ایت کښی مذکوره ده( والزمهم کلمة التقوی)یعنی لازمه کړئی ده الله پاک له مومنانوسره کلمه دتقوی چی دلااله الاالله کلمه ده اودوهمه مرتبه دتقوی ځان ساتل دی له هرهغه شی څخه چی سرې، په گناه گاره کیږی عام له دی څخه چی کول دیوکاروی اوکه پریښوول دکوم کاروی ددغه قسم تقوی ذکرپه دغه ایت کښی راغلی، دی( وَلَوْاَنّ اَهْلَ القری امنوا واتقوالفتحناعلیهم برکاتٍ مّن السماء والارض ولکن کذبوافاخذناهم بما کانوایکسبون . الاعراف /٩٦ )

یعني .اوکه چیری ثابته سوي وای،داخبره چي بیشکه خاوندانوددغوقریو یعني کومي چي دانبیاؤ دتکذیب په وجه مورږ په هلاکت ورسولي،ایمان راوړئ وای، ا وځانونه یې ساتلي وای، له گناهونو څخه نوخامخا به راخلاص کړیوای، مورږ پردوی، باندی برکتونه له اسمان څخه اوله ځمکي څخه مگرخودوی، تکذیب اوانکاروکړ یعني له رسولانو زمورږڅخه، نوونیول مورږ دوی، یعني هلاک کړل مورږدوی، په سبب دهغه چي ؤ دوی، چي کسب کاوه دوی، دهغه یعني چي تکذیب اوکفراوبدعملونه ؤ،

اوپه شریعت کی همدغه قسم تقوی دتقوی په نامه سره متعارفه ده اودریمه مرتبه دتقوی ځان ساتل دی له هرهغه شی څخه کوم چی دانسان سر،روح اوباطن له الله پاک څخه راگر ځوی که څه هم هغه مباح کاروی دغه قسم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتقوی حقیقی تقوی بلله کیږی کومه چی په دغه مبارک ایت کښی الله پاک بندګان په امر کړیدی (یاایهاالذین امنوا اتقواالله حق تقاته ولاتموتن الاوانتم مسلمون)ال عمران ایت ۱۰۲؛ یعنی ای مومنانو وویریږی له الله څخه په حق ویریدلوله ده څخه اومه مړه کیږی خامخامګرپه داسی حال کښی چی تاسی مسلمانان یاست،پوسه چی دتقوی ددغودریومرتبوپه اعتبارسره متقیان او پرهیزګاران هم په دريٖ ( ۳) قسمه دي ـ اول عام متقیان ، دوهم خاص متقیان ، دريم خاص الخاص متقیان . عام متقیان هغه خلګ دي چي فقط ایمان يې راوړئ وي ،عام له دی څخه چی له ګناؤئی پرهیز کړئ وي او کې ئی نه وي کړئ ، د داسي متقیانو چي ایمان لري خو له ګناهونو څخه يې پرهیز نه وي کړئ د آخرت په ورځ کښي حکم دادئ چي یا به الله (جل جلاله) عفوه ورته کوي ، او یا به د یو چا په شفاعت سره ځني په دوی کي له عذابه خلاص سي ، او یا به د ګناؤ په مقدار د دوږخ عذاب ورکړسي وروسته به جنت ته ولاړسي .

او د خاصو متقیانو حکم دادئ چي د آخرت په ورځ به له ابتداڅخه لا وجنت ته ځي، اوددوزخ له عذاب څخه به خلاص وي. او د خاص الخاصو متقیانو حکم دادئ چي سره له دې چي د آخرت په ورځ کښي به له ابتداڅخه لا و جنت ته ورځي ، خاص خاص نعمتونه او لوړ مقامات به هم ورکيږي .

خاص متقیان هغه دي چي مؤمنان وي ، او له ګناوو څخه يې ځانونه ساتلي وي ، یا يې ګناوي کړي وي خو بیا يې په اخلاص توبه کښلي وي . او خاص الخاص متقیان هغه خلګ دي چي هم ایمان لري ، او هم يې له ګناهونو څخه ځانونه ساتلي وي ، له دې سره سره يې له هرهغه شي څخه ځانونه ساتلي وي چي هغه يې د الله له ذکره څخه منع کوي ، که څه هم هغه مباح شَئ وي .

دلته دوه سوالونه او دهغو جوابونه بیانول ضروري دي : اول سوال دادئ چي قرآن کریم خو د هرچا لپاره هدایت کونکئ دئ که متقیان وي ، او که غیر متقیان وي ، کافران وي ، او که مؤمنان وي ،نو الله پاک ولي په دغه ځائ کښي قرآن کریم یواځي د متقیانو لپاره هدایت کونکئ بللی دی ؟

د دې سوال جواب دادئ چي که څه هم قرآن پاک خو و هر چاته سمه لاره ښيي ، خوځرنګه چي دده په لارښوونه سره کافران کومه فائده نه اخلي ، ځکه عمل نه په کوي . او مؤمنان اومتقیان دده په لارښوونه فائده اخلي ،

ځکه چی ایمان ئی په راوړی دی اوعمل په کوي ، نو ګواکي دَی یواځي مؤمنانو لره چي متقیان دي لارښوونکئ دئ ،نه کافرانو لره .

دوهم ( ۲) سوال دادئ چي د قرآن کریم و هدایت ته خو ددې لپاره ضرورت سته چي له خلګو څخه متقیان ، او پرهیزګاران جوړسي . کله چي متقیان سي نو له دې وروسته خو و هدایت ته ضرورت نسته ځکه هدایت خو به تر تقوی له مخه لا سوئ وي له دی وجی چی بې هدایته خو تقوی اوپرهیزګاري نسی کیدلائ ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې سوال جواب په دوه ډوله کیدائ سي : اول په دې ډول چي د(للمتقین ) له لفظ څخه خپله اصلي معنی مراد نه ده . ځکه اصلي معنی خو په دې ډول کیږي چي ( لپاره د پرهیزګارانو ) یعني هغه خلګ چي د قرآن تر هدایت له مخه لا پرهیزګاران وي . بلکي دغه معنی ورڅخه مراد ده چي ( لپاره د هغو خلګو چي اراده کونکي وي د پرهیزګارئ ، اویا دا معنی ورڅخه مراد ده چي ( لپاره د هغو خلګو چي اخیر اخیر پرهیزګاره کیږي او په علم د خدائ کښې رجوع ددوی‌اخیر و پرهیزګاری‌ته وي چي ودغه ته په علمي اصطلاح کښي مجاز بالمشارفه ویل کیږي ، لکه چي خلګ و حج ته ځي نو و دوی ته حاجیان ویل کیږي ،سره له دې چي حاجیان خو دوی هلته جوړیږي چي احکام د حج تړول پر ځائ کړي .

او دوهم یې په دې ډول جواب کیدائ سي چي تقوی او پرهیزګاري خو بیحسابه مرتبې لري، نو په هره درجه کښې چي یو سړئ پرهیزګاره سي نو قرآن کریم وده ته تر هغي د لوړي مرتبې لارښوونه کوي .

دتقوي اودپرهیزګارئ دیني اودنیوي اواُخروي منقبتونه او کرامتونه.

محترمو ورونړو هر څوک چي د اسلام په هداياتو عمل وکړي اوتقوي غوره کړي نو څلويښت قِسمه منقبتونه او کرامتونه الله (جل جلاله) دده په برخه کوي .

امام حجة الإسلام غزالي ( رحمه الله ) په خپل کتاب ، منهاج ،کښي ذکر کړيدي چي کله ما په هغو شیانو کښې تأمُّل او فکر وکړ کوم چي الله ـ جل جلاله ـ يې و بنده ته په سبب د عمل کولو په هداياتو د إسلام يعني دتقوی په سبب ورکوي ، نو و دې نتيجې ته ورسیدم چي هغه په مجموعي ډول څلويښت کرامتونه او إنعامونه دي ، چي شل ۲۰ له هغوی څخه په دنيا کښي دي او شَل له هغوی څخه په آخرت کښي دي ، هغه شل إنعامونه چي الله پاک يې په دُنيا کښي و هغه چا ته ورکوي کوم چي د إسلام د مقدس دين له هداياتو سره سم خپله زندګي تيروي په دې شرحه دي :

۱ ــ الله ( جل جلاله ) ددغه راز انسان ذکر ، ثنا او صفت کوي .

په دنیا کښي چي يو وزير يا يو بادشاه په يو مجلس کښي د يو چا ذکر او صفت وکړي نو دغه څوک دا کار د خپل ځان په باب کښي څونه لوی إفتخار او عظمت ګڼي ، نو چي د يو چا ذکر او صفت د ملائکه ؤ په حضور کښي الله ( جل جلاله ) وکړي نو دا خو حتماً بايد دغه سړئ د خپل ځان لپاره له اندازې څخه وتلئ فخر او عظمت وبولي .

د إسلام پيغمبر ( صلی الله عليه وسلم ) په يوه مبارک حديث کښي چي په مشکوة و غيره کښي يې روايت سوئ دئ فرمايلي دي چي الله ( جل جلاله ) فرمايلي دي : زه له بنده سره پرهمهغه ډول باندي يم لکه څرنګه چي دده ګمان وي پر ما باندي او زه له ده سره يم کله چي ياد وي دَی ما ، نو که ده زه له خپل ځان سره ياد کړم يعني بل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک نه ؤ ورسره ، دتنهايي په حال کښي يې ځما ذکر وکړ نو زه به دَی له خپل ځان سره ياد کړم ، او که چيري ده زه په يوه ډله کښي ياد کړم نو ياد به کړم زه دغه بنده په داسي ډله کښي چي دده تر ډله به ډيره بهتره وي .

دوهم : الله (جل جلاله) ددغه بنده چي د إسلام په هداياتو عمل کونکئ وي شکرگذاري او تعظيم کوي .

دريم : الله ( جل شانه ) له دغه صالح بنده سره محبت کوي ، لکه چي الله پاک فرمايلي دي :

(ن اللهَ يُحبُّ المتقين) .

يعني بېشکه الله تعالی محبت کوي له متقيانو سره .

ځلرم : دا چي الله (جل جلاله) ددغه ډول بنده کارسازي کوي او دده کارونه الله پاک په خپل عظيم تدبير سره ورسمه وي .

پنځم : دا چي الله (جل شانه) ددغه نيک عمله انسان روزي او رزق له داسي لارو څخه وربرابروي چي دده په خيال کښي لا هم نه وي ورتيري سوي او بېله دې چي دَی د روزي او رزق د حاصلولو لپاره کِسب او کار وکړي الله پاک وده ته روزي رسوي ، لکه الله تعالی چي فرمايلي دي :

)و من يتق الله يجعل له مخرجاً ويرزقه مِن حيث لا يَحتَسب . (

يعني : او هر ځوک چي ويرېږي له الله ( جل جلاله) څخه نو پيدا کوي به الله پاک دده لپاره ځائ د وتلو له مشکلاتو څخه ، او رزق به ورکوي وده ته له هغه طرفه چي گمان به نکوي دَی يعني ددې چي له دغه طرفه دي و ماته رزق راکول سي .

شپـــږم : دا چي الله ( جل جلاله) ددغه راز انسان نصرت او مدت کوي ، او هر دُښمن چي دده وي ، هر ځوک چي وده ته د بدو اراده کوي ، نو دَی په خبر لا هم نه وي او الله پاک هغه له ده څخه دفعه کړی وی اوورڅخه دفع کوي ئی .

اومــ٧ــ : دا چي دغه ډول شخص الله پاک له وحشت څخه په امن کوي او له دې څخه يې بېغمه کوي چي ده ته دا ويره پيدا سي چي ځما په دغه ښه حال کښي او دارنگه په دغو نعمتو کښي چي ماته خدائ راکړيدي تغير او تبديل رانسي .

پوه سه چي يو ځوک چي د الله (جل جلا له ) او دهغه د رسول (صلی الله عليه وسلم) نافرماني کوي نو د هغه په زړه کښي په غيبي ډول داسي وحشت او نفرت پيدا کيري چي له هيچا سره يې زړه نه لگيږي او نا ارامه او مُضطرب الحاله وي ، او دارنگه که يوه خوشحالي او يو ښه حال باندي راسي نو دفعةً له ده سره دا ويره پيدا سي چي دغه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال په غم رابدل نسي او را څخه زائل نسي ، مگر صالح انسان له دغسي وحشت او ويري څخه الله پاک په أمن کړئ وي .

اتـــم : دا چي د إسلام د هداياتو د تابعدارۍ په وجه الله پاک و انسان ته داسي لوړ هِمت او عزت وربخښي چي دولت ، مال ، جاه او جلال او ټول دنيوي شيان پرته له رضا د الله ( جل جلاله ) دده په فکر کښي هيڅ هم نه ورځي ، حتی که لوی لوی اميران ، سرداران او بادشاهان دده إحترام او خدمت کوي هم و ده ته سبب د عُجب ، کبر او غرور نه گرځي ، بلکي دده هِمت د الله (جل جلاله) په عبادت کښي او د الله تعالی د مخلوق په خدمت کښي لپاره د رضا مندۍ د الله پاک مصروف وي .

نهـــم : د إسلام د هداياتو د تابعدار انسان عقل ، مزاج او طبيعت له شخصي دنيوي گټو څخه دا ډول تَرَقُع او بلندپروازي کوي لکه څرنگه چي لويان عاقلان خلگ د کوچنيانو او ښځو له کارو څخه ترَفُّع او ليري والئ کوي .

لســـم : و متقي انسان ته الله پاک غناءِقلبي ، يعني د زړه غنيتوب وربخښي ، چي أصلي او حقيقي غنيتوب هم له دغه غنيتوب څخه عبارت دئ .

د چا چي په زړه کښي غِنا نه وي نو که تمامه دُنيا دده سي لا به هم دَی د مسکين او فقير په ډول ستړئ او سرگردانه وي ، او که د چا په زړه کښي الله پاک غِنا پيدا کړي او زړه يې غني سي نو که سل ورځي وږئ او تږئ گرځي لا هم دَی مطمئن او ارام وي .

يولسم : دا چي الله ( جل جلاله ) د هغه انسان په زړه کښي کوم چي د الله تعالی په أحکامو عمل کونکئ وي يو قِسم نور پيدا کوي چي د هغه نور په وجه دغه انسان و داسي علومو او أسرارو ته لار پيدا کوي چي هغه قِسم علوم او أسرار په ډير زيات مِحنت سره و چا ته نسي حاصليدلائ .

لکه چي د اسلام پيغمر په يوه مبارک حديث کښي کوم چي د حديثو په معتبرو کتابو کښي مذکور دئ فرمايلي دي :

)مَن عَمِلَ بِما عَلِمَ وَرّثَهُ اللهُ عِلْمَ مَا لَمْ يَعْلَمْ . (

يعني هر څوک چي عمل وکړي په هغه چي عالم سويوي دَی په هغه يعني چي هغه عبارت دئ له شرعي أحکامو څخه نو الله تعالی به وارث وگرځوي دَی د عِلم د هغو شيانو چي نسوائ عالم کيدلائ دَی په هغو شيانو يعني له بلي لاري څخه ، چي و دې ته علمِ باطني ، علم وراثت او علم لَدُني ويل کيږي .

لکه چي په دې اړه ځما يو شعر دئ :

د لَدُن په مقابِل کښي نظر څه دئ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



و فولادو ته حَجَر او مدَر څه دئ

وسائل د عبور تا لره پـــکار دي

اوليـــاؤ ته د بـــحر گذر څه دئ

چي نې مغز نه أثر نه يې ثمروي

أبوالفضله داسي علمُ وْهنر څه دئ.

دولـــسم : دا إنعام الله جل جلاله وهغه چا ته ورکوي چي هغه د الله پاک په أحکامو عَمَل کوي ، چي الله تعالی دده شرح صدر وکړي ، يعني الله پاک يې سينه ورخلاصه او پراخه کړي چي په نتيجه کښ ددې په ده کښي داسي عظيم تَحمل او برداشت پيدا سي چي له هر څونه مشکلاتو او تکليفو سره چي دَی مخامخ کيږي نو هيڅ قِسم وارخطايي نکوي او په ډيره ميړانه او لویۀ هِمت سره د هغویۀ تحمل او برداشت کولاۍ سي .

شرح صدر دالله ( جل جلاله ) په نعمتو کښي يو ډير عظيم نعمت دئ ، حضرت موسی عليه السلام د همدغه نعمت د حاصلولو لپاره دُعا کړې ده ، لکه چي الله تعالی په قرآن کريم کښي له ده څخه په دې ډول حکايت فرمايلئ دئ :

)رَبِّ اشْرِحْ لِـيْ صَـدْرِيْ . (

يعني اې ربه ځما راخلاصه کړه سينه ځما .

او الله ( جل جلاله ) و خپل رحمة للعالمين رسول حضرت محمد ( صلی الله عليه وسلم ) ته په مقام د تسلې او د وريادولو د نعمتو خپلو کښي داسي فرمايلي دي :

)اَلم نَشرح لـک صـدرک . (

يعني : ايا نه ده درخلاصه کړې موږ ستا لپاره سينه ستا يعني بلکي درخلاصه کړې مو ده ،

ديارلـسم : دا کرامت او نعمت الله پاک د إسلام د هداياتو و تابعدار ته وربخښي چي د خلگو په زړو کښي دَی هيبتناک او د دبدبې خاوند گرځوي ، او دارنگه د خلگو په زړو کښي الله پاک دده إحترام او عزت پيدا کوي چي په نتيجه کي أخيار او أشرار دده إحترام کوي او هر ظالم ، جابر او د وخت فرعون له ده څخه ويريږي ، لکه چي د إسلام پيغمبر ( صلی الله عليه وسلم ) په يوه مبارک حديث کښي چي امام غزالي ،رحمه الله’ يې په احيآءالعلوم کښي روايت کړئ دئ فرمايلي دي :

هر څوک چي له الله ( جل جلاله ) څخه ويريږي ، نو الله پاک به هرد ښمن له ده څخه په ويره کښي اچوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوارلـــسم : دا نعمت الله ( جل جلاله ) ورکوي چي دَی د انسانانو په زړو کښي محبوب وګرځوي او هر څوک له ده سره مینه او محبت کوي ، او هیڅوک له ده څخه نفرت کونکئ نه وي ، لکه چي په یوه مُثبت حدیث کښي چي په مشکوة و غیره کښي یې روایت سوئ دئ داسي مضمون راغلئ دئ چي د إسلام پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي :

چي صالح او نیک انسان اول و الله ( جل جلاله ) ته محبوب وګرځي او په مخلوقاتو کښي هیڅوک له دې څخه خبر نلري چي دغه سړئ د الله تعالی محبوب او دوست دئ ، بیا الله پاک و جبرئیل ,علیه السلام، ته وفرمایي اې جبرئیله زه له فلاني سړي سره محبت کوم نو ته هم محبت ورسره کوه ، بیا جبرئیل علیه السلام نوري پرشتې هم له دغه صورتحال څخه خبرداري کړي ، وروسته بیا د ځمکي د خلګو په زړو کښي دده محبت او مینه الله پاک پیدا کړي .

دغه راز محبوبیت نو چي د یو چا نصیب سي أصیل او صحیح محبوبیت دئ .

او محبوبیت د یو چا د خلګو په زړو کښي کله فاسد او باطل هم وي هغه دادئ چي یو انسان د الله تعالی په نزد مبغوض ، ملعون او تر حیوانانو لا په کښته درجه کښي وي ، مګر په خلګو کښي د مادیاتو په خاطر محبوب او منل سوئ وي ، لکه چي ځما یو شعر دئ :

چي په اسمان کښي تســـلیم نسي ابوالفـــضله اول

خالي پر ځمکه منل سوي صالحان دي سي ورک.

پنځلســـــم : دا نعمت او کرامت الله پاک و خپل صالح بنده ته په دنیا کښي وربخښي چي دده هر شئ برکتناک ورګرځوي که یې خبري وي ، که یې حرکت او سکون وي ، که یې جامه وي ، که یې د ناستي ځائ وي او که یې د قدم خاوره وي په دغه هر شي کښي دده الله پاک برکت اچوي او د خلګو د ګټې او فایدې سبب یې ګرځوي .

شپاړســـم : دا خَلعَت او کرامت الله پاک د ده په برخه کوي چي مځکه ، دریاب او هوا وده ته تابعداره او مُسخره وګرځوي ، نو که پر ځمکه باندي تګ کوي نو ډیره لیري مسافه په یوه ثانیه کښي پرې کوي ، او که په دریاب کښي د تګ اراده وکړي نو د اوبو پر مخ باندي روان وي او اوبه یې نه غوټه کوي ، او که و هوا ته قصد وکړي نو په هوا کښي هستوګه او تګ کولائ سي .

ځینو علماؤ په خپلو کتابو کښي ددې هري خبري مِصداق ذکر کړئ دئ ، داسي متعدد نقلونه سته چي د الله تعالی ځنو دوستانو به په هوا کښي کوډَل جوړه کړې وه او هلته بې د الله ( جل جلاله ) عبادت کاوه .

عبد الرحمن بابا ( رحمه الله تعالی ) فرمایلي دي :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي په يوه قدم تر عرشه پوري رسي

مـــا ليدلئ دئ رفـتار د درويـــشانو.

اولســـم : څوک چي د الله (جل جلاله) او د هغه د رسول د هداياتو تابع سي نو الله پاک درنده ګان ، وحشي حيوانان او د ځمکي خزندې و ده ته مسخر او تابعداره ګرځوي ، لکه شيخ سعدي شيرازي (رحمه الله) چي په بوستان کښي فرمايلي دي :

چي يو سړئ مي وليدئ چي پر پړانګ باندي سپور ؤ نو زه ډير په تعجب کښي ورته پاته سوم ، دغه سړي راته وويل :

تو هم ګردن از حـــکم داور مپيچ

که ګردن نه پيچد ز حکم تو هيچ.

يعني اې سعدي ته هم د الله ( جل جلاله ) له حکم څخه غاړه مه پيچه چي بيا به هيڅ شئ ستا له حکم څخه غاړه نه پيچي .

اتلســـم : دا خلعَت او إنعام و متديّن انسان ته وربخښل کيږي چي الله پاک د مزکي مفاتيح او چابياني دده په اختيار کښي ورکوي ، بيا نو کچيري دَی وغواړي چي له ځمکي څخه خزانه ورته راښکاره سي نو چي ځمکه په لاس سره ووهي خزانه ورته راښکاره کيږي ، او که اوبه وغواړي نو چي مځکه په پښه سره ووهي د اوبو چينه ورته را وځي ، او که د خوراک اراده وکړي نو غيبي سترخوان ورته پيدا سي .

نولســـم : دا نعمت او کرامت الله تعالی وربخښي چي د الله پاک په حضور کښي قدرمند او مخور وي ، او هر قسم ناز چي پر الله تعالی باندي وکړي نو والله ته منظور وي ، په همدې سبب خلګ دده د خدمت کولو په وجه او دده د وجاهَت او برکت په سبب د خپلو مشکلاتو حَل او د حاجاتو پوره کول له الله ( جل جلاله ) څخه غواړي .

شلـــم : څوک چي د الله ( جل شانه ) د هدايت مطابق ژوند کوي نو الله تعالی دده دُعا او شفاعَت قبلوي ، حتی ځيني داسي نيکان لا هم پيدا کيږي چي که و غره ته اشاره وکوي نو هغه غر له خپل ځائ څخه ليري کيږي ، او که په زړه کښي يو شئ ورتير کړي ببله دي چي په خوله د هغه سوال وکړي نو الله عـــز وجـــل هغه مطلب دده تر سره کوي .

دا ټول هغه کرامتونه دي چي په دنيا کښي يې الله پاک د هغو بندګانو په برخه کوي کوم چي د إسلام د هداياتو موافق ژوند کوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه شل کرامتونه چي ددغي دنيا له ژوند څخه وروسته يې الله پاک دده په نصيب کوي هغه په دې شرحه دي :

)۱: ( ــ د مرگ سکرات او سختۍ الله پاک پر ده باندي اسانه کوي .

)۲: ( ــ په قبر کښي د نکير او منکَر د پوښتنو په وخت کښي الله پاک دَی پر کَلِمه د إسلام مُحکم گرځوي .

)۳: ( ــ دراحت ، أمن ، خوشحالۍ او دجنت زيرئ د خدائ له طرفه پر ده باندي کيږي

)۴: ( ــ دده روح کله چي دده له بدنه څخه جلا سي د اسمانو پر ملائکه ؤ باندي د إکرام او اعزاز په خاطر وړاندي کړه کيږي ، او د بدن سپارل يې و قبر ته د خلگو له طرفه په ډير اخلاص او تعظيم سره سر ته رسيږي ، او هر څوک دا غنيمت گڼي چي دده په جنازه کښي شرکت وکړي .

پنځم : دا چي د جنت په نعمتونو کښي به هميشه اوسيدونکئ وي .

شپږم : په قبر کښي د نکير او منکر د سوال له هيبت څخه په أمن گرځي .

اوم : قبر ورته فراخيږي او په قبر کښي نور ورته پيدا کيږي ، او قبر يو باغچه له باغچو د جنت څخه تر ورځي د قيامته پوري ورته گرځي .

اتــم : د ځينو اروحونه په دوی کښي د زرغونو مرغانو په نسو کښي اچول کيږي او په جنتو کښي گرځي ، لکه د شهيدانو اروحان .

نهــم : د حشرگاه په ورځ به د کرامَت او عزت جامې باندی أغوستلې کيږي او دارنگه به د کرامت تاج دده پر سر باندي ايښوول کيږي ، او پر بُراق باندي سپور به د حشرگاه و ميدان ته راځي .

)۱۰: (ــ د قيامت په ورځ به دده مخ له نور څخه ډک ، خندان او خوشحاله وي اوپه حشرگاه کښي به حاضريږي ، لکه الله ( جل جلاله ) چي فرمايلي دي :

)وجوه يومئذ مسفرة ضاحكة مستبشرة . (

يعني يو قسم مخونه به په دغه ورځ کښي روښانه وي ، خندان به وي او خوشحاله به وي ( يعني چي هغه د صالحانو او نيک عمله انسانانو مخونه دي )

)۱۱(داکرامت الله جل شانه ورنصيب کوي چي دقيامت په ورځ کښي به الله پاک دَي له اهوالوويرواوسختيودقيامت دورځي په امن کړي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)۱۲(داچي عملنامه به په راسته لاس کښې ورکړي ،اوځني به په دغونيکانوکښې داسي هم وي چي دسره به حساب اوکتاب نه ورسره کيږي بي حسابه به جنت لره ځي .

)۱۳ (داچي که حساب ورسره کيدئ نوپه سهولت اوپه اساني سره به ورسره کيږي .

)۱۴(داچي تله دنيکواعما لوبي درنه سي اوځني خوبه لاداسي هم وي چي داعمالودتللوله انتظارڅخه به هم خلاص وي .

)۱۵(داچي دنبي عليه السلام دحوض کوثراوبه به يې نصيب سي .

)۱٦(داچي دصراط پرپله به په ډيره تيزي اواساني سره تيرسي ،حتی ځني به په دغونيکانوکښې داسي نازولي هم وي چي ددوزخ کښکي به لانه واوري .

)۱۷(داچي دعرصات پرميدان به دګناهګارانودپاره دشفاعت کولواجازت ورکړسي .

)۱۸(داچي دجنت ابدي نعمتونه بې نصيب سي .

)۱۹(داچي رضوان اکبربه يې نصيب سي چي عبارت دي له رضا څخه دالله پاک چي ډيره لويه ده .

)۲۰(داچي ديدار دالله پاک بې نصيب سي

انتهی کذافي قطب الارشاد ،مع توضيح وزيادة ايرادالدلائل في اکثرالمواضع

اللهم ارزقنا جميع ذالکَ بفضلک العظيم،امين يارب العلمين

لفظي ترجمه :

(الذِينَ) هغه کسان (يُؤمِنُونَ) چي ايمان لري ياايمان راوړی (بِالغَيبِ) په غيب يعني په هغه چي له دوی څخه غائب وي (و) او (يقيمون) دروي دوی يعني سم ادا کوي (الصلوة) لمونځ (وَ) او (مِمَّا) ځني له هغه يعني له هغه مَاله (رَزق) چي ورکړئ دئ (نَا) موږ (هُـمْ) ودوی ته (يُنْفِقُوْنَ) صرفه وي دوی يعني د خدائ د رضا لپاره يې و مسکينانو ته ورکوي يعني متقيان اوپرهيزګاران کوم چي هدايت اولارښوونه دقران کريم ودوی ته ګټه اوفايده رسوي هغه خلګ دي چي ايمان لري اوياايمان راوړي په هغه چي غائب وي يعني له دوی‌څخه لکه وجوددالله پاک اووحدانيت دالله پاک اولکه جنت اودوزخ اولکه ورځ دقيامت وغيره اودروي دوی يعني په صحيح توګه اداکوي لمونځونه اوبعضي له هغه څخه يعني ځني له هغومالوڅخه چي ورکړيدي موږودوی‌ته خرڅوي، صرفوي دوی يعني ومسکينانواوفقيرانواوداسي نورو مستحقينوته يې ورکوي مراددادئ چي له مالوڅخه زکاتونه وغيره باسي مطلب دايت دادی‌چی متقيان هغه کسان دی چی په دوی کي دا صفتونه موجود وي :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول دا چي صحيح ايمان لري اوعقيده يې برابره وي .

دوهم داچي لمونځونه کوي او په صحيح ډول يې کوي په صحيح ډول کول د لمانځه دادئ چي د لمانځه د فرضو شيانو، اود لمانځه د واجبو ، سنتو، مستحبو زده کړه يې کړېوي ، اوبيادډغو ټولو شيانو په وخت داداکولود لمانځه کښي پوره پوره رعايت هم کوي ، اودارنګه په لمانځه کښي د زړه د حضوراودخشوع هم ټينګ مراعات کوي. محترمومسلمانانو په قران کريم کښي چي هرځای الله جل جلاله وبندګانوته دلمانځه په کولوسره امرکړيدئ نوداقامت په لفظ سره يې امرکړيدي له دي څخه داڅرګنديږي چي کوم لمونځ چي په هغه کښي دذکرسويوشيانولحاظ ونه کړسي نوهغه لمونځ اصلي لمونځ نه دئ اونه دهغوتأثيراتواوبرکاتوسبب ګرځيدلای سي کوم چي په اصلي لمانځه کښي موجوددي.

دريم داچي کوم مال او جايداد چي موږ ودوی ته ورکړئ وي ، نو ځني د هغه د خدائ د رضا لپاره و محتاجانو ته ورکوي ، مثلا زکوة ورکوي ، سرسايه ورکوي ، اضحيه کوي ،خيراتونه کوي ،له قريبانو سره وصيله رحمي کوي ، اوله علماوو ،طالبانو او مجاهدينو سره کومک کوي، همدارنګه پوسه چي په دغه ايت کښي چي کوم دري صفتونه دمتقيانو ذکرسويدي چي يو قلبي اوعقيدوي صفت دئ چي ايمان دئ اوبل بدني صفت دئ کوم چی لمونځ دی اوبل مالی صفت دی کوم چی زکوة وغېره دي دغه دری واړه داسی صفتونه دی که ددوی فعل په صحيح ډول يوڅوک ترسره کوی نويوخوپه دغه سړی کښی باقی ټول قلبی اوبدنی اومالی نيک صفات پيداکيږی کوم چی دقران پاک په بيلا بيلوځايوکښی الله پاک دمتقيانودپاره ذکر کړيدی لکه دبقره په ١٧٧اودآل عمران په ١٣٤اودزمرپه ٣٣وغيره کښی او بل دغه دری واړه مستلزم ګرځی وترک دټولونالايقه صفاتولره لکه چی الله پاک فرما يلی دی ان الصلوة تنهی عن الفحشاء والمنکر نوځکه الله پاک لته دمتقيانو دصفاتوله جملی څخه دلته همدغه دری صفتونه په ذکرسره خاص کړی دی اودارنګه ځکه موږمخکښی دصفت کا شفه احتمال هم ذکر کړ

تــفــصــيــل اوعلمي خبري :

)الذين يؤمنون بالغيب(

پوسه چي په دغه موصول اوصله کښي دترکيب په اعتبارمتعدداحتمالونه موجوددي اول احتمال دادئ چي مقيده اومخصصه صفت سي د(المتقين) دپاره داپه هغه صورت کښي چی دغهله متقين څخه مرادهغه خلګ سي کوم چي له نالائقه کاروڅخه لکه زنا ، غيبت ، دروغ وغيره اجتناب کوي عام له دي څخه چي که لايق اوښايسته کارونه کوي اوکه يې نه کوي، اودوهم احتمال دادئ چي د(المتقين) دپاره کاشفه صفت سي کوم چي دموصوف دمعني اومفهوم بيانونکئ دئ خوداپه هغه صورت کښي چي له متقين څخه مراد هغه خلګ سي کوم چي دنيکوکاروکوونکي او دبدوکاروپريښوونکي وي اودريم احتمال دادئ چي دمتقين دپاره صفت مادحه سی کوم چي مقصودورڅخه مدحه اوصفت دموصوف وي اوڅلورم احتمال دادئ چي منسوب سي بنا پرمدحه باندي په تقديرد اعني سره اويامرفوع

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سي بناپرمدحه په تقديردمبتداسره چي لفظ دهُم دئ اَي اعني بهم الذين يؤمنون الخ اوهم الذين يؤمنون الخ اوپنځم احتمال دادئ چي دغه موصول سره له خپلي صلي اوسره له معطوفه مبتداسي او اولئک الخ يې خبرسي.

بيضاوي.

پوسه چي په ايمان کښي څموږ د امام اعظم د مذهب د علماؤ دوه قوله دي : اول قول دادئ چي ايمان له دوو شيانو څخه جوړ دئ اول په زړه سره يقين او تصديق کول دي پر ټولو هغو شيانو چي په

شريعت کښي په هغوشيانو ايمان راوړل فرض دي کوم چی عبارت دی له هغو شيانوڅخه چی په يقينی ډول داثابته وی چی داشيان له دين څخه دمحمد عليه السلام دی ، لکه داچي خدائ پاک واحد ،لاشريک دئ او لکه داچي نبيان حق دي اوجنت او دوږخ حق دی او داسي نور، او دوهم دزړه د تصديق موافق په ژبه په همدغو شيانوسره اقرار کول دي، مگر د زړه تصديق او د خولې اقرار دا فرق سره لري چي که مثلا يو کافر پر يوه مسلمان باندي زور واچوي چي د کفر کلمه ووايه او که د کفر کلمه و نه وايې نو قتلوم دي ، نو دغه مسلمان ته دا جائزاو روا ده چي د کفر الفاظ په خوله ووايي او، په دې وخت کښي دَئ په دې سره نه کافر کيږي خوپه دې شرط چي د زړه تصديق يې پر خپل حال وي . او که کافران يو مسلمان مجبور کړي چي په زړه کښي د کفر عقيده و کړه او دئ همدا ډول و کړي نو بيا کافر کيږي ځکه دلته دَئ معذور نه بلل کيږي په دی وجه چي کافر خو دده پر زړه باندي علم نه لري نوپه دروغو ورته ويلای سي چي ښه دئ په زړه کښي مي د کفر عقيده وکړه . نوبنا پر دغه قول با ندی که يو سړئ په ټول عمر کي په ژبه اقرار ونه کړي او کوم عذر هم نه وي او د زړه تصديق يې برابر وي او په دې حال کښي مړ سي نو دغه سړئ به کافر گڼل کيږي .

او دوهم قول دادئ چي ايمان عبارت دئ له تصديق څخه د زړه ،او په ژبه اقرار کول د ايمان جزء نه دئ او نه ايمان پر موقوف دئ البته په ژبه سره اقرار کول د دنيوي احکامو د جاري کولو لپاره شرط دئ ، مثلا که يو سړئ په خوله سره هم اقرار په ايمان سره کوي او کلمه د ايمان په خوله هم وايي ، نوبيا دده مؤمن توب و مسلمانانو ته ښکاره وي نو له ده سره په ژوند اومرگ کښي مسلمانان هغسي معامله کوي لکه څرنگه چی ئې له نورو مسلمانانو سره کوی. او که يو څوک په زړه کښي مومن وي او په ژبه يې اقرار نه وي کړئ اوچا طلب د اقرار هم نه وي ورڅخه کړئ نوپه آخرت کښي مؤمن بلل کيږي ، ليکن په دنيا کښي أحکام د کافرپرده باندي جاري کيږي . مثلا که مړ سي نو غسل نه ورکيږي ،لمونځ نه ورکيږي ، دمسلمانانو په مقبرو کښي به نه ښخيږي .پوسه چی په ايمان کښي څموږ له مذهب څخه پرته نورهم ډير مذهبونه سته چی تفصيل بی په بل ځای کښي انشاءالله درته راسي.

پوسه چي که يو سړئ په زړه کي ايمان لري اوپه ژبه هم اقرار کوي اوله گناهونو څخه يې هم ځان ساتلئ وي نو ودغه سړي ته کامل مؤمن ويل کيږي او که يې له گناؤ څخه ځان نه ؤ ساتلئ نو ودغه سړي ته فاسق او ناقص مومن

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل کیږي او که یو سړئ په زړه تصدیق په ایماني شیانو نه کوي مگر په خوله په ایماني شیانوسره اقرار کوي نو و دغه سړي ته منافق ویل کیږي

محترمو مسلمانانوخوندو او ورونو پر هر مسلمان باندي فرض دئ چي ټول هغه شیان چي سړئ په کافر کیږي اویا دسړي ایمان او عقیده په سمیږي له علماؤ څخه زده کړي په گناه سره د سړي ایمان نه زائلیږي ،خو البته ایمان په کمزورئ کیږي اوکه پر گناه باندي څوک همیشه والئ کوي او توبه نه ورڅخه کاږي نو دا آخر سړئ و کفر ته رسوي او ځیني داسي ایاتونه اوحدیثونه راځي چي له هغو څخه داسي په ظاهره معلومیږي چي په گناه سره انسان له ایمانه خارج گرځي ، خو ددې جواب موږ داسي کوو چي دغه ډول ایاتونه او حدیثونه یا زَجرًا داسي حکم کوي اویا مراد ورڅخه دادئ چي د گناه په سبب له کامل ایمان څخه سړئ بې نصیبه کیږي .

همدارنگه پوسه چي د(یؤمنون)لفظ له یمان څخه جوړدئ، ایمان په اصل لغت کښي وامن ورکولوته ویل کیږي بیاپه لغت کښي دغه لفظ په معنی دتصدیق اودوثوق اوداعتراف کښي مستعمل سویدئ، اود شرعي معنی بیان یې مخکښي تیرسودلته که دیؤمنون لفظ په معنی دیصدقون سي نوکه د بالغیب په لفظ کښي باجاره دتعدیة دپاره سی نوبیابه د یؤمنون لفظ متضمن گرځول کیږي معني دوثوق یاداعتراف لره او که باجاره دتعدیة دپاره نسي لکه په هغه صورت کښي چي له غیب څخه مرادزړه سي نوبیاودغه تضمین ته حاجت نسته.

( بالغیب )پوسه چي غیب هغه شي دئ چي له موږ څخه غائب وي په شریعت کښي غیب دوه قسمه

دئ یو قسم هغه غیب شیان دي چي نه په عقل معلومیدلائ سي او نه په نقل په دغه قسم غیب یواځي الله پاک عالم دئ وبس داهغه غیب دئ چي په دغه آیت کښي یې ذکر راغلئ دئ .

( وَ عِندَهُ مَفَاتِیحُ الغَیبِ لَا یَعلَمُهَا اِلا هُو ) او دوهم (۲) قسم هغه غیب شیان دي کوم چي په عقل سره یا په نقل سره یعني په دلیل شرعي اویا په دلیل عقلی سره معلومیدلائ سي لکه وجود د الله اوداچي خدائ یو دئ او بې شریکه دئ او رسولان او نبیان حق دي جنت او دوږخ حق دي او داسي نور.

په ( یؤمنون بالغیب ) کښي له غیب څخه دغه دوهم قسم غیب مراد دئ .

پو ه سه چي ځیني علماء له غیب څخه زړه اخلي ، نو د یؤمنون بالغیب معنی داسي کوي چي ایمان لري په زړه یعني داسي نه وي لکه منافقان چي په خوله یې اقرار او په زړه یې انکار وي.

)ویقیمون الصلاة(

دلمانځه په اړه تفصیلي بیان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



محترمومسلمانانولمونځ د الله (جل جلاله ) او د بنده تر منځ يوداسي عظيم او ډير لوی تعلق او ارتباط دئ ، اودارنګه يو داسي خوی ، خصلت او عبادت دئ چي دده په وجه انسان ته ظاهري او باطني تصفيه ، طهارت او پاکي حاصليږي،او پر ښو أخلاقو باندي و انسان ته باعث ګرځي او له بدو أخلاقو څخه د انسان حفاظت او ساتنه کوي ، او ديني او دنيوي او أخروي ، شخصي او إجتماعي بې مثاله منافع ، ګټي او فائدې پکښي موجودي دي.

حضرت فقيه ابوالليث سمرقندي ( رحمه الله تعالى ) په دې ارتباط يو مبارک حديث ذکر کړئ دئ چي د حديث مبارک متن په دې ډول دئ :

قال رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) : الصلوة مرضاة للرب تبارک وتعالى ،وحب الملائکة وسنة الأنبيآء ونور المعرفة وأصل الإيمان ، و إجابة الدعآء وقبول الأعمال وبرکة في الرزق وراحة للأبدان ، وسلاح على الأعدآء وکراهية للشيطان ، و شفيع بين صاحبها وبين ملک الموت ، وسراج في قبره وفراش تحت جنبه و جواب مع منکر ونکير ومؤنس في قبره إلى يوم القيامة ، فإذاکانت القيامة صارت الصلاة ظلاً فوقه وتاجاً على رأسه ولباساً على بدنه ونوراً يسعى بين يديه وسِتراً بينه وبين النار ، وحجة للمؤمنين بين يدي الرب ( تبارک وتعالى ) و ثقلاً في الموازين وجوازاً على الصراط و مفتاحاً للجنة ، لأن الصلاة تسبيح وتحميد وتقديس وتعظيم وقرآءة ودعآء ، و إن أفضل الأعمال کلها الصلاة لوقتها .

يعــــني : جناب رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي چي : لمونځ رضا د الله ( جل جلاله ) ده ( يعني د لمانځه په سبب د کائناتو حقيقي واکدار او مالک راضي کيږي ، داد لمانځه له فايدو څخه اوله فائده ده ) .

او لمونځ محبت د ملائکو او فرشتو دئ ( يعني و ملائکو ته لمونځ ډير محبوب کار دئ ، يا لمونځ سبب د ميني او محبت د ملائکو دئ په دې معنى چي يو څوک په صحيح صورت لمونځ کوي نو د الله ( جل جلاله ) فرشتې له هغه سره محبت او مينه کوي ) ..

او لمونځ طريقه د نبيانو ده ، په دې معنى چي هيڅ داسي نبي و دنيا ته نه دئ راغلئ چي دهغه په دين کښي دي لمونځ نه ؤ ، يا دي هغه په خپله لمونځ په ډير لوی اهتمام او تأکيد سره نه کاوه ، نو په دې سبب لمونځ له جملې څخه د هغو أعمالو دئ چي د ټولو پيغمبرانو په منځ کښي مشترک وه ،چي يو انسان لمونځ کوي نو دغه انسان د ټولو نبيانو پر لار باندي له دغه جهته تلونکئ بلل کيږي .

او لمونځ نور د معرفت دئ ، يعني د لمانځه په سبب په انسان کښي د الله ( جل جلاله ) د معرفت او د پيژندني نور ښکاره کيږي او قوت او زياتوالئ پيداکوي .

او لمونځ أصل د إيمان دئ ، يعني کوم نيک عملونه چي د إيمان په تقاضا سره مسلمان کوي د هغو ټولو اساس او بنياد لمونځ دئ ، که يو سړئ لمونځ نه کوي نو نور ټول صالح عملونه کوم چي دَی يې کوي له فيض او برکت څخه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



معطل پاته کیږي او په ټولو صالحو عملو کښي لمونځ د فضیلت او د بهترۍ په إعتبار په اوله درجه کښي قرار لري .

او لمونځ إجابت د دُعا دئ ، یعني د لمانځه د کولو په سبب الله پاک د انسان دعاګاني قبلوي . لکه چي په ځینو نورو روایتو کښي راځي چي : یو له هغو وختو څخه چي دُعا پکښي قبلیږي له فرضي لمونځو څخه د فارغ کیدلو وختونه دي .

او لمونځ قبلول د عملو دئ ، یعني د لمانځه په سبب د انسان نور صالح عملونه هم الله تعالی قبلوي .

او لمونځ برکت دئ په رزق او په روزي کښي ، یعني د لمونځ ګذاره سړي په رزق کښي زیاتوالئ او برکت الله (جل جلاله ) پیداکوي ..

او لمونځ راحت دئ لپاره د بدنو ، یعني کوم خګ چي لمونځونه په پابندي ، په صحیح صورت سره کوي نو د هغو په بدنو کښي آسوده ګي ـ او راحت پیداکیږي .

او لمونځ سلاح ده پر دُښمنانو باندي ، یعني کوم سړئ چي لمونځ کوي په دې ډول چي د لمانځه په کولو کښي د لمانځه د ټولو حقوقو پابندي او مراعت کوي نو ددغه لمانځه په سبب چي کوم دُښمنان دَی لري پر هغو دُښمنانو باندي الله پاک و ده ته غلبه او برئ ورنصیب کوي ..

او لمونځ کراهِیَت د شیطان دئ ، یعني له لمانځه او لمونځ ګذاره څخه د شیطان ملعون ډیر بَد کیږي ، او د لمانځه په سبب و شیطان ملعون ته ډیر تکلیف او زحمت ورکول کیږي .

او لمونځ شفیع ( سپارښګر ) دئ په منځ کښي د لمونځ ګذاره او د ملک الموت ، یعني کوم وخت چي حضرت عزرائیل ( علیه السلام ) د لمونځ ګذاره سړي روح قبض کوي نو په دغه وخت کښي هغه لمونځ چي په ژوند کي ده په صحیح صورت سره کړئ وي و عزرائیل ته دده سپارښ کوي ، او له دې څخه دَی خلاصوي چي د روح او د ساه د ختلو په وخت کښي کوم ربړ او تکلیف وده ته ورسیږي .

او لمونځ سراج ( څراغ ) دئ په قبر کښي دده ، یعني کله چي لمونځ ګذاره سړئ له مرګ څخه وروسته و قبر ته ورداخل کړ سي نو په هغه توره تیاره د قبر کښي الله پاک دده لمونځ وده ته ډیوه او څراغ وګرځوي چي په دې ذریعه دَی د قبر د ظلمت او د تیارې له مُشَقت څخه خلاص سي .

او لموځ فراش دئ لاندي تر بغل دده ، یعني د لمانځه په سبب په قبر کښي و لمونځ کونکي ته د راحت او عزت فرش غوړول کیږي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولمونځ جواب دئ سره له منكر اونكيره ، يعني كله چي په قبر كښي د سوالو او پوښتنو فرشتې چي نكير او منكَر دي له لمونځ ګذاره سړي څخه سوال كوي نو لمونځ و دوی ته دده له طرفه سبب د جواب وركولو جوړيږي .

او لمونځ مؤنِس او ألفَت وركونكئ دئ په قبر دده كښي تر ورځي د قيامته پوري ، يعني كله چي لمونځ ګذاره سړئ د قبر و وحشت ته ورداخل كړ سي نو لمونځ له ده څخه د قبر وحشت ليري كوي ، او يو داسي ملګرئ به دده ګرځي په قبر كښي ، كوم چي دده به ډير أنس او ألفت ورسره وي ، او ملګري د لمانځه به له ده سره تر هغه وخته پوري وي كوم چي خلګ به له قبرو څخه د حشرګاه وميدان ته ژوندي راپورته كيږي ، چي هغه د قيامت ورځ ده .بيا كله چي قيامت سي نو وبه ګرځي دغه لمونځ سايه سربيره پرده باندي اوخول پرسردده باندي اوجامه پربدن دده باندي اونور اوروڼا چي ځي به دَی په مخكښي د هغه ، او پرده او حجاب په منځ كښي دده او په منځ د اور ددوږخ .

او حجت او دليل لپاره د مؤمنانو په حضور كښي د الله (جل جلاله) او درونداوالئ په تلو كښي د ميزان او تيريدل پر پل صراط باندي او چابي او كيلي د جنت، ځكه چي بېشكه لمونځ تسبيح ده او تحميد، تقديس او تعظيم دئ او قرآئة او دُعا دئ .

او بېشكه بهترين د عملو ټولو لمونځ دئ په وخت خپل كښي .

يعني كومي چي مخكښي ذكرسوې هغه د لمانځه هغه فايدې دي چي د لمانځه په بركت په دُنيا او بيا په قبر كښي د قيامت تر ورځي پوري و لمونځ ګذاره ته رسيږي .

او كله چي د قيامت ورځ راسي نو بيا دغه فايدې د لمونځ ګذاره سړي په بركت د لمانځه نصيب كيږي :

اول : دقيامت په ورځ به دغه لمونځ د لمونځ ګذاره لپاره د سايبان په ډول دده پر سر باندي سايه وغوړه وي چي له حرارت او ګرمۍ څخه به د قيامت د ورځي دغه لمونځ ګذاره سړئ په أمن وي .

دوهم : په دغه ورځ كښي به دغه لمونځ دده د سر تاج او خولۍ وګرځي .

دريم : په دغه ورځ كښي به دغه لمونځ دده د بدن جامه او لباس وګرځي .

څلرم : په دغه ورځ كښي به دغه لمونځ د لمونځ كونكي لپاره كله چي دَی و حشرګاه ته له قبره څخه روان وي او دارنګه په نورو ځايو كښي نور او رڼا سي چي په مخ كښي بې روان وي .

پنځم (٥ ) : په دغه ورځ كښي به دغه لمونځ د لمونځ كونكي او د دوږخ د اور په منځ كښي حجاب وګرځي چي په دې سبب به د دوږخ داور هيڅ قسم أثر وده ته نه رسيږي .

شپږم ( ٦) : په دغه ورځ كښي به د الله ( جل جلاله ) په حضوركښي دغه لمونځ د مؤمنانو لپاره داسي حجت او دليل جوړ سي چي د الله تعالی له ملامتيا څخه به مؤمنان دده په سبب نجات پيداكړي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوم ( ۷): په دغه ورځ کښي به دغه لمونځ د نیکوعملو د تلو د دروندوالي سبب سي ، کله چي عملونه د خلګو د میزان په تلو کښي تلل کیږي .

اتم ( ۸ ) : په دغه ورځ کښي به ددغه لمانځه په سبب لمونځ کونکئ د صراط پر پله باندي په سهولت او اسانتیا سره تیر سي .

نهم ( ۹) : په دغه ورځ کښي به دغه لمونځ ولمونځ کونکي ته کلي د جنت وګرځي ، یعني د لمانځه په سبب به وده ته دروازه د جنت خلاصه که سي .

همدا سبب دئ چي د تارک الصلاة لپاره د ډیرو سختو جزاګانو او عذابو ذکر راغلئ دئ تر داسي حده چي امام أحمد بن حنبل ( رحمه الله ) فرمایلي دي چي : یو څوک که لمونځ په قصد سره قضا کړي نو دغه سړئ کافر دئ او قتل یې واجب دئ .

او إمام شافعي ( رحمه الله تعالی) فرمایلي دي : که چا په قصد سره لمونځ قضا کړ نو کافر نه دئ مګر قتل یې واجب دئ .

د تارک الصلاة په شان کښي چي بیخي اسانه لاره غوره کړه سوېده هغه څموږ د إمام أعظم أبوحنیفه ( رضي الله عنه ) مسلک دئ ، څکه ده مبارک ( رحمه الله ) فرمایلي دي : څوک چي په قصد سره لمونځ پریږدي نو هغه نه کافر دئ او نه به قتل کیږي ، بلکي اسلامي حکومت به دَی و محبس ته داخله وي تر څو چي توبه ګار ګرځي او یا مړکیږي .

محترمو وروڼو ! په هر کار چي الله پاک یا دالله تعالی رسول ( صلی الله علیه وسلم) خلګ أمر کوي نو هغه کار دغه ډول له ښیګڼو ، برکتو او فایدو څخه ډک وي لکه څرنګه چي د لمانځه په باره کښي وتاسي ته بیان وکړ سو

( ومما رزقناهم ینفقون ) پو ه سه چي څني مفسرین وايي چي له دغه قول څخه فرض زکوة اداکول مراد دئ . او څني مفسرین وايي چي هر قسم صرفه ول د مال چي د خدائ پاک د رضا لپاره وي هغه ټول ورڅخه مراد دي . او څني مفسرین وايي چي دغه قول یواځي و مالي إنفاق ته نه دئ ورشامل ،بلکي هر قسم قوت چي الله پاک و انسان ته ورکړئ وي لکه علم ، مال ، بدن ، اعتبار ، رسوخ ، اوداسي نور ټول په دې قول کښي داخل دي.

دزکات په اړه تفصیل اوبیان.

محترمو وروڼوهر دسالم اودصحیح عقل خاوند چي له تعصب اوله عناد څخه خالي وي اوداسلام دمقدس دین په دغه سپیڅلي حکم اوفرمان کښي چي(واتوالزکوة) دَی عقل او فکروچلوي اوکوم مصلحتونه اوګټي چي دانسانیت ، شخصیت ، اجتماعیت اواقتصاد اوددنیا اوداخرت په اعتبارداسلام په دغه مقدس حکم کښي پرتي دي په غور اوپه تعمق دنظر سره ملاحظه کړي اوسربیره پردې په دې اړه وخلګوته د الهي ترغیب اوترهیب هم مطالعه وکړي نوپه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتمي ډول به دزړه له کومي داووايې چي بيشکه داسلام پاک دين په اعلى درجه دمحاسنو اودښيګڼو دين دئ او ټول قبائح اوبدئ اوناخوالي له اسلام څخه دباندي دي .

اوکه بالفرض له اسلام څخه پرته په بل کوم تهذيب اومذهب کښي څه محاسن او ښيګڼي وجود ولري نوبايد داسي وواېوچي هغه يې داسلا م له ويبپانې څخه غلاکړيدي، لکه چي په دي اړه زمايوشعر دئ :

اصلي حسن اوکمال ټوله ځمادئ

که زمين دئ که اسمان پردي ګواه دئ

که بياهم يو څه له تاسره موجود وي

هغه تاوړئ له ماڅخه په غلادئ

محترمومسلمانانو اول داسلام ددغه حکم چي زکات دئ و حکمتواوګټو ته ځيرسی :

اول(۱)دزکات لفظ په لغت کي ونماکولوته اوو زياتيدلوته اوپاکيدلوته اووصلاح ته ويل کيږي ،

چي معني يې له (زکی يزکوزکاة وزکاءً) څخه رااخستله سويې ده .

اوپه شريعت کښي دزکات دلفظ اطلاق پردؤ معناؤ باندي کيږي :

اول اداءکول دهغه حق چي په خاصو مالو کښي په خاصه طريقه سره پرمسلمان باندي فرضيږي اودفرضيدو لپاره يې حَولان دحول يعني تيريدل دکال اونصاب شرط د ئ

دوهم : دزکات لفظ ومال مخرج ته ، يعني هغه قدر مال ته چي پرمسلمان باندي يې دزکات په نيت ايستل له خپله ماله څخه فرض وي هم زکات ويل کيږي په دغه نامه کښي شريعت دزکات وځينو غټو مصلحتو اوګټوته اشاره کړيې ده :

اول( ۱ ) : دزکات د ايستلوپه وجه دزکات ورکونکي په مال کښي نما اوبرکت پيداکيږي

دوهم( ۲) : دزکات ايستلو په وجه دزکات ورکونکي مال کمی نکوي بلکي زياتيږي اوډيريږي

دريم( ۳ ) : دزکات ورکولو په وجه دمسلمان ومال ته طهارت او پاکي حاصليږي

څلورم( ۴ ) : دزکات په وجه زکات ورکونکي طاهر او پاک ګرځي ، په دې ډول چي که يې زکات نه واېٔ اداکړئ نو بيا به ګناه ګار سوئ واېٔ او د ګناه په نجاست به ملوّث اوککړ سوئ واېٔ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم ( ۵ ) : د زکات د ورکولو په وجه د زکات ورکونکي نفس د بُخَل له ناروا خوی ځخه پاکیږي کوم چي د انسان لپاره په هر لحاظ خرابوونکئ صفت دئ .

شپږم ( ٦ ) : دزکات د ورکولو په وجه زکات ورکونکئ د سخاوت په مُقَدس صفت سره موصوف گرځي ، کوم چي د انسان لپاره په هر لحاظ له ډیرو کاملو صفتو ځخه دئ .

د اسلام پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي ـ : سخي انسان وخدائ ( جل جلاله ) ته نزدې دئ ، و خلگو ته نزدې دئ ، او و جنت ته نزدې او له دوږخ ځخه لیري دئ ، او بخیل سړئ له خدایه ، له خلگو او له جنت ځخه لیري دئ او دوږخ ته نزدې دئ .

اوم (۷ ) : د زکات د ورکولو په وجه د زکات ورکونکي مَشاعِر او حواس د مال او دولت د سوچ او فکر له سَلَطې ځخه ـــــ او دده زړه د دُنیا د میني او محبت له غلبې ځخه نجات پیداکوي ، کوم چي د انسان ټول شریف حیثیتونه بربادوي .

د اسلام پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) په یوه مبارک حدیث کښي چي امام غزالي رح یې په ( احیآءالعلوم ) کښي ذکر کړئ دئ فرمایلي دي چي :

دوه شرموښان او لیوان چي وږي وي او د پسو ویوې رمې ( گلي ) ته ور ایله سي ، نو دومره فساد او خرابي نه رسوي لکه څونه خرابي چي د انسان ودین ته دغه دوه صفتونه رسوي :

۱ ـ محبت د دُنیا اومال

۲ـ محبت دجاه او منصب .

اتم ( ۸ ) : دزکات د ورکولو په وجه زکات ورکونکئ له رحمت او شفقت سره د الله تعالی پر مخلوق باندي عادت نیونکئ گرځي .

نهم ( ۹ ) : دزکات ورکولو په سبب دفع دحاجت د محتاجانو راځي ، او د فقر او احتیاج له مشقت ځخه په جامعه کښي مجبور خلگ نجات پیدا کوي .

ځینو بزرگانو عالمانو ذکر کړیدي چي عادت د الله ( جل جلاله ) پر دغه باندي جاري دئ چي په هره منطقه کښي الله ( جل جلاله ) دونه غنیان او مالدار خلگ پیداکوي چي که دوی په کامله وجه د خپلو مالو زکات وباسي نو په هغه علاقه کښي چي څونه محتاجان او مسکینان وي د هغوی ټولو په دغه زکات سره تر بل راتلونکي کاله پوري چلاؤ او گذاره کیدلائ سي .

لنډه داچي اسلام په دغه حکم کښي هم بې حسابه مَصالح د فَرد او د مُجْتَمَع په فهم کښي نیولي دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لفظي ترجمه : (وَ) او (الذِينَ) هغه کسان (يُؤمِنُونَ) چي ايمان لري دوی یاایمان راوړی (بِـمَا) په هغه یعني په هغه کتاب (أنزِلَ) چي نازل کړ سوئ دئ (اِلَيَ) وه (کَ تاته یعنی وتاته نازل کړسویدی چی قرآن دی ( وَ ) او ( مَا )په هغه یعني په هغه کتابو( أنزِلَ) چي نازل کړ سوئ دئ هغه( مِن) له (قَبلُ) مخه یعنی دمخه( کَ) ترتا ، یعني له مخه ترتاپرنورورسولانوباندی نازل کړسویدی( وَ) او ( بِا لآخِرَةِ) په آخرت( هُم) دوی ( يُوقِنُون) يقين کوي ( أُلئکَ) هغه خلګ ، يعني هغه خلګ چي ذکر يې وسو چي په غيب ايمان لري او په صحيح صورت لمنځونه کوي بيا تر پايه د ذکرسويو صفتوپوری (عَلی) پر (هُدًی) لوی هدايت با ندی یعنی ثابت دی دوی پرلوی هدایت باندی( مِن ) له ( رَبِّ ) ربه یعنی له طرفه دربه (هِم ) د دوی ( وَ ) او ( أُلئکَ) هغه خلګ ( هُم) خاص دوی ( المُفلِحُون)هغه خلګ دی چی په مراد رسیدلي دي

تـفـصــيــل : يعني او بل به په متقيانو کي دا صفتونه موجود وي چي يو به دوی ايمان لري په هغه باندی چي پر تا باندي نازل سوئ دئ ، وتاته راغلئ دئ د خدائ له طرفه چي هغه دغه قرآن کريم دئ ،اودارنګه له قران څخه سوی نور هغه څه دی چي د خدائ له لوري وتاته ويل سويدي ، وحيه يې درته سوې ده .اوبل به په هغو کتابو ايمان لري چي تر تا له مخه پر نورو نبيانو نازل کړه سويدي لکه توراة ، انجيل ، زبور ، اوبل به په ورځ د آخرت ايمان لري ، داسي به نه وی لکه يهود چي وايي چي موږ خپل رسول موسی منو اودارنګه خپل کتاب توراة منو او نور لکه عيسی او انجيل ، حضرت محمد او قرآن نه منو .

اونه به داسي وی لکه نصاری او عيسايان چي د حضرت عيسی او د انجيل د منلو دعوه کوي او نور رسولان او خدايي کتابونه نه مني . اودارنګه د آخرت ورځ يهوديان په دې ډول مني چي هلته به په جنت کښي يواځي يهود وي ، اونصاری يې په دې ډول مني چي هلته به په جنت کي يواځي نصاری وي . دغه دواړه قسمه عقيدې باطلي او د کفر دي . متقيان او مسلمانان هغه خلګ دي چي په صحيح صورت سره په آخرت ايمان لري . هغه خلګ چي په دغو ذکرسويو صفتو موصوف وي پر عظيم الهي هدايت باندي دي . اوهمدغه خلګ په مراد رسيدلي او کاميابه دی هم په آخرت کښي ، اوهم په دنيا کښي .

پوه سه چي کله حضرت رسول اکرم ومديني منورې ته په هجرت راغئ ، نوپه دغه وخت کښی د مدينې منورې خلګ دري ( ۳) قسمه سول اول صاف او مخلص مسلمانان دوهم سوچه اوپه ډاګه کافران دريم منافقان . مسلمانان بيا درې قسمه وو او ل قسم هغه کسان ؤ چي له مکې څخه و مدينې منوری ته په هجرت راغلي ؤ ، دوهم قسم هغه کسان ؤ چي د مدينې باشنده ګان ؤ اوپه اصل کښي عرب مشرکين ؤ، دريم قسم هغه کسان ؤ چي په اصل کښي يهود يا نصاری ؤ بيايې په اخلاص ايمان راوړئ ، ودغو دريو سره فرقو ته دا قول د خدائ چي ( هدی للمتقين ) ورشامل دئ . اودغه قول چي ( الذين يؤمنون بالغيب ) بيا تر آخره د آيته پوری په صفت کښي د اولودؤ قسمود مسلمانانو نازل سوئ دئ . او دغه قول د خدائ چي والذين يؤمنون الخ ددريمی ډلی دمسلمانانوپه صفت کښی نازل سويدی ا و له( الئک)څخه بيا تر ( المفلحون ) پوري د دغو دريو سره ډلو په صفت کي نازل سوئ دئ . او له (

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ان الذين كفروا ) څخه بيا تر ( عظيم ) پوري د دوهمي ډلي په باب کښي کوم چي سوچه کافران ؤنازل کړسويدی البته په ايت کښی له کافرانوڅخه هغه کافران مراددی کوم چی دالله په علمکښی ددوی خاتمه پرکفربااندی وه او له دغه څخه وروسته راتلونکي اياتونه بيا د منافقانو په شان کښي نازل سويدي چي له (ومن الناس من يقول ) څخه بيا تر ( يا ايهاالناس اعبدوا ) پوري دي .

لفظي ترجمه : اِن) بې شکه ( الذِينَ ) هغه کسان (کفروا )چي کافران سويدي ( سَوَاء ) برابر دئ (عَلَيهِم ) پر دوئ باندي (ءَ ) ايا (أنذَرتَ ) که وويره وې ته (هُم ) دوی يعني له عذابه د الله څخه( اَم ) او که ( لَم تُنذِر ) نه و ويره وې ته (هُم ) دوی ( لَا يُؤمِنُون) نه راوړي ايمان دوی .يعنی بيشکه هغه خلګ چی کافران سويدی يعنی اوپه علم دخدای کښی ددوی خاتمه پرکفر باندی ده،برابره دهپردوی باندی داخبره چی که ته ای رسوله دخدای له عذابوڅخه ويره وی اوکه ئی نه ويره وی په دی معنی ستانصيحت اوويرَول او نه ويَرول پردوی باندی سره برابردی چی پرهيڅ تقدير دوی ايمان راوړونکی ندی

تــفــصــيــل اوعلمی خبری

پوسه چی کله چي خدائ پاک داسي و فرمايل چي پر کافرانو باندي ستا نصيحت ودوی ته او نه نصيحت ،دارنګه ويرول ستا دوی لره او نه ويرول برابر دي نو دلته دوه سوالونه پيداسول اول داسوال چي دغه برابر والئ پر دوی باندي په څه معنی مراد دئ ايا په دې معنی مراد دئ چي که ئې ته اې رسوله وويروې هم ايمان راوړي دوی ،اوکه ئې نه وويروې هم ايمان راوړي او که په دې معنی چي کې ويره وې ته دوی ،اوکه يې نه ويره وې پريوه تقديردوی‌ايمان نه راوړي ؟

نوددې سوال جواب الله پاک په خپل دې قول سره وکړ چي ( لايؤمنون ) يعني له دغه برابر والي څخه مراد برابر والئ دئ په دې کښي چي دوی ايمان نه راوړي ، نه په دې کښي چي دوی ايمان راوړونکي دي .

دوهم : دا سوال پيداکيدی چي اې خالقه ددې څه سبب دئ چي پر دغو بدبخته کفارو باندي ستا د مبارک رسول ويرول او نه ويرول برابر دي ،په دې معنی چي دوی ايمان نه راوړي ؟

نوددغه سوال جواب الله پاک په خپل دې قول سره کړيدی چي ( ختم الله الخ) چي تفصيل بې راسي ان شاءالله تعالی .

پو ه سه چي دلته دوه سوالونه نور سته چي جواب غواړي هغه په دې ډول دي

اول سوال دادئ چي هرکله چي و کافرانو ته د رسول نصيحت کول ،اونه کول دواړه بې فرقه وو،او فائده يې نه ورته رسوله ،نو بيا ولي خدائ پاک خپل رسول په دي سره امر کړئ ؤ چي ودغوکافرانوته تبليغ کوه ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې سوال جواب دادئ چي د خدائ پاک په دې کښي يو حکمت دا ؤ چي رسول ته د تبليغ کولو و دغو کفارو ته اجر او ثواب حاصل سي اوبل حکمت پکښي دا ؤ چي د قيامت په ورځ کښي پر دغو کفارو باندي دا بهانه و درېږي چي په دنياکښي و موږ ته حق نه دئ بيان سوئ اورسول نه ؤ راته راغلئ .

همداسبب دئ چي الله (عز وجل)داسي فرمايلي دي چي ويرول اونه ويرول ستاپر دوی باندي برابر دي نه داسي چي نسبت ورسول ته هم سره برابر دي .

اودوهم سوال دادئ چي په کافرانو کښي خو زيات داسي خلگ ؤچي اخير يې ايمان راوړئ نو الله څنګه داسي فرمايلي دي چي هغه خلگ چي کافران دي ايمان نه راوړي ؟

ددې سوال جواب دادئ چي په دغه آيت کښي له کافرانو څخه هغه کافران مراد دي کوم چي دالله پاک په علم کښي د دوی خاتمه پر کفر باندي وه لکه ابوجهل ،وغيره . نعوذ بالله من سوء الخاتمة .

لفظي ترجمه :

(خَتَمَ) مهرلګولئ دئ ( اَللهُ ) خدائ پاک (عَلى) پر (قُلُوبِ) زړوباندي (هِم) د دوی (وَ) او (عَلى) پر (سَمعِ) غوږوباندي (هِمْ) د دوی يعني الله پاک د دغو کافرانوپرزړواوغوږوباندي مهروهلئ دئ (وَ) او (عَلى) پر (اَبصَارِ) سترګوباندي (هِم) د دوی (غِشَاوَةٌ) پرده ده (وَ) او (لَهُم) دوی لره يعني سته دوی لره د قيامت په ورځ کښي (عَذَاب) (عَظِيم) ډير لوی ، غټ . يعني داچي د خدائ پاک د رسول خبر په دغوکفارو کښي هيڅ اثر نه کوي ،که هر څونه دَئ نصيحت ورته وکوي بياهم دوی ايمان نه راوړي ،داپه دې سبب چي الله د دوی پر زړو او غوږو مهر وهلئ دئ ،او د دوی پر سترګو يې پرده وراچولې ده ،نو دوی نه حق اوريدلائ سي ،او نه حق معلوموﻻئ سي ،او نه حق ليدلائ سي ..

تــفــصـــيــل اوعلمي خبري :

دکافرانو پر زړو اوغوږوباندي د مهر لګولواو دارنګه ددوی‌پرسترګوباندي دپردي اچولو مطلب څه دئ ؟

جواب ددې سوال دادئ چي د دغو کافرانو په زړواوغوږو کښي د دوی د کفر په سبب الله پاک يو داسي کيفيت پيداکړئ ؤ چي د هغه کيفيت په وجه د دوی زړونو په هيڅ ډول حق نه قبلوی او نه په حق پوهيدل .. او د دوی غوږونو که څه هم په ظاهره خو د حق خبره اوريدله خو دهغه معنوي کيفيت په وجه کوم چي د دوی په غوږو کښي الله پاک پيداکړئ ؤ د دوی غوږونو نسوای کولائ چي حق په داسې ډول واوري چي دا حق دئ او وئې مني دارنګه مراد له دې قوله د الله جل جلاله څخه چي پر سترګو د دوی باندي پَرده ده ، دادئ چي د دوی د کفراو ګناؤ په سبب الله پاک ددوی په سترګو کښي داسي يو کيفيت پيداکړئ دئ چي د هغه په سبب دوئ نسي کولائ چي د حق نښانې او دليلونه په داسې ډول ووينې چي حق په وپيژني ، پوه سه چي له دغه کيفيت څخه کوم چي په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه آیت کښې د خَتَم په لفظ تعبیر ورڅخه سوئ دئ په قرآن کریم کښې په نورو الفاظوسره هم تعبیر ورڅخه سوئ دئ لکه دررَیْن په لفظ سره په دې آیت کښې ( کَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلوبِهِمْ . .. .) او لکه د طبع لفظ په دې قول دالله کښې چي ( اُلئک الذینَ طَبَعَ اللهُ عَلَى قُلُوْبِهِمْ) . او لکه د أِغْفال لفظ په د ي آیت کښې ( وَلاتُطِعْ مَن اَغْفَلنَا قَلبَهُ عَنْ ذِكْرِنَا ) .

او لکه د قَساوة لفظ په دې آیت کښې چي (وَ جَعَلْنَا قُلُوْبَهُمْ قَاسِيَّةً) او ځینو مفسرینو د دغو الفاظو په منځ کښې یو څه فرق هم ذکرکړیدئ .

په یوه مبارک حدیث کښې چي د أحادیثو معتمدو کتابو یې روایت کړئ دئ داسي راغلي دي چي کله چي یو انسان یوه گناه وکړي نو دده په زړه کښې تور ټکئ پیداسي بیاچي کله دغه انسان له دغي گناه څخه توبه ونه کاږي اوبیابله گناه وکړي نو دده په زړه کښې بل تور ټکئ پیداسي ،تر داسي حده پوري چي دده ټول زړه دغه تور ټکي ونیسي نو دا هغه رَان دئ یعني چي الله پاک په دې قول کښې ذکر کړئ دئ چي ( کلا بَل رَانَ . . . .) . محترمو مسلمانانو کله چي د انسان زړه دغه تور ټکي ونیسي نو بیا ددغه انسان د سموالي او د هدایت امکان نسته اعُوذُ بالله منه ، همدارنگه په یوبل حدیث شریف کښې راغلي دي چي دغه زړونه داسي زنګ نیسي لکه څرنگه چی اوسپینه زنګ نیسي یعني د گناؤ په وجه یو قسم معنوي خراب صفت کوم چي د زنګ په ډول دئ په دغوزړوکښې دانسانانو پیداکیږي یوچا له ده مبارک څخه وپوښتل چي دغه زړونه چي زنگن سي نو بیا به په کوم شي سره بیرته صفا کیږي ؟ ده مبارک وفرمایل چي دمرگ په ډیره یادونه سره او په تلاوت دقرآن کریم سره .

په یوه بل حدیث کښې رسول الله فرمایلي دي چي خبردار هر شي لره صفاکونکئ سته او صفاکونکئ دزړو یعني کله چي زړونه په گناؤسره خیرن اوزنگن سي ذکر دخدائ دئ .

په یوه بل حدیث کښې راځي چي بیشکه په جسد ، یعني په بدن د انسان کښې یوه ټوټه غوښه ده ، کله چي دغه غوښه صالح اوسمه سي نو ټول بدن صالح کیږي ،او که دغه غوښه خرابه ، فاسده سي ،نوټول بدن فاسدیږي ، خبردار دغه ټوټه غوښه زړه دئ .

محترمو مسلمانانو په نن زمانه کښې د هرسړي ، او د هري ښځي زړه د گناهونو په سبب کلک سوئ او زنگن سوئ دئ ، په دې سبب چي د خلگو شوق او میلان وفساد ،او فسق ته ډیر دئ ،او عبادت او بندگي د خدائ پاک باندي درنه وي ، او د علماؤ وعظ ، نصیحت هیڅ تاثیر نه پکښې کوي .

نوهر مسلمان ته پکار ده چي اول د خپل زړه چاره وکړي په دې ډول چي مرگ ، قبر ، دآخرت حساب ، پر پل صراط تیریدل ، او د آخرت عذابونه ډیر ډیر په یاد ورولي ، او فکر پکښې وهي ، او دارنگه د قرآنکریم تلاوت ډیر کوي ، او ذکر د خدائ پاک ډیر ډیر کوي تر څو چي په زړه کښې یې نرمي پیداسي او د گناؤ له خِیرو څخه پاک سي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بقري دسورت د ،۸،۹،۱۰،۱۱،۱۲، مبارکواياتومحقق اومصحح تفسيراوتحقيق.

## تفسيرفضل الرحيم (۲)برخه پاره الم/

--------------------------------------------------

لفظي ترجمه :

(و ) او ( مِنَ ) ځني ( النَّاسِ) د خلګو( مَن) هغه دی ( يــَقُــولُ ) چي وايي دَیْ (امَنَّا) چي ايمان راوړئ دئ موږ( بِاللهِ ) په خدائ باندی( وَ )او ( بِاليـــَومِ ) په ورځ (الاَخِرِ ) اخيره باندی .

يعني په ورځ د قيامت باندی( وَ ) حال دادئ( مَا) نه دي( هُم ) دوی (بِمؤمِنينِ)(۸) هيڅ مؤمنان يعني په هيڅ ډول دوی مؤمنان نه دي ( يُخَادِعُونَ ) چم کوي دوی ( اَللهَ) له خدائ سره ،، مرا ددادی چی دوی له رسول د خدائ سره چم کوی ( وَ) او (الَّذِينَ) له هغو خلګو سره ( امَنوا) چي ايمان يې راوړئ دئ يعنی اوبل دوی په دغه منافقانه ويناکښی ومخلصومومنانوته کوم چی اصحاب دمحمدصلی الله عليه وسلم دی دوکه ورکوی( وَ ) او (مَا) نه (يَشعُرُونَ )(۹) اګاه کيږ ي دوی .

يعني اوځنی له دغوخلګودمدينی منوری څخه هغه قسم خلګ دی چی دوی دالله ورسول اودده واصحابوته دملاقات په وخت کښی په دروغوسره داسی وايی چی موږهم ستاسی په شان مومنان يوپه الله پاک باندی اوپه ورځ داخرت باندی موايمان راوړی دی او حال دادی چی دوی په هيڅ معنی دمومنانوپه سلسله کښی داخل ندی خوداچی دوی په ظاهره دمسلمانی دعوه کوی په دی کښی ددوی غرض اومطلب دخدای درسول اودمومنانودوکه کول دی وبس او په دې نه آګاه کيږي او نه پوهيږي چي دغه چم او دغه د منافقت معامله ځموږ ځونه بد أنجام او عذاب لري ، او نه په دې پوهيږي چي په حقيقت کښي دا موږ له خپلو ځانو سره چم کوو ، د خدائ (جل جلاله) و رسول او مومنانو ته ، او د الله تعالی ودين ته په دې سره هيڅ ضرر نه سو رسولائ ، او نه په دې طريقه هغه مقصدونه لاس ته راوړلائ سوکوم چي په دغه منافقت کښ موږ په نظر کښي نيولي دي .

پو سه چي په دغو اوپه راتلونکيو اياتو کښي الله ( جل جلاله ) د منافقانو حالات بيان کړيدي.

محترمو مسلمانانو

منافق د اسلام له نظره پردری قسمه دئ اول إعتقادي انکاری منافق ، او دوهم اعتقادی شکی منافق اودريم عملي منافق ، اعتقادي انکاری منافق و هغه ته ويل کيږي چي په زړه کښي کافر وي ، اسلام نه مني ، مګر په خوله دا وايي چي زه مسلمان يم ، د اسلام دين مي قبول کړئ دئ اوشکی منافق وهغه ته ويل کيږی کوم چی په باطن کښی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسلام اودقران اودرسول الله په حق والی کښې شک لری خوپه خوله دغه شک نه ښکاره کوی و دغودواړه قسمه منافقانو ته غیر مجاهر کافران ویل کیږي او هغه چي په ښکاره کافر وي و هغه ته کافر مجاهِر ویل کیږي پوسه چی دغه دوه قسمه منافق تر ښکاره کافر په کفر کښي زیات أغلَظ دی ، او د قیامت په ورځ کښي یې عذاب هم تر ښکاره کافر سخت دئ . ځکه دَی تر ښکاره کافر اسلام ضرره ډیر دئ ځکه چی په ده مسلمانان خطاؤځي ، او په دې وجه چي ده د اسلام او مسلمان په جامه کښي ځان ښکاره کړئ دئ په مسلمانانو کښي مداخله ډیره کولائ سي ، او د مسلمانانو په پټو رازو اسانه خبریدلائ سي ، او مختلف ضررونه ومسلمانانو ته رسولائ سي .

او عملي منافق و هغه چاته ویل کیږي چي وي مسلمان ، خو خویونه د منافق په ده کښي موجود وي لکه دروغ ویل ، وعده خلافي کول ، په امانت کښي خیانت کول ، لکه چی په یوه مبارک حدیث کښي هم داسي راغلي دي .

په مدینه منوره کښي چي د رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) په وخت کښي کوم منافقان وونو هغه اول دوه قسمه منافقان ؤ ، او اکثر د دوی یهود ؤ چي شمیر یې و دریوسوو۳۰۰ ته رسیدئ ، او عبدالله ابن أُبئ ابن سلول له دغو منافقانو څخه ډیر مشهور منافق ؤ .

تفصیل اوعلمی خبری( ومن الناس )پوسه چی دمن کلمه دلته اسمی ده مؤله ده په لفظ دبعض سره مضافه ده د(الناس )ولفظ ته اومجموع مبتدا دی او(من یقول الخ) یی خبردی اوعکس ددی مناسب ندی ځکه چی بیا دغه جمله مفیده نه واقع کیږی لکه چی پرعالم سړی باندی داخبره خفی نده د(الناس) دلفظ تحقیق به په بل ځای کښی درته راسی ،،فائده،پوسه چی ددی خبری استنباط چی من جاره اسمیه هم راځی علامه تفتازانی رحمه الله کړیدی‌اوکړی ئی هم ددغه ایت دحل په وجه دی ځکه چی څنو مفسرینولفظ د(من الناس) لکه چی متعارف دی جار او مجروربللی دی اودمتعلق مقدرپه اعتبارئی خبرمقدم د(من یقول )دپاره گرځه ولی دی نومعنی دجملی نامناسبه راغله ځکه چی پردغه تقدیردجملی محصول حکم دی پر(من یقول )باندی په( من الناس) سره یعنی هغه څوک چی وائی چی موږایمان راوړی دی الخ هغه بعضی دخلگودی اودابی فایدی محصول دی مفیدمطلب پردغه تقدیرثابتیږی چی پر(من الناس )باندی په( من یقول )سره حکم وکړسی لطیفه ،،دِمن لفظ اسم هم راځی لکه پدغه آیت کښی اوفعل هم راځی بیانودواحدمذکرامرحاضرمعلوم صیغه ده له ،،مان یمین مینا ،،څخه چی په معنی ددروغ ویلو دئ اوحرف جرهم راځی نوپه ده کښی دکلمی دری سره قسمونه جمعه سوی دی مادغه دری سره ډوله من په یوه ترکیب کښی په دی ډول راوړی دی من من من عطازید(من یقول )پوسه چی دمن په کلمه کښی دوه احتماله دی، اول دا چی موصوفه سی اود(یقول) جمله یې صفت سی نوبه تقدیرپه دی ډول سی ای ومن الناس ناس الخ یعنی ځینی دخلگو داسی خلگ دی الخ، اودوهم داچی موصوله سی اومرادورڅخه معلوم خلگ دمنافقینوسی لکه عبدالله ابن ابی ابن سلول اوامثال دده نوبه کلمه دمَنْ په معنی دالذین سی پوسه چی دیقول لفظ له قول څخه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړدئ اودقول لفظ په قرآن کريم کښې په پنځو مختلفومعناګانوکښې مستعمل سويدی، اول خالی دژبې وينابې له دی څخه چې زړه ورسره موافق وی لکه په دغه آيت کښې، دوهم دژبې ويل سره له موافقت اواعتقاده دزړه لکه ددغه سورت په ،۱۵٦،آيت کښې ، دريم په معنی دکلام دخدای پاک لکه دنحل دسورت په ،۵۱، آيت کښې ،څلرم په معنی دوحی لکه داذالشمس کورت په ،۱۹ آيت کښې ، پنځم دافتراپه معنی لکه ددغه سورت په ،٦۹ آيت کښې، ديقول په لفظ کښې دهوضميرمستتردی راجع دی ومن ته په اعتباردلفظ دمن ځکه چې دمن کلمه دلفظ په اعتبار مفرده ده اودآمنا وغيره په لفظو کښې دمن دکلمې دمعنی مراعات سويدی ځکه چې من په معنی کښې جمع دی (آمنا بالله الخ )په دغه قول کښې ولی ايمان ترالله اوترورځی داخرت پوری خاص ګرځول سوی دی سره له دی چې ددغو منافقانوله حال سره خو مناسب ذکرکول دايمان په رسول صلی الله عليه وسلم اوپه قرآن کريم ؤځکه چې دغه منافقان خواکثر يهودان ؤکوم چې په خدای اودآخرت په ورځ باندی يې له پخواڅخه لاايمان درلودی ځکه چې دوی اهل کتاب ؤ ؟ددی سوال اصلی اوپه زړه پوری جواب دادی چې دغومنافقانوخوورسول عليه السلام اوومومنانوته پرتږلومومن به شيانوباندی دايمان راوړلو اظهارکاوه مګرپه آيت کښې ددغو دووشيانوذکر په دی وجه خاص سويدی چې په دی سره الله پاک ودی خبری ته اشاره کړيده چې دغه منافقين په هغوشيانوباندی دايمان په دعوه کښې لادروغ وايې کوم چې دوی په هغی دعوې کښې په خپلوزړوکښ هم ځانونه صادقان بولی نودهغه ايمان په دعوه کښې به چيری دوی صادقان وګڼل سی کوم چې دوی پخپله هم خپل ځانونه په هغی دعوی کښې کاذبين بولی چې هغه دعوه دايمان راوړلوده په قرآن اوپه حضرت محمد صلی الله عليه وسلم باندی

(وماهم الخ)پوسه چې مقصودله دغه قول څخه رددی دذکرسوی قول دمنافقانو نوپه دی سبب دلته داسوال کيږی چې دوی خودعوه دايمان د(آمنا )په لفظ سره کړيی وه کوم چې جمله فعليه ده نوپه ردکښې يې هم بايدجمله فعليه ويله سويې وای چې (ومآآمنوا) دی جواب ددی سوال دادی چې په دی سبب له جملې فعليې څخه وجملې اسميې ته عدول سويدی کومه چې د(وماهم بمؤمنين) جمله ده چې پردغومنافقانوباندی ردپه ابلغه اوپه اکمله وجه سره راسی ځکه چې د(ماآمنوا)جمله دلالت کوی پرنفی دايمان راوړلو ددوی په ماضی زمانه کښې اومذکوره جمله اسميه دلالت کوی پرنفی دايمان ددوی مطلقا( يخادعون الله الخ ) پوسه چې دغه جمله مستانفه جمله ده جواب ديوه مقدر سوال واقع سوی ده سوال دادی چې منافقانوپه دغه دروغ ويلو کښې چې مومنان نه وه اوپه خوله بې ويل چې مورږ ايمان راوړی دی څه مطلب اوغرض درلودی نوالله پاک د(يخادعون )په جمله سره ددغه سوال جواب فرمايلی دی حاصل دجواب دادی چې غرض اومطلب ددوی په دی کښې دوکه اوچم کول ؤدخدای له رسول اوله مومنانو سره هم دارنګه پوسه چې ديخادعون لفظ له مخادعة ياله خداع څخه جوړدی اومجرد مصدريې خدع دی کوم چې په اصل کښې و پټولوته اوياوفسادته ويل کيږی اوپه عرف کښې خدع ودی ته ويل کيږی چې ويوچاته په فکرکښې يوشی ورواچوی اومرادستا په حقيقت کښې بل شی وی چې هغه هم مکروه اوناوړه شی وی اوپه يوه حديث کښې کوم چې قرطبې ذکرکړی دی دخدع يادخداع تفسير په دی ډول سوی دی چې خدع ودی ته ويل کيږی چې شرعی کارکوم چې الله پاک ته په هغه سره امرکړی يې ددنيوی اغراضوپه خاطر وکړی دمثال په ډول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ یازکات ا ویابل عبادت درپایادمال حاصله ولوپه خاطر وکړی نوودغه ته خداع ویل کیږی سوال منافقانوخوهم لکه مسلمانان پردی باندی عقیده درلوده چی له الله جل جلاله څخه هیڅ شی نسی پټیدلای نو بیاڅنگه دوی له الله سره مخادعه کوله ځکه مخادعه خوله هغه چاسره ته کولای سی چی له هغه څخه ته یوشی پټولای سی ددی سوال متعددجوابونه دی اول جواب دادی چی په کلام کښی دمضاف حذف راغلی دی اوتقدیردکلام په دی ډول دی( یخادعون رسول الله) اودوهم جواب دادی چی په دوی کښی داعقیده موجوده وه چی العیاذبالله الله پاک په ټولوجزئیاتوعلم نلری دریم جواب دادی چی څرنگه چی ددغومنافقانومعامله له الله پاک سره په دی ډول وه لکه چی گواکی د وی له الله سره چم کوی نوپه دي وجه الله پاک ددوی له معاملي څخه په مخادعه سره تعبیرفرمایلئ دئ ،سوال داالله پاک په شان کښي خودامحال دئ چي دَيْ له یوچاسره خِداع اوچم وکړي اودارنگه رسول علیه السلام اواصحابودده هم له منافقانوسره کومه معامله دچم نه کوله اوسره له دي چي د ( یخادعون ) له لفظ څخه کوم چي دمفاعلي باب دئ دالازمیږي چي الله پاک یارسول دده اوومومنانو هم له دوی سره خِداع اوچم کاوه ،،مفسرینوددغه سوال متعددجوابونه ذکرکړیدي خوډیرپه زړه پوري جواب دادئ چي د(یخادعون) فعل دلته دمبالغي دپاره دئ اودمفاعلي معني نه ده ورڅخه مراد یعني معنی يې داسي نه ده چي دوی مقابله کوي په چم کولو کښي له خدای سره اوله مومنانوسره بلکي معني يې په دي ډول ده چي ډیرچم کوي دوی‌له الله جل جلاله سره اوله مومنانوسره، سوال د(یخادعون الله الخ )، دجملي اود(ومایخدعون الخ،)دجملي په منځ کښي تعارض موجوددئ ځکه چي د( یخادعون )په جمله کښي ومنافقینوته دخِداع ثبوت راغلئ دئ له رسول سره اوله مومنانوسره اود( ومایخدعون) په جمله کښي مُخادعه اوچم ددوی حصرسویدئ په ځانوددوی کښي یعني دوی له هیچاسره چم نه کوي مگرله خپلوځانوسره جواب ددي سوال دادئ چي اوله جمله پرظاهرباندي بناده یعني په ظاهره خودوی‌له رسول اوله مومنانوسره خِداع کوله اودوهمه جمله پرباطن اوپرحقیقت باندي بناده ځکه چي دنیوي اواُخروي وبال،ضرراوعذاب دخِداع ددوی‌خاص ودوی ته راگرځیدئ نه ورسول علیه السلام اوومومنانوته .

(الانفسهم) پوسه چي د(انفس) لفظ جمع دنَفس دئ، اودنفس لفظ په خوراډیرومعني گانو کښي مستعملیږي ، ( ۱)مجموع روح اوبدن (۲) روح(۳)هغه نفس چي اهل طریقت يې ثابته وي(۴)نفس اَماره(۵)نفس لَوّامه(٦)نفس مُطمئِنّه(۷)نفس حیواني(۸)نفس نباتي(۹)نفس جمادي(۱۰)نفس ناطقه انساني، دلته په اوله معني مراددئ کوم چي په پښتوکښي دځان اودځانوپه لفظوسره تعبیر ورڅخه کړکیږي.

)ومایشعرون . (

دغه فعل له شعورڅخه یاله شَعرڅخه جوړدئ کوم چي په عرف کښي واِحساس ته ویل کیږي یعني وهغه علم ته چي حاصل سویوي په یوه له حواسوسره چي قوه باصره اوقوه سامِعه اوقوه شامه اوقوه ذائقه اوقوه لامِسه وغیرها دي اوپه اصلي لغت کښي شَعرپه معني دعلم دئ اومفعول ددغه فعل محذوف دئ تقدیريې په دي ډول دئ ،(ومایشعرون انهم في الحقیقة لایخادعون الاانفسهم،)، پوسه چي په دغه قول کښي الله پاک له دوولاروڅخه ودي خبري ته اشاره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړيده چي دغه منافقين په اخيره درجه کښي احمقان اوبي عقلان دي اول له دي لاري څخه چي سره له دي چي داخبره چي ددوی دغه خداع اوچم په حقيقت کښي پردوی باندي راګرځي دمحسوسوشيانوپه ډول ښکاره دئ مګربياهم دوی‌په دي نه پوهيږي دوهم له دي لاري چي شعوروحيوان ته هم ثابت دئ ليکن دوی سره له دي چي انسانان دي بي شعوره دي

لفـظي ترجــمه :

(فِي) په (قُــلُوبِ) زړوکښي (هِم) د دوی يعني ددغو منافقانو (مَرَض) مرض دئ يعني هم د دوی په زړو کښي ظاهري ناجوړي او مرض دئ او هم باطني اومعنوی ناجوړي ددوی په زړو کښی موجوده ده چي بيان بې ان شاءالله راسي ( فَ ) وروسته ( زَادَ) زيات کړئ دئ(هُم) دوی لره(الله) خداي پاک ( مرَضا) مرض يعنی کوم مرض چی په دوی کښی داسلام اودمسلمانانودحالاتودترقی په وجه په دوی کښی پيدا سوی ؤاوياله پخوالاپه دوی کښی ددوی دخباثتو په وجه موجودؤ هغه الله پاک نور هم ورزيات کړ (وَ) او (لَهُم) دوی لره يعني اوسته دوی‌لره دقيامت په ورځ کښي (عَذَاب) عذاب (اَليم) درد ورکونکئ ، يا درد ناک ( بِمـَا ) په سبب ددې (کَانُو) چي دي دوی او يا وو دوی (يَکذِبُون)(۱۰) دروغ وايي يا دروغ بې ويل .

يعني په سبب ددې چي دوی په دروغو په خوله داسلام دعوه کوي او په زړو کښي يې کفر دئ د قيامت په ورځ دوی لره درد ورکونکئ سخت عذاب ورکيدونکئ دئ .

پوه سه چي کله چي د خدائ ( جل جلاله ) رسول و مدينې منورې ته له مکي څخه په هجرت ورغئ ، او مسلمانان سره پر راټول سول ، اوپه مدينه کښي د اسلام حاکميت پيل سو ، نو د دغو منافقانو په زړو کښي ظاهري او باطني مرض پيدا سو ظاهري مرض په زړو کښي د دوی دا ؤ چي د اسلام او د مسلمانانو تجمُّع ، او دخدائ درسول د موجوديت په سبب بې زړونو درد کاوه او هميشه به غمجن او په وير أخته ؤ . او باطني مرض يې داؤچي ددوی په زړوکښي داسلام اوداسلام دپيغمبراودقران کريم په باره کښي کفر، نفاق او شک پيداسو او بيا چي به هر آيت اوهر حکم په اسلام کښي له الهي لوري څخه پرحضرت محمدصلي الله عليه وسلم باندي نازليدئ نو د دوی معنوي مرض به کوم چي ددوی کفر او شک او نفاق ؤ ورسره زياتيدئ او دارنګه څونه چي به د خدائ (جل جلاله) دين او مسلمانان قوي کيدل نو هغونه به د دوی ظاهري مرض کوم چي ددوی‌دزړونو درد اوغصه او غم اوددوی دبدنونواارامي وه، زياتيدئ .

تفصيل اوعلمي خبري .

)في قلوبهم مرض (

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوسه چي د(قلوب) لفظ جمع دقلب دئ دقلب لفظ په عربي لغت کښي په ډيرومعني ګانوکښي مستعمل سويدئ(۱) خالص اوشريف جز ديوشي هرشي چي وي(۲)زړه، که دانسان وي اويادکوم بل شي وي(۳)اړول ديوشي پربل مخ باندي(۴)دقلب له لفظ څخه دتفعيل د باب مصدرهم راغلئ دئ کوم چي تقليب دئ اوتقليب په معني دنظراوسوچ وهلوده په عاقبت اوپه انجام کښي دکارولکه په دي قول دالله پاک کښي ( وَقَلَّبُوْالَکَ الْاُمُوْرَ) التوبه /۴۵

)۵(دقلب له لفظ څخه تَقَلُّب هم راغلئ دئ کوم چي دتَفَعُّلْ دباب مصدردئ، تقلب وتصرف ته و يل کيږي په کاروواوپه ښاروکښي لکه په دي قول دخدای پاک کښي (فَلَايَغْرُرْکَ تَقَلُّبُهُمْ فِيْ الْبِِلَادِ) سورة غافر / ۴

اودارنګه تَقَلُّبُ وهغه ريږديدلوته هم ويل کيږي کوم چي دويري اودترس له وجي وي لکه په دی قول دخدای کښی( تتقلب فيه القلوب والابصار،) سورة نورا يت ،،۳۷،ا وپه عرف کښي دقلب دلفظ غالباً پردوومعني ګانوباندي اطلاق کيږي لکه چي امام ابوحامدغزالي فرمايلي دي چي دلفظ دقلب پردوومعناګانوباندي اطلاق کيږي اول قلب هغه غوښه چي صنوبري شکله ده اودسينې په چپه طرف کښي پرته ده اوپه باطن کښي ددغي غوښي تجويف موجوددئ اوپه دغه تجويف کښي توره وينه پرته ده کومه چي منبع اومعدن دروح ده يعني دحيواني روح چي عبارت دئ له بخارلطيف څخه اودوهم ،،قلب لطيفه ربانيه روحانيه ده کومه چي ترهمدغه صنوبري شکله غوښه پوري تعلق لري، پوسه چي په پښتوکښي له اولي معني څخه په زړه اوله دوهمي معني څخه په روح تعبيرکيږي همدارنګه پوسه چي علماؤذکرکړيدي چي په قران کريم کښي دقلب لفظ په دريومعني ؤ کښي مستعمل سويدئ، اول په معني دعقل لکه په دي قول دخدای کښي

(اِنَّ فِي ذَالِکَ لَذِکْرَی لِمَن کان له قَلب)سورت احقاف/۷۳ ، اودوم په معني درأی اودتدبيرلکه په دي قول دخدای پاک کښي (تَحْسَبُهُمْ جَمِيْعاً وَقُلُوْبُهُمْ شَتَّی) سورت حشر/۱۴، دريم په معني دذکرسوي صنوبري غوښي کومه چي زړه ورته ويل کيږي لکه په دي قول دخدای پاک کښي(فَاِنَّهَالَاتَعْمَلْ الابْصاَرُوَلَکنْ تَعْمی اَلقُلُوْبُ الَّتِيْ فِی الصُّدُوْرِ) سورت حج ايت ٦٦،خوزماپه فکرپه قران کريم کښي دقلب لفظ په څلورمه معني کښي هم مستعمل سويدئ چي هغه قلب صنوبري اولطيفه ربانيه دواړه دي خوالبته دغه استعمال يې په طريقه دعموم د مجازسره دئ اودلته په ايت کښي د(قلوب)له لفظه څخه همدغه معنی مرادده

(مَرَضٌ) پوسه چی دمرض د لفظ حقيقی معنی هغه شی ده کوم چی موږ يې په پښتوکښی مرض اوناجوړی بولولکه زکام تبه اوداسی نوری بدنی ناجوړی اودمجازپه ډول وقلبی بدواونالائقه صفاتوته هم ويل کيږی کوم چی قلب اوروح له اعتدال څخه خارجه وی اودقلبی اوروحی کمالاتومانع ګرځی لکه کفر، نفاق، بخل، دګناؤمحبت، کبر، عجب،وغيره دنبی عليه السلام دزمانی په منافقينو کښی هم حقيقی مرضونه اوهم مجازی مرضونه دواړه قسمه موجودوه حقيقی مرضونه دامرضونه په دوی کښی موجود وه چی هروخت چی به دمسلمانانوله يوه پرمختګ څخه خبرسول نوددوی په ز ړوکښی به محسوس دردونه پيداسول اوپه بدنوکښی بی ناجوړی پيداسوه او طبيعتونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اومزاجونه بی خراب سول او مجازی مرضونه ددوی داوه چی ددوی په زړونو کښی دخدای له رسول او له مومنانوسره حسداوکین اوبغض ؤاودارنګه په دوی کښی کفر اونفاق موجود ؤ( فزادهم الله مرضا)پوسه چی زیاتول دمرض ددوی په دی ډول وه چی اول ځل چی په مدینه کښی دخدای رسول اودده اصحاب سره یوځای سول اوداسلام دبدبه اواوازه پورته سوه اودکفارو دیهودانووغیره ریاستونه په تزلزل کښی راغلل نودمنافقینوپه بدنو اوزړو کښی ظاهری اوقلبی مرضونه پیدا سول له دی څخه وروسته چی به کوم ایت یا کوم یوشرعی حکم نازلیده نوددو ی قلبی مرض به نورزیا تیده اودارنګه چی به کومه خوشحالی اوترقی داسلام راغله نوددوی بدنی ناجوړی به نوره هم زیاته سوه دذکرسوی قول دخدای پاک مقصودهمدغه شی دی

پوسه. چي په قران کریم کښي الله پاک دکافرانودزړوپنځه ويشت قسمه مرضونه او ناروااوبدخويونه او احوال ذکرکړيدي .

)١ (انکار ،لکه دسورت نحل په (٢٢) ايت کښی ،(٢)حمية الجاهلية لکه دسورت فتح په په (٢٦)ايت کښي (٣)انصراف لکه دسورت توبه په( ١٢٧) ايت کښي (۴)قسوة لکه دسورت بقري په (٧۴)ايت کښي (۵)موت سورت انعام (١٢٣)ايت کښي (٦) مرض سورت بقره(١٠)ايت کښي (٧)طبع، سورت منافقون(٣)ايت (٨)زيغ، سورت ال عمران (٧)ايت (٩) اباء، سورت توبه (٨)ايت (١٠)ارتياب، سورت توبه (۴۵)(١١) اکنة، سور ة کهف (۵٧)ايت (١٢)رعب، سورت احزاب(٢٦)ايت (١٣)لهو، سورت انبياء (٣)ايت(١۴) شدت، سورت يونس (٨٨)ايت (١۵)ښائسته کيدل دمخالفت الرسول، سورت فتح (١٢)ايت (١٦)غلاف القلب، سورت (١۵۵)ايت(١٧)اقفال، سوت محمد (صلى الله عليه وسلم)(٢۴)ايت ١٨)اشمئزاز، سورت زمر(۴۵)ايت (١٩)٨عمي،سورت حج (۴٦) ايت (٢٠)نفاق القلب، سرت توبه (٧٧)ايت(٢١)غمره، سورت مؤمنون (٦٣)ايت (٢٢)تشيت، سورت حشر(١۴)ايت (٢٣)رين، سورت تطفيف (١۴)ايت(٢۴)ضيق، صدرپه معني دقلب دئ، سورت انعام(١٢۵)آيت(٢۵)ختم، لکه د(ختم الله)په ايت کښي ..

فايده . دقلب اودقلب دصفاتوپه اړه به انشاءالله زيات تفصيلات په نوروځايوکښي دتفسيردرته راسي .

)اليم (

پو سه چي د ( أليم ) لفظ فَـعِـيـلٌ وزن دئ ، فعيل وزن اګر چي په ډيرو معناؤ راغلئ دئ ، خو دلته بعض مفسرين وايي چي په معنی د اسم مفعول دئ له باب څخه د إفعال ، يعني د مُـؤلَـم په معنی دئ ، بيا نو دغه سوال پيدا کيږي چي مؤلم يعني درناک ګرځول سوئ خو هغه څوک دئ چي په عذاب کښي وي ، نه په خپله عذاب ؟

نو بيا په دې ډول جواب ورکول کيږي چي عذاب ته له وجي د مبالغې مولَم ويل سوئ دئ ،يعني دغه عذاب ددوی به دونه سخت وي چي دده د ډير سختوالي په وجه به ګواکي دا عذاب په خپله لا دردناک وي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ځيني علماء د ( اليم )لفظ په معنی د اسم فاعل له باب څخه د إفعال ګرځوي ،کوم چي مؤلِم په معنی ددرد ورکونکي دئ، پر دغه تقديرباندي بيا دا سوال پيدا کيږي چي فعيل وزن خو د مُـفْـعِـلْ په معنی نه راځي ؟

نوبياپه دي ډول جواب ورکړکيږي چي صحيح خبره داده چي دفعيل وزن دمُفْعِلْ په معني راتلای‌سي لکه نَذيرچي په معنی د مُنذِردئ .

پو سه چي د ( يکذبون ) په لفظ کښي دوه قراءته راغلي دي اول په تخفيف د ذال سره نو پر دغه تقديرباندي به د(بِما) په لفظ کښي د ما کلمه مصدريه سي ، او معنی د

(بما کانوا يکذبون ) به په هغه ډول سي چي له مخه تيره سوه . دوهم په تشديد د ذال سره نوفعل مضارع له باب څخه د تفعيل سي اوپر دغه تقديربه يا د (مـا) کلمه موصوله سي ، او د (يکذبون) له لفظ څخه بِه د(به) لفظ محذوف سي نو به معنی په دي ډول سي

(بما) په سبب دهغه (کانوا) چي ۇ دوی ( يُكَذِّبُوْن) نسبت د درغو کاوه دوی( به) وهغه ته يعني چي هغه رسول او قرآن دئ .

او يابه مصدريه سي او معنی به په دي ډول سي (بما) په سبب ددي (يکذبون) چي تکذيب کاوه دوی ، يعني نسبت د دروغو کاوه دوی، و رسول او و قرآن ته پر دغه تقديرباندي د (بــه) لفظ له (يکذبون)څخه وروسته نه مقدرکړکيږي .

پوه سه چي دغه ډول دروغ کوم چي منافقانوبه ويل داسلام له نظره کفربلل کيږی ،او له دي څخه ماسوی هغه قسم دروغ چي مسلمانان يې وايي کبيره او غټه ګناه ده ، توبه کول ورڅخه فرض دی ، اوپه دغه قسم دروغوسره انسان فاسق ګرځي البته په ځينو ځايو کښي درواغ ويل روا دي لکه چي په يوه حديث شريف کښي راځي چي په دريو ځايو کښي درواغ ويل روا دي :

اول د ميړه او د ښځي تر منځ چي مثلا د ښځي د خوشحالۍ لپاره ميړه په درواغو وښځی ته ووايي چي ته سخته پر ما باندي قدرمنه يې ، او يا ښځه دا ډول يوڅه په درواغو وميړه ته ووايي .

دوهم د مسلمانو په منځ کښي د اصلاح لپاره .

دريم و مجاهدينو ته په دور ا ن کښی دجنګ . او کله درواغ ويل واجب ګرځي چي تفصيل بی بل ځاۍ انشاءالله راسي .

لفظي ترجمه :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(وَا) او (إِذَ)ا هغه وخت (قِــيلَ) چي وويل سي (لَهُــم) دوی لره ، يعني دغو منافقانو ته ( لَا ) مه(تُفسِــدُوا) کوی فساد يعنی مه کوی فساد (فِي) په ( الأَرضِ) دې مزکه کښي يعني په دې مزکه د مدينې کښي ياپه جنس ځمکه کښی يا په عالم کښی ،لکه چی توضيح ېی راسی(قَــالـــوا) نو وايي دوی يعني دا منافقان و دغه ويونکي، نصيحت کوونکی ته (إِنمَّــا) بېشکه خاص دا خبره ده (نَــحــنُ) موږ (مُصلِـحُــون)(١١) اصلاح کونکي يو .

يعني کله چي و دغو منافقانو ته يو څوک ووايي چي دغه د فساد کارونه د مدينې په مځکه کښي مه کوی ، نو دغه أحمقان او د نفس په خواهشاتو کښي غرق سوي منافقان خپل دغه د فساد کارونه د إصلاح کارونه بولي او وايي چي يواځي موږ يو چي اصلاح کونکي يو او دغه کوم څه چي موږ يې کوو هغه ټول د اصلاح کارونه دي مطلب ددوی په دی قول کښی داهم ؤچی ودغه نصيت کوونکی ته ېی ددی خبری اشاره هم کوله چی په حقيقت.کښی مفسدين هغه خلگ دی کوم چی ته يې مصلحين بولی يعنی چی اصحاب دمحمدصلی الله عليه وسلم دی،محترمومسلمانانو دغه راز په هر وخت کښ چي کومه مفسده ډله پيدا کيږي ، او دفساد کارونه کوي ، نودوی دغه د فساد کارونه د خير کارونه بولي ا وکوم خلگ چی مصلحين وی نودوی وهغوی ته فسادکوونکی اوددوی کارونه دفسا کارونه بولی .

دارنگه د منافق انسان په ناروا خويو کښي يو غټ ناروا خوی دادئ چي يو خو هميشه د شر اوفساد کارونه کوي ، او بل دغه کارونه و خلگو ته د خير په کارو سره تعريفه وي ، او که يو څوک نصيحت ورته وکړي نو دوی پر ځای ددې چي د نصيحت کوونکي خبر ومني مقابله ورسره کوي ، او دا ورته وايي چي کوم کارچی ته يې د خير بولې هغه په أصل کښي د شر کار دئ ، او کوم کار چي ته يې د شر بولې هغه د خير کار دئ .محترمودارنگه په هره زمانه کښي چي کومي ډلي په مسلمانانو کښي پيداکيږی ، او ټول کارونه يې په حقيقت کښي هم دبشريت اوهم د إسلام پرضدوی ، اوهرکاريې داهل شر اواهل،فساد په گټه تماميږی. او کله چي علماءاوپوهان اومصلح کسا ن و دوی ته نصيحت وکړ ي نوپه داسی حال کښ چی دوی خپل ځانونه پر حق بولي ودغو نصيحت کوونکوته بَد وايي ،نو دغه قسم ډلي د همدغو منافقينو زيرنده دي ، بلکي د ځينو علماؤ له قوله داسي معلوميږي چي له دغه آيت څخه په أصل کښي مراد همدغه د اوس وخت فاسدي فرقې دي چي په مسلمانانو کښي پيداکيږی .

لکه چي قاضي بيضاوي (رحمه الله تعالی) په خپل تفسير کښي ذکرېدي چي له حضرت سلمان څخه روايت دئ چي أهل ددغه آيت تر اوسه پوري نه دئ راغلئ ، يعني له دې څخه وروسته به راځي ، نو له دې څخه معلوميږي چي ددغه آيت أهل د موجوده زمانوفسادپيشه او گمراه ډلي دي .

پو سه چی منافقانو چي په مدينه منوره کښی کوم فسادونه کول نود هغوی ترذکرکولودمخه دمقدمی په ډول ويوی خبری ته فهم وکړی هغه خبره داده چي په انسان کښي د فساد او د شر قوتونه هم سته او د خير اود صلاح قوتونه هم سته نو کله چي انسان د شر د قوتو په مقتضی ځي او د خير قوتونه په ده کښي مغلوب سي نو دغه انسان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته مفسدانسان ویل کیږي دمديني منوري منافقان همدغسي خلگ ؤ ځکه چي دوی په خواهشاتو د شهوت اود نفس کښي غرق سوي وه او غضبي قوتونه يې د إفراط و درجې ته رسيدلي وه او کوم قوتونه چي د خيراودصلاح اوداصلاح قوتونه دي لکه عقلي او روحي قوتونه نوهغه په دوی کښي دشهواني اودنفساني اودغضبی قوتونوترغلبي لاندي راغلي وه ترداسي اندازي پوري چي دغومنافقانو په هيڅ ډول نسوای کولای چي دعقل اودروحي قوت په مقتضی سره عمل اوکاروکړي،اوس نو ددوی دهغوفسادو يوڅونموني درته ذکرکوم کوم چي دوی به په مدينه منوره کښي کول

اول،دوی به د خپلو فاسدو مفاداتو په خاطر د مسلمانانو خبري و کافرانو ته رسولې اومسلمانانوته بې بياخپل ځانونه مسلمانان ښکاره کول دا ددې دپاره چي د مسلمانو په منځ کښي هم ځائ ولري او د کفارو په منځ کښي يې هم ولري .

دوهم،په مسلمانانو پسي بې استهزاوي کولي اوپسخندونه بې په وهل ،

دريم، ناروا کارونه بې برملااوپه ښکاره کول ،

څلورم، کفار بې پر مسلمانانو باندي راپارَول اوکفار بې هميشه ودي ته رابلل چي دمسلمانانوپرخلاف باندي سره متحد سي اوورسره وجنگيږي

پنځم، د مسلمانانو په غم به خوشحاله کيدل ، او په خوشحالي بې خفه کيدل .

شپږم، د کمزوري ايمان د خاوندانوپه ذهنوکښي بې د اسلام اوداسلام دپيغمبراودقران کريم په شان کښي شکونه پيداکول ددي دپاره چي بيرته هغوی له اسلام څخه واړه وي ،

أوَم، چا چي به اراده د ايمان راوړلو وکړه او دوی به په خبر سول نو هغه بې له ايمان راوړلو څخه منعه کاوه ،،دغه دمديني دمنافقينو دفسادکولو يوڅونمونې وي چي درته ذکرمي کړې،

تفصيل اوعلمي خبري .

)واذاقِيل لهم (

پوسه چي دغه جمله يامعطوفه ده د(يکذبون)پرجمله باندي کومه چي په محل کښي دنصب ده اوخبرد(کانوا) ده نوبه دغه جمله هم په محل کښي دنصب سي اودارنگه به داخله سي په سببيت کښي دي قول خدای پاک لره چي (ولهم عذاب اليم)اويامعطوفه ده د(يقول) پرجمله باندي نوبياکچيري د(مَن) کلمه په (من يقولُ) کښي موصوفه سي نودغه دواړه جملي به په محل کښي درفع سي اوکه موصوله سي نوبيادغه دواړي جملي محل داعراب نلري ځکه هره جمله چي صله دموصول واقع سي نو بياپه محل کښي داعراب نه وي،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال،دغه قائل څوک ؤچي ومنافقينوته بې دغه ذکر سو يې ويناکوله ،

جواب، قاضي بيضاوي رحمه الله تعالي فرمايلي دي چي مرادله دغه قائل څخه ياالله پاک دی اويارسول عليه السلام دئ اوياکوم بل څوک له مومنانوڅخه دئ اوځني مفسرينوبيا ذکرکړيدي چي دلته مرادعام قائل دئ يعني مطلب دادئ چي هرڅوک چي دغومنافقينوته دغه ذکرسوې ويناوکړي نودوی وهغه ته دغه مذکور جواب ورکوي اوځني مفسرينوويلي دي چي داهم روا ده چي مراد دي له دغه قائل څخه د منافقينودجملي څخه يوڅوک وي کوم چي داستهزا اودمجلس دتازه کولو لپاره بي دغه ذکرسوېې ويناوخپلومنافقينولگريوته کوله ،سوال، د(لاتفسد في الارض) جمله د(قيل) دپاره نائب فاعل واقع سويده اوحال دادئ چي نائب فاعل خو اسم وي نه فعل ياحرف ياجمله، جواب، د(لاتفسدوا)جمله مأوله په لفظ دهذالقول سره ده نوځکه نائب فاعل واقع سوي ده، پوسه چي (لاتفسدوا) فعل له فساد څخه مشتق دئ کوم چی ودي ته ويل کيږي چي يوشي له خپل اعتدال څخه خارج سي او وهرضررى او نقصاني کارته فسادويل کيږي لکه چي وهرنافع اوگټورکارته صلاح ويل کيږي ،

)في الارض (

پوسه چي دارض له لفظ څخه يامراددمديني ځمکه ده نوپردغه تقديربه الف لام د(الارض) په لفظ کښې يادپاره دعهدخارجي حضوري سي اويا به عوض سي له مضاف اليه محذوف څخه چی د(المدينة) لفظ دی اويا مرادورڅخه عامه مځکه ده نوبيا به الف لام دجنس دپاره سي اوځنومفسرينوذکرکړيدي چي د(الارض )له لفظ څخه دلته مراددنيااوعالم دئ ،

)قالواانما ...الخ (

پوسه چي دغه جمله جواب اوجزا د( اذا )ده اوحکايت ده له هغه قول څخه دمنافقينوکوم چي دنصيحت کونکي دذکرسوی خبری په جواب کښی بي کاوه،پوسه چي د(انما)دکلمي په اړه په دی

باره کښي علماؤ اختلاف کړيدئ چي اياد غه کلمه چي پرکوم کلام باندي داخله سي نوپه غه کلام کښي افاده د حصرکوي اوکه يې نه کوي ځني علماء وايې چي دانما کلمه مطلقاً دحصرمفيده نه ده اوځني علماء وايې چي دقرائنواودمقام دتقاضاپه وجه حصرفايده کوي اودخپل ذات په اعتباريې نه فايده کوي او ځني علماء وايې چي دانما لفظ دخپل ذات په اعتبار مطلقاً افاده کونکئ دحصردئ په دغوقولوکښي اخيري قول راجح قول دئ بيادغه علماء په خپل منځ کښي په دي باره کښي اختلاف سره لري چي د(انما) کلمه په څه ډول حصرفايده کوي نو ځني وايې چي کوم دوه شيان چي له انما څخه وروسته ذکرسويوي نوپه هغوی کښي به دوهم شی په اول کښي حصروي دمثال په ډول په دی قول کښي چي انمازيدقائم، دقائم حصرراغلئ دئ په زيدکښي خودغه قول مرجوح بلکي باطل دئ اواکثرعلماءوايې چي له( انما) څخه چي وروسته کوم دوه شيان ذکرسوی وی نوپه هغوی کښي به اول حصروي په دوهم کښي مثلاًپه ذکرسوي مثال کښي زيد حصرسويدئ په قائمٌ کښي اودلته په ايت کښي منافقينوخپل ځانونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حصرکړيدي په مصلحون کښي اودغه قول صحيح قول دئ، پوسه چي دمصلحون لفظ له اصلاح څخه مأخوذ دئ اواصلاح متعددي معني ګاني لري،اول، صلحه راوستل په منځ کښي ددوومختلوفريقينو،دوهم، ليري کول دفساد له يوشي څخه،دريم، دخير کار کول،څلورم، دعالم اودخلقودنظام صالح ګرځول، دلته دمصلحون لفظ په دغومعني ګانوکښي په هره معني اخستل کيدلاې سي

لفظی ترجمه

(الَا) خبردار يعني خبردار اوسی اې مومنانو(إنَّ) بې شکه (هُـم) دوی يعني دغه منافقان (هُـم) خاص دوی(المُفـسِـدون) هغه دی چی فساد کوی ( وَلکِن) اومګر (لايَشعُرون)(١٢) نه آګاه کيږي دوی يانه پوهيږی دوی يعنی په دی چی مفسدين خاص هم داموږيونه بل څوک پوسه چی د(لايشعرون )له جملی څخه مطلب دادی‌چی دغه منافقين تر حيوانانو هم بدتر دي ځکه هغه شعور لري او دوی شعور هم په خپل خير او شر نه لري ځکه سره له دې چي دوی خالص او سوچه مفسدين دي په دی ډول چی دوی په فسادکښی حصردی اوفسادپه دوی کښی حصردی نه دوی پرته له فساد څخه بل کارکوی اونه ددوی په ډول فسادکوونکی نورڅوک سته بياهم و ودوی ته خپل ځانونه په داسی ډول مصلحين ښکاره کيږي چي خپل ځانونه په اصلاح کښی حصر کوي ، او نور خلګ ټول مفسدين ورته ښکاري او سره له دې چي د دوې ټول کړه و وړه د دوی په ضرر تماميږي دوی يې د خپلو ځانو ل دپاره ګټه بولي .اصلاح خو په أصل کي داده چي انسان د آخرت کارونه د دنيا تر کارو مقدم او اول په نظر کښي ونيسي ، او د دنيا هغه ګټې حاصلوي چي و دين او آخرت ته په ضرر نه تماميږي ، بلکی په نفع ورته تماميږي ، او کومه دُنيوي ګټه چي و دين ته په ضرر تماميږي و هغې ګټې ته شا ګرځوي اودغه منافقين ددی پرخلاف ټول هغه کارونه کوی کوم چی ددوی ددين اوددنيا اودآخرت په ضرر تماميږی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بقره دسورت د،۱۳، ۱۴،او،۱۵، اود،۱٦، مبارکوایاتوتفسیر او تحقیق،

## تفسیرفضل الرحیم (۳) برخه

--------------------------------------------------------------------

پوسه چی په دغه راتلونکی آیت کښی الله پاک دمناقانودیوه بل نارواجوابی کلام ذکر فرمایلی دی، کوم چی دیوه بل نصیحت ا و موعظت په رد کښی ئې ویلی دی.

لفظی ترجمه

(وَ) او (اذَا) هغه وخت ( قِیل) چي وویل سي( لَـهُــم) دوی لره یعني دغومنافقانولره دیوه ناصح له طرفه د نصیحت په ډول وویل سی(آمِنوا) ایمان راوړی، یعني په الله پاک اوپه رسول صلي الله علیه وسلم اوپه قرآن مجید باندي (کَ) په مثل( مَا) ددېِ آمَنَ) چي ایمان راوړئ دئ (النَّاس) دغو خلگو ،چي هغه أصحاب د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دي یعنی ستاسی ولی دخولو اودزړو لاری سره جلادی چی په ژبوسره دایمان دراوړلودعوه کوی اوپه زړوکښی داسلام دښمنی کوی خودغه سی ایمان راوړی،لکه دغوخلگوچی ایمان راوړیدی چی اصحاب کرام دی (قالُوا) نو وایي دوی یعني دغه منافقان ودغه نصیحت کونکي ته په جواب کي ( أ) ایا ( نُؤمِن) ایمان راوړو موږ ( کَما) په مثل ددېِ (آمَنَ) چي ایمان راوړئ دئ( السُّـــفَـــهــاء ) دغو ناپوهانو ،،مرادددوی له سفهاؤڅخه اصحاب کرام

وه(الا) خبردار(ان) بیشکه (هم) دوی (هم)خاص دوی (السفهاء)کم عقلان دی (ولکن) مگر

(لایعلمون) (۱۳)نه پوهیږی دوی،،په دغه چي موږپه سفهاؤکښي حصر یو اوسفهاءپه موږکښي حصردی،،یعنی اوهغه وخت چی وویل سی دغومنافقینولره چی ایمان راوړی لکه څرنگه چی دغوخلکوایمان راوړیدی ،،چی رسول علیه السلام اواصحاب دده دی یعنی په زړواوپه ژبودواړوسره مومنان سی، اوپه اخلاص مومنان سی،نووائی دوی چی ایاموږ داسی ایمان راوړو لکه څرنگه چی دغوکم عقلانوایمان راوړی د ی ،الله ددوی په جواب کښی فرمایلی دی،خبرداربیشکه دوی خاص دوی کم عقلاندی مگر دوی په دغی خپلی کم عقلی اوجاهلتوب نه پوهیژی

پوسه

،چی دغوبدبختو منافقانوکوم چی سفاهت ، ناپوهي ، جهل ، او حماقت په أعلی درجه په دوی، کښي موجود ؤ ، څکه وداسي په أعلی درجه کښی عقلمندو انسانانو ته کوم چي أصحاب د رسول الله صلی الله علیه وسلم وه سفهاء ویل ، او خپل ځانونه ډیر هوښیاران ورته معلومیدل چي آخرت او دین د دوی، په عقلو کي کوم أرزښت نه درلودئ

.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی ته چي کوم شئ قابل د قدر ؤ هغه نفسي خواهشات ، دنیوي منافع ، عزت او منصب ، او دنیوي ژوند ؤ . او أصحابو چي کومه رویه غوره کړې وه هغه ددوی له دغو ټولو فاسدو أغراضو سره ټکر وه ، او دوی چي کومه د نفاق رویه غوره کړیوه هغه د دوی له دغو فاسدو ، او ناروا أهدافو سره موافقه وه ، نو ځکه خپل ځانونه عقلمند ورته معلومیدل سره له دې چي په اخیره درجه کښي جاهلان وه ، او أصحاب کرام (رضي الله تعالی عنهم ) سُفهاء ورته معلومیدل سره له دې چي په أعلی درجه عاقلان او پوهان وه.

په همدغه ډول په هر وخت کښي بې دینه او جاهل انسانان پر دیندارو او پوهانو انسانانو باندي د ناپوهانو گمان کوي ، او خپل ځانونه بیخي پوهان ورته ښکاره کیږي .ددی خبری مزیدتفصیل به په علمی خبرو کښی راسی

تفصیل ا و علمی خبری

)واذاقیل لهم امنوا(

پوسه چي دغه ایت د(واذاقیل لهم لاتفسدوا) له ایت سره متعدد مناسبتونه لري ، اول مناسبت یې دادئ چي دغه دواړه ایاتونه په دي کښي سره گډ دي چي هریودعطف په واسطه سره سبب دئ ددي قول دخدای پاک چي ( ولهم عذاب الیم ) ،

اودوهم مناسبت یې دادئ چي په دغودواړوایاتوکښي ومنافقینوته دنصیحت اودارنگه دمنافقینو په بده لهجه سره ددغه نصیحت ردَول ذکرسویدئ ،

دریم مناسبت یې دادئ چي دکوم نصیحت ذکر چي په ړومبني ایت کښي سوئ دئ نوهغه له تخلیه سره تعلق لري کومه چي عبارت ده له تصفیه کولو څخه دانسان ظاهراوباطن خپل لره له خبیثواخلاقو څخه اوله غلطوعقیدوڅخه اوله بدواقوالواوافعالوڅخه اوکوم نصیحت چي په دغه مبارک ایت کښي ذکرسویدئ نوهغه له تحلیه سره تعلق لري کومه چي عبارت ده له ښائسته گرځولوڅخه دانسان ظاهراوباطن خپل لره په ښواخلاقوسره اوپه صحیح عقیدوسره اودارنگه په نیکواقوالو اوافعالوسره، همدارنگه پوسه چي له ترتیب څخه ددغودوومبارکوایاتو داهل طریقت دعلماؤدهغي خبري تائیدکیږي کومه چي عبارت ده له دي څخه چي تخلیه پرتحلیه باندي مقدمه ده.

فایده، په دغه مبارک ایت کښي الله پاک دمنافقینو له قبیحواونارواصفتوڅخه څلور قسمه ناروا صفتونه ذکر کړیدي ، اول دخدائ ا ورسول اودده واصحابوته ده سفهي یادسفاهت نسبت کول ، دوهم سفاهت ددوی په خپله ،دریم حصرددوی په سفهاؤ کښي اوحصرد سفهاؤپه دوی کښي ، څلورم داچي دوی په مرکب جهل کښي واقع سویدي چي هم سخت جاهلان دي اوهم له خپل جهل څخه ناخبره دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(اِمنواکماامَنَ الناس ) پوسه چي په دغه قول کښي دکاف لفظ په معني د( مثل) دئ اوپه محل کښي دنصب دئ صفت دئ دمحذوف مصدردپاره کوم چی مفعول مطلق دی۔ دپاره د(امنوا) اود(آمن)فعل د(مَا)مصدريه په وجه مأول دئ په مصدرسره نوبه تقديردکلام په دي ډول سي(اِمنوااِيماناً مثلَ ايمانِ الناس)،

له (الناس)څخه مرادڅوک دي اوالف لام په (الناس) کښي کوم الف لام دئ،

جواب، قرطبي اوابن جرير اوابن کثير له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت کړيدی۔ چي مرادله (الناس) څخه اصحاب درسول عليه السلام دي اوالف لام يا دپاره دعهدخارجي دی۔ اويا دپاره دجنس دی۔ اوداځکه چی که دالناس لفظ په خپل ظاهری عموم پاته سی نوبياخودغه لفظ له اصحابو څخه پرته ونوروخلکوته هم ورشا مل دی۔ نوبه الف لام دعهدخارجی حضوری اويادپاره دعهدخارجی المعلوم المدلول من القرائن سی اوواصحابوته به اشاره په وکړه سی اوکه له الناس څخه هغه څوک مرادکړه سی کوم چی په انسانيت کښی کامل دی اويادااِدعا وکړه سی چی غيرمومن سړی دسره انسان نه دی۔ نوبه الف لام جنسی سی، سوال له دغه کلام څخه خوداسي فهميږي چي داډول ايمان هم سته کوم چي داصحابوياپه بل عبارت دمخلصومومنانودايمان په ډول نه وي اوسره له دي چي ايمان خوهمدغه يوقسم دئ کوم چي په اخلاص سره وي،جواب کوم ايمان چي دالله جل جلاله په نزدمعتبردئ نو هغه خوهمدغه يوقسم ايمان دئ کوم چي په اخلاص سره وي مگرمطلق ايمان عام له دي څخه چي که دخدای۔ پاک په نزدمعتبروي اوکه نه وي يوبل قسم هم لري يو مثال دهغه ايمان دمنافقانودی۔ کوم چي چي صرف دخولي په اقرارسره دی،

لطيفه پوسه چي د(کَمَا)لفظ په کلام دعربوکښي په متعددومعناگانوکښی مستعمل سويدی۔ اول په معنی دتشبيه کښی لکه په دغه آيت کښی دوهم په تقييدکښی په دی ډول چی مدخول دده قيدوی دماقبل دپاره لکه په دی مثال کښی چی الحيوان کمااَنه ناطق انسان دريم لپاره ددلالت پرقِران دفعلينوپه وجودکښی لکه په دی قول کښی ذهب زيدکما جاء څلرم دتعليل دپاره لکه په دی مثال کښی زيدکمااَنه عالم واجب الاکرام پوسه چي پردغه تقديرچي الف لام لپاره دعهدخارجي سي نوبيادالناس په لفظ کښي دري احتماله دي اول احتمال دادئ چي مرادورڅخه رسول عليه السلام اواصحاب دده دواړه سي اودوهم احتمال دادئ چي مرادورڅخه يوازي اصحاب سي اودريم احتمال دادئ چي مرادورڅخه هغه خلگ سي چي په اصل کښي يهودان وه اوبيايې ايمان راوړئ ؤ لکه عبدالله ابن سلام اواتباع دده اوکچيري د(الناس)په لفظ کښي الف لام جنسي سي نوبياپه دغه لفظ کښي دوه احتماله دي اول دادئ چي مرادورڅخه دمديني منوري انصارسي کوم چي داوس اودخزرج له قبيلوڅخه وه اوددغودواړوقبيلو اکثرخلگ مسلمانان وه اوليږيې منافقان وه اودلفظ دعموم اودجنس کله پراکثردجنس باندي هم اطلاق کيږي اودوهم احتمال دادئ چي مرادورڅخه ټول مومنان دهغه وخت سي گواکي له مومنانوڅخه پرته نورخلگ ددي لائق نه دي چي خلگ يااِنسانان ورته وويل سي اود(کمااَمن الناس)په لفظ کښي داصحاب کرامو وفضيلت ته هم اشاره ده اودغه قول پردي باندي هم دلالت کوي چي ايمان داصحابودحقانيت معياردئ اواصحاب معياردحق دي،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(کماامن السفهاء) يعني ايا ايمان راوړوموږلکه چي ايمان راوړيدئ دغوکم عقلانو، دمديني منوري منافقانو په څه سبب ومومنانواواصحاب کراموته کم عقلان ويل ؟

په دی اړه دمخه هم په زړه پوری تفصيل تيرسوخومزيدتفصيل ئی په دی ډول دی چی ددي مختلف سببونه ؤ،اول سبب يې داؤچي دغه منافقان په خپله په اخيره درج کم عقلان وه اوواصحابوته کامل عقلونه الله پاک ورکړيوه اوداقانون دئ چي دکم عقله سړي په نظرکښي عاقل انسان کم عقله ورځي لکه چي په پښتوکښي يومشهورمتل دئ چي کلي پرليوني خندل اوليوني پرکلي خندل

اودوهم سبب يې داؤچي دوی له اصحاب کراموسره سخت عداوت اودښمني درلوده اوداقانون دئ چي ددښمن په نظرکښي دانسان هنراوکمال عيب ښکاره کيږي لکه چي شيخ سعدي رحمه الله تعالي فرمايلي دي چي ـ هُنربچشم عداوت بزرگترعيبي است ـــ گل است سعدي ودرچشم دشمنان خاراست ،،،

اودريم سبب يې داؤ چي مهاجرين داصحابوپي په دي وجه کم عقلان بلل چي دوی خپل وطن، کورونه، مال، جايدادپه مکه مکرمه کښي پريښودل اودخپل قوم په دښمني کښي ودريدل اودخپلوپلرواونيکه گانو طريقه يې پريښودله اوانصارداصحابوپي په دي وجه کم عقلان بلل چي هغوی‌ومهاجرينوداصحابوته پنا ورکړه اوخپل مالونه يې له دوی‌سره شريک کړل حتي چي خپلي ښځي بې طلاقي کړې اوومهاجرينوته بې په نکاح ورکړې،

څلورم يې په دي سبب کم عقلان بلل چي دوی داسلام دين قبول کړيووځکه چي ددوی په فکرکښي العياذبالله داسلام مقدس دين يوباطل دين ؤ اودباطل دين قبلول خو دکم عقلانوکاردئ ،پوسه چي د(سفهاء لفظ دسفِيهْ جمعه ده کوم چي له سفاهت څخه مأخوذدئ داماده په قران کريم کښي،،، ځايه راغلي ده اوپه اصل کښي خفت اوحرکت ته ويل کيږي اووجهل ته هم ويل کيږي اودسفيه دلفظ اصلی معني مفسرينوپه متعددو تعبيروسره بيان کړيده،اول خفيف العقل يعي دسپک عقل خاوند، دوهم جاهل، دريم ضعيف الرأي،څلورم دضرراودفايدي په ځايوباندي نه پوهيدونکئ، پنځم کم عقله، شپږم بې علمه، اوپه قران کريم کښي هم ماده دسفيه په مختلفومعني گانوکښي مستعمله سويده اول په معني دکم عقل لکه ددغه سورت په،۲۸۲، ايت کښي، دوهم په معني دبې علمه لکه دسورت انعام په ،۱۴۱،ايت کښي، دريم هغه چي له دين څخه دحضرت ابراهيم عليه السلام اعراض کوي لکه ددغه سورت په ،۱۳۰،ايت کښي، څلورم هغه چي پرعمل اوپرکارباندي دنبي عليه السلام اوداصحابو اعتراض کوي لکه ددغه سورت په ،۱۴۲،ايت کښي، اوپنځم هغه چي پرالله تعالي باندي افترا وي کوی لکه دسورت جن په، ۴، ايت کښي، شپږم هغه چي له الله جل جلاله څخه دنالائقه شي سوال اوغوښتنه کوي لکه دسورت اعراف په، ۱۵۵، ايت کښي( الاانهم هم السفهاء) يعنی خبردارای مومنانوبيشکه دغه منافقان خاص دوی کم عقلان دی ،په دغه قول سره الله پاک دمنافقينوذکرسوی قول په ډيرتاکيدسره ردکړيدی اوپه دغه قول کښی الله پاک دغه منافقان په سفهاؤاوکم عقلانوکی اوکم عقلان ئی په دوی کښی حصرکړ يدی يعنی نه په دوی کښی له بيعقلی څخه پرته بله کومه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعقلمندۍ یوه نمونه سته اونه له دوی څخه سوی نورکم عقلان سته( ولاکن لایعلمون) یعنی سفهاءاوکم عقلان خاص دوی دی خومګرنه پوهیږی دوی په سفاهت دخپلوځانو، پوسه چی په دغه کلام کښی الله پاک ددی بیان کړی دی چی دغه منافقان په جهل مرکب کښی واقع دی ،جهل مرکب ودی ته ویل کیږی چی یوسړی هم جاهل وی اوهم له خپل جهل څخه ناخبره وی اوددغه ډول انسان وسمی لاری ته راوستل دناممکن کارپه ډول دی، لکه چی یوه شاعر په دی اړه فرمایلی دی ،انکس که نداند ونداندکه نداند ،، اوپای خرخیش وبمنزل نه رساند ،، وانکس که نداندوبداندکه نداند ،،اواسپ خودازګنبدفیروزه جهاند ،، سوال په مخکی ایاتوکښی الله پاک له منافقانو څخه د شعور نفی کړیده اوپه دغه آیت کښی یې له دوی څخه نفی دعلم کړیده نو په دی کښی کوم سر دی؟مفسرینوددی سوال جواب په دی ډول کړی دی چی په مخکی ایاتوکښی چی کوم خباثتونه ددوی الله پاک ذکرکړیدی لکه په دروغوسره دایمان دعوه کول اویا په ځمکه کښی فساد کول نوهغه واضح اوښکاره وو اودمحسوسواموروپه ډول وه نوهلته دشعورذکرمناسب وه اوپه دغه آیت کښی دایمان ذکراو وایمانی شیانوته رمز اواشارت فرمایل سویدی کوم چی وتامل او واستدلال ته حاجت لری نوپه دی وجه دلته دعلم ذکرکول مناسب وه،

پوه سه چي ددغه آیت او دارنګه د مخکني آیت په متعلق داسي سوال کیږي چي منافق خو و هغه ته ویل کیږي چي دوی په ظاهر کښي د کفر خبري نه کوي ، بلکي خپل کفر پټ ساتي . او له دغو دواړو ایاتو څخه خو داسي معلومیږي چي دوی خپل کفر ښکاره کاوه ، ځکه چي أصحابو ته یې مفسدین ویل ، او نفاق یې إصلاح بلله لکه له اول آیت څخه چي فهمیږي ، او دارنګه یې ټولو أصحابو ته سفهاء ویل لکه له دوهم آیت څخه چي فهمیږي نو بیا خو دوی مُجاهِر یعني ښکاره کافران وه نه منافقان ؟

ددې سوال جواب په مختلفو ډولو ورکړسوئ دئ:

اول په دې ډول چي دغه ټولي خبري دوی له خپلو ځانو سره په زړوکښی راګرځولي ، نه دا چي په ښکاره یې ویلی .

دوهم په دې ډول چي دغه نصیحت کونکئ چي په دغو دؤو ایاتو کښي ذکر دئ مسلمان نه ؤ بلکي دغه هم منافق ؤ ، دغه نصیحت بې ودوی ته د استهزاء په توګه کاوه.

نو منافقانو چي به په جواب کښي دغسي د کفر خبر ورته کوله نو دا خو دوی خپل کفر و منافق ته ښکاره کاوه نه و مسلمان ته.

دریم په دې ډول چي دغه نصیحت کونکئ خو له مسلمانانو څخه ؤ ، خو دوی دغه کفري جوابونه وده ته مخامخ نه دي ویلي بلکي کله چي به دوی سره تنها سول نو دغه ډول کفري ویناوي بې کولې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلورم په دې ډول چې دغه خبره دوی ودغه نصیحت کوونکي ته مخامخ کوله خو وده ته يې له دغه کلام څخه يوقسم معني په خيال کې وراچوله اومراديې بله معني وه لکه چې ددغومنافقانوهميشه داعادت ؤچې درسول عليه السلام اوداصحابو په حضورکښې بې داسې خبره کوله چې چپه اوراسته دواړه اړخونه بې درلودل

لفظي ترجمه:

(وَ) او( إذَا) هغه وخت( لَقـُـوا) چې ملاقي سي دوی يعني يوځاۍ سي دغه منافقان (الَّذِيــن ) له هغو کسانو سره (آمَنوا) چې ايمان يې راوړئ دئ يعني چې أصحاب درسول صلی الله عليه وسلم دي (قالوا) نو وايي دوی يعني منافقان ودغو مومنانو ته چې دوی ورسره مخامخ سي ( امَنَّـا ) ايمان راوړئ دئ موږ يعني موږهم رسالت د حضرت محمد(صلی الله عليه وسلم) منلی دی اوپه قرآنکريم باندی موايمان راوړی دی ، او اسلام مو قبول کړئ دئ ( وَ) او( إذا) هغه وخت (خَلَوا) چې يوازې سي يا (خلوا) چې ولاړ سي دوی يعني دغه منافقان( الی )و( شَيَاطِين) شيطانانو ته (هِم) د دوی (قالوا) نو وايي دوی يعني دغه منافقان و دغو شيطانانو خپلوته (إنَّـا) بې شکه موږ (مَعَ ) سره (کـُـم ) له تاسي يعنی له تاسی سره يو ( إنَّــمَا) بې شکه خبرداده خاص( نَـحـنُ) موږ( مُـسـتَهزِءُون)(۱۴) إستهزاء کونکي يو ،يا پسخن وهونکي يو ، يا مسخرې کونکي يو يعني دخدای په رسول اوپه قران اوپه اسلام او په مومنانو پسي .تفسيرطبری،،

يعني ددغو منافقانو بل صفت ، خوی ، اوعلامه داده چې کله له مخلصو ، پاکو ، او سوچه مسلمانو سره ملاقات وکړي ، نو دوی ودغه مسلمانانو ته ددې لپاره چې د مسلمانو گمان پر دوی باندې نيک وگرځي او په نتيجه کښی يې سراومال اواولادپه امن سی اوکومی گټی چی ومسلمانانوته الله پاک ورپه نصيب کوی نودوی هم په هغوگټوکښی اشتراک ولری ، په دروغو وايي چې موږ ايمان راوړئ دئ ، ستاسې په ډول موږ هم مومنان يو.

خو کله چې بيا دغه منافقان و خپلو شيطاني مشرانو ته ورسي نوبيا ددې دپاره چې هغه پر دوی باندې دا إعتراض و نه کړي چې تاسې چې له مسلمانو سره کښته پورته کيږی‌نو له دې څخه داسې معلوميږي چې تاسې هم مومنان سوي ياست نودامنافقان ودغو شيطانانو ته بيا داسې وايي چې تاسي پر موږ داسې گمان ونکړی چې موږ مومنان سوي يو ځکه موږ د پخوا په ډول له تاسي سره پر يوه دين ټينگ ولاړ يو ، پاته سوه دا خبره چې موږ له مومنانو سره رفت او آمد لرونو دا ددې لپاره چې خپله ميله تازه کوو او په مومنانو پسخند وهو . (واذالَقواالذين آ منوا قالوا امنا)يعني اوکله چې يوځاې سي دوی‌له هغوخلگوسره چې ايمان يې راوړيدئ نووايې دوی چې ايمان راوړيدئ موږ ،پوسه چې په دغه مبارک ايت کښې الله جل جلاله دمنافقانو دچال چلنداو دمعاملې بيان کړيدئ کومه چې دوی به له مومنانوسره کوله اوپه تيرواياتوکښې ئی دمنافقينودمذهب اودمسلک بيان کړيدئ،

(مظهري، بيضاوي) فايده،قاضي بياوي اوصاحب دروح البيان اوځني نورومفسرينوددغه ايت په شان نزول کښې داسې ذکرکړيدي چې وعبدالله ابن أبيَ اودده وملگريوته يوڅونفره دصحابه ؤپه مخه ورغلل نوعبدالله ابن ابي کوم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي رئيس دمنافقينوؤ وخپلوملګريوته وويل چي تاسي وس وماته ګورئ چي دغه سفهاءاوکم عقلان څرنګه له تاسي څخه ګرځوم نوېي حضرت ابوبکر رضي الله عنه ترلاس ونيوئ يعني دروغبړپه شکل اوداېي ورته وويل چي هرکَلَيْ دي وي وصديق ته چي دبني تميم سرداردئ اوشيخ الاسلام دئ اودرسول الله صلي عليه وسلم ملګرئ ؤدثورپه غارکښي اودځان اودمال ښندونکئ دئ دخدای پاک رسول لره وروسته يې حضرت عمر رضي الله عنه ترلاس ونيوی بيايې ورته وويل چي هرکلي دي وي وسردارته دبنی عدي چي فاروق دئ اوقوي دئ په دين کښي دخدای پاک اوښندونکئ دځان اودمال دئ رسول الله صلي عليه وسلم لره وروسته يې حضرت علي رضي الله عنه ترلاس ونيوی بيايې ورته وويل چي هرکلَي دي وي وزوی ته دکاکاد رسول الله صلي عليه وسلم اووزوم ته دده کوم چي تررسول الله رالاندي دبني هاشم سرداردئ نوحضرت علي وعبدالله ته وويل چي اي عبدالله له خدايه وويريږه دغه منافقت مکوه ځکه چي منافقان دالله پاک ترټول مخلوق بدخلګ دي ابن ابی ورته وويل چي اي د حسين پلاره دا خبره دي څرنګه راته وکړه قسم په الله جل جلاله دئ چي زموږ ايمان ستاسي دايمان په ډول دئ بيادوی سره جلاسول نو ابن ابی وخپلومنافقينوملګريوته وويل چي وګورئ څرنګه مي دوی ترځان تيرکړل اووتاسي ته هم چي هروخت په مخه درسي نودغسي ورسره کوي نودده ملګريووده ته وويل چي ته ژوندي يې نوهميشه به موږ ته خيروي ، نوددغي قصي په سبب دغه مبارک ايت نازل کړسو،

تنبيه، پوسه چي ددغي قصي دراوياونووسلسلي ته ځينوعلماؤسلسلة الذهب ويلي ده اوځينوبياددي پرخلاف سلسلة الکذب بللي ده او ځينودغه قصه صحيح بللي ده اوځينوردکړيده، پوسه چي په اتفاق دمفسرينودمديني منوري دمنافقينوډله دبدرله غزاڅخه وروسته پيداسوه اودبدرغزاپه اول کښي ددوهم کال دهجرت واقع سويده،سوال منافقانوومونانوته دخپلوځانوله طرفه دتسلی ورکولوپه وجه کلام په جمله فعليه سره ووايه کومه چي دآمنا جمله ده اووخپلوشيطانانوته ئی داطمينا ن ورکولوپه وخت کښی په جمله اسميه سره خبره کړيده کومه چی د(انامعکم) جمله ده نوددغه بدلون اوتخالف سبب څه ؤ؟جواب،مفسرينوددی متعددی وجی ذکر کړيدی، اوله وجه داده چي پرمومنانوباندي دوی دسادګانوخيال کړيووادددوی په باره کښي يې داګمان وه چي دوی هره خبره مني نوپه دي وجه يې په هغه خبرکښي کومه چي دوی به ومومنانوته کوله وتاکيدته دمجبوريت احساس نه کاؤاوددي پرخلاف شيطانان اورئيسان ددوی دوی خوراچالاک اوپوهان ګڼل چي په هره خبره نه خطاکيږي اونه هره ساده خبره مني نوځکه يې ودوی ته مؤکدکلام وايه 'فتح العزيز.

اودوهمه وجه داده چي مومنانو خوله دوی څخه دنوي ايمان مطالبه درلوده نه دبقاپرزاړه ايمان باندي نوځکه دوی ومومنانوته خبره په جمله فعليه سره کړيده کومه چي پرتجدداوپرحدوث باندي دلالت کوي اوشيطانانوددوی له دوی څخه پرزاړه ايمان باندي دثبات اوددوام تقاضاکوله نوځکه يې ودوی ته په جمله اسميه سره کلام ويلئ دئ کومه چي پرثبات اوپردوام باندي دلالت کوي، دريمه وجه داده چي ومومنانوته به چي کومه خبره دوی کوله نوهغه خودمومنانو دخطاايستلوپه خاطر دوی کوله او کوم رغبت اوشوق اوموافقت دزړه يې په هغې خبره کښي هيڅ نه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ؤ اوداهم دعلم بلاغت يوقانون دئ چي له كله يومتكلم په يوه كلام كښي رغبت نلري نوبياكه څه هم دتاكيدضررت وي خومتكلم په هغه كلام كښي تاكي نه كوي اوكله بياچي متكلم ته يومرغوب ومحبوب وي نوكه څه هم وتاكيدته حاجت نه وي دَيْ په هغه كلام كښي تاكيدكوي. بيضاوي مع توضيح.

)واذاخلواالى شياطينهم(

پوسه چي ددغه كلام ترجمه اوتفسيرپه مختلف ډ ولوكيدلاىسي اول ډول يې پردي بنادئ چي الى جاره صله سي د(خلوا)دپاره پردغه تقدير د(خلوا)دلفظ په دوه قسمه معني كيدلاى سي، اول په دي ډول '،اوهغه وخت چي ولاړسي دوىوشيطانانوددوىته، دوهم په دي ډول اوهغه وخت چي ورتنهاسي دوى يعني له مومنانوڅخه، وشيطانانوددوىته، اودوهم ډول يې پردي بنادئ چي د(خلوا)لفظ له قبيلې څخه د(خلوتُ به) سي يعني پسخند مي وواهه، مسخره مي وكړه په ده پردغه تقديربه د(خلوا)لفظ متضمن سي معني دانهاء لره اودآيت معني به په دي ډول سي اوكله چي ورسوي دوى دغه پسخندوهل په مومنانو وشيطانانوددوى ته، اودريم ډول يې پردي بنادىچي دالى كلمه په معني دمع سي نوبه دايت معني په دي ډول سي،اوهغه وخت چي يوازي سي دوىسره له شيطانانوددوى

شياطين)دشيطان جمع دى كوم چي يادشطن څخه جوړدىنوپه معنى دبعيداوليري دى يعنى دخيرله ځايوڅخه يادالله له رحمت څخه اويا له شاط څخه مأخوذ دى نو په معنى دباطل دى،او داما ده په قرآن كى اته اتيا واره راغلى ده دبقرى دسورت په شپږديرسم آيت كښى دغه لفظ په معنى دابليس راغلى دى اوددغه سورت په،١٠٢، اوپه، ١٦٨، ايت كښي دغه لفظ په معني دانسي اودجني شيطان راغلئ دئ اودارنگه ددغه سورت په، ٢٧٥، ايت كښي په معني دجني شرير راغلئ دئ اوپه دغه ايت كښي په معني دشريروانسانانوراغلئ دئ چي علما ديهودو اوكافران يامشران دمنافقانودى اودسورت صافات په پنځه شپيتم آيت كښى بناپريوه تفسيربانْدى په معني ده مارانوراغلئ دئ اوپه سورت ال عمران كښي په، ١٧٥، ايت كښي په معني دجاسوس دانسانانوراغلئ دئ

سوال:

له شيطانانو د دوى څخه په دې قول د خداىٔ (جل جلاله) كي چي (الى شياطينهم) څوک مراد دي ؟

جواب دا هم كيداىٔ سي چي مراد له شيطانانو څخه د دوى هغه يهوديان مراد سي چي په پټه اوپه ښكاره كافران وه ، او دا هم كيداىٔ سي چي مراد دي ورڅخه ددغو منافقانو رئيسان او غټ غټ مشران وي ، او داهم كيداىٔ سي چي مراد دي ورڅخه كاهنان د دوى وي.

پو سه چي دغو كفارو كاهنان درلودل چي د غيبو خبري بې كولې ، او دوى په دې عقيده ؤ چي له دغه هر يوه كاهن سره يو شيطان ملگرئ دئ چي له غيبوشيانوڅخه خبروركوى.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبني قريظه په يهودو کښي کعب د أشرف زوی ؤ ، او په بني أسلم کښي ابو بُرده کاهن ؤ ، او په جُهَينه قبيله کښي عبدالدار ، او د أسد په قبيله کښی عوف د عامر ځوی ؤ ، او په شام کښي عبد الله د أسود ځوی ؤ.

او په نن زمانه کښي هغه نارينه او ښځي چي خلگ ورځي ، او دوی وچاته وايي چي په تا فلاني کوډي کړيدي ، په فلان ځائ کښي يې پټي کړيدي ، او يا داسي نوري د غيبو خبري ورته کوي نو، دغه خلگ د همدغو کاهنانو حکم لري کوم چي په مدينه منوره کښي وه.

الله (جل جلاله ) ددغو منافقانو ددغه قول په رده ولو کښي داسي فرمايي:

لفظي ترجمه:

(الله) خدائ(جل جلاله و عز مجده ) به (يَستَهزئ) جزاء د إستهزاء ورکړي (بِـهِـم) ودوی ته يعني دغه پسخند چي دوی يې په مومنانو وهي ددې سزا به الله تعالى هم په دنيا کښي او هم په آخرت کښي و دغو منافقانو ته ورکړي (وَ) او (يَمَـدّ) کش به کړ ي خدائ پاک ، يا مهلت به ورکړي يازيات به کړی(هم) دوی يا ودوی ته (في) په (طُغيان) دې سرکښي کښي (هِم) د دوی يعنی ددی دپاره چی نورهم ددوی دگناه اودعذاب پيټی درانه سی نور بی هم الله په سرکښی کښی ددوی کش کړی (يعـمهون)(١٥) چي حيرانتيا به کوي ، يا کوردلي به کوي يعني په داسي حال کښي به و دوی ته الله پاک ددوی په دغه سرکښي کی مهلت ورکړي چي کوردلي يعني د زړه ړندوالئ يا حيرانتيابه کوي يعني هميشه به په دي کښي حيران وي چي په کوم چم به دغه منافقانه رويه د کفارو او مسلمانانو په منځ کښي خوندي اوپټه وساتو چي إفشا او رسوا نه سو اويايعمهون داسی معنی وکړی چی تردد،گرځيدل راگرځيدل به کوی په دغه طغيان کښی اوهيڅ کله بی هدايت په برخه نسي،، تفسيرطبری وغيره

تفـصـــيل اوعلمی خبری

پو سه چي د (الله يستهزئ بهم ) اصلي معنی په دې ډول ده چي : الله به پسخند ووهي په دوی ، خو څرنگه چي الله (جل جلاله) له پسخند وهلو څخه پاک دئ ، ځکه پسخند وهل په انسانانو کښي لا ډير عيبجن او د جهالت کار دئ ، نو په دې وجه موږ د يستهزئ معنی داسي وکړه چي جزا د استهزاء به ورکړي الله ودوی ته .پوسه چي دلته الله پاک له جزاداستهزا څخه دجزاپه لفظ سره تعبيرکړی دی دايادمشاکلت له وجی اوياله دی وجی چي جزاداستهزاپه قدرکښی له استهزاسره برابره ده اوياله دی وجی چی هغه ضررچی منافقانو به په استهزاکښی دهغه ضررد رسولواراده ومسلمانانوته کوله نوهغه ضرربه الله پاک پردوی باندی راوگرځاوه اويا د يستهزئ بهم په لفظ کښی استعاره تبعيه تمثيليه ده اومعنی ديستهزئ بهم په دی ډول ده چی الله پاک به معامله وکوی له دوی سره لکه معامله داستهزاکوونکی په دی ډول چی په دنياکښی به په ظاهره کښی خپل رسول ته ددوی په باره کښی داسی هدايت وفرمايې چی له دغومنافقينو سره ظاهره داسی رويه کوه لکه له مسلمانانوسره چی يې کوی اوله دی سره سره به نعمتونه هم ورزياتوی ددی دپاره چی نورهم په گمرهی کښی ښخ کړه سی اوپه اخرت کښی به هغه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت چی دوی ودوزخ ته ورداخل کړه سی داسی معامله له دوی سره کیږی چی په دوزخ کښی به یوه دروازه دجنت وطرفته پردوی باندی راخلاصیږی اودوی به په چټکی سره دجنت وخواته ورځغلی اوبیا به بیرته دغه دروازه پردوی باندی تړله کیږی اوموءمنان به له جنت څخه ددوی ددغه حال منظره کوی اوباندی خاندی به ،بیضاوی وغیره ،

محترمو مسلمانانو:

پسخند وهل استهزاوي په خلگو پسي کول په شریعت کي سخته غټه گناه ده ، او د انسان د دنیا او آخرت سخته لويه بربادي ده ، خاص بیا په داسي خلگو پسي چي هغه صالحان خلگ وي.

حضرت عبد الله ابن مسعود (رضي الله عنه) فرمايلي دي : چي که په سپي پسي و خاندم ، نو بیریږم چي الله به ما مسخ وگرځوي ، یعني سپئ به راڅخه جوړ کړي.

الله (جل جلاله ) په قرآن کريم کي په یوه مبارک آیت کي فرمايلي دي:

هيڅ يو قوم دي په بل قوم باندي پسخند نه وهي ، ښايي دا چي هغه خلگ به د خدائ په نزد تر دوی بهتره وي.

محترمو!

هر څوک که په یوه عیب معیوب ؤ او بل په ده پسي خندل ، نو اخیر به دغه سړئ په هغه عیب سره معیوب وگرځي .

او د قرآنکريم د یوه آیت مطابق په یو چا پسخند وهل د جهل علامه ده ، عاقل سړئ قطعاً دغه کار نه کوي.

اوس په راتلونکیو اياتو کښي الله پاک ددغو منافقانو ددغه منافقانه سلوک بد عاقبت او خراب أنجام بیانوي او دارنگه ددوی د بدحالۍ او گمراهۍ د ښه واضح کولو لپاره پر دوی باندي مثالونه تيره وي ، او ددې بيان کوي چي په ظاهره که څه هم دوی اوریدل کوي ، خبري کولائ سي ، او ليدلائ سي خو حقيقي غوږونه يې کاڼه دي ، او حقيقي ژبه يې گونگی ده ، او حقيقي سترگي يې ړندې دي ، نو په دې وجه ددې ځائ په دوی کښي نه دئ پاته چي وحق ته راوگرځي.

لفظي ترجمه:

(اولِئکَ) هغه چي ذکر سول یعني دغه منافقان (الذیـنَ) هغه دي( اِشترَوا) چي رانيولې ده دوی (الضلالة) گمراهي( بِالهُدی) په هدايت( فَ ) نو ( مَا) نه( رَبِحَت) وکړه گټه ، يعني نو نه وکړه گټه (تِجَارَتُ) تجارت (هم) د دوی (وَ) او (مَـا) نه (کَانوا) وو دوی یعني نه وو دوی (مُهتَدِين)(١٦) دسمی لاری میندونکي يعني په کارو ددغه تجارت کښي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني دغو منافقانو له هدايت او سوچه ايمان څخه مخ وګرځاوه او ګمراهي يې کومه چي دغه د منافقت معامله ده غوره کړه ، ددوی فکر داؤ چي په دې معامله کښي به موږ ګټه وکړو ، خو هغه ودوی ته په ډير غټ تاوان تمامه سوه . ځکه له يوه طرفه يې په قيامت کښي عذاب تر شکاره کافرانو ډير سخت دئ ، اوله بله طرفه په دنيا کښي هم الله (جل جلاله) دوی رسوا کړل ، مسلمانان يې په دې خبر کړل چي دغه خلګ مسلمانان خو نه دي خو په کفر کښي هم أغلظ کافران دي چي تر عادي او ښکاره کفارو يې حال ډير بد دئ.

تفصيل اوعلمي خبري، پوسه

چي دلته ځيني سوالونه کيږي چي جواب غواړي:

اول سوال دا کيږي چي إشتراء او بيع يعني رانيول او خرڅول خو په مالي شيانو کښي راځي او ضلالت او هدايت خو مالي شيان نه دي ، نو څنګه الله تعالی فرمايلي دي چي دوی رانيولئ دئ ضلالت په بدل کي د هدايت ؟

جواب يې دادئ چي الله پاک دا خبره د مجاز په ډول فرمايلې ده ، يعني دا چي دوی ګمراهي غوره کړه او د هدايت لار يې پريښوده ، دايې په ډول د مجاز رانيول او خرڅول وبلل ګواکی دوی هدايت په بدل کښی دضلالت پرشيطان باندی خرڅ کړاوضلالت ئی ورڅخه رانيوی

دوهم سوال دادئ چي رانيول دضلالت په هدايت سره خو ددې تقاضی کوي چي له دوی سره خو اول هدايت موجود ؤ مګر هغه هدايت دوی له لاسه ورکړ او ګمراهي يې غوره کړه ، او سره له دې چي هدايت خو له دوی سره له پخوالا وجود نه درلودئ ؟

جواب ددې سوال په مختلفو ډولو ورکړسوئ دئ اول په دې ډول چي په أصل فطرت کښي خو الله پاک په دوی کښي صحيح إستعداد د هدايت قبلولو ايښي ؤ ، لکه چي په يوه مبارک حديث کښي راغلي دي

( كُلُّ مَوْ لُوْدٍ يُوْلَدُ عَلَى فِطْرَةِ الْإِسْلامِ ) يعني هر زيږول سوئ کوچني زيږول کيږي پرفطرة،استعداد اوصلاحيت دقبلولوداسلام باندي،

نو هغه إستعداد يو قسم هدايت ؤاو دوی له هغه څخه کار نه واخيستی بلکی په کجروي او بې لاري سره يې هغه إستعداد فاسد کړ او په ګمراهي سره موصوف سول.

دوهم جواب په دې ډول ورکړسوئ دئ چي د ( اشتروا) لفظ په آيت کښي په معنی د ( اختاروا) دئ ، يعني چي غوره کړئ دئ دوی ضلالت پر هدايت باندي ، يعني ددوی په مخ کښي هدايت او ضلالت دواړه موجود ؤ، او په دوی کښي د هدايت قبلولو ، او د ګمراه کيدلو د دواړو صلاحيت پروت ؤ نو دوی پر ځائ ددې چي هدايت غوره کړي ضلالت يې غوره کړ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريم جواب يې په دې ډول ورکړ سوئ دئ چي له دوی سره هدايت موجود ؤ ، هغه داچي د رسول (عليه الصلاة والسلام) تر بعثت له مخه حتی دده مبارک تر هجرت له مخه ټولو يهودو ته دا معلومات ؤ چي اخيري نبي راتلونکئ دئ ، او پر ده باندي نوی کتاب قرآن نازليدونکئ دئ ، او حتی ونورو خلگو ته بې کوم چي دعربومشرکان وه هم ددې خبري بيان کاوه ، خو کله چي رسول(عليه الصلاة والسلام) و مدينې منورې ته په هجرت ورغئ نو دوی د حسداو د مال او درياست د محبت دغلبې په وجه و حق ته کوم چي له پخوا لا دوی ته معلوم ؤ شا وگرځوله.

حتی په ځينو کتابو کښي داسي راغلي دي چي يهودو چي اول وار په مدينه کښي هستوگنه غوره کړه نوسبب يې داؤ چي له موسی عليه السلام سره دوی و کعبې شريفي ته راغلي ؤ بيا چي کله د مدينې وعلاقې ته راورسيدل ، نو موسی عليه السلام د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ذکر وکړ ، نو دوی ځيني په مدينه کښي پاته سول په دې وجه چي دا د اخيري نبي د هجرت ځائ دئ.

(ربحت) دغه لفظ له رِبح څخه جوړدئ کوم چي وهغي گټې ته ويل کيږي چي دتجارت له لاري يې انسان حاصله کړي، پوسه چي نسبت دربحت و(تجارتهم)ته دمجازعقلي په ډول سويدئ اواصلي ترکيب په دي ډول دی(فماربحوافي تجارتهم) پوسه چي دتجارت لفظ په قران کريم کښي نهه واره راغلی دی اوپه دري قسمه مستعمل سويدی اول په طريقه داستعاري تمثيلې لکه په دغه ايت کښي دوهم په خپله حقيقي معني کښي لکه دسورت نساء په ،۲۹، ايت کښي دريم په معني داخروي تجارت لکه دسورت فاطر په،۲۹، ايت کښي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بقره دسورت د،۱۷، او،۱۸، ایت تفسیراوتحقیق،

## تفسیرفضل الرحیم(۴)برخه

---------------------------------------------------------------------

په راتلونکي اياتو کښي الله (جل جلاله ) ددغو منافقانو د حال د ښه ښکاره کولو په سبب مثالونه فرمايي:

لفظي ترجمه:

(مَثَلُ) نادر حال (هُــم ) ددوی ـــ يعني د منافقانو په دغه منافقت کښي د دوی ) کَ ) په مثل(مَثَلِ) د نادر حال دئ (الذي) د هغه چا ( استَوقَــدَ ) چي بل کړي (نَاراً) اور ( فَ ) نو ( لَمــَّا ) هغه وخت ( اَضَاءَت ) چي روښانه کړي دَی ، يعني دغه اور ( مَـــا ) هغه ، يعني هغه ځايونه( حَــولَ ) چي په شا او خوا کښي دي ( هُ ) دده ـــ يعني ددغه اور بلونکي ( ذَهَبَ ) نو تگ وکړي (اللهُ ) خدائ پاک ( بِ ) په ( نُورِ ) رڼا ( هِــم ) ددوی ـــ يعني ددغو اور بلونکو ( يعني کومه رڼا او روښنايي چي د اور په سبب ورته پيداسوې وي ، نوالله پاک هغه بيرته ورځخه بوځي په دې وجه چي اور ورمړ کړي ( وَ ) او (تَــرَکَ ) پريږدي دَيْ ـــ يعني الله پاک ( هُــم ) دوی ـــ يعني دغه داور بلوونکي ( فِي ) په ( ظُلُــمَاتِ ) تيارو کښي ( لَا ) چي نه ( يُبصِرون ) (١٧) ويني دوی �، هيڅ شئ ، .يعنی نادراوعجيب حال اوصفت ددغومنافقينوپه ا عتبار دنفاق ددوی اودارنگه په اعتباردموجوداوآينده حالت ددوی په مثل دنادرحال اوصفت دهغوخلکودی چی دشپی دسختی تيا ری په وجه اوربل کړی ددی دپاره چی يوخولاراوليکه ورمعلومه سی اوبل دموذي او اوضرر رسونکيو حشراتواوحيوانانوويره اوترس ددغه اوردرڼاپه وجه له دوی څخه ليري سي نوکله چي روښانه کړي دغه بل سوی اورددوی‌دوی لره هغه ځايونه چي په شاؤخواکښي ددوی دي نو الله پاک دغه رڼاددوی کومه چي داورپه وجه ودوی ته پيداسويوه بيرته له دوی څخه يوسي په دي سبب چي دغه بل سوئ اوريې په بادياپه کوم بل سبب ورمړکړی اوبيرته دوی‌په داسي تياروکښي پريږدي چي هيڅ شي نسي ليدلای ددغومنافقينوحال هم په دغه ډول دئ ځکه چي کله چي دوی‌داسلام دمخالفينوهغه بدحالات وليدل کوم چي داسلام دمخالفت اوداسلام دنه منلو په وجه دوی له هغوی سره مخامخ کيدل لکه دبدرپه غزاکښي دمکي مکرمي دمشرکانوحالات نودوی‌په دی وپوهيدل چي داسلام په مخالفت کښي ژوندکول داسي مثال لری لکه دشپي په توروتياروکښي چي خلگ راگيرسی او له هرډول خطراتوسره مخامخ سي نودوی داکاروکړچي په ظاهره يې دمسلمانی دعوه وکړه اودنفاق په ډول يې کلمه داسلام وويله چي په دی وجه پردوی باندی په دنياکښي يوڅه موده رڼا جوړه سوه چي ځانونه اومالونه او کورونه يې په امن سول اوځيني هغه گټي يې هم ترلاسه کړي کومی چي مسلمانانوبه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترلاسه کولې خوددوی خیال داؤ چي دغه رڼایی به په دنیاکښي هم ترپایه راسره وي اوپه اخرت کښي به هم راسره وی خوداسي ونسول ځکه چي په دنیاکښي الله پاک دوی رسوا کړل اووروسته له مرګه ددوی یې دوی په متعددوظلماتواوتاریکیوکښي پریښودل چي اول ددوی دکفرظلمت ؤ اودوهم ددوی دهغه مکراوفریب ظلمت ؤ کوم چي له خداي سره اودخدای له رسو ل اوومومنانوسره بې کاوه اودریم ددوی ددروغوظلمت ؤچي په دروغوسره بې داسلام دعوه کوله څلورم ددوی دطعن اودتشنیع ظلمت ؤچي وصحابه ؤ اوومومنانوته بې احمقان اوسفهاء ویل پنځم ددوی دجهل مرکب ظلمت ؤ چي دفسادکارونه بې داصلاح کارونه بلل اوشپږم ددوی دګناهونو او بدفعلیوظلمت ؤ ااوم دقبراودقبردسختیو اودالله جل جلاله دقسم دقسم عذابو اود الله جل جلاله دقهراوغضب ظلمت ؤ

تفــصـــیل اوعلمی خبری:

پوه سه چي د مِثل اودمَثَل اودمثیل لفظونه په أصل کښي و (نَظِير) ته ویل کیدل ، بیا دمَثَل لفظ په عربو کښي وهغه ته وویل سو چي په پښتو کښي موږ وهغه ته مَتَل وایو ، بیا دغه لفظ کله کله په معنی د نادر صفت او نادرحال د یو شي هم راځي ، دلته په آیت کریمه کښي په همدغه معنی مراد دئ ( کمثل الذی.)پوسه چي که د(بنورهم)ضمیرودغه الذی ته راجع وبلل سی نوبیابه الذی په معنی دالذین ګرځول کیږی اوکه هغه ضمیرومنافقینوته راجع سی نوبیابه دمفرد په معنی اخستل کیږی دقاضی بیضاویله کلام څخه داسی فهمیږی چی دالذی دلفظ اطلاق پر مفرد ،تثنیه،جمع پرهریوه باندی صحیح دی(فلما اضاءت ماحوله) پوسه چي دلما کلمه کله حرف جزم راځی نوبیا پرفعل مضارع باندی داخلیږی لکه لمایضرب زیداوکله دالِا په معنی راځی لکه په دی قول دخدائ کښی (ان کل نفس لماعلیهاحافظ )اوکله خالص ظرف راځی په معنی د(حین)اوکله ظرف راځی سره تضمنه دشرط معنی لره بیابه له لما څخه وروسته خمخادوه ماضی فعلونه یابه لفظاً ماضی وی لکه دلته اویا به معناً وی لکه په دی قول کښی ،لما لم یکن زیدلم ینعقدالمجلس، داضاءت فعل لازمي اومتعدي دواړه راځی دلته که لازمی سی نو فاعل بې یادهِی مسترضمیرسی کوم چي واورته راجع دی اود (ماحوله)لفظ به بناپرظرفیت باندی محلاً منصوب سي اومعنی به په دي ډول سی’نوهغه وخت چي روښانه سي دغه اورپه هغوځایوکښي چي پرشاؤخوادده دی اویابې فاعل د ماحوله لفظ سي اومعنی به په دي ډول سي ’نوهغه وخت چي روښانه سی هغه ځایونه چي په شاؤخواکښی دده دی او که متعدي سی نوبې فاعل مذکور ضمیرسی اودماحوله لفظ بې مفعول به سی اومعنی به په دي ډول سی نوهغه وخت چي روښانه کړی دغه اورهغه ځایونه چي په شاؤخواکښي دده دی

پو سه چي په دغه مثال ځان پوهول کوم چي الله پاک د منافقانو د حال لپاره په دغه آیت کي بیان کړئ دئ و تفصیل او فکر وهلو ته ضرورت لري ، نو تفصیل یې په دې ډول دئ چي امام فخرالدین رازي (رحمه الله) په تفسیر کبیر کښي ذکر کړیدي چي دلته درې سوالونه کیږي:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول سوال داکیږي چي الله پاک چي په دغه آیت کښي منافق له هغه چا سره مشابه کړئ دئ چي په تیاره کښي اور بل کړي ، او کله چي دغه اور دده شااوخوا روښانه کړي نو الله پاک دغه رڼا بیرته ورڅخه بوځي ، نو دا مشابهت به څنګه صحیح سي ، ځکه چي منافقانو ته خو له سره ایمان او نورداِیمان حاصل نه وو ، هو که داسي وائ چي دوی یواري ایمان راوړئ وائ او بیا کافران سوي وائ نو به دا مشابه والئ صحیح سوئ وائ ، او حال خو دادئ چي دوی خو له سره ایمان راوړئ نه وو؟

دوهم سوال دادئ چي هغه سړئ چي په توره شپه کښي اور بل کړي او بیا الله پاک دغه اور په باد ، باران ، یا په یو بله ذریعه ورمړ کړي ، نو هغه خوبیاهم ددغه اور په رڼايي یو څه نفع اوفایده واخستله که څه هم لږ قدر وي ، او منافقانو خو هیڅ فایده په نور د ایمان نه ده اخیستي ځکه چي دوی خو یو آن اویوګړي هم په خپل ټول ژوندکښي په ایمان سره نه دي مشرف سوي ؟

دریم سوال دادئ چي دغه اور بلونکي خو چي بیرته په تیارو کښي پاته کړه سي نودا خوپه دي سبب وي چي الله پاک ددوی اور ور مړ کړي ، او منافقان خو چي په ظلمتواوتیاروکښي اوپه حیرانتیا کښي د کفر لویدلي وونوهغوی خو په خپله خپل ځانونه وراچولي وو ؟.

بیا امام رازي (رحمه الله) ددغو سوالو د جواب په ترڅ کښي دذکر سوي آیت په ارتباط ډیري وجهي بیان کړیدي ، چي ځما په فکر عمده په هغوی کښي دوې وجي دي.

اوله وجه داده چي سـدي ویلي دي چي دغو منافقانو هغه وخت چي حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) و مدینې منورې ته ورغئ په اول وارکښي ایمان راوړئ او په اسلام کښي داخل سول ، بیا یې وروسته منافقت غوره کړ ، نو دوی هم په ایمان څه لږ وخت فایده واخستله ، او په نور د ایمان یې لار اولیکه ضرر او نفع ولیدل ، خو د نفاق په وجه بیرته په تیاره د کفر کښي واقع سول .

دوهمه وجه داده چي حضرت حسن (رحمه الله) فرمایلي دي چي که څه هم دغو منافقانو خو ایمان نه وو راوړئ ، خو کله چي دوی په خوله کلمه د اسلام ویله ، او اظهار د اسلام یې کاوه نو په دې وجه په دغه ظاهري اسلام سره دوی دا نفع واخستله چي ددوی ځانونه اومالونه له غنیمت څخه د مسلمانانو وساتل سول ، او په غنیمتو کښي له مسلمانانو سره شریک سول ، او دارنګه له نورو أحکامو څخه د مسلمانانو هم دوی برخورداره سول.

مګرخودغه فایده اخیستل ددوی که څه هم ډیر وخت وه ، خو نسبت و هغو تکلیفو ته چي له مرګ څخه وروسته دوی ورسره مخامخ سول ، دهغو اور بلونکیو تر دغي لږ نفعي اخستلوکومه چي د اور په رڼا یي ئې واخلی لا هم په حقیقت کښي لږ فایده وه.

قاضي بیضاوي (رحمه الله تعالی) په خپل تفسیر کښي فرمایلي دي چي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذاتونه د منافقانو الله (جل جلاله) په دغه آيت کښي له هغو خلګو سره مشابه کړيدي چي داور بلونکي وي ، او دا چي دوی اظهار د ايمان کاوه ، او ويل بې چي موږ ايمان راوړی دئ ،نو دا الله پاک مشابه کړئ دئ ددغو اور بلونکيو د اور له بلولو سره ، او هغه فايده چي دغو منافقانو په دغه نفاق سره په ايمان حاصله کړه چي هغه ددوی د سر ، مال ، او اولاد ساتنه وه نودغه فايدي اخستني ددوی الله عزوجل مشابه کړې دي له روښانه کولو سره داور شا وخوالره ددغو اور بلونکو.

اوزوال ددغه منافقانه ايمان ددوی له دوی څخه اول په سبب ددې چي الله تعالی ددوی حال ورسول اوومومنانوته ښکاره کړ دوهم په سبب ددې چي بيا دوی مړه سول نوددوی‌له مرګ څخه وروسته دغه منافقانه ايمان ددوی بې ثمره او دذکرسويو اوربلونکو داورپه شان الله پاک ورمړکړ نو دا الله (جل جلاله) مشابه کړئ دئ له مړ کولو داور ددغو اور بلونکو سره ، او له محوه کيدو درڼا داور ددوی سره . او دا چي دغه منافقان په هميشني او دائمي زيان او خسران کي ، او په أبدي عذاب کي واقع سول ،نودا الله پاک مشابه کړيدئ له پريښودلو ددغه اور بلونکو سره په داسي تيارو کښي چي هيڅ شئ د هغه په سبب دوی نه سي ليدلائ.

لفظي ترجمه:

( صُـمٌّ) کاڼه دي ( بُـکـمٌ ) ګونګيان دي ( عـميٌ ) ړانده دي ـــ يعني په سبب ددې چي حق په اوريدلو د قبول سره نه اوري ، او د حق له ويلو څخه منع کوي ، او د حق نښانې د عبرت په ليدلو سره نه ويني ، نو که څه هم په ظاهره اوريدل ،ويل ،او ليدل کوي مګرپه حقيقت کښي په مثال د کڼو ، ګونګيانو ، او د ړندو دي ( فَ ) نو ( هُـم ) دوی ( لايرجعون )(١٨) نه ګرځي ـــ يعني له دغه نفاقه څخه وحق ته داپه سبب ددي چي په حق د پوه کيدو لاري يې تړولي بندي دي ، ځکه چي په غوږو کاڼه په خوله ګونګيان او په سترګو ړانده دي ، نو دوی نه سي کولائ چي له دغه نفاق څخه و حق ته رجوع وکړي .

علـــمي خـــبـــري:

د ( صم ، بکم ، عمي ) لفظونه خبرونه د محذوفو مبتداګانو دي چي لفظ د ( هُم ) دئ په دريوسروځايوکښي ، او په کلام کښي تشبيه بليغه ده او تقدير دکلام په دي ډول دئ ــ هم صم الخ ، او أصل يې په دې ډول دئ چي ــ هم کالصم کالبکم کالعمي.

او د فاء کلمه په فهم کي ( فَصِيحه ) ده مدخول يې جزا د شرط محذوف دئ په دې ډول ــ اذا کانو صما بکما عميا فهم الخ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دالبقرة دسورت (۱۹) او (۲۰) اياتوتقسير اوعلمي تحقيق

---

لفظي ترجمه:

)او( يا ( كَ( په مثل ـ يعني اويامثال ددغومنافقانو په مثل ( صَيِّبٍ ) د ډير سخت لوی باران دئ ( مِنَ ) له ( السماء ) اسمانه ـ يعني داسي باران چي نازليږي له طرفه داسمانه ( فــي ) چي په ( هِ ) ده کښي ـ يعني په دغه باران کښي ( ظُلُماتٌ ) تياري وي ( وَ ) او ( رَعدٌ ) تالنده يعني تندر وي ( وَ ) او (بَرقٌ ) بريښنا وي ( يَجعَلُون ) ايږدي،نيسي، دوی ـ يعني دغه خلگ چي په دغه سخت لوی باران کښي وي ( اَصَابِعَ ) گوتي ( هُم ) ددوی ( فِي ) په ( اذانِ) غوږو کښي ( هم ) د دوی ( مِنَ ) له وجي ( الصواعِقِ ) د ټکو ـ يعني له وجهي د سختو اوازو د تالندي او تندر ( حذر) له ويري ( الموتِ ) د مرگ ـ يعني له دي وجهي دټکودسختواوازوپه سبب دوی‌په خپلوغوږوکښي ددواړو لاسوگوتي ايږدي اونيسي يې چي ويريږي دوی‌له مرگ څخه ( وَ ) او (اللهُ) خدای پاک ( مُحِيطٌ ) راگرځيدونکئ دئ ـ يعني په علم اوپه قدرت خپل سره ( على ) پر ( الكافرين ) (۱۹)ټولوکافرانوباندي ـ يعني کا فران که دخپلوځانو دنجات دپاره ددغوخلگوپه شان کوم چي له مرگ څخه دبچاويدوپه خاطر دټکوله وجهي څخه په غوږو کي گوتي نيسي هرقسم فريبونه اومکرونه وکړي نوبياهم دالله جل جلاله له گرفت اوعذاب څخه نجات نسي موندلای ځکه چي الله جل جلاله ددوی له گرفته څخه عاجزنه دئ اونه له دوی‌څخه اوددوی له کفري مکروڅخه بي علمه اوبي خبره دئ بلکي دده علم اوقدرت پردوی‌ټولو باندي اوددوی پرهرڅه باندي راڅرخيدلئ دئ ( يَكادُ ) نژدې وي (البرقُ) دغه بريښنا ـ يعني کومه چي په دغه باران کښي ده ( يَخطِف ) چي په چابکي سره يوسي ( ابصار) سترگي ( هُم ) د دوی ـ يعني دغه بريښنا دونه تيزه وي چي نژدي وي ودې ته چي په منډه ،په تيزي ، سره واخلي ،يوسي، سترگي ددغو خلگوکوم چي په دغه باران کښي وي ( كُلَّــمَا ) هر وخت ( أضاء ) چي روښانه کړي دَیْ ، يعني دا برق ،بريښنا، روښانه کړي لار ( لَهُم ) دوی لره ( مَشَوا ) نوځي ، تگ کوي دوی ـ يعني دا خلگ ( فِيه ) په ده کښي ـ يعني په دغه روښانه سوي ځای او لار کښي ( وَ ) او ( اذا) هغه وخت ( أَظلَمَ ) چي تاريک کړي دَيْ ـ يعني دغه برق تاريک کړي ځای د تللو په سبب دغايب والي خپل ( عَلَي ) پر ( هِم ) دوی باندي ـ يعني پر دغودباران پرخلگو باندي ( قاموا ) نو ودريږي دوی ـ يعني دغه دباران خلگ په دي سبب چي پردوی باندي توره تياره سي اوهيڅ لارنه ويني ( وَ ) او ( لَو ) که چيري ( شاء ) اراده کړې وای ( الله ) خدای پاک ـ يعني ددې اراده يې کړي وای چي ددغو خلگوسترگي په تيزي سره ددغي بريښناپه سرعت سره واخلي اوددوی غوږونه اوداوريدلو قواوي د تا لندي په سخت اوتند اواز سره له منځه يوسي داپرهغه تقديرچي د(سمعهم) اود (ابصارهم ) ضميرونه ددغه باران وخاوندانوته راجع سي ، يا دا مطلب چي که اراده کړې وای الله ددې چي ددغو منافقانو ظاهري غوږونه هم ورکانه کړي او ظاهري سترگي يې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم وررڼدي کړي لکه چي باطني غوږونه او سترګي يې ختم سويدي ( لَ ) نو خامخا به ( ذَهبَ ) تګ کړئ وائ ده ـ يعني الله پاک ( بِ ) په ( سَمعِ ) غوږو ( هِم ) د دوی ( وَ) او ( ابصار ) په سترګو ( هم ) د دوی ( إنَّ ) بې شکه ( اللهَ) الله پاک ( علی ) پر ( کُلِّ ) هر ( شئٍ) شي ـ يعني پرهرشي باندي ( قدِير )(۲۰) ښه قادر دئ .

تفـصــيل:

په دغه آيت کښ الله (جل جلاله) بل مثال لپاره د حال د منافقينو بيان کړئ دئ ، يعني او يا نادر حال او صفت ددغو منافقانو په مثل د نادر حال اوصفت د خاوندانو د ډير سخت لوی باران دئ کوم چي رانازليږي له اسمان يا له وريځي څخه ، داسي باران چي په ده کښي سختي تيارې وي ، له يوې خوا د باران د سخت والي او پرله پسې والي تياره وي ، او له بلي خوا دوريځي او د هغې د چت پر چت والي تياره وي ، او دارنګه ددې تياره وي چي وريځي د اسمان ټولي کنارې نيولي وي ، او له بله لوري د شپې او د هغې د سخت ظلماني والي تياره وي.

او دارنګه په دغه باران کښي سخته تالنده او تيزه بريښنا وي ،نو دغه د باران خلګ د تالندي د ډير شدت اود سختو اوازو له امله پر ځائ ددې چي د ګوتو سرونه په غوږو کي ونيسي ټولي ګوتي په غوږو کښي داخله وي ، اودا کار په دې وجه کوي چي له مرګه ويريږي ، يعني له دې ويريږي چي که د تالندي اوازونه واوري نو مړه به سي.

او د الله (جل جلاله) علم او قدرت پر ټولو کافرانوکوم چي اي رسوله دغه دمکي اودمديني کفار هم پکښي داخل دي راڅرخيدلئ دئ ،نو هيڅ يو چم او فريب ، او هيڅ يو کُفرِي طرحه يې ددي سبب نه سي جوړيدلای‌چي دوی داالله جل جلاله له ګرفتارئ اوعذاب څخه په خلاص سي ځکه چي ددوی‌هيڅ فريب اوهيڅ يوه طرحه داسي نسي کيدلای چي الله تعالی ته دي دهغه په باب معلومات نه وي ، اودارنګه دوی هيڅ يوه داسي طريقه اولاره نسي برابرولای‌چي د هغې په وجه دي دوی‌د الله (عز مجده) د قدرت مقابله وکړي چي په نتيجه کښي يې له عذاب څخه داالله پاک نجات په برخه سي.

پوسه چي لکه څرنګه چي الله تعالی په دغه باران کي د تالندي د سخت والي حال په دې قول سره چي (ويجعلون أصابعهم الخ) بيان کړئ دئ ، دارنګه يې د بريښنا د سخت والي حال په دي قول سره چي ( ويكاد البرق الخ) بيان کړئ دئ ، يعني دغه برق په دغه باران کښي دونه سخت وي چي نژدې ودې ته وي چي دسختوبريښيدو په وخت کښي ددغو خلګوکوم چي په دغه باران کښي وي سترګي په تيزي او چټکي سره يوسي ، خو له دې سره سره چي دوی پر تللو او وتلو له دې ځايه څخه دبارانه ډير حريصان وي ، نو هر وخت چي دغه بريښنا په خپله رڼايي سره لار روښانه کړي نو دوی په دغه لار کښي تګ کوي ، او کله چي د تللو ځائ پر دوی باندي تاريک سي نو دوی ودريږي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودغه تالنده او بريښنا دونه سخته وي چي صرف په دې سبب چي الله (جل جلاله) اراده د دغو خلګو د کڼوالي او ړوندوالي نه وي کړې نو دوی بچ سي ، او که الله تعالی ددوی وکڼوالي اوړندوالي ته اراده کړې واۍ نو ددغه تندراوبريښنا په وجه بې ددوی غوږونه او سترګي له منځه وړي واۍ.

تفصيل اوعلمي خبري.

)اوکصيب(

پوسه چي دغه کلام يامعطوف دئ پردغه قول دخداي پاک باندي چي (مثلهم کمثل الذي استوقد... الخ ) پردغه تقدير د(او) له کلمي څخه وروسته دمبتداء مقدره ول ضروردئ چي تقدير به په دې ډول سي ( اومثلهم کصيب ) اويامعطوف دئ پردغه قول دخداي پاک چي (الذي استوقد) پردغه تقديربه دکاف جاره لفظ کوم چي د(کصيب)په لفظ کښي دئ زائدبلل کيږي د(او) کلمه دلته يا دپاره دتخيير ده نوبه مطلب دا سي چي ګواکي له الهي لوري څخه ورسول اوومومنانوته داسي وويل سول چي دغه دمديني منافقان له دغودواړوډلوسره کومي چي عبارت دي له اصحاب الناراوله اصحاب صيب څخه مشابهت لري نوتاسي اختيارلري چي که يې اصحاب النار مثال ورګرځوئ اوکه يې اصحاب صيب او يادپاره دتنويع ده نو به مطلب داسي چي منافقان دوه قسمه دي يوقسم يې له اصحاب النارسره کوم چي په مخکښي ايت کښي ذکرسوه مشابهت لري ، اوبل قسم يې له اصحاب صيب سره مشابهت لري.

پوسه چي د(کصيب) په لفظ کښي دکاف جاره اود(صيب )په منځ کښي ديوه مضاف تقدير ضروردئ له دوووجهو څخه.

۱ــ له دې وجهي چي تشبيه دمنافقينو له صيب سره واضح نه ده.

۲ــ له دې وجهي چي کوم ضميرونه دجمع چي په وروسته کلماتوکښي راځي دهغوی‌مرجع تحقق ومومي نو به تقدير دمذکورعبارت په دې ډول سي (اوکاصحاب صيب )

همدارنګه پوسه چي دصيب په لفظ کښي له درو وجهو مبالغه موجوده ده.

۱ــ له وجهي دمادي دده، ځکه چي دغه لفظ مأخوذدئ له ( صَوب) څخه کوم چي وسخت توئيدلوته ويل کيږي.

۲ــ دهيئت اودوزن له وجهي ، ځکه چي د(صيب ) لفظ پروزن دفيعل ده اواصل يې ( صَيوِبٌ) ؤ بيادصرفوددي قانون له مخي چي په هره کلمه کښي چي واو اوياء سره جمع سي اواول ددوی ساکن وي نوواو به په ياء بدليږي اوياء به په ياء کښي مدغمه کړه کيږي.

د(صَيوب) واو په ياء بدل سويدئ اوياء په ياء کښي مدغمه سويده ، اودفَيعل وزن دمبالغي دپاره راځي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ــ له دي وجهي چي د(صيب) دلفظ تنكير لپاره دتعظيم دئ نود(صيب) معني داده چي ډيرسخت لوی باران دغه لفظ لکه څرنګه چي دسخت لوی باران په معني راځي دارنګه دوريځي په معني هم راځي.

فايده: پوسه چي دلته دري لفظونه دي صيب، غيث ، مطر ،صيب په اصل کښي وهغه ډيرلوی سخت باران ته ويل کيږي چي په ده کښي سخته تالنده اوسخته بريښنا اوسختي تياري وي اودپسرلي په موسم کښي اوريږي ،اوغيث وهغه باران ته ويل کيږي کوم چي وروسته له قحطي اووچ کلئ څخه واوريږي ، اودمطرلفظ وعام باران ته ويل کيږي اووهغه باران ته هم مطرويل کيږي کوم چي الله جل جلاله پرخلګوباندي ودوی ته دعذاب ورکولوپه خاطراورولئ وي.

پوسه چي که له (صيب) څخه مرادوريځ سي نود(من) کلمه د(من السماء) په لفظ کښي لپاره دجهت اوطرف ده نوبه معني د(من السماء) داډول سي چي له طرف څخه داسمانه ياله طرف څخه دهرافق اوکناري داسمانه اوکه (صيب) په معني دباران سي نوکه چيري د (السماء) له لفظ څخه افق مرادسي نو بياهم د( مِن) کلمه په معني دجهت اوطرف ده ،اوکه له ( السماء) څخه اسمان مراد سي نوبياد(من) کلمه په معني دطرف هم کيدای‌سي ځکه چي باران خو داسمان له طرف څخه رااوريږي، اولپاره دابتداء دغايې هم کيداي سي ځکه چي باران له اسمان څخه ووريځي ته رانازليږي او وريځ دغلبيل په ډول ورته بلله کيږي اوکه ( دالسماء ) له لفظ څخه مرادوريځ سي نوبيا(من) دپاره دابتداء دغايې دئ ، له دغه بيان څخه وتاته داخبره معلومه سوه چي دسماءلفظ دلته ددريو معني ګانواحتمال لري ، افق، وريځ ، اسمان ، دلته ديوڅونوروخبروذکرکول هم ډيرمهم دئ ، اوله خبره داده چي اکثرمفسرين داخبرکوي چي په اصل کښي خوباران له اسمان څخه نازليږي خوکله کله لکه فلاسفه اوحکماء چي وايې دځمکي له بخارڅخه کوم چي هواته پورته سي هم باران پيداکيږي.

دوهمه خبره داده چي که (صيب) په معني دوريځ سي نوبيابه د(السماء) له لفظ څخه په حتمي ډول وريځ نه اراده کړه کيږي.

دريمه خبره داده چي که د(السماء) لفظ دلته په معني دافق سي نوالف لام پکښي استغراقي دئ او که مرادورڅخه وريځ سي نوالف لام پکښي جنسي دئ.

څلرمه خبرداده چي دسماء لفظ ځيني علماء مفردلفظ بولي اوځني يې اسم جمع بولي اوځني يې بيا جمع بولي اوځن يې اسم جنس بولي اووايې چي مفرديې سماوةٌ دئ.

پنځمه خبرداده چي دسماء لفظ دوي نوري معني وي هم لري که څه هم دلته مرادي نه دي ، اول باران ، دوهم هرهغه شي چي ترتالوړوي ،يعني سربيره پرسر

ستاباندي وي لکه دخوني چت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)فِيه ظُلُماتُ وَّرَعْدُوَّبَرْق(

پوسه :چي په ضميرمجرورد(فيه) کښي دري احتماله دي.

اول احتمال دادئ چي راجع سي و(صيب)ته چي په معني ډير سخت لوی‌باران دئ.

اودوهم احتمال دادئ چي راجع سي و(صيب)ته چي په معني دوريځي دئ،اوياو(سماء) ته چي په معني دوريځي دئ، اودريم احتمال دادئ چي راجع سي و(سماء) ته په معنی داسمان،پرتقدير درجوع ددغه ضمير و(صيب)ته په معني دباران داسوال پيداکيږي چي (رعد) او(برق) خوپه باران کښي نه وي بلکي په وريځ کښي وي نوظرفيت دباران به رعداوبرق لره څنگه صحيح سي ، قاضي بيضاوي ددغه سوال جواب په دي ډول کړيدئ چي باران په دي وجه مکان اوظرف د(رعد) اود(برق) بلل سويدئ چي(رعد) او(برق) په منحدر ،يعني په ځای‌کښي دراکښته کيدودباران چي وريځ ده پيداکيږي نوپه دي وجه باران هم دمجازپه ډول د(برق) اود (رعد) دپاره ظرف بلل کيدلای‌سي،، همدارنگه که دفيه ضميرد(سماء) ولفظ ته راجع سي نوبياداسي سوال پيداکيږي چي د(سماء)لفظ مونث دئ اود(فيه) ضمير دمذکرضميردئ نودضمير اودمرجع په منځ کښي موافقت نه راځي ، صاحب دتفسيرمظهري ددي سوال جواب په دي ډول کړيدئ چي لفظ د(سماء) په قران کريم کښي مذکر اومونث دواړه راغلئ دئ،مونث لکه په دي قول دخدائ کښی،

(اذالسماءانفطرت ) اومذکرلکه په دي قول دخدائ کښي (والسماءمنفطربه).

)ظلمات(

جمع د(ظلمة) ده چي په معني دتياري ده. .

پوسه: چي ظلمت اوتياره دوه قسمه ده:

اول محسوسه اوظاهري تياره ده لکه دشپي تياره ، اودوهمه معنوي اوباطني تياره ده لکه دکفراودنفاق اودگناووتيا ره ، همدارنگه پوسه چي:

دظلمات لفظ دجمع په صيغه سره ځکه فرمايل سويدئ چي په دغه قسم باران اووريځ کښي ډيري تياري سره راجمع کيږي، اول دشپي تياره ، دوهم دوريځي تياره ، دريم دباران دپرلپسي اوريدلوتياره.

مظهري ، روح البيان ، بيضاوي. ،.،،

سوال : په دغه ايت کښي خودشپي ذکرنه دئ راغلئ نوشپه له کوم ځای څخه فهميږي.

جواب: له سياق څخه ددي قول دخدائ پاک چي (کل ما اضاء لهم مشوفيه واذااظلم عليهم قامو.........الاية

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له رعدڅخه مرادڅه دئ؟

په دي باره کښي علماووبيل بيل قولونه کړيدي.

اول قول دادئ چي (رعد) ديوي ملکي اوفرشتي نوم دي چي پروريځ باندي موکَّلَه اومقرره ده ، اودالهي دستورمطابق يې له يوه ځایه ځخه وبل ځای ته شړي ،اوتسبيح داالله جل جلاله وايې اوکله چي يوه ټوټه دوريځي له بلي سره مخالفه سي نوبيادغه فرشته پر دغه وريځ باندی چيغه وکړي، اوکله چي يې غصه اوغضب سخت سي نويې له خولي ځخه اورخارج سي اودغه اورته صاعقة اوټکه ويله کيږي ،دمجاهد،اودعکرمه، اودابن عباس،اودعلي ابن ابي طالب قول هم دادئ چي (رعد) ديوي فرشتي نوم دئ.

اودوهم قول دادئ چي (رعد) يوقسم مخلوق دئ له مخلوق څخه داالله جل جلاله چي داالله جلاله دحکم اوريدونکئ اومنونکئ دئ ،داده حضرت قتاده (رضي الله عنه) قول دئ.

دريم قول دادئ چي (رعد) وهغه بادته ويل کيږي چي لاندي ترورېځ سره تخته سي اووروسته په وريځ کښي داسمان وطرف ته پورته سي چي په نتيجه کښي دتالندي صوت او اواز ورڅخه پيداسي ،اودا د ابن ابي الجلد قول دئ.

قاضي بيضاوي ذکرکړيدي چي (رعد)وهغه صوت ته ويل کيږي کوم چي له وريځي څخه اوريدل کيږي،يعني کوم چي موږپه پښتوکښي تالنده ورته وايو.

پوسه: چي کچيري (رعد) دملکي اودفرشتي نوم سي نوبيا په ايت کښي د(رعد)دلفظ دمخه د(صوت) لفظ مقدربلل ضروردي ،چي تقديربه په دي ډول سي (فيه ظلمات وصوت رعد) ځکه هغه فرشته خو چي (رعد) ورته ويل کيږي په وريځ کښي نه وي بلکي له خارج څخه دوريځي شړونکي وي .

په دغه مبارک ايت کښی له برق څخه مرادڅه دئ؟

پوسه :چي دبرق لفظ له بريق څخه مأخوذ دئ چي پرقيدل،چمک کول ،اوځليدلوته ويل کيږي په عرف کښي خود برق تفسير په بريښنا سره کيږي ،البته مفسرينو د(برق) په تفسير کښي اختلاف کړيدئ چي تفصيل يې په لاندي ډول دئ:

اول : له حضرت علي څخه روايت دئ چي (البرق مخاريق الملائکة) يعني برق دملائکو وغمچينوته ويل کيږي، همدارنګه له ابن عباس (رضي الله عنه) څخه روايت دئ چي (برق)يوقسم غمچيني دي چي دفرشتوپه لاسوکښي دي اووريځي ته زجرپه ورکوي.

دوهم: همدارنګه له حضرت علي (کرَّم الله وجهه) څخه بل روايت دئ چي (رعد) ملکه اوفرشته ده او(برق) ووهلودفرشتي ته ويل کيږي وريځي لره دواسپني په غمچينه سره.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريم: (برق)له نورڅخه جوړه سوي غمڅينه اوتازيانه ده چي فرشته ووريځي ته زجر په ورکوي، ددغه قول هم له ابن عباس څخه روايت سويدئ.

څلورم: له (برق) څخه مراداوبه دي.

پنځم: (برق)يوه فرشته ده چي څلورمخه لري ،يومخ يې دانسان په ډول دئ ،اوبل مخ يې دغوايې په ډول دئ ،اوبل مخ يې دنسر په ډول دئ کوم چي مشهورمرغه دئ، اوبل مخ يې دزمري په ډول دئ،کله چي دغه فرشته خپل وزرونه وښوره وي نوودغه ته برق ويل کيږي.

اوهمدارنگه په يوه بل روايت کښي داسي راغلي دي چي دعرش دحمله وو فرشتو دوزرو وښورولوته (برق) ويل کيږي
.

شپږم: برق دفرشتي دغمچيني وبريښيدلوته ويل کيږي کومه چي له اورڅخه جوړه ده اووريځي ته زجرپه ورکوي.

تفسير طبري ،بيضاوي، مظهري،وغيره.

پوسه :چي د(رعد) اود(برق) لفظونه دتعظيم په خاطر نکيره فرمايل سويدي، اومفردياپه دي وجه راوړل سويدي چي په اصل کښي مصدرونه دي، اوياپه دي وجه چي هريوپه خپل ذات کښي مختلف جنسونه نه دي لکه له(ظلمات)څخه چي مختلف الجنسه ظلمتونه مراددي

)يجعلون اصابعهم في اذانهم من الصواعق حذرالموت (

پوسه :چي ديجعلون لفظ له(جِعْل) څخه جوړدئ،په محاوراتودعربوکښي دغه لفظ په دريو معني ګانوکښي مستعمليدئ.

اول:په معنا دصَيرَّ پردغه تقديردغه لفظ دوه مفعوله غواړي، لکه په دي قول کښي جعل الله زيداً غنياً ،اي صَيره غنياً يعني ګرځولي دئ الله پاک زيدلره غني، اودوهم په معنيه د ،خَلَقَ, پردغه تقدير دغه لفظ ويوه مفعول ته تعدي کوي لکه په دي قول دخداي پاک کښي ( جعل الظلمات والنور،اي خلقهما) يعني پيداکړيې دي الله پاک تياري اونور.

دريم: په معني د طَفَقَ وشَرَعَ پردغه تقدير دغه لفظ لازمي دي اويومفعول هم نه غواړي،لکه په دي قول کښي، جعل زيد يکرم العالِم، اي طفق وشرع يکرمه ،يعني شروع وکړه زيد په دي کښي چي عزت ورکوي وعالم ته همدارنګه دغه لفظ په کلام دعربوکښي په نورومعني ګانوکښي هم کارسويدئ، په قران کريم کښي هم دغه ماده پر ډيرومعني ګانوراغلي ده دلته د(يجعلون)لفظ په معني د(يضعون) ياد(يدخلون) دي يعني ايږدي دوی ياداخله وي دوی ګوتي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلي په غوږو خپلوکښي پردغه تقديرپې هم تعدي و يوه مفعول ته راځي ،لکه دلته چي يې د(اصابعهم) لفظ مفعول واقع سويدئ.

پوسه:چي د(اصابعهم ) په لفظ کښي له دوووجهومبالغه راغلي ده.

اول: له دي وجهي چي عادت خوپردغه باندي جاري دئ چي کله چي يوانسان په غوږو کښي ګوتي نيسي نوپه هر غوږکښي يوه ګوته نيسي چي هغه هم سبابه اومسبحه ګوته ده، اودلته په ايت کښي داسي فرمايل سويدي چي دوی ټولي ګوتي دلاسو په غوږوکي نيسي دوهم: له دي وجهي چي په غوږوکښی دګوتو سرونه نيول کيږي، اودايت له سياق څخه داسي فهميږي چي دوی ټولي ګوتي په کامل ډول په غوږوکښي داخله وي، همداسبب دئ چي مفسرينوفرمايلي دي چي د(اصابع) په لفظ کښي مجازمرسل دئ مرادله (اصابع)څخه سرونه دګوتودي په دي طريقه سره چي ذکرکل دي اومرادورڅخه جزدئ.

د(من الصواعق) په لفظ کښي دمن کلمه اجليه ,تعليليه، ده او(من الصواعق)علت دئ د(يجعلون) دپاره يعني ګرځوي دغه خاوندان دډيرسخت باران ګوتي خپلي په غوږوخپلوکي له وجهي دصواعقو.

پوسه:چي د(صواعق) لفظ جمع د(صاعقة) ده چي له (صَعْقْ)څخه جوړدئ اود(صعق) ماده په قران کريم کښی يوولس(۱۱)کرته ذکرسويده اوپه مختلفومعني ګانو کښي مستعمله سويده.

اول: دمرګ په معني کي ، لکه دسورت زمر په اته شپيتم(٦٨) مبارک ايت کښی.

دويم: په معني دبيهوشي ، لکه دسورت اعراف په (۱۴۳) مبارک ايت کښي.

دريم: په معني دچيغي دعذاب ، لکه دسورت بقره په (۵۵)ايت کښی.

څلورم:په معني دسخت اواز د(رعد) ،لکه دلته چي هم دغه معني ورڅخه مرادده.

پنځم: هغه اور چي له دغه سخت اوازسره پرمځکه باندي راولويږي چي تندرورته ويل کيږي ،لکه دسورت رعدپه (۱۳)مبارک ايت کښي ،همدارنګه وهرعذاب مهلک ته (صاعقة )ويل کيږي، دلته دصواعق په مراده معني کښي دوه احتمالونه نورهم سته.

اول: داچي مرادورڅخه هغه سخت اوازونه د(رعد)سي چي اورهم ورسره وي داسي اور چي پرهرشي باندي ورسي نوهغه په هلاکت رسوي.

دوهم: داچي مرادورڅخه هغه سخت اوازد(رعد)سي چي په داسي ډول وي چي هرڅوک يې واوري نويامري ا ويا بيهوشه کيږي.

)مظهري وغيره(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)حَذرَالمَوت(

دامفعول له دئ د(يجعلون)دپاره وروسته له دي چي معلل په (من الصواعق) سره ګرځيدلئ دئ، نوبه دغه قول تدقيق سي اود(من الصواعق) قول به تحقيق سي.

)والله محيط بالكافرين (

دغه جمله ددي دپاره فرمايله سويده چي کافران په هيڅ مکراوفريب سره دالله پاک له عذاب څخه ځانونه نه سي بچ کولای، ځکه چي الله پاک په علم ا وپه قدرت سره په ټولوکافرانو احاطه کونکي دئ.

)يکادالبرق يخطف ابصارهم(

پوسه چي دغه جمله جمله مستأنفه ده په استئناف بياني سره اوددروسوالو جواب واقع سويده ، اول سوال په دي ډول کيږي چي په تيرسوي ايت کښي الله پاک د (رعد)اود(برق) ددواړوذکرفرمايلئ دئ اوبيايي د(يجعلون ... الخ) په جمله کښي ودي ته اشاره کړي ده چي له دغه رعدڅخه معمولي رعد نه دي مراد بلکي يوقسم سخت اوعظيم رعدمراددئ نوايا له برق څخه هم يوخاص قسم دعظمت والا برق مراددئ اوکه څنګه خودغه سوال استفساري سوال دئ اودغه چا له طرفه کيږي چي هغه له د ي څخه غافل وي چي د(برق) دلفظ تنکيردتعظيم دپاره دئ.

اودوهم سوال دادئ چي د(برق) لفظ کوم چي مخکي ذکرسويدئ له نکيره راوړلوڅخه داسي څرګنديږي چي مرادله دغه (برق څخه دعظمت والا برق مراددئ نودغه عظمت يې په څه ډول دئ.

دريم سوال دادئ چي نسبت ودغو خلګو ته کوم چي په دغه مذکور ډول باران کښي راګير سوي ددغه برق اوبريښناحال په څه ډول وي ،او د(يکاد) فعل له افعال مقاربه وو څخه دئ کوم چي دلالت کوي پرقرب دخبري ووجودته ، اودارنګه په دي باندي دلالت کوي چي ددغي خبري سبب دوجود موجودسويدئ مګر خبرله دي وجهي نه ده موجوده سوي چي يا دوجود له شرائطوڅخه يې يوشرط معدوم دئ اوياله دي وجهي چي دوجود له موانعوڅخه يې يومانع موجوددئ، همداسبب دئ چي خبريې فعل مضارع راځي بي له دي چي اَن مصدريه پرداخل وي ځکه چي ان مصدريه دمضارع فعل تراستقبال پور ي خاص ګرځوي کوم چي له قرب دوجودسره مخالفت لري البته کله کله يې پرخبرباندي اَن داخليږي خو داپه هغه وخت کښي چي ديکاد لفظ دعسي پرکلمه باندي محمول کړسي.

د(يخطف) لفظ له خطف څخه جوړدئ کوم چي واختسلوته ديوشي په تلوارسره ويل کيږي.

)کلمااضاء لهم مشوافيه(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دادريمه مستأنفه جمله ده ،اوجواب دسوال ده ، سوال به په دي ډول کيدئ چي بريښنا خو کله ښکاره سي اوکله ورکه سي نودغه خلگ ددغي بريښنا دښکاره کيدو په وخت کښي څه کوي، اودورکيدوپه وخت کښي يې څه کوي .

پوسه چي د اضاء له فعل سره دکلما لفظ او د اظلم له فعل سره داذا لفظ راوړل سويدئ داپه دي وجه چي کلما خو پرعموم او تکرار باندي دلالت کوي اود اذا لفظ پر عموم اوپر تکراردلالت نکوي نوپه دي کښي اشاره ده ودي خبري ته چي ددغوخلگو دباران له ساحي څخه تلل اووتل اهم مقصدوي اوپه دغه ځای کښي دريدل دوی دمجبورئ په وجه کوي.

همدارنګه پوسه چي دااضاء فعل کوم چي داِفْعال له باب څخه دئ په کلام دعربوکښي لازمي اومتعدي دواړه راغلئ دئ دلته هم دواړه قسمه صحيح کيدلای سي، خو که لازمي سي نومعني بې په دي ډول سي هروخت چی روښانه سي دغه برق ، اوکه متعدي سي نوبيابه مفعول دده محذوف سي اوتقديربه په دي ډوسي کلمااضاء لهم طريقاً ... الخ . يعني هروخت چي روښانه کړي دغه برق دوی لره يوه لار.

د(فيه) مجرور ضمير پراول تقدير راجع دئ وځاي دلويدودرڼاددغي بريښناته نوبه دفيه معني داسي سي ( في مطرح نوره)اوپردوهم تقديربه راجع سي ومحذوف طريقاً ته.

پوسه چي دارنګه دوه احتماله دلزوم اودتعدي د(اظلم) په لفظ کښي هم موجوددي.

)ولوشاء الله الخ(

پوسه چي دشاء دفعل مفعول هميشه په کلام کښي محذوف ګرځي مګر په هغه صورت کښي چي مفعول يې يونادرشي وي ، لکه په دي قول دشاعر کښي.

ولوشئتُ ان ابکي دماً لبکيته . دلته يې مفعول محذوف دئ اوتقدير يې په دي ډول دئ (ولوشاء الله ان يذهب بسمعهم وابصارهم لذهب بسمعهم وابصارهم)

پوسه چي د مشيت ماده په قران کريم کښي په ډيروځايو کښي والله جل جلاله ته منسوبه سويده البته په ځيني ځايو کښي په معني دارادي ده اوپه ځينوځايوکښي په معني درضا ده اوپه ځينوځايوکښي ددواړومعني وو احتمال لري.

)ان الله علي کل شي قدير(

پوسه چي د (شئ) لفظ په اصل کښي مصدردئ د شاء معني يي اراده کول دي ، اوبيا دهمدغي مصدري معني په اعتبار کله په معني داسم فاعل چي شاءٍ دئ يعني اراده کونکئ،اوکله په معني داسم مفعول چي مشيٌّ دئ،يعني

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اراده کړسوئ راځي، اوپه اصطلاح کښي داهل سنت والجماعت لفظ د شئ په معني دموجوددئ او دمعتزله وو په نزد شئ په معني دمايصح ان يوجد دئ ،اودحکماوو په قول شئ په معني د مايمکن ان يعلم ويخبرعنه دئ.

پوسه چي دشئ لفظ چي په معني دشاءِ سي اوياپه معني دموجودسي نووخداي ته هم ورشامل دئ په دي وجه دلته داسي سوال کيږي چي له دغه کلام څخه داالله پاک داخبره فهميږي چي الله پاک پرخپل ذات باندي هم قادردئ اوسره له دي چي الله پاک دخپل ذات هم مقدور نه دئ لکه چي دبل چا مقدورنه دئ ځکه که مقدورسي نوبياواجب الوجود نسي کيدلای بلکي ممکن به سي نوبيايې جواب يا په دي ډول کيږي چي دلته الله پاک د شئ دلفظ له مفهوم څخه په استثناء عقلي سره مستثني دئ.

اويايې جواب په دي ډول کيږي چي شئ دلته داسم مفعول په معني دئ نوواللہ پاک ته نه دئ ورشامل اوځي علماء داخبره کوي چي الله پاک ته شئ په هيڅ معني سره نه ويل کيږي مګر داخبره صحيح نه ده .

د ممثل اودمثال تطبيق :

پوسه چي په دغه مبارک ايت کښي چي کوم مثال الله پاک دپاره دمنافقانو بيان کړيدئ اودوی اوددوی حال يې دذکرسوي سخت لوی باران له خاوندانوسره اوددوی له حاله سره مشابه کړيدئ ددي دتطبيق اودتوضيح دپاره په مذکوره ايت کښي دوه احتماله مفسرينوبيان کړيدي ، اول احتمال دادئ چي داله قبيلي څخه دتشبيه مرکب دئ، اودوهم احتمال دادئ چي داله قبيلي څخه دتشبيه مفرق دئ پرتقديرداول احتمال باندي به تطبيق دمثال له ممثل سره اودارنګه خلاصه ددغه تشبيه داسي سي چي حال ددغومنافقانو د مديني ددوی دنفاق په سبب اودارنګه ددو ی دباطني اوقلبي امراضوپه سبب په اعتباردسختي حيرانتياددوی اودارنګه په اعتباردتوقف ددوی په باره کښي داسلام اودارنګه په اعتبار درغبت ددوی واسلام ته هغه وخت چي کله دوی دمسلمانانوپرمختګ او په غنيمت راوړل سوي مالونه اونوري فايدي ويني مشابه دئ له حال سره دخاوندانو دداسي صيب اوسخت لوی باران چي هغه په تيرسوي ايت کښي بيان کړ سويدئ، اوپرتقديرددوهم احتمال به دمثال تطبيق له ممثل سره په دي ډول سي چي الله جل جلاله په ذکرسوي ايت کښي دمنافقانوتشبيه له اصحاب صيب سره کړيده اواسلام اوقران کريم يې له صيب سره مشابه کړيدئ ، اوکوم تکليفونه چي په اسلام کښي سته لکه سخت سخت عبادتونه اوجهاد اودارنګه دنفس اودشيطان دخواهشاتومخالفت دا الله پاک مشابه کړيد ئ له ظلمات اوله تياروسره .اوکوم اياتونه دقران کريم چي داالله پاک له دنيوي اواخروي عذابوڅخه انسانان ويروي داالله پاک مشابه کړيدي له رعداوله تالندي سره ، اوهغه فتوحات اوغنيمتونه چي الله پاک به دخپل رسول صلي الله علي وسلم اودده داصحابوپه برخه کول يا هغه واضح واضح حجتونه اودليلونه چي داسلام پرحق والي باندي بې دلالت کاوه داالله پاک مشابه کړيدي له برق سره ،او داچي منافقينوبه په وخت کښي دتلاوت دقران کريم په خپلوغوږوکښي ګوتي نيولي ددي دپاره چي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبادا دغه اياتونه پدوی کښي تأثيرونکړي اواسلام قبول نکړي ځکه چي اسلام قبلول ددوی پہ عقيده کښي له مرگ سره برابره خبره وه، داالله پاک مشابه کړيدئ له نيولوسره دگوتودخاوندانو دباران په غوږوخپلوکښي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بقره د سورت د۲۱، او د۲۲، مبارکو اياتو تفسير اوعلمي تحقيق

## تفسير فضل الرحيم (٦) برخه ،

---

پوسه چي په دغه راتلونکي ايت کښي الله جل جلاله له خپلوټولو بندګانوڅخه دهغه شي مطالبه کوی کوم چي بندګان يې دهغه شي دپاره پيداکړيدی،

لفظي ترجمه:

(يا أيُّهاالناس ) اې خلګو ( اعبُدوا) عبادت وکړۍ یاعبادت کوی ( رب ) د رب ( کُم ) ستاسي ( الذي ) هغه ـ يعني هغه رب ستاسي ( خَلَقَ ) چي پيداکړي یاست ده يعنى هغه رب ( کُم ) تاسي ( وَ ) او ( الذين ) هغه خلق ـ يعني او پيداکړي يې دي هغه خلګ ( مِن ) چي له ( قبلُ ) مخه ـ يعني چي وو له مخه ( کُم ) ستاسي ـ يعني له مخه تر تاسي وو چي هغه د دتيروزمانو خلګ دی ( لَـعَــلَّ ) ښايي ( کُــم ) چي تاسي به ، يا ( لعل ) لپاره ددې ( کُم ) چي تاسي ( تتقون ) ،۲۱، وساتئ تاسي ـ يعني وساتئ ځانونه خپل له عذاب څخه د الله جل جلاله په واسطه دعبادت دده ( الذِي ) هغه ـ يعني هغه رب ستاسي ( جعل ) چي ګرځولې يې ده ( لِ ) لپاره ( کُم ) ستاسي ( الأرض ) دغه مزکه ـ يعني کومه چي تاسي په هغې کښي دژوندټولي چاري ترسره کوي ( فِراشاً ) فرش ـ يعني لکه فرش ( والسماء ) اودغه اسمان ـ يعني کوم چي ستاسي وسترګوته حاضردئ ( بِناءً) چت ـ يعني او ګرځولئ يې دئ لپاره ستاسي دغه اسمان دچت په شان ( وَ ) او ( انزلَ ) نازلي کړي يې دي ده ـ يعني را اوره ولي دي الله پاک ( مِن ) له ( السماءِ ) اسمانه ياله طرف څخه داسمانه عام له دی څخه که له نفس اسمان څخه وی اوکه له وريځی څخه وی ( مَاءً ) اوبه ( فَ ) وروسته يې يابيايې ( أخرجَ ) راايستلئ دئ ده يعنى الله پاک ( بِ ) په ( هِ ) ده سره يادوی سره ـ يعني په دغو اوبو سره ( من ) له ( الثمرات ) ميووڅخه يعنى له قسم قسم ميووڅخه ( رزقاً ) روزي يايې داسی معنی وکړه بيايې راايستلی دی په دغوابو سره (من)بعض (الثمرات)دميوو(رزقا)له وجې دروزی درکولو ( لَکُم ) تاسي لره ( فَ ) نو( لا ) مه ( تجعلوا ) ګرځه وئ ـ يعني نو مه ګرځوی تاسي ( للهِ ) خدائ جل جلاله لره ( اندادا ) شريکان ـ يعني په عبادت کي شريکان و خدائ پاک ته مه پيدا کوی ( وَ) حال دادئ ( أنتم ) تاسي ( تعلمون ) ،۲۲، پوهيږی ـ يعني تاسي په دې پوهيږی چي يوازي الله پاک ستاسي رب دئ اوذکرسويوشيانو اودارنګه دهرشي خالق هم تنهاالله پاک دئ ، او لائق د عبادت يوازي هغه ذات دئ چي دغه ذکرسوي صفتونه په ده کښي موجودوي.

پوسه چي وروسته له دې چي الله (جل جلاله) د خپلو مخلصو بندګانوچی متقيان دی ، او د هغو کفارو چي خاتمه يې د الله تعالی په علم کښي پر کفروه چي هغه هغه کافران ووچی الله پاک ددوی پرزړواوپرغوږوباندی مهرونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهلی وه ، او دارنګه دمدینی د منافقانو علیحده علیحده اوځانته ځانته حالات اوصفتونه بیان کړه ، اوس و ټولوته په ګډه اوپه مجموعی ډول سره خپل خدايي فرمان صادره وي او فرمايي:

اې خلګو هر څوک چي یاست عبادت او بندګي وکړۍ درب ستاسي ، یعني د هغه ذات چي ستاسي ترمرګه پوري ستاسي تربیه کونکئ او پالونکئ دئ ، او ستاسي حقیقي مالک دئ.

هغه چي پیداکړي یې یاست تاسي ، یعني په داسي حال کښي چي هيڅ نوم او نښان مو نه وو ، معدوم او نیستي واست، الله پاک د وجود احسان دربانديي وکړ ، په بهترين صورت کښي يې چي انساني صورت دئ و تاسي ته غوږونه ، سترګي ،خوله ، ژبه او د بدن ټول أعضاء چي هر یویې ځانته ځانته عظیم نعمت دئ درکړه ، او نه یواځې دا چي تاسي يې پیداکړي یاست بلکي هغه ټول خلګ چي له تاسي څخه له مخه وو هم دغه ذات جلیل پیداکړیدي.

ددې مقصد لپاره د رب عبادت وکړۍ چي د همدغه عبادت په وجه خپل ځانونه دالله پاک له دنیوي او اُخروي عذابو څخه وساتۍ.

او الله پاک یواځې دغه احسان پر تاسي باندي نه دئ کړئ چي یواځې تاسي يې پیداکړی یاست بلکي هغه رب دئ چي سره له دې يې ستاسي د زندګۍ ټول اسباب ستاسي لپاره پیداکړیدي.

لکه دا چي ګرځولې یې ده دغه مزکه لکه فرش ستاسي د فائدې لپاره ، اودارنګه یې ستاسي د فائدې لپاره ګرزولئ دئ دغه اسمان چي ستاسي و سترګو ته حاضر دئ لکه چت ، او هم يې ستاسي د نفع لپاره نازلي کړیدي له اسمان څخه اوبه ، بیایې را ایستلي دي له مزکي څخه په دغو اوبو سره ځیني له میوو ، له وجي د روزي درکولو تاسي لره

نوکله چي دغه احسانونه ټول الله درسره کړیدي ، او هیڅوک په دې کښي له الله سره شریک نه ؤ ، او نه له الله تعالی څخه پرته بل داسي څوک سته چي ددغو کارو قدرت ورسره وي ، ځکه چي دغه ډول کارونه یواځې هغه ذات کولائ سي چي دده وجود له خپله ذاته وي ، او واجب، ازلي او ابدي وي ، او دغه ذات په خدائ کښي حصر دئ . کله چي داسي ده نو مه مقرره وۍ الله (جل جلاله) لره شریکان په عبادت کښي په دي ډول چي له خدائ څخه پرته د بل چا عبادت هم کوۍ لکه د بتانو ، یاد اور ، یا د ستورو، یا د لمر، یا د انسانانو عبادتونه کوم چي تاسي يې کوۍ ، په داسي حال کښي چي تاسي ټول په دې پوهیږۍ چي خالق ځمکو او د اسمانو ، د ځمکي ، دباران ، درزق اوروزۍ ، او دارنګه د هر څه یوا ځې الله (جل جلاله) دئ.

تفصیل اوعلمي خبري:

)یاایهاالناس(

پوه سه چي ځیني علماء وايي چي د ( یا ) لفظ وضع دئ لپاره د مطلقي نداء عام له دې څخه که ندا دبعید وي اوکه دقریب یعنی که ولری ته ندا وی اوکه ونزدی ته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوځني علماء لکه قاضي بيضاوي رحمه الله وايي چي د (يا) لفظ وضع دئ لپاره د نداء دبعيد ، نو بيادلته داسوال پيداکيږي چي الله (جل جلاله ) خو و خلګو ته أقرب من حبلِ الوَرِيد دئ نوبياپې د بعيد په لفظ سره څرنګه نداء وخلګوته کړې ده ؟

ددی سوال جواب دادئ چي کله کله په کلِمه د ( يا ) سره وقريب ته ندا کيږي په دې وجه چي دغه قريب نازل کړسي په منزله دبعيد . ياپه دې وجه چي دغه منادی يعنی کوم چی ته نداورته کوی دعظيم شان خاوندوي، لکه په دې قول کښي چي ـ ياالله ـ ياربي . اوياپه دي وجه چي په منادي کښي غفلت ، يانقصان دفهم موجودوي ، لکه چي يوڅوک نژدې درته ناست وي خوغافل ياناقص الفهمه وي نوته ورته ووايې يافلان اوياپه دې سبب چي د مَدعُوله کوم چي جواب دمنادی دئ په شان إهتمام کول کيږي اودغه راز نوری وجی هم سته .

دلته دوهمه ، دريمه وجه جاري کيدلای سي.

پوه سه چي منادی په حقيقت کښي د (الناس) لفظ دئ ، اود أيها لفظ چي په منځ کښي درج سوئ دئ ددې لپاره چي جمع د دوو آلو دتعريف سره رانسي چي يا او الف لام دئ ، او د ناس لفظ اسم جمع دئ ، اوجمع يااسم جمع چي مدخول دالف لام وګرځي نو غالباًالف لام پکښي لپاره د عموم اوإستغراق وي لکه دلته.

همدارنګه پو سه چي ديااٍيهاالناس په لفظ کښي له ډيرووجهوڅخه تاکيد راغلئ دئ ، اول له دي وجهي څخه چي نداء کوونکئ اومتکلم په دغه لفظ سره الله جل جلاله دئ ، دوهم له دي وجهي څخه چي په دغه لفظ کښي التفات راغلئ دئ ، دريم له دي وجهي څخه چي په دغه لفظ کښي تفصيل بعدالاجمال موجوددئ ځکه چي د (اَيّ) لفظ مبهم دئ اود( الناس )لفظ يې کوم چی په ترکيب کښي صفت د (اَي) دئ تفصيل دئ د(اَي) لپاره ، اوڅلورم له دي وجهي چي د(هَا) لفظ کوم چي په (اَيُّ) پسي متصل دئ اود(اي) له مضاف اليه څخه يوقسم جبيره هم دئ دتنبيه دپاره دئ.

پوسه چي دلته دځينونورو مهموخبرو ايزده کول ضروردي.

اوله خبرداده چي په دغه ايت کښي التفات راغلئ دئ ، التفات کوم چي دعلم بلاغت له مصطلحاتوڅخه دئ ودي ته ويل کيږي چي نقل له تکلم څخه وخطاب ته يابالعکس، اويانقل له تکلم څخه وغيبوبت ته يابالعکس او يا نقل له خطاب څخه وغيبوبت ته اويا بالعکس وکړسي په دغه ايت کښي له غيبوبت څخه وخطاب ته نقل راغلئ دئ.

التفات په کلام کښي دڅه نکتي لپاره کيږي ؟

پوسه چي التفات يوه عامه نکته لري چي هغه په هرالتفات کښي وجودلري دغه عامه نکته عبارت ده له تازه کولو څخه دشوق دسامع واوريدودکلام ته ځکه يومتکلم چي ويوه سامع ته خبره کوي نوسامع سوکه په سوکه دده دخبري له اوريدلو څخه خسته کيږي نومتکلم دالتفات له لاري دخپل کلام طرزنوئ کړي نوپه دي سبب په اوريدونکي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې هم نوئ شوق دکلام داوریدلو پیداسي اوبل قسم یې خاص نکته ده کومه چې په هرالتفات کښې یې وجودضرورنه دئ ،په دغه مبارک ایت کښې چې کومې خاصې نکتې دالتفات راغلې دي نوهغه په دې ډول دي.

اوله نکته یې داده چې په شان دامر دعبادت کوم چې د (اعبدوا) دلفظ مدلول دئ اهتمام راسي.

دوهمه نکته داده چې اظهار دعظمت دشان دعبادت راسي.

اودریمه نکته داده چې دالله جل جلاله دعبادت د کلفت اودمشقت جبران په لذت سره دخطاب دالله جل جلاله وکړسي.

دوهمه خبره داده چې د(الناس) لفظ په اصل کښې الأُناس یا اناسٌ وو بیایې همزه حذف کړسویدئ اوپراول تقدیر باندې بقاء دحرف تعریف دحذف سوي همزه عوض گرځیدلې ده او پردوهم تقدیرباندې په خپله حرف تعریف عوض ورځخه راغلئ دئ همداسبب دئ چې ددواړو جمع نه رواکیږي یعني داسي نسي ویل کیدلای چې الأُناس.

ددغه لفظ مأخذکوم لفظ دئ ؟

په دې باره کښې اختلاف موجوددئ ځیني وایې چې مأخذیې دنَوس لفظ دئ کوم چې وحرکت کولو ته و یل کیږي اوځني وایې چې مأخذیې اِیناس دئ کوم چې ولیدلوته ویل کیږي اوځني وایې چې مأخذیې نسیان دئ کوم چې وهیرولوته ویل کیږي اوځني وایې چې مأخذیې أُنس دئ کوم چې الفت کولوته ویل کیږي ،اود الناس اودأُناس لفظونه هریو دانسان دلفظ دپاره اسم جمع دئ.

دریمه خبره داده چٍې د (یاایهاالناس) په لفظ سره وخلگوته له الهي لوري څخه په قران کریم کښې (۱۸) اتلس ځایه خطاب راغلئ دئ چې له دې څخه داخبره څرگنده کیږي چې نبوت اورسالت دحضرت محمد صلي الله علیه وسلم وټول بشرته ورعام دئ اوتریوه خاص قومه پورې اختصاص نلري.

څلورمه خبرداده چې د(یاایهالناس) په لفظ سره خطاب عام دئ هغو خلگو ته هم ورشامل دئ کوم چې درسول علیه السلام په زمانه کښې ددغه خطاب په وخت کښې موجودوه اووهغوخلگوته هم ورشامل دئ کوم چې دقیامت ترورځې پورې پیداکیږي په دې وجه چې دخطاب په وخت کښې غیرموجودانسانان دفرض په توگه موجودگڼل سوي دي، دغه تعمیم ته ځکه ضرورت سته چې دشریعت حکمونه دقیامت ترورځې پورې وټولوخلگوته شامل دي

)اعبدواربکم(

یعني عبادت وکړئ اي خلگودرب ستاسي.

دغه جمله جواب دذکرسوي منادي دئ.

پوسه چې دلته هم په یوڅوخبروځان پوکول ضروردي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوله خبرداده چي د(اعبدوا) لفظ له عبادت څخه جوړدئ ، اوعبادت په لغت کښي واخيري درجي دعاجزي کولوته ويل کيږي، اوپه شريعت کښي دعبادت په معني کښي دعلماوو تعبيرونه مختلف راغلي دي خو ټولوتعبيراتولره جامع تعبيردادئ چي عبادت وداسي طاعت اوبندګئ ته ويل کيږي چي په اخيره درجه عاجزي اوخضوع ورسره وي او موافق له هغه سره وي کوم چي انسان مثلا په مکلف کړسويدئ سره له دي چي دغه عبادت کونکئ به عقيده لري پرالوهيت اوپرلياقت والي دعبادت باندي دهغه چا کوم چي دَيْ يې عبادت کوي.

دوهمه خبره داده چي عبادت په خپل ذات کښي ډيرقسمونه لري مثلا عبادت قلبي ،عبادت بدني ، عبادت مالي ، عبادت قلبي لکه له خداي اوله رسول سره محبت،اوله الله څخه ويره اواخلاص اوتوکل اولکه ايمان ، اوعبادت بدني لکه لمونځ ، حج ، روژه ، اوعبادت مالي لکه زکات ورکول، اوصدقة الفطر، وغيره.

دريمه خبره داده چي واطاعت اووفرمانبرداري ته درسول يادامیريادموراوپلار يادکوم بل حقدار لکه استاذ عبادت نه ويل کيږي ځکه چي عبادت يوازي دهغي خاصي فرمانبرداريْ نوم دئ کومه چي الله جل جلاله لره وي اودارنګه په عبادت کښي غاية التذلل والخضوع شرط ده اوپه مذکوره اطاعت کښي غاية الخضوع وجودنلرياوبله داوجه هم ده چي په عبادت کښي اعتقادپرالوهيت دمعبودمعتبردئ.

څلورمه خبره داده چي يوعبادت دئ يوقربت دئ،اوبل طاعت دئ، په عبادت کښي نيت هم ضروردئ اودمن يتقرب اليه يعني دمعبود معرفت اوپيژندنه هم ضرور ده ، او په قربت کښي نيت ضرورنه دئ البته معرفت دمن يتقرب اليه ضروردئ اوپه طاعت کښي نه نيت ضروردئ اونه معرفت دمن يتقرب اليه دمثال په ډول دقرانکريم تلاوت قربت بلل کيږي ځکه چي نيت پکښي ضرور نه دئ اوپيژندنه دهغه چاچي دَ يْ په دغه تلاوت سره وهغه ته نزديکت حاصلوي چي هغه الله جل جلاله دئ ضرور دئ اودارنګه يوکافر چي دالله جل جلاله له وجود څخه منکروي اوبياپه سوچ اوپه فکر اوپه نظرسره چي په کائناتو کښي يې وکړي دالله جل جلاله معرفت حاصل کړي نوودغه نظرته دده طاعت ويل کيږي اوقربت اوعبادت نه ورته ويل کيږي ځکه چي ودغه کافر ته ددغه نظرکولوپه وخت کښي نه دالله جل جلاله معرفت حاصل وو اونه نيت ځکه چي که کافر ديوه طاعت نيت وهم کړي خوشرعاً يې دغه نيت معتبر ندئ.

پنځمه خبرداده چي په دغه امرکښي چي داعبدوا په لفظ سره سويدئ له کافرانوڅخه ايجاددعبادت مطلوب دئ سره له ايجاده دشرط دعباته چي ايمان دئ ، او له هغومومنا نو څخه چي مخلص مومنان وي دوام پرعبادت باندي مطلوب دئ اوله منافقينوڅخه اخلاص په عبادت کښي مطلوب دئ اوله مشرکانوکافرانوڅخه بي شرکه عبادت کول مطلوب دي.

شپږمه خبر داده چي (رب)يادصفت مشبه صيغه ده خوپه معني داسم فاعل يعني دمربي دئ اويامصدردئ په معني دتربيې دئ اوحمل يې پرالله باندي دمبالغي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حيث دئ اودځينوعلماوو په قول داسم فاعل صيغه ده چي په اصل کښي رابِب وو اوتربيه په لغت کښي دامام راغب په قول وانشاء الشئ حالاً فحالاً الي حدالتمام، ته ويل کيږي، او دقاضي بيضاوي په قول وتبليغ الشئ في کماله شيئا فشيئا، ته ويل کيږي پوسه چي درب لفظ په عربي لغت کښي په ډيرو معناووراغلئ دئ دتفسير قرطبي اودقاموس اودلسان العرب وغيره دبيان مطابق درب دلفظ معني ګاني په دي شرحه دي ، مالک ، سيد ، حاکم ، انتظام کونکئ ، اصلاح کونکئ ، جمعه کونکئ ، پالنه کونکئ.

همدارنګه پوسه چي د(ربکم) په لفظ کښي سره له ماقبله دده تعليق الشئ

بما يشعربالعلية راغلئ دئ ځکه چي داقاعده ده چي په کلام کښي له يوشي څخه په مشتقي سره تعبير وسي اوياپه مشتقي سره موصوف سي اودغه شي ته يوحکم ثابت سي نوعلت دثبوت ددغه حکم به مصدر ددغه مشتقي وي نو دلته به مطلب داراووځي چي ګواکي الله پاک داسي فرمايلي دي، چي ماچي تاسي ته په دي سره امروکړ چي زماعبادت وکړئ نو داله دي وجهي څخه چي زه ستاسي تربيه کونکئ اوپالونکئ يم.

)الذي خلقکم(

پوسه چي داد(ربکم) لپاره صفت موضحه دی. کوم چی وموصوف ته توضيح ورکوی اوخفااوپوشيده ګی ورڅخه لري کوی ياکاشفه دئ کوم چی دموصوف مفهوم اومعنی پکښی بيان سوی وی لکه په دی مثال کښی الجسم الطويل العريض العميق اوياصفت مخصصه اومقيده دئ کوم چی وموصوف ته تخصيص اوتقييد وربخښی دمثال په ډول چی ته داسی ووايې چی (رجل عالم )نوپه دغه قول کښی درجل لفظ وعالم او وغيرعالم ودواړوته ورشامل وونوکله چی دعالم لفظ يې صفت وګرځيدی نوغيرعالم ورڅخه ووتی اوپه عالم پوری خاص کړسو خوداپرهغه تقدير مخصصه صفت دی چی بنا پرزعم دمشرکانوپي واخلی ځکه چي دوی بتان هم دخپلوځانو ارباب بلل.

)فراشاً(

پوسه چي په لفظ د(فراشا) او(بناءً) کښي تشبيه بليغه راغلي ده اصل دعبارت په دي ډول دئ ( کفراش او کبناء) پوسه چي وادعاء ته داتحاد په منځ کښي دمشبه اودمشبه به تشبيه بليغه ويله کيږي اوتشبيه بليغه مختلف صورتونه لري اول صورت يې دادئ چي مشبه به خبروګرځول سي دمشبه دپاره لکه په دي قول کښی زيداسد.

دوهم صورت يی دادئ چي مشبه به دهغه فعل دوهم مفعول وګرځي کوم چي دوهم مفعول يې پراول مفعول باندي محمول وي لکه دجعل فعل چی مثال يې دادی (جعل الله زيداً اسداً) ، دريم صورت يې دادئ چي مشبه به حال سي له مشبه څخه لکه په دي قول کښي جاءزيدٌ اسداً .

اوڅلورم صورت يې دادئ چي مشبه به صفت سي دمشبه دپاره لکه جاءزيد الاسد،پنځم صورت يې دادئ چي مشبه به په اضافت بياني سره ومشبه ته مضاف سي ، لکه په دغه مشهورمثال کښي چي ، لجين الماء .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوسه چي په قران کريم کښي امر په عبادت سره يوکم ديرش ځايه راغلئ دئ

اوهمدارنگه پوسه چي له حضرت ابن عباس او علقمه اوله حضرت حسن رضي الله عنهم څخه روايت دئ چي د کوم آيت په سرکښي چي د (ياأيهاالناس) لفظ راغلئ وي نوهغه مکي دئ ، اوچي ( يا أيهاالذين آمنوا) يې په سرکښي راغلئ وي نوهغه مَدَني دئ ، خوځينوعلماوو لکه بيضاوي (رحمه الله ) دغه روايت صحيح نه دئ بللئ په دې وجه چي سورة بقره مدني دئ او سره له دې چي په دغه مذکورآيت کښي د ياأيهاالناس لفظ راغلئ دئ.

اوځني علماء بياداسي فرمايي : چي دغه حکم أغلَبي دئ نه کلي . (تتقون) دغه لفظ صيغه دجمع مذکري مخاطبي ده اوله تقوى څخه جوړدی کوم چي په لغت کښي وسختي ساتني ته ويل کيږی او په معنى دوقاية يعنى ذريعه دنجات اودساتنی هم راځی اوپه شر يعت کښی خوراډيری معناگانی لری چی دمخه ئی تفصيل تيرسويدی او دلته په لغوی معنی مراددی،(جَعل لکم الارض فراشاً) پوسه چي که دجعل لفظ په معنی دصيرّسی نودفراشالفظ يې دوهم مفعول دی اوکه په معني دخَلق سي نوبيا دفراشاً لفظ حال دی دالارض له لفظ څخه اوپه لام جاره کښي کوم چي دلکم په لفظ کښي دی ودي ته اشاره ده چي دغه ذکرسوي کارونه ټول الله جل جلاله اي انسانانوستاسي دنفعي اوفايدې دپاره کړيدی ځکه چي لام جاره دپاره دانتفاع دی(بناءً) دامصدردی په معني داسم مفعول يعني په معنی دمبني دی کوم چی وداسی جوړ کړ سوی شی ته ويل کيږی چی دخونی اويا دخيمی په ډول وی دلته په معنی دبام اودچت دی(من الثمرات) پوسه چي کلمه دمِن دلته ياحرف جردی‌او دپاره دتبعيض دی اوياأسمي ده مؤله ده په بعض سره (رزقالکم) درزقاًلفظ دلته يامفعول له دی‌که کلمه دمن اسميه سی اويامفعول به دی يعني داخرج دپاره که کلمه دمن حرفيه سی(انداداً) داجمع دنِد دی اوندپه اصل کښي وهغه مساوی اومثل دشي ته ويل کيږی کوم چي له ده سره مخالف وی دلته په معنی دشريک دی

تمت.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د البقري د سورت د۲۳، او ۲۴، مبارکو اياتو تفسير او علمي تحقيق

## تفسير فضل الرحيم (۷) برخه ،

---------------------------------------------------------------

پوسه چی کله چي الله (جل جلاله) په ذکرسويو اياتوکښي وبندګانوته أمرپه عبادت خپل وکړ ، او له شرک څخه يې منع کړل او د خپل وحدانيت دپيژندني طريقه يې ورته بيان کړه نو اوس په دغوراتلونکيواياتوکښي الله (جل مجده) دقرآن دحق والي د پيژندني اودارنګه دنبي کريم صلی الله عليه وسلم دنبوت دمعرفت طريقه بيانه وی ،ځکه چي عبادت د الله تعالی بې له معرفت څخه دنبي عليه السلام اودقران کريم اوبي له تعليم څخه دنبي کريم اوبي له عمل څخه په قران کريم نسي کيدلای .

لفظي ترجمه :

( وَ ) او ( إن ) که چيري ( کُنتُم ) ياست تاسي يعنی ای دمکی کفارو( في ) په ( رَيبٍ ) شک کښي ( مِمَّا ) له وجي دهغه ،،يعني له وجی دهغه قرآنه( نزّل) چي ټوټه ټوټه نازل کړئ دئ ( نَا ) موږ يعنی هغه قران ( علی ) پر ( عَبدِ ) بنده ( نَا ) څموږ ، يعنی چي هغه بنده حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم ) دئ ( فأتُوا)نوراتګ وکړی ( بِ ) په ( سورةٍ ) يوه کوتاه سورت ( مِن ) له ( مِثلِ ) مثل څخه ( هِ ) دده ، يعني دقرآن ( وَ ) او(ادعوا) دروبولی ( شُهدآءَ ) مددګاران( کُم) ستاسي مِن له( دُونِ ) غيره( اللهِ) دخدایٔ (جل جلاله)( إن ) که چيري( کُن) ياست ( تُم ) تاسي( صادِقين )23 رشتياوېونکي ، يعني په دې خبره ستاسي کښي اې کافرانو چي دغه قرآن دخدایٔ له طرفه نه دئ نازل سوی.

يعني اې مشرکانوکافرانو که دغه خبره په زړو کښي درګرځي چي دا قرآن به محمد (صلی الله عليه وسلم) له خپله ځانه جوړکړئ وي ، اوپه دې کښي شکمن ياست چي دا قرآن همدا موږ پر خپل بنده محمد (صلی الله عليه وسلم) باندي نازل کړئ دئ نو ددې شک د ليري کولو لپاره اوددې خبري د يقيني پيژندني لپاره چي دغه قرآن الله (جل جلاله) نازل کړئ دئ دغه اسانه لارده چي تاسي خپل ټول کوښښ په کار واچوئ اوخپل مددګاران چي ستاسي بتان دي هم درونګه وی په دې باب چي ددغه قران په مثل يو کوتاه سورت جوړ کړئ . ځکه که دغه قرآن محمد (صلی الله عليه وسلم) له ځانه جوړ کړی وي نوبيا خو تاسي هم دابيخي کولای سی چي دقران دسورتوپه مثل يوسوت جوړکړئ ځکه چي تاسي خوهم فصحاءاوبلغاء عرب ياست ، نوکه ستاسي دغه شک پر ځایٔ وي ، اوتاسي صادقان ياست په دې خبره کښي چي داقرآن محمد (صلی الله عليه وسلم) له ځانه جوړ کړئ دئ نو ضرور بايد دغه کار وکړی يعني ددغه قرآن ديوه کوتاه سورت په ډول تاسي هم يوکوتاه سورت جوړ کړئ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفصيل اوعلـــــــمي خبري:

)وان كنتم(

يعني اوكه چيري ياست تاسي په شک کښي.

پوسه چي د (ان) دکلمي اود(ريب) دکلمي په ارتباط دلته دوه سوالونه کيږي ، اول سوال دادئ چي د(ان )کلمه خودشک په مقام کښي راوړله کيږي، اودامقام خو مقام دشک نه دئ ځکه چي دکافرانوانکارخوله حق والي څخه دقران کريم په يقيني ډول متحقق اوثابت ؤنولهذا بايد د(ان( د کلمي پرځای باندي د(اذا)لفظ راوړل سوئ وائ ، ددي سوال يوجواب دادئ چي دان دکلمي په راوړلوکښي الله پاک دکافرانو وغټ حماقت اوجهالت ته اشاره فرمايلي ده په دي ډول چي ددغه قران کريم حقيت اوداچي دي دالله پاک له طرفه نازل سوئ دئ دده داعلي درجي فصاحت اوبلاغت په اعتباراودارنګه دده د مضامينوپه اعتباراودحقونښانواودلائلوپه لحاظ داسي واضح دئ چي انکار ورڅخه اودارنګه شک کول په ده کښي دډيرسخت جهالت اويادډيرسخت تعصب اوعناد ثمره ده، البته که په مشکوک اومترددډول ويوچاته شک اوريب ديوعذرپه وجه په قران کريم کښي پيداسي نودده ددغه مشکوک شک دليري کولو لپاره يوه لارداده کومه چي په دغه ايت کښي بيان سويده، دوهم سوال دادئ چي د ( في ريب ) دلفظ په بدل کښي بايد ( في انکار ) فرمايل سويوای ځکه چي موږمخکښي داخبره ذکرکړه چي کافران په قرانکريم کښي شکمن نه وو بلکي ورڅخه منکروه ددغه سوال جواب دمخکني سوال له جواب څخه فهميدلای سي.

)ممانزلنا علي عبدنا (

يعني له وجهي دهغه چي نازل کړئ دئ ټوټه ټوټه موږپر بند ه زموږباندي (چي محمد صلي الله عليه وسلم دئ ) دلته په يوڅوخبروڅان پوه کول پکاردي.

اوله خبره داده چي د(مما)لفظ په اصل کښي( من ما) ؤ ، دمن کلمه دلته اجليه ياپه بل عبارت تعليليه ده ، اودماکلمه موصوله ده اودنزلنا جمله يې صلة ده، اوعائد يې له صلي څخه حذف سوئ دئ چي تقديريې په دي ډول دئ نزلناه .

دوهمه خبره داده چي دنزلنا لفظ له تنزيل څخه جوړدئ، تنزيل اوانزال دځينوعلماؤپه قول په يوه معني دي چي ومطلق نازلولوته ديوشي ويل کيږي ، اوځيني علماؤددوی په منځ کښي په دي ډول فرق ثابت کړئ دئ چي تنزيل و داسي نازلولو ته ديوشي ويل کيږي چي په لږلږ اوپه ټوټه ټوټه سره وي ، اوانزال وداسي نازلولوته ديوشي ويل کيږي چي په يوه وار سره وي ،دقران کريم په نزول کښي دغه دواړه قسمه نازلول موجوددي ځکه چي قران کريم له لوح محفوظ څخه وبيت العزت ته کوم چي په اول اسمان کښي دکعبي شريفي پربرابري باندي ديوي بيت الله نوم دئ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



درمضان مبارک په میاشت کښي دلیلة القدر په شپه کښي په یوه کرت نازل کړسوئ دئ اوله بیت العزة څخه پرحضرت محمد صلي الله علیه وسلم باندي ددرویشتوکلوپه موده کښي لړلړاوټوټه ټوټه نازل سوئ دئ.

سوال : دنزلنا لفظ دانزلنا پرلفظ باندي په څه وجه دلته غوره کړسوئ دئ.

جواب:مفسرینو ددي داوجه ذکرکړیده چي کافرانوبه ددوی ددي خبري داثبات دپاره چي قران دخداي پاک کلام نه دئ یودلیل داوایه چي که داقران دخداي پاک کتاب وای نوبایدمکمل په یوه کرت نازل سوئ وای لکه نوراسماني کتاونه چي په یوه کرت نازل سویدي نوله کومي وجهي چي دوی شک اوانکار کاوه هغه تنزیل دقران کریم ؤ نه انزال ، اوزما په فکرددي یوه بله په زړه پوري وجه سته هغه داچئ دتفعیل باب دتکثیردپاره هم راځي نوځرنګه چي دقران کریم په نزول کښي هم کثرت راغلئ دئ ځکه چي یونزول یې دبلاکیف ذات دالله جل جلاله له طرفه ولوح محفوظ ته ؤ آوبل نزول یې له لوح محفوظ څخه وبیت العزت ته وو اوبل نزول یې له بیت العزت څخه پرنبي علیه السلام ؤ ، اوبیادغه اخیري نزول هم له دوولارو څخه ډیرواقع سوئ دئ ، اول له دي لاري چي درمضان مبارک په میاشت کښي به هره شپه دمکمل قران کریم تکرارحضرت جبریل علیه السلام له نبي علیه السلام سره کاوو ،اودوهم له دي لاري څخه چي دقران کریم نزول دده داجزاوو په اعتبار ډیردئ ځکه چي په ټوټه ټوټه سره نازل سوئ دئ .

اودنزلنا فعل دمتکلم مع الغیرپه صیغه سره دتعظیم په وجه ویل سوئ دئ ځکه چي فاعل یې الله جل جلاله دئ چي واحد دئ اودلوی عظمت والا ذات دئ.

دریمه خبره داده چي له حضرت محمدصلي الله علیه وسلم څخه الله جل جلاله دعبدپه لفظ سره تعبیرکړئ دئ.

اودرسول یادنبي په لفظ ، اویا دمحمد صلي الله علیه وسلم وغیره په نومویې تعبیرنه دي ورڅخه کړئ له مختلفو وجهو څخه ،اوله وجه داده چي په دغه تعبیرکښي اشاره ده ودي ته چي وکوم شي ته چي حضرت محمدصلي الله علیه وسلم خلګ رابولي چي هغه عبادت دالله جل جلاله دئ هغه شي داسي شي دئ چي په اول قدم کښي ده په خپله عملي کړیدئ.

دوهمه وجه داده چي په دي کښي اشاره ده ودي ته چي هرڅوک چي دالله پاک ودین ته یوڅوک رابولي نو اول پخپله بایددخداي تعالي ددین تابعداري په ځان کښي راولي.

دریمه وجه داده چي عبدیت دنبي دنوروکمالاتو موقوف علیه دئ.

څلورمه وجه داده چي عبدیت درسالت اودنبوت ترصفتوپه نبي کښي اشرف صفت دئ ځکه چي دعبدیت په صفت کښي نبي له مخلوق څخه وخالق ته متوجه وي، اودنبوت اودرسالت په صفت کښي له خالق څخه ومخلوق ته متوجه کیږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځمه وجه داده چي په دغه تعبيرکښي الله پاک بندګان ودي ته متوجه کړي دي چي ددغه نبي په شان کښي لکه چي تفريط حرام دئ کوم چي کافران يې کوي دغه راز بايد دده په شان کښي هغسي افراط هم ونکړسي کوم چي يهودواونصاري وودحضرت عيسي عليه السلام يا دحضرت عزير عليه السلام په شان کښي کړئ دئ.

اواضافت دعبد وضميرته د(نا) لپاره دفائده کولو دتعظيم دمضاف دئ اود(نا) لفظ چي دجمع دمتکلم ضميردئ.

اوپه ځای کښي دضميردواحدمتکلم فرمايل سوئ دئ لپاره ده اظهاردعظمت دمتکلم دئ چي الله پاک دئ.

پوسه چي په يوه قرائت کښي دعبدنا په بدل کښي عبادنا دجمع په لفظ سره راغلئ دئ پردغه تقديربه مرادورڅخه نبي عليه السلام اوامت دده دواړه سي.

)من مثله (

پوسه چي دمِن په کلمه کښي پنځه احتماله دي اول داچي تبعيضيه سي دوهم دا چي بيانيه سي ،دريم داچي زائده سي ، البته بناپرقول داخفش ځکه چي دي دا جائزبولي چي دمِن کلمه په مثبت کلام کښي زائده راسي ، لکه چي په منفي کلام کښي په اتفاق زائده راتللای سي پردغودروسرو تقديروباندي د ( مثله ) ضميرو ( مانزلنا) ته راجع دئ اوتقديردکلام دلف اونشرمرتب په طريقه په دي ډول کيږي (بسورةٍ كائنةٍ من جملة مثل مانزلنا، يا بصورة عبارة من مثل مانزلنا، يا بصورة مماثلة لما نزلنا ، څلورم احتمال دادئ چي کلمه دمِن ابتدائيه سي هغه ابتدائيه چي مدخول يې منشأدماقبل وي نه هغه ابتدائيه چي په ابتداء الغاية سره شهرت لري ، پردغه تقديربه ضميردمثله ضميرو ( عبدنا) ته راجع کرکيږي اوتقديردکلام به په دي ډول سي ( بصورة ناشئة من مثل عبدنا ) ، اوپنځم احتمال دادئ چي کلمه دمِن صلة اوظرف لغوه سي دپاره د(فأتوا) پردغه تقديربه هم د مثله ضمير وعبدنا ته راجع بلل کيږي مګر ارجاع دضميردمثله وما نزلنا ته له ډيرووجهو څخه ارجح دئ اول له دي وجهي څخه چي موافق دي له نورواياتو دتحدي سره خاص بيا له هغه ايت سره چي په عين شکل په سورت يونس کښي راغلئ دئ ، اوضميردمثله پکښي په يقيني ډول وقران ته راجع دئ ځکه چي دعبدنا لفظ هلته مقدم نه دئ ذکر سوئ، دوهم له دي وجهي چي دلته خبره اوبحث په منزَّل کښي دئ نه په منزل عليه کښي دريم له دي وجهي چي پردغه تقدير چي دغه ضميرومانزلناته راجع سي نودغه کلام په تحدي کښي ابلغ ګرځي تردي چي وعبدته راجع سي لکه چي په ادني تأمل سره داخبره فهميږي ، څلورم له دي وجهي چي قران کريم خو في نفسه معجزدئ اوپه نسبت وټولو جنيانواوانسانانوته معجِزدئ نه يوازي په نسبت ونبي عليه السلام اوومثل دده ته ، پنځم له دي وجهي چي له رجوع څخه دضميردمثله وعبدنا ته ددي خبري توهم کيږي چي دقران کريم په يوه کوتاه سورت هغه څوک راتګ نسي کولای کوم چي دنبي عليه السلام په ډول بي تعلمه اوامي رالوی سوئ وي ، اوکوم څوک چي تعليم يافته وي نوهغه کولای سي چي دقران کريم په مثل يوسورت جوړکړي ،شپږم له دي وجهي چي له رجوع سره دمذکور ضمير وعبدنا ته دغه قول دخداي پاک هم مناسب نه دئ چي وادعوا شهداءکم فتأمل .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)وادعواشهداءکم(

پوسه چي دغه حکم الله جل جلاله وکفاروته په دي خاطرکړئ دئ چي میدان اودائره دمقابلي ودوی ته پراخه سي چي بیاپه مقابله کښي دوی لره دمغلوبیت په صورت کښي بل هیڅ صحیح عذراو وجه پاته نسي پرته له دي چي یابه دحق تابعداري کوي اوتعصب اوعناد به شاته غورځوي اودابه مني چي بیشکه قران کریم دالله جل جلاله کتاب دئ ، اویاکه تعصب اوعناد پري نږدي نوبه په یوه باطله بهانه پسي لاسونه نیسي ،لکه چي همدغه ډول پیښه هم سوه چي کله دوی‌عاجزه سول نوپه دي بهانه پسي یې لاسونه ونیول چي په موږ محمدصلي الله علیه وسلم سحراوجادو وکړ یعني نوځکه موږپه دغه مقابله کښي عاجزه سوو.

همدارنگه پوسه چي ددعا ماده په قران کریم کښي (۲۱۱) دوه سوه اویوولس ځایه راغلي ده او په مختلفو معني گانوکښي مستعمله سویده.

۱ ـــ حاجت غوښتل لکه دسورت اعراف په (۵۵) پنځه پنځوستم اودسورت مومن (٦۰) په شپیتم ایت کښي.

۲ـــ په معني دنداء کولو، لکه دسورت بقري په (۲٦۰)دوه سوه شپیتم ایت کښي.

۳ـــ په معني دتبلیغ کولو ، لکه دسورت حم سجدة په (۳۳) دروديرشم ایت کښي .

۴ـ په معني ددعوت دشر، لکه دسورت یوسف په (۳۳)دروديرشم ایت کښي .

۵ـ په معني د فریادکولو، لکه دسورت اعراف په (۵) پنځم ایت کښي .

٦ـ په معني دعبادت اودطاعت کولو، لکه د سورت نساء په (۱۱۷)یوسل اوولسم ایت کښي.

۷ـ په معني درابللوولوډوډئ ته، لکه دسورت احزاب په (۵۳)دروپنځوستم ایت کښي.

د(شهداء) لفظ جمع دشهیددئ کوم چي دشهادت له لفظ څخه مشتق دئ.

پوسه چي ماده دشهادت په قران کریم کښي په ډیرو معني گانوکښي مستعمله سویده

۱ـ په معني دلیدلو اودحاضریدلو، لکه دسورت بقري په (۱۸۵)یوسل پنځه اتیایم ایت کښي .

۲ـ په معني دفیصلي کولودالله جل جلاله، لکه دسورت ال عمران په (۱۸)اتلسم ایت کښي.

۳ـ په معني دحکم کولو، لکه دسورت یوسف په (۲٦)شپږویشتم ایت کښي.

۴ـ په معني دشاهدي اداکولوداندامودانسان پرانسان باندي په ورځ کښي دقیامت، لکه دحم سجده په (۲۰)شلم ایت کښي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵ــ په معني داقرارکولو، لکه دسورت انعام په (۱۳۰)یوسلودیرشم ایت کښي.

٦ــ په معني ده شاهدي ویلوپرصدق درسول علیه السلام لکه دال عمران په (٨٦)شپږاتیایم ایت کښي.

۷ــ په معني دگواهي اداکولو دقاضي په حضورکښي، لکه دسورت نساءپه(۱۵)پنځلسم ایت کښي.

۸ــ په معني دعلم، لکه دسورت بقري په(۸۴) څلوراتیایم ایت کښي.

۹ــ په معني دخبرورکولو، لکه دسورت توبي په(۱۰۷) یوسل اواوم ایت کښي.

۱۰ــ په معني دشهادت دملائکو په دنیا کښي، لکه دسورت نساء په(١٦٦) یوسل شپږشپتم ایت کښي

۱۱ــ په معني دقسم کولو،لکه دسورت بقري په (۲۰۴)دوه سوه څلورم ایت کښي

۱۲ــ په معني دتائید کولو، لکه دسور هودپه (۱۷)اولسم ایت کښي.

۱۳ــ په معني دبیانولودتوحیددخداي پاک، لکه دسورت احزاب په(۴۵)پنځه څلویشتم ایت کښي.

۱۴ــ په معني دتوجه اودحضوردزړه، لکه دسورت ق په (۳۷) اودیرشم ایت کښي.

۱۵ــ په معني دشهادت دنبي علیه السلام اودامت دده پرنوروامتیانوباندي په ورځ کښي دقیامت، لکه دسورت بقري په(۱۴۳) یوسل دروڅلویښتم ایت کښي.

١٦ــ په معني دوصیت کولو، لکه دمائده دسورت په (١٠٦)یوسل او شپږم ایت کښي.

۱۷ــ په معني دشهیدکیدلوپه لارکښي دالله جل جلاله .لکه دال عمران دسورت په(۱۴۰)یوسل اوڅلویښتم ایت کښي .

۱۸ـــ په معني دحاضروشیانو، لکه دسور انعام په(۷۳)دراواویایم ایت کښي.

۱۹ـــ په معني دکلمودشهادت دوحدانیت دالله جل جلاله اودرسالت دنبي علیه السلام، لکه دمعارج دسورت په (۳۳) درودیرشم ایت کښي.

۲۰ـــ په معني دمدت کولو، لکه دلته چي د(شهداءکم) دلفظ معني په مددگارانو وکړه سي.

له شهداءکم څخه دلته مرادڅوک دي؟

قاضي بیضاوي رحمه الله تعالي له دغه لفظ څخه دلته دمتعددومعني گانودهري يوي اراده کول صحیح گڼلئ دئ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ــ داچي په معني دحاضرينوسي، يعني اودروبولئ حاضرين ستاسي.

۲ـــدوهم داچي په معني مددگارانوسي، يعني اودروبولئ مددگاران ستاسي له انسانانو،اوله پيرانانو، اوله باطلومعبودانوستاسي.

۳ــ داچي په معني دگواهانوسي، يعني اوراوغواړئ گواهان ستاسي چي بياپردي باندي ستاسي دپاره گواهي ورکړي چي بيشکه کوم کلام چي تاسي په مقابله کښي دقران کريم جوړکړ نوهغه په مثل دقرانکريم دئ.

۴ــ داچي په معني دمعبودانواودبتانوددوی سي.

)من دون الله(

پوسه چي د دون لفظ په اصل کښي وتحت اووکښته ته ويل کيږي، اوپه قران کريم کښي په ډيرومعني وو راغلئ دئ، لکه له يوشي څخه تجاوز کول، اولکه ادني، اولکه قريب ، اولکه غيراوسوي ، دلته په معني دغيراوسوي دئ، يعني من غيرالله وسواه.

)ان کنتم صادقين(

يعني که چيري ياست تاسي اي کافرانو صادقان (په دي کښي چي دغه قران دخداي کلام نه دئ بلکي محمد صلي الله عليه وسلم له خپل ځان څخه جوړکړئ دئ )

پوسه چي جزاءددغه شرط محذوفه ده ځکه چي ماقبل کلام دلالت باندي کوي اودصادقين متعلق هم محذوف دئ، اوتقديردکلام په دي ډول دئ( ان کنتم صادقين في قولکم اِن القران من کلام البشروليس من عندالله فأتوابسورة من مثله وادعوا شهداءکم من دون الله )

همدارنگه پوسه چي دصادقين لفظ له صدق څخه جوړدئ، اوصدق په علمي تعبيردجمهوروپه قول مطابقت دخبري دئ له واقع سره عام له دي څخه که دغه خبره ددغي خبري دمتکلم له عقيدي سره مطابقه وي اوکه نه وي، اودنَظام معتزلي په نزد صدق دخبرمطابقت دخبردئ دمتکلم له اعتقادسره عام له دي څخه چي له واقع سره مطابقت لري اويايې نلري، اودجاحظ په نزد صدق دخبرمطابقت دخبردئ له واقع اوله اعتقاده دمتکلم له دواړوسره، په قران کريم کښي دصدق لفظ په ځيني ځايو کښي مقابل دکذب راغلئ دئ، اوپه ځيني ځايوکښي په معني دصواب اوحق راغلئ دئ کوم چي مقابل دخطادئ اوپه ځيني ځايو کښي په معني دوفاکولوراغلئ دئ ، وهکذا

پوسه چي کوم اياتونه دتحدي په باره کښي په قران کريم کښي راغلي دي هغه په دي شرحه دي.

۱ــ دادئ (فأتوا بکتاب من عندالله هواهدي )

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ــ دادئ( قل لئن اجتمعت الانس و الجن علي يأتوابمثل هذالقران لايأتون بمثله ولوكان بعضهم لبعضهم ظهيراً )

۳ــ دادئ( فأتوابعشرسور مثله مفتريات).

۴ــ دادئ (فأتوابسورة من مثله) ،ددغو مباركوایاتوپه ارتباط یوبل ضروری تفصیل، پوسه چي دهرنبي په زمانه کښي چي به دخلګو په منځ کښي کوم شی ډیرغالب ؤ اودوی به په هغه شي کښي یودبله مقابله سره کوله نو دهغه نبي مهمه معجزه به هم په ظاهره له جنس څخه دهغه شي وه دمثال په ډول دحضرت موسی علیه السلام په زمانه کښي سحراوجادو ډیرؤ چي خلګوبه دسحراودجادو په ذریعه ډیرنادر اوخارق العادته کارونه ښکاره کول نوالله پاک دحضرت موسی علیه السلام اکثره معجزې هم په ظاهره شکل کښي وهمدغه خارق العادته کاروته ورته دموسي علیه السلام په لاس سره وخلګوته ښکاره کړې لکه یدبیضا یعني داچي ده مبارک به خپل لاس په بغل کښي داخل کړاوبیابې بیرته رالری کړ نوداډول تک سپین اوله نورڅخه ډک به وګرځیدی چي دنمرنور اوروښني ورته عاجزه وه اولکه عصادده چي پرځمکه باندی بې وغورځوله نوژوندی ماربه ورڅخه جوړسواولکه داچي دریاب یې په لکړه وواهه نودؤولس کوڅي اولاری پکښی جوړی سوی اویالکه داچي ډبره بې په لکړه ووهله نودؤولس چینی به ورڅخه راووتلي اودارنګه دحضرت عیسی علیه السلام په وخت کښی طبابت ډیرووئوپه دی سبب دده ډیری غټی معجزی هم دطب له جنسه څخه وې لکه دمور زاده ړانده اودارنګه دپیس دمرض والامعالجه کول اویادمړیوراژوندی کول اوداسلام دپیغمبر په زمانه کښی دفصاحت اودبلاغت اودشعر اودنظم اودنثرمقابله غالبه وه نوپه دی وجه داسلام دپیغمبرپه معجزوکښی ترټولومهمه معجزه له همدغه جنسه څخه وه چی قران کریم دی، دقران کریم داعجاز وجی ،اوله وجه داعجازدقران کریم داده چی په باب د ا یجازاود اطالت کښی په اعلی درجه دبلاغت اودفصاحت کښی قرارلری یوه قصه ئی په یوه ځای کښی په مفصلوالفاظوسره بیان کړی وی اوپه بل ځای کښی ئی بیا همدغه قصه په ډیرو کوتاه الفاظوسره بیان کړ ئی وی اوسره له دی چی مقصودپه دواړوصورتوکښی یوډول اداکړ سوی وی دوهمه وجه دایجازدقران کریم داده چی دده اسلوب اوترز دعربودکلام له اسالیبوسره اودارنګه ددوی داشعاروله وزنو سره کامل مفارقت اوپرې کړون لری دهم دغو دوو وجوپه سبب به عربواودمکی کفارو په خپلومجلسوکښی دقران کریم پرفضیلت باندی اقرارکاوه اوپه دی باره کښی بی دخپل تحیر اوتعجب اوعجزاظهارکاوه اودابې ویل چی قسم په خدای دی، چی دغه قران لره ډیرغټ حلاوت اوخوږ والی ثابت دی، دریمه وجه داعجازدقران کریم داده چی په ده کښی دتیروامتواودارنګه ددوی دانبیااوسیرتونه په واقعی ډول بیان سویدي سره له دې چی دغه قران دداسی چاپه ژبه وخلګوته ویل کیده چی هغه نه هیڅ ډول تعلم کړیوواونه له یوه معلم سره ده هستوګه کړیوه اوڅلرمه وجه داعجاز دقران کریم داوه چی په قران کښی ډیرآیاتونه په داسی ډول دی چی په هغوی کښی له مستقبلو شیانوڅخه اخبارسویدی، اوبیا په همهغه ډول هغه شیان واقع سویدی اوځنی ئی له دی څخه ووسته واقع کیدونکی دی دمثال په ډول الله پاک په قرآن کښی فرمایلی دی چی ورته ووایه یعنی ای رسوله وخلګوته چي خامخا که سره راټول سی انسانان اوپیریان پر دی با ندی چی دوی راتګ وکړی په مثل ددی قران نودغه راتګ به ونسی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړای که څه هم ځنی ددوی ځنونورولره پشتی اومددګار سی ا وبیاخبره،همهغسی سوه څکه چی تراوسه پوری سره له سخته عداوته دکفاروله قرآن اواسلام سره دقرآن پاک ددی اخبارخلاف کارنسورامنځ ته دارنګه لکه دمخه چی ئی بیان وسوالله پاک په قرآن پاک کښی دمکی وکفاروته فرمایلی دی چی که چیرته تاسی په دی کښی شک لری چی دغه قرآن موږنازل کړیدی یعنی څموږله لوری ئی نه بولی بلکی دمحمدله طرفه ئی جوړسوی کلام بولی نوتاسی ددغه قران په مثل یوکوچنی سورت جوړکړی اوکه مودا سې ونکړل اوهیڅ کله به داسی ونکړای سی الخ نولکه څنګه چی الله پاک ودوی ته دااخباروکړچی هیڅ کله به تاسی ددی توان ونلری چی دقران په مثل یوکوتاه سورت جوړکړی نوبیاهم هغسی پیښه سوه

لفظي ترجمه

(فَ) وروسته(إِنْ) کچیري( لَمْ تَفْعَلُوا) نه وکړ تاسی یعني دغه کارمونه وکړکوم چي راتګ دی په یوه کوتاه سورت سره چي په مثل دقران وی (وَ) او(لَنْ تَفْعَلُوا) هیڅ کله به ونکړی تاسی یعني دغه کار( فَاتَّقُوا)نووویریږی یا ئې داسی معنی وکړی چی نووساتې یعني ځانونه خپل ( النَّارَ) له اورڅخه (الَّتِي)هغه اور (وَقُودُ)چي خاشاک (هَا)دده (النَّاسُ)خلګ دی (وَ) او(الْحِجَارَةُ) ډبری دی (أُعِدَّتْ)چي تیارکړسویدی (لِلْكَافِرِينَ)دپاره دکافرانو (24)یعنی ای دمکې کفارو وروسته له دې څخه چی تاسی دقران کریم دمقابلې لپاره خپلی متې راونغاړی او خپل ټول مددګاران هم دخپلوځانوملګری کړی او خپل باطل معبودان بتان وغیره هم دروننګه وی اودیوه کوتاه سورت په جوړولو کوم چي دقران کریم په مثل وی پیل وکړی او بیاعاجز اوناوسه وګرځی اوپه ذکر سوی ډول یوکوتاه سورت جوړنکړی نو بیاخو داخبره درته ثابته سوه چی دغه قرآن دالله کلام دی اودالله له لوری پرمحمدصلی الله علیه وسلم باندی نازل سویدی نوبیا خپل ځا نونه له هغه اور څخه وساتې کوم چی دهغه بوټی اوخاشاک انسانان اوډبری دی اودهغو خلګودپاره تیارسویدی کوم چی کافران دی اودالله له کتاب او دالله له رسول څخه انکارکوی یعنی په دی ډول خپل ځانونه وساتې چی په دغه قرآن اوپه حضرت محمدصلی الله علیه وسلم باندی ایمان راوړی

ددغه مبارک ایت د کلماتو په ارتباط تفصیل اوعلمی خبری دلته ترک سوي دی اوپه راروانو برخوکښي درج سوي دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بقرې د سورت د ، ۲۵ مبارک ایت تفسیر او تحقیق

## تفسیر فضل الرحیم (۸) برخه،

---------------------------------------------------------

پوسه چی دالله پاک په خپل دغه مقدس کتاب کښې پردی باندی عادت جاری سویدی چې غالباً په ترغیب پسی ترهیب اوپه ترهیب پسی ترغیب وبندګانوته ورکوی لکه چی دایومسلم قانون دی چی ونافرمانه ته ترهیب اوویره ول پکار دی اووفرما نبرداره ته شاباسی اوترغیب ورکول په کاردی نوځرنګه چی په تیرایت کښې الله جل جلاله ونافرمانانوته ترهیب ورکړ او ددوی دپاره یې دوعید اودعذاب ورکولوذکروکړ نواوس په راتلونکیو ایاتوکښې الله جل جلاله وفرمانبرداره بندګانوته ترغیب ورکوي اوفرمایی

لفظي ترجمه:

(وَ) او (بَشِّرِ)زیري وکړه یعنی ای محمده (الَّذِینَ)پرهغوخلګویا وهغوخلګوته ـ یعني ای رسوله پرهغو خلګوبا ندی نارینه وي اوکه ښځې وي زیری وکه (آَمَنُوا) چي ایمان یې راوړئ دئ (وَ) او (عَمِلُوا) کړي یې دي (الصَّالِحَاتِ)نیک عملونه (أَنَّ)په دي سره چي بیشکه یعنی ددی زیری باندی وکه چی بیشکه (لَهُمْ) دوی لره ـــ یعني سته دوی لره (جَنَّاتٍ) جنتونه (تَجْرِي)چي بهیږي به (مِنْ) له (تَحْتِ)لاندي ـ یعني له لاندي ځخه (هَا) ددوی ـ یعني ددغوجنتو (الْأَنْهَارُ) و الي یعني والي دابویا والي داوبو اودعسلواودشرابواودشیدو (كُلَّمَا)هروخت یا هروار (رُزِقُوا)چې ورکړسی ودوی ته (مِنْهَا)له دوی ځخه ـ یعني له دغو جنتوځخه (مِنْ) له (ثَمَرَةٍ) میوي ځخه یعني له جنسه دیوقسم میوي ځخه (رِزْقًا) رزق، روزي (قَالُوا)نو وایې به دوی ـ یعني دغه جنتیان (هَذَا)دا ـ یعني دغه رزق چي په جنت کښې راکړ سو (الَّذِي)هغه دئ یعني په مثل دهغه دئ ( رُزِقَ)چي راکړسوئ ؤ(نَا) موږ ته (مِنْ)له ( قَبْلُ )مخه ـ یعني له مخه تردي په دنیا کښې (وَ)او(أُتُوا)راتګ به کړسوئ وی و دوی ته (بِهِ) په ده سره ـ یعني په دغه رزق سره دجنت اوددنیا (مُتَشَابِهًا)برابریوله بل سره ـ یعني په داسي حال کښي چي هغه رزق به کوم چي په دنیاکښي ودوی ته ورکړسوئ ؤبرابروي له هغه رزق سره کوم چي په جنت کښي ودوی ته ورکړکیږی مګر خو دغه تشابه اویودبله برابروالی بی صرف په ظاهره صورت اوشکل کښي وی وبس (وَ)او(لَهُمْ) دوی‌لره یعني وي به دوی لره (فِي) په (هَا) دوی‌کي یعني په دغو جنتو کښي (أَزْوَاجٌ) ښځي (مُطَهَّرَةٌ)ښي پاکي کړي سوئې ( وَ) او(هُمْ) دوی به ـ یعني جنتیان به (فِي)په (هَا) دوی کښي ـ یعني په دغوجنتوکښي (خَالِدُونَ) همیشه اوسیدونکي وي) 25(

یعني اوزیري وکړه اي رسوله پرهغوخلګوباندي چي صحیح اوله نفاق ځخه خالي ایمان یې راوړیدئ یعني په الله جل جلاله اودالله جل جلاله په رسول حضرت محمدصلي الله علیه وسلم باندي اوپه قران کریم باندي اوپه هر هغه شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندي كوم چي ايمان راوړل په هغه باندي فرض دئ ، اوكړي ئې دي دوی نيک عملونه ، يعني كوم چي عبارت دي له هغوعملوڅخه چي شريعت هغه عملونه مستحب يامندوب يا سنت ياواجب يا فرض يادادب كارونه بللي دي ، په دي سره ، پردوی باندي زيرئ وكړه ، چي بيشكه ، سته ، دوی لره ، دقيامت په ورځ كښي ، جنتونه ، كوم چي عبارت دي له دغواتوجنتوڅخه ، اول جنت فردوس ، دوهم جنت عدن دريم جنت مأوي ، څلورم دارالخلد ، پنځم دارالسلام ، شپږم دارالمقامه ، اوم عليين ، اتم جنت نعيم، داسي جنتونه ، چي بهيږي به لاندي ترهغوی يعني لاندي تردرختودهغوی والي ، بيالي ، كومي چي دلته مرادورڅخه ياتنها داوبووالي دي اويامرادورڅخه هغه څلورقسمه والي دي چي په سورت محمد كښي يې ذكرراغلئ دئ چي داوبواودشهدواودشيدواودشرابووالي دي ، اوداسي جنتونه چي دهغوی دخوركي موادو حال به په دي ډول وي ، چي هروخت ياهروار چي وركړسي ودوی ته له همدغوجنتوڅخه له جنسه دميوي څخه يو رزق اوروزي نووايې به دغه جنتيان چي دغه رزق اوروزي يعني كومه چي دااوس وموږته راكړه سوه عين هغه روزي اورزق دئ چي راكړسوي ؤ موږته له مخه يعني په دنياكښي داخبره به ځكه دوی كوي چي دجنت ميوي به دظاهره رنګ په اعتبارددنيادميووپه ډول وي نوكله چي وجنتيانوته په جنت كښي يوه ميوه لكه انګورياانار ياخورما مثلاً وركړله سي نودوی به وايې چي داخوهم هغه ميوه اورزق ده كوم چي په دنيا كښي به وموږته راكيدئ هو كله چي دوی ددغي جنتي ميوي خوند وګوري نوبيابه پوه سي چي ددغي ميوي او رزق اوددنيادميوي اودرزق ترمنځ بي انتهااوبي حسابه فرق موجوددئ اوراتګ به كړسوئ وی وجنتيانوته په رزق اوپه روزي سره ددنيااوداخرت په داسي حال كښي چي دجنت دهريوه نوبت رزق اوروزي به كومه چي دوی ته په جنت كښي وركړه كيږي برابره وي يعني دظاهري رنګ اوصورت په اعتبار له هغه رزق اوروزي سره كومه چي وركړه سوی وي ودوی ته په دنيا كښي،پوسه چي جنتي خوركونه به هم كوم چي له يوي نوعي څخه وي په ظاهري شكل كښي يودبله سره برابروي خو په خوند اوپه نورو معنوي امورو كښي به ډيرتوفيرسره لري او دارنګه به وي دوی لره په دغوجنتو كښي ښځي پاكي كړي سويې ، له خبيثو اوبيكاره اخلاقو اوخويو څخه اودارنګه به دغه ښځي پاكي كړي سويوي له زنانه مرضو څخه لكه نفاس اوحيض او له طبعي مستقذراتو څخه لكه دپوزي اوبه ، دخولي اوبه اولكه چرک اوخيري اولكه بدبويې او له دي سره سره به دجنتيانودپاره يوغټ نعمت داوي چي دوی به په دغو جنتوكښي هميشه اوسيدونكي وي او هغه وهم اوترس به چي په دنياكښي به دوی هميشه ورسره مخامخ وه چي هغه ترس اوويره دنعمتواودژونددزوال وه په جنت كښي له دوی سره نه وي بلكي ودوی ته به داډاډ اويقين وركړسوئ وي چي ستاسي ژوندون او ستاسي اوسيدل په جنتو كښي اودجنت نعمتونه دابه ټول له تاسي سره هميشه اودوامداره وي .

تفصيل اوعلمي تحقيق.

)وبَشرالذين امنوا(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوسه چي دغه جمله سره له هغوټولو جملو چي له دغي جملي سره تعلق لري کومي چي په دغه ذکرسوي ايت کښي مذکوري سوي دي دمضمون اودغرض په اعتبار عطف دي د( وان کنتم في ريب... الخ) پرجمله باندي کومه چي پرډيروجملوباندي مشتمله ده چي هغه هم دغرض اودمضمون په اعتبارواخستله سي پرطريقه د عطف دقيصي پرقيصي باندي.

پوسه چي عطف دقيصي پرقيصي باندي دوي معني وي لري اوله معني يې داده چي يوه جمله دمضمون په اعتبار عطف سي پربله جمله باندي دمضمون په اعتبار بې له دي چي وذات ددوی دواړوته وکتل سي په دي ډول چي ايا ددغووجملوپه منځ کښي ددوی دذات په اعتبارديوي عطف پرهغه بلي صحيح دئ اوکه نه دئ ځکه که ددوی دواړووذات ته وکتل سي نوبيا عطف ددوی ترمنځ نه صحيح کيږي ځکه چي مثلاًپه دوی کښي يوه خبريه وي اوبله انشائيه وي مګرخوڅرنګه چي ددوی دواړو دمضمونوپه منځ کښي مناسبت موجودوي نوپه دي وجه يوه له دوی‌دواړو څخه عطف کړه سي پربله باندي لکه په دي قول کښي ( زَيْدٌ يُعَاقَبُ بِالْقَيْدِ وَالْاِزْهَاقِ وَبَشِّرْعَمْرًا بِالْعَفْوَوَالْاِطْلَاقِ ) ځکه په دغه مثال کښي اوله خبريه جمله ده اودوهمه انشائيه جمله ده اوعطف دانشائيې جملي پر خبريې باندي اودارنګه عکس ددي جائزنه دئ ځکه چي ددوی دواړوپه منځ کښي کامل انقطاع اوپريکړون موجوددئ اودمعطوف اودمعطوف عليه په منځ کښي به نه کمال دانقطاع وي اونه به کمال داتصال وي مګردلته په دغه مثال کښي انشائيه جمله پرخبريه جمله باندي عطف سويده په دي سبب چي مضمونونه ددوی دواړو مناسبت دتضادسره لر ي .دذکرسوی مثال ترجمه،يعنی زيدعذاب ورکړکيږی وده ته په قيد اوپه هلاکولوسره اوزيری وکړه وعمرته په عفوه اوپه خلاصيدوده له قيده څخه،

اودوهمه معني دعطف دقيصي پرقيصي باندي داده چي ډيري جملي چي دکوم غرض دپاره ويلي سويوي عطف کړي سي پرنوروډيروجملوباندي چي ويلی سوي وي دبل کوم يوه غرض دپاره له دی وجهي چي ددوی دغرضوپه منځ کښي مناسبت موجودوي.

انظرحواشي مولاناعبدالحکيم علي الخيالي.

په دغه ايت کښي په دوهمه معني عطف دقيصی پرقيصي باندي راغلئ دئ.

د(بشر)لفظ کوم چي دواحدمذکرامرحاضرمعلوم صيغه ده له تبشيرڅخه جوړ دئ کوم چي دتفعيل دباب مصدردئ اوله بشارت څخه مأخوذدئ اوبشارت وهغي خبري ته ويل کيږي کومه چي سبب دسروراودخوشحالي وي چي په پښتوکښي زيرئ ورته ويل کيږي نودتبشيرمعني به زيرئ کول سي البته کله کله وهغي خبري ته هم بشارت ويل کيږي کومه چي دخفګان اودخوابدئ سبب ګرځي خوداستهزاء په توګه نه دحقيقت په ډول دمثال په ډول لکه يوچاته چي ووايې چي ورسه پرفلاني باندي زيرئ وکړه چي صبادي وژنم ، په قران کريم کښي هم ددي مثال سته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه په دي قول دخداي پاک کښي چی (فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ )يعني نوزيرئ وکړه اي رسوله پردغوکافرانوباندي په عذاب دردناک سره چي دقيامت په ورځ به ودوی ته ورکړکيږي.

د (وبَشّر)په لفظ کښي وچاته خطاب دئ؟

په دي کښي دري احتماله دي،اول احتمال دادئ چي دغه خطاب ورسول عليه السلام ته سي ، دوهم احتمال دادئ چي دغه خطاب وعالِم ته سي په هره زمانه کښی چي دغه عالِم وي،اودريم احتمال دادئ چي دغه خطاب وهرهغه چاته سي کوم چي ددي صلاحيت لري چي دغه زيري ونيک عمله مومنانوته ورسوي.

)وعملوالصالحات(

دغه جمله دامنواپرجمله باندي معطوفه ده او دغه عطف دليل دئ دهل السنت والجماعت لپاره کوم چي په سرکښی يې زموږاحناف قرارلري ځکه چي دوی وايی چي اعمال صالحه جزدايمان نه دي بلکي غيردي له ايمان څخه اودارنګه په دغه عطف کښی رددئ پرخوارجوباندي کوم چي داسي وايې چي اعمال صالحه دايمان جزدي اوپه ګناه سره انسان کافربولي ا ودرنګه په دی کښي پرمعتزله ؤباندی هم رددی کوم چی وايې چې اعمل صالحه دايمان جز دی اوګناه کوونکی سړی نه مومن دی اونه کافردی، پوسه چی په قران کريم کښی هرځای دعملواماده دصالحات له مادی سره ذکر سويده نه دفعلوا وغيره ماده داپه دی وجه چې والله ته ډيرمحبوب عمل هغه د ی کوم چی دوامداره وی اودعمل ماده پردوام باندی دلالت کوی، اودصالحات لفظ دصالحة جمعه ده کوم چی دغلبی داسميت په وجه يې موصوف په مفهوم کښی ورداخل سويدی او په اصل کښی ونيک خصلت اونيک خوی ته ويل کيږی اوپه شريعت کښی وهغه عمل ته ويل کيږی چی په ايت ياپه حديث ياپه اجماع اويا په قياس سره يې تجويزاوتحسين سوئ وی عام له دي څخه که يې تحسين داستحباب په درجه کښي سوئ وي او که دسنتيت اويادوجوب اويادفرضيت په درجه کښي، پوسه چي داهل سنت والجماعت کوم چي عبارت دي له پيروانوڅخه دڅلورومذهبودا عقيده ده چي هغه څوک چي هم مؤمن وي اوهم دصالح عمل خاوندوي يعني له ايمانه سره سره يې له ګناهوڅخه ځان ساتلئ وی اوفرض اوواجب کارونه يې کړيوي اودارنګه يې دسنتواودمستحبوکاروخيال ساتلئ وي دقيامت په ورځ کښی هم له عذاب څخه ددوږخ خلاص دی اوهم له عتاب اوسر زنښ څخه اوهم له حرمان څخه دشفاعت دنبی عليه السلام اوهم به له ابتداڅخه لاوجنت ته و رداخليږی اوکه يوه سړی ګناه کړی و ه اوتوبه ئی نه وه ورڅخه کښلی نوبيا به ياالله پاک بخښه ورته وکړی اويابه دنبی يادکوم بل صالح سړی په شفاعت سره خلاص شی اويابه دګناه په اندازه ددوږخ عذاب ورکړسی او بيابه وجنت ته ولاړسی اوداسی هم کيدای سی چی دنزعي اويادقبر دتکليفو په وجه ئی ګناوی توئ کړلی سی اوکه العياذبالله يو څوک کافر مړسی نوبيا به هميشه په دوږخ کښی وی او که ئی په دنيا کښی هرڅونه نيک عملونه کړی وی نو دده دکفر په وجه به هغه ټول باطل وی

)هذاالذی رزقنا من قبل(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پو سه چی له(الذی رزقنا من قبل) له لفظ څخه یامرادهغه خورکه اورزق دی. کوم چی ودوی‌ته ترموجوده حاضرسوی رزق دمخه په جنت کښي ورکړسویوی نو دوی‌به ددغه سابق اودفي الحاله حاضررزق دشکل اود ظاهره رنګ اودارنګه دخونداوپه هرڅه کښي دپوره یووالي په وجه له خوړلوڅخه ددغه حاضررزق وروسته داسي حیران ګرځی چي ددغودوورزقوترمنځ به هیڅ فرق نسي کولای. اوداسي خیال اوګمان به کوي چي دغه رزق عین هغه رزق دئ کوم چي یوځل دمخه راکړسواوموږوخوړئ پردغه تقدیردهذا له لفظ څخه وروسته دعین دلفظ تقدیرمناسب دئ، اي(هذاعین الذی.الخ ) اویاله (رزقنامن قبل) څخه هغه سابق رزق مراد دئ چي په جنت کښي ترحاضررزق د مخه ودوی ته ورکړسوئ وی خوپه رنګ اوپه شکل کښي سره برابروی اوپه خوندکښي سره جلاوی نوترخوړلودمخه دوی‌داووایي چي(هذالذي ...الخ) پردغه تقدیربه دهذاترلفظ وروسته دمثل دلفظ تقدیرمناسب وي ،اي(هذامثل الذي.الخ) اویامرادله (رزقنامن قبل) څخه هغه رزق دی چي له مخه تردي په دنیاکښي ودوی ته ورکړسوئ ؤ، په دغه صورت کښي بیادوه احتماله دي اول احتمال هغه دئ کوم چي په لفظي ترجمه کښي ما په وضاحت سره اشار ورته کړیده، اودوهم احتمال دادئ چي مرادورڅخه هغه نیک عملونه سي کوم چي په دنیا کښي به دوی کول نوپردغه تقدیربه دهغوعلماؤپه قول کوم چي وایي چي په جنت کښي وخلګوته ددوی‌عین ایمان اواعمال صالحه ورکړه کیږي مګرخوهلته دغه ایمان اواعمال صالحه ددوی‌دجنت دنعمتوپه شکل بدل سي ،له (هذا)څخه وروسته دعین لفظ مقدرکړ سي اي(هذاعین الذي) اودهغوعلماؤپرقول به کوم چي وایي چي دجنت نعمتونه دنیکواعمالوبدله اوجزاده، له هذاڅخه وروسته دجزالفظ مقدرکړسي اي(هذاجزاءالذي . الخ).

)واتوابه متشابهاً(

پوسه چي که مراد له( الذي رزقنامن قبل) څخه په جنت کښي ترحاضررزق سابق،دجنت سابق رزق مراد کړسي نوبه دبِه ضمیرو(مَارُزِقُوْا فِي الْجَنَّة) ته راجع سي اومعني به په دي ډول سی (اوراتګ به کړکیږي وجنتیانوته په رزق سره دجنت په داسی حال کښي چي یودبله به سره برابروي، اوکه مرادورڅخه هغه رزق سي چي په دنیا کښي به ودوی‌ته ورکیدئ نود(بِهِ)ضمیربه و(مَارُزِقُوْا فِي الدَّارَیْنِ) ته راجع سي اومعني به په دي ډول سي (اوراتګ به کړسوئ وي ودوی ته په رزق سره ددنیااواخرت یودبله سره برابر) (ولهم فیهاازواج مطهرة)پوسه چي دازواج لفظ دزوج جمع ده کوم چي په اصل کښي وجوړې ته دیوشی ویل کیږی اوپه عرف کښي ددغه لفظ اطلاق پرمیړه اوپرښځه دده پردواړوباندی کیږی البته کله کله دزوج دلفظ اطلاق یواځی پرمیړه باندی وسي اووښځي ته دزوجةٌ لفظ وویل سی ، دمطهرة لفظ صفت دی دازواج دپاره، پوسه چي دجمع صفت دجمع مونث په صیغه سره هم راځي اودواحدمونث په صیغه سره هم راځي همداسبب دی چي دزیدبن علی په قرائت کښي دمطهرة په ځای باندی مطهرات راغلی دی، پوسه چي دمطهرةپه لفظ کښ کوم چي دواحدمونث صیغه ده له بابه د تفعیل ډیره مبالغه ده ترلفظ دطاهرة اودترلفظ دمتطهرة کومی چي داسم فاعل صیغی دی ځکه چي دمطهرة لفظ په دي وجه چی داسم مفعول صیغه ده په دي سره مشعردی چي ددغوجنتی ښځوتطهیر الله جل جلاله کړیدی او مذکور دوه لفظونه په دي وجه چي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسم فاعل صیغې دی په ظاهره له دغه اشعارڅخه خالی دی(خَالدون)دغه لفظ له خُلْد یاله خلودڅخه جوړدی کوم چې په اصل کښې ودرازځنډ ته ویل کیږی عام له دې څخه چې که په طریقه ددوام اودهمیشه توب سره وی اوکه نه وی دلته په معنی ددوام اودهمیشه توب دی،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سورت بقره د۲٦، مبارک ایت تفسیر او علمي تحقیق

## تفسیر فضل الرحیم(۹)برخه

-------------------------------------------------------

دراتلونکیواياتودشان نزول بيان ،پوسه چې مفسرينوپه شان نزول کښې ددغومبارکواياتو دوه قولونه ذکرکړيدي اول قول دادی چې کله چې الله پاک په تيروایاتوکښې دمنافقانودپاره دوه مثالونه بيان کړل نومنافقانو وويل چې الله پاک خو له دې څخه ډيرلوړ اولوی دی چې دغه ډول مثالونه ووايې له دې خبرى څخه مطلب ددوی داوه چې دغه قران دالله کتاب اوکلام ندی ځکه چې که دالله کلام وای نوداډول مثالونه به په ده کښې نه ويل کيدلای نوپه دې سبب الله پاک دغه اياتونه ددوی په ردکښې نازل کړل ،اخرجه ابن جرير وکذاعن مجاهد،اودوهم قول دادی چې کله چې الله جل جلاله دمشرکانودباطلو معبودانواوددوی دبتانوذکرپه قران کريم کښې وکړاوبيايې دهمدغوبتانوپه باره کښې داسې وفرمايل چې (وَاِنْ يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئًا)يعنې دغه بتان دونه بې وسه اوناتوانه دی چې که چيري يومچ له دوی څخه يوشی يوسی يعنې دهغوشيانو څخه چې کفارو دنذر په توګه يا دتبرک په وجه ددغو بتانوپه نزدا يښې دی نودغه بتان دغه شی له همدغه مچ څخه نسی راګرځولای اودارنګه الله پاک دکفارو مکراوفريب اوياددوی عبادت بوتانولره په ضعف اوکمزورى کښې دعنکبوت له بيت،کوراوځالې سره مشابه کړنوکفارو وويل چې الله پاک څنګه دغه ډول خسيس شيان په خپل کلام کښې ذکرکوی يعنې داددې دليل دی چې قران دالله کلام ندی ځکه که دالله کلام وای نودمچ اودغنيه په شان خسيس شيان به په ده کښې نه ذکرکيدلای نوپه دې سبب الله پاک دغه مبارک اياتونه نازل کړل ،اخرجه الواحدی ،خواول قول دسند په اعتبارډيرصحيح دی ،مظهری

دريم قول دادی چې دغه آياتونه په ردکښې دقول ديهودونازل سويدی ځکه يهودانوچې کله هغه آياتونه واوريدل کوم چې په دوی کښې الله پاک په غنې اوپه مچ وغيره سره مثالونه ويلې دي نودوی دطعن اواعتراض په ډول و ويل چې الله پاک له دی څخه ډيرعزتمند اولوی دی چې په دغه رازخسيسواوخوارو شيانوسره مثالونه ووائی ،روح المعانی ،اوامام رازی دقفال په حواله ويلې دي چې دغه درى سره قوله په شان نزول کښې ددغومبارکواياتوجائزاومحتمل دي اوڅلرم قول دادی چې دغه مبارک اياتونه مخصوص شان نزول نلری دغه قول هم امام رازی وقفال ته منسوب کړيدی اوعلامه آلوسی په روح المعانی کښې دوه نور قولونه هم ذکرکړيدي اول قول دادی چې په دغواياتوکښې الله پاک داهل دنيااود دنيامثال فرمايلی دی په دې ډول چې بعوضه يعنې وړوکی غوماشې مثال داهل دنيا دی ځکه چې غوماشې ترهغه پورى ژوندۍ وي چې دَئْ و ږی وي اوکله چې ديوه حيوان په وينه ئې نس ډک سی نوفی الحاله مړسی دارنګه اهل دنيا چې کله له دنياڅخه ډک سی نومړه کيږی يعنې ياپه دې معنی چې د دنياپه سبب يې زړونه مړه سی اويا په دې معنی چې کله چې هغه رزق جې ودوي ته په ازل کښې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقررسویدۍ ختم سی نودوی مره کیږی اوهغه وینه چی غوماشه یې دحیوان له بدن څخه کښوی په مثال د دنیا ده اودوهم قول دادۍ چي داالله پاک دبنده ګانوداعمالودپاره یومثال ویلي دی مطلب ورڅخه دادۍ چي دبنده عمل که هرڅونه لږوی اوکه ډیروی الله هغه صرف نظرنګرځه وی لکه چی ئی داذا زلزلت په سورت کښی فرمایلي دي (فمن یعمل مثقال ذرة الآیة)دیوې غلط فهمي ازاله،پوسه چی دقران کریم دآیاتوشان نزول بیانول اویاپه هغه ځان پوهه ول ډیراهم کاردۍ خوله دي سره سره داهم یادساته چی دقران ډیرآیاتونه اوسورتونه شان نزول نلري بلکه بی له کوم سبب څخه دنزول نازل کړه سویدي دځنوخلګوپه فکر کښی دادي چی دقران کریم هرایت اوسورت شان نزول لري حتی ځموږ د دغه تفسیرابتدائی برخه چی کله دبینوا په ویب سایټ کښی نشرسوه نویوچایولیک ورلیږلی ؤوچی که دایاتوشان نزول هم بیانیدلای نوبه ډیر ښه ؤوداخبرد دغه فکرنتیجه ده چی دټولوایاتودپاره شان نزول ضروری دی سره له دې چی په مذکوره برخه کښی چی کوموایاتوشان نزول درلودۍ نوهغه موږ بیان کړی ؤو لکه دسورت فاتحی شان نزول اود دې پرخلاف ځنی علما بیاپه دې فکر کښی دي چی هغه ایاتونه چی شان نزول لری نودهغوی دشان نزول بیانول هم بې فایدې کاردۍ خودغه دواړه قسمه فکرونه صحیح ندي ، په دې اړه دي علم اسباب نزول اوعلم اسباب ورود الحدیث وکتل سی

لفظی ترجمه

(إِنَّ)بیشکه (اللَّهَ) خداي پاک (لَا)نه (يَسْتَحْيِي) پریږدي (أَنْ)دا (يَضْرِبَ) چي بیان کړي (مَثَلًا) یومثال (مَا) هرمثال چي وي (بَعُوضَةً)په غوماشه سره (فَ) یا (مَا)په هغه سره (فَوْقَ)چي لوړ وي، بالاوي(هَا) تردي یعني ترغوماشه په بدن اوجسد کښي لکه مچ عنکبوت غنې وغیره یاد (.فمافوقها) .داسی معنی وکړه ،، یاپه هغه سره چی بالا وي ترغوماشه، په حقارت اوکم والی کښی دجُثّی اودصورت لکه دغوماشی وزر (فَ )نو(أَمَّا)هرڅه چی (الَّذِينَ) هغه کسان دي (آمَنُوا)چی ایمان یې راوړی دی (فَ)نو(يَعْلَمُونَ)یقین کوی دوی (أَنَّ)په دی چی بیشکه (هُ)دایعنی دامثال (الْحَقُّ)حق دیٖیعنی په خپل ځای کښی ثابت دی (مِنْ)له (رَبِّ)رب څخه(هِمْ)ددویٖیعنی نازل سوی دی له ربه ددوی (و)او(أَمَّا)هرڅه چی (الَّذِينَ)هغه کسان دی (كَفَرُوا) چی کافران سوی دي (فَ)نو(يَقُولُونَ)وایې دوی (مَا)کوم شی دی(ذَا)هغه (أَرَادَ) چی اراده کړیده (اللَّهُ)خدای پاک یعنی دهغه (بِ)په (هَذَا)دغه سره (مَثَلًا)په حیث دمثال یا.مثلا.چی مثال دی یعنی په داسی حال کښی چی مثال دی (يُضِلُّ)ګمراه کوی دَی یعنی الله پاک (بِهِ) په ده یعنی په دغه مثال سره (كَثِيرًا)ډیریعنی ډیرخلق (وَ) او(يَهْدِي)هدایت کوی ( بِهِ)په ده سره یعنی په دغه مثال سره (كَثِيرًا)ډیروته(وَ) او (مَا) نه (يُضِلُّ)ګمراه کوی دَی یعنی نه ګمراه کوی الله (بِهِ) په ده سره یعنی په دغه مثال سره (إِلَّا)مګر(الْفَاسِقِينَ)هغه چی فاسقان دي یعنی بیشکه الله پاک بلا کیفه حیا اوشرم نکوی په دی سره چی ،وخلګوته دمطلب دښه واضح کولودپاره،بیان کړی

یومثال ،له مثالوڅخه برابره خبرده چی که دغه مثال،وړوکی غوماشی وی یالوړ،پورته وی ترغوماشي په حقارت اوخساست کښی اوپه صغر دجُثّی اوصورت کښی،ځکه چي مقصودخو دمثال له بیانولوڅخه دممثل له یعني دهغه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شی چې دهغه دپاره مثال راوړل کیږی واضح کول دی نو که ممثل له عظیم شي ؤ نومثال بې هم په عظیم شی سره ویل کیږي اوکه ممثل له حقیراوخوارشی ؤنومثال بې هم په حقیراوخوارشي سره ویل کیږی اوداسی نه ده چې په مثال راوړلوکښې به متکلم وخپل شان ته ګوری په دې ډول چې که متکلم دعظمت خاوندؤنوپه عظیم شی سره به مثال وایی اوکه متکلم خسیس اوحقیرؤ نوپه حقیراوخسیس شی سره به مثال وایې کوموکافرانوچې دقران کریم پرتمثیلاتوباندی یې اعتراض کاوه نودغه اعتراض ددوی له دؤ وجهوڅخه ددوی دډیرسخت حماقت اوجهالت اویاددوی دډیرلوی تعصب اوعناداوبې حیایې ښکارندویه ؤاول له دې وجی څخه چې د خالق په شان کښې یې داخبره ناسمه اونامناسبه بلله چې دیوحکمت اومصلحت په وجه په خپل کلام کښې دمخلوقاتوله جملې څخه دځینوذکروکړی اودوهم له دې وجی څخه چې مثال خوپرموافقت اوپرتناسب دممثل له راوړل کیږي اوددوی اعتراض پردې باندی دلالت کاوه چې مثال بایددمثال ویونکی له حال سره مناسب وی نه دممثل له له حال سره وروسته الله پاک دخپلوالهی تمثیلاتوپه باره کښې دبندګانوعکس العمل بیان کړیدی اوفرمایلی یې دي چې ،نوهر څه چې هغه خلګ دي چې ایمان یې راوړیدی نوهغوی وایې چې دغه مثال چې الله پاک ویلی دی حق دی ،له مقام اوله حکمت اوله مصلحت سره برابر دی، اوثابت دی ،نازل سویدی له طرفه درب ددوی

ځکه چې له مومنانو سره خوهغه جهل اوتعصب اوعنادنسته کوم چې له کفارو سره موجود دی نوپه دې وجه ددوی دزړو سترګی اود دوی عقلی بصیرت هم دحق اوحقیقت درک کولای سی اوهم وهغه ته دتسلیم غاړی ایږدي اوکافران د دې پرخلاف دي لکه الله پاک چې فرمایلی دي چې ، اوهرڅه چې هغه خلګ دي چې کافران سویدي نووایې دوی چې دچیشی اراده کړېده الله پاک په دغه شی سره په حیث دمثال یعنی هیڅ داسی حکمت اومصلحت تصورنسی کیدلای اونه سته چې هغه دي په دې سره مناسب وي چې الله پاک دي هغه په دغه شی سره چې دمثال په حیث راوړل سویدی اراده کړی وي نوالله پاک ددوی ددغه قول په ردکښې فرمائی چې،ګمرهان کوی الله پاک په دغه مثال سره ډیرخلګ یعنی کوم چې کافران دی اوهدایت کوی الله جل جلاله په دغه مثال سره یعنی کوم چې الله جل جلاله یې وایې وډیروخلګوته یعني کوم چې مومنان دی اونه ګمرهان کوي الله په دغه مثال سره مګرهغه خلګ چې فاسقان دي مطلب دادی چې الله پاک ګواکی ودغوکافرانوته په جواب کښې داسی وفرمایل چې داخبرستاسی دجهل یا دتعصب نتیجه ده چې تاسی وایاست چې په دغومثالوکښې هیڅ یوداسی حکمت اومصلحت نسته چې هغه دي په دې سره وړوي چې دالله پاک مراد سی نولهذا دغه قران چې دغه ډول مثالونه پکښې راځی دالله پاک کلام نه سی کیدلای اوځکه داخبره دجهل یادتعصب نتیجه ده چې په دې مثالو کښې ډیرداسی حکمتونه موجود دي چې له الهی شان سره بیخی وړاولائق دي چې یوله هغوی څخه داحکمت دی چې په دغومثالو سره ډیرخلګ الله پاک نورهم پسی ګمراهان کوی اوډیروته په دغومثالوسره دهغوی هدایت نورهم وراضافه کوی مګرکوم خلګ چې الله پاک په دغومثالوسره ګمراهان کوی نوهغه خاص هغه خلګ دي چې فاسقان دي یعنی عادت یې فسق اوخروج دی له طاعت څخه دالله پاک ،تفصیل اوعلمی خبری( ان الله لایستحیی ان یضرب مثلاما)الآیة، پوسه چې ددغه مبارک ایت ترون له دمخه ایاتوسره له متعددو وجوڅخه ثابت دی چې شرحه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبيان يې دادی ،اول په مخکښي اياتوکښي الله پاک دمنافقانو دپاره ددؤومثالوذکرکړيدی او په دغه ايت کښي الله جل جلاله دمثال تحسين ښه والی اودارنګه دمثال ويلوحکمت بيان کړيدی دوهم دغه مبارک ايت دهغوکفارو دقول اواعتراض په ردکښی فرمايل سويدی دکوموپه باره کښی چي د (ختم الله علی قلوبهم)اود(ومن الناس من يقول) مبارک اياتونه نازل کړه سويديدريمد(وان كنتم في ريب)په ايت کښي دکافرانو دهغی شبهې ازاله سويده کومه چي ودوی ته له دې وجی پيداسويوه چي قران کريم به پررسول عليه السلام باندی ايت آيت ياسورت سورت نازليدی اودتيرواسمانی کتابوپه شان په يوه ځل نه دی نازل سوی اوپه دغه ايت کښي الله پاک دکافرانو دهغی شبهې ازاله کړيده کومه چی ودوی ته په دې سبب په قران کريم کښي پيداسويوه چي الله پاک په قران مجيدکښی په ځنودمخلوق خپل سره لکه مچ وغيره مثال ويلی دی اوبائي پرځنوباندي مثالونه تيرکړيدي لکه پرمنافقانوباندي،د(يستحي) لفظ دجمهورودقرائت مطابق په دؤو ياګانوسره دی اودځنو دقرائت مطابق په يوه ياء سره دی اودادبني تميم عربو لغت دی پردغه تقديرپه دې کښي اختلاف دی چي ايادیستحی د لام کلمه محذوفه ده نوبه دیَستحيي وزن يستفع سی اوکه يې دعين کلمه محذوفه ده نوبيابې وزن يستفل سی په دغه فعل کښي دوه خصوصيته نورهم موجوددي اول خصوصيت دادی چي مجردفعل يې نه مستعمليږی بلکي په دغه مزيدفعل سره دمجردفعل له استعمال څخه استغناراغلې ده اودوهم خصوصيت دادی چي دغه فعل متعدي په خپله اوپه واسطه دمِن جاره سره دواړه ډوله راغلی دی نوپه دې وجه استحييته اواستحييت منه دواړه ډوله ويل کيدلای سي اودځينومفسرينو له کلام څخه داسي فهميږي چي دغه فعل په خپله متعدی ندی بلکي دمن په واسطه متعدي کيږي البته په هغه ځای کښي چي په ظاهره په خپله متعدي راغلی وي لکه په دغه ايت کښي نو هلته دخليل په نزدمفعول دده مجرورد‌ی‌په تقديردمن سره اودسيبويه په نزدمنصوب دی په حذف دمن سره چي ودغه قسم منصوب ته منصوب بنزع الخافض ويل کيږي او دغه فعل له استحياءڅخه جوړدی کوم چي مجردمصدرئې د حياءلفظ دی دحياء لفظ کوم چي په پښتوېي معنی په شرم سره کيږي په علمي لحاظ يې دمعنی تعبيرپه دې ډول دی چی،انقباض النفس عن القبيح مخافة الذم، يعني حياراقبض کيدل اورابنديدل دنفس دي له داسي کارڅخه چي هغه قبيح اوبدوي له وجي دويري دذم اوبدګويي، داستحياء اودحياء دلفظونو استعمال دالله جل جلاله په شان کښي دخپلي اصلي معنی په اعتبار کومه چي ذکرسوه صحت نلري ځکه چي يوخو دحيا په مفهوم اومعنی کښي اضافت ونفس ته راغلی‌دی اوالله پاک له نفس څخه منزه دی اوبل حياء دانفعال له مقولې څخه ده کومه چي ثبوت يې وخدای پاک ته ناجائزدی خوله دې سره سره په اياتواوپه احاديثوکښي دحياءاوداستحياء ثبوت والله پاک ته راغلی دی په دغه آيت کښي که څه هم له الله څخه استحيا نفي سويده خومقيده استحيا نه مطلقه اوداقانون دی چي نفي چي پر داسي کلام باندی داخله سي چي په هغه کښي قيدوی نومنفي په حقيقت کښي غالباهمدغه قيدوي نه هغه چي په دغه قيدسره مقيدوي نوپه دې وجه دغه آيت دلالت کوي پرثبوت دمطلقي حيا والله پاک ته اويوه وجه ددې داهم ده چي نفي ديوشي چي له يوشي څخه ؤسي نوداغالبا ددې دليل ګرځي چي ددغه منفي شي ثبوت ومنفي عنه ته ممکن دی دارازپه يوه حديث کښي چي بيهقي ئی په کتاب الزهدکښي له انس څخه اوابن

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابي الدنيائي له سلمان څخه روايت کړيدی راغلي دي چي بيشکه الله شرميږي حياکوي له سپين ږري مسلمان څخه له دي څخه حياکوي چي ودغه سپين ږري ته عذاب ورکوي اوهمدارنگه په يوه بل حديث کښي چي ترمذي ابودؤداوبيهقي ئې روايت کړيدی راغلي دي چي رب ستاسي حياناک،کريم دی اوحياکوي له خپل بنده څخه چي هغه دواړه لاسونه په دعاکښي ورته پورته کړي اوالله ئی تش اوخالي بيرته ورواپس کړي نوؤس داسوال پيداکيږي چی دحيا خودخپلي اصلي معنی په اعتباروالله پاک ته نسبت نه صحيح کيږي نوپه کوموځايوکښي چي ئې والله ته نسبت راغلی دی نوهلته به کومه معنی ورڅخه اراده کيږي ؟په دې اړه مفسرينودوه قوله ذکرکړيدي اول قول دادی چي داهم له جملې څخه دمتشابهاتودی نوبه داسي وايې چي مرادپه دغوځايوکښي له حياڅخه ددغه لفظ حقيقي معنی مرادنه ده بلکه يوقسم بلاکيفه حياورڅخه مرادده کومه چي داالله صفت اوداالله له بلاکيفه ذات سره لايقه ده نورنوتنها الله پاک په عالم دی چي څنگه حياده اوکيفيت ئې څنگه دی علامه آلوسی په روح المعانی کښی همدغه قول غوره کړيدی اودوهم قول دادی چی په کومو ځايوکښی چی دحيا نسبت والله پاک ته راغلی دی نوهلته دغايې په اعتبار سره مراد ده توضيح د دې قول داده چی حيا اوشرم ابتداهم لري اوغايه هم لري ابتدايې عبارت ده له هغه انقباض څخه دنفس کوم چی مخکښی يې بيان وسواو غايه يې ترک اوپريښودل دي ځکه کله چی يوسړی ويوقبيح اوبدکار ته اراده وکړي اوبيا په ده کښی داويره پيداسی چی کچيري زه دغه بدکار وکړم نوخلگ به ځمامذمت وکړي اوداالله په نزد به هم مذموم وگرځم نوپه دې وجه له دغه کارڅخه د ده نفس انقبا ض وکړي اورامات کړسی اوبياد دغه کاراراده له زړه څخه اوباسی اوترک يې کړي نوترک اوپريښول غايه اواخيردحياسو اوقاضی بيضاوي اوځنونورو مفسرنوپه دې اړه داکلی قانون ذکرکړيدی چی دهرشی ثبوت چی والله پاک ته په قرآن کښی اويا په حديث کښی سوی وي اودهغه شی حقيقی معنی والله پاک ته نسی ثابتيدلای نوله هغه شی څخه به غايه هغه شی مراده کړه کيږي نوداول قول په مطابق به په ذکرسوي ايت کښی د(ان الله لا يستحيی ) معنی داسی کړه کيږي ، بيشکه الله پاک بلاکيفه حيا اوشرم نکوي، اود دوهم قول په مطابق بې معنی داسی کړه کيږي ، بيشکه الله پاک نه پريږدي

پوسه چی حيا اوشرم دانسان له ډيرو عمده کاملو اونيکوصفتوڅخه دی داسلام پيغمبرپه يوه حديث کښی کوم چی بخاري وغيره يې روايت کړيدی فرمايلی دي چی حيا دايمان يوه لويه شعبه اوبرخه ده اودارنگه معتمدو علماؤپه خپلوکتابوکښی داحديث ذکرکړيدی چی بيشکه بعضی له هغوخبرو څخه چی خلگويې دانبياؤ له کلام څخه ادراک اواخذ کړيدی يوه داخبره ده چی هغه وخت چی شرم اوحيادي نه کوله نوبيا چی ستاخوښه وي هغه کوه ، همدارنگه پوسه چی داقانون دی چی هرنيک صفت دوه طرفه لري يويې دافراط دی اوبل طرف يې دتفريط دی د دې قانون له مخی دحيا صفت هم دوه طرفه لري دتفريط طرف يې وقاحت دی کوم چی عبارت دی له جرأت څخه پربدو کاروباندي پدېښول چی سړی په بدوکاروباک اوپروا نکوي اونه دبدکارپه کولوشرميږي اودافراط طرف يې دادی چی حيا اوشرم پرسړي باندي دونه غالب سی چی مباح اوشرعی کارونه هم دشرم له وجی څخه نسی کولای چی په عربې ودېته خَجْل اوپه پښتوشرمندگی ورته ويله کيږی (ان يضرب) دغه لفظ له ضَرْب څخه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړدی دضرب لفظ چي په في جاره سره مستعمل سي لکه په دې قول کښي ضرب زيدفي الارض، نوپه معنی دتللودی اوعموماًدغه لفظ په معنی دوهلوراځي اوکله چي ومَثل ته منسوب سي لکه دلته نوپه معنی داعتمال يعني کار ول اوتيره ول دمثل راځي مطلب دا دی‌چي پريوښی باندی دمتل تيره ولوته اويا ديوشی دپاره مثال راوړلوته ضرب المثل ويل کيږي بي دغه ضرب المثل پردوه قسمه دی اول قسم يې دادی چي دغه مثل له پخوالاجوړسوی‌وي او ته يې فقط ديوشي دتوضيح ذکرکړې دمثال په ډول دغه مثل چي صُلْتَ عَلَى الْاَسَدِوَبُلْتَ عَنِ النَّقَدِ،يعني حمله دي وکړه پرزمری باندي اوبولی دی وکړې له پسه څخه، له پخواڅخه لا په عربوکښي دمتل په شکل کارسويدی نوته چي دغه متل پريوچا باندي تيرکړې کوم چي له زوره ورسړی سره مقابله وکړی اودکمزوری سړی په مقابله کښي عاجزه سي نودا يوقسم دضرب المثل دی‌اودوهم قسم يې دادی چي دغه مثل جوړهم ته کړې او بيايې ديوشي دپاره مثال وګرځوې خودغه قسم ته هم ضرب المَثل په دې سبب ويل کيږي چي ته يې دمثال يادمتل په ډول ذکرکړې نه په دې حيث چي جوړښت يې تاکړيدی، دقران کريم امثال له همدغه قسمه څخه دي، تنبيه، پوسه چي يوپريوشي باندی دمتل تيرول دي اويوديوشي دپاره مثال راوړل دی مثلاً زه يوچاته ووايم چي پرزمري دي حمله وکړه اوله شغال څخه دی بولی وکړی ودغه ته دمتل تيريدل ويل کيږي اودمتل مشهوره معنی په قول سائرسره کيږي يعني هغه قول چي له وختووختوڅخه په خلګوکښي مشهور اوددوی پرژبوباندی جاري وي، که زه ويوچاته داسي ووايم چي ته ياستاشان داسي دی لکه فلانی يادفلانی شان نوودې ته مثال تيره ول ويل کيږي او ضرب المثل ودغودواړوقسموته ورشامل دی قرآني امثال اودارنګه په نورواسماني کتابوکښي چي کوم امثال الله جل جلاله بيان کړيدي اوياانبياؤ بيان کړيدي ټول له همدغه دوهم قسم څخه دي مګرکه په شاذاونادرډول يومثل له اول قسم څخه راغلی وي( مثلاّما)پوسه چي مثل دلته په معنی دمثال دی نه دقول سائرکوم چي په پښتوئې متل بولي اودما لفظ يا ابهاميه دی کوم چي په معنی داَیّ شیء دی نوبه معنی دمثلاما داسي سي ،مثلااي مثل کان يعني يومثال هرمثال چي وي ،اويازئده ده دپاره ددې راوړل سوی دی چي دمثلاولفظ ته کوم چي نکره دی عام والي ورويخښي اودتخصيص اومقيدوالي لارپربنده کړي( بعوضة)پوسه چي په ترکيب کښي د[مثلامابعوضة ]متعددقولونه دي اول قول دادی چي د بعوضةلفظ بدل دی له مثلاڅخه اوکلمه دما زائده ده دوهم قول دادی چي عطف بيان دی دمثلااومازائده ده دريم قول دادی چي مانکره غيرموصوفه په جمله سره ده په معني دشيءده اوبدل ده له مثلا څخه اوبعوضة صفت دی دمااوڅلرم قول دادی چی کلمه دما په معنی داي مثل ده اوتاکيد دی دمثلادپاره اوبعوضة دمحذوف فعل مفعول دی اي يبين بعوضة فمافوقهاپنځم قول دادی چي بعوضة مفعول دی دان يضرب،او مثلا حال دی له بعوضة څخه چي دذوالحال دتنکير په وجه مقدم سويدی اوشپږم قول دادی چي ان يضرب دتضمن له لاري دان يجعل په معني دی‌اومثلا ئی مفعول ثاني اوبعوضة ئی مفعول اول دی اودبعوضة لفظ مفرد دی اوجمع ئی بعوض راځي ځيني مفسرين وائی چي بق اوبعوضة سره مترادف لفظونه دي دواړه ومطلق غوماشي ته ويل اواکثر مفسرين داوائي چي بق وغټ غوماشي ته اوبعوضة وکوچني غوما شي ته ويل کيږي پوسه چي دميري په حيا ةا لحيوان کښي ليکلي دي چي بعوضه، غوماشي الله پاک دهاتی اودفيل په صورت اوشکل پيدا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړیدی خوترفیل ئی اندامونه ډیر دي ځکه چي دوبېښي دده ترفيل زياتي دي اووزرونه هم لري اودفيل خړتم کوټلئ دی اودماشی خړتم ډډدی صاحب دتفسيرخازن ليکلي دي چي غوماشئ ،بعوضة يوعجيب اونادرمخلوق دالله پاک دی ځکه چي سره دډيره صغره دَئ خپل خړتم داوښ،اوفيل اودپسه په څرمن اوپوستوکی کښ ننه باسي اوداسي هم پيښه سي چي اوښ يافيل يا پوسه دده له چيچلو څخه مړسي اوامام ابومنصورماتریدی فرمايلي دي چي مچ اوغوماشی ته الله پاک ترزمری هم دلاوري ورکړئی ده( فمافوقها) دفاء لفظ دپاره دعطف دی سره له فائده کو دوروستووالی بې له فصله اوکلمه دما موصوله ده اودفوق لفظ بنا پر ظرفيت منصوب دی مضاف دی اودها ضميروبعوضة ته راجع دی مضاف اليه دفوق دی اومجمووع په اعتبار دثا بت مقدر سره خبر دمبتدأمحذوف دی چي لفظ د هودی اومجموع صله دکلمي دماده،لکه دمخه چي موبيان وکړله فوقيت څخه يامرادفوقيت په جُثه اوصورت کښي دی لکه مچ ياغښی اويامرادورڅخه فوقيت په حقارت کښي دی لکه دغوماشي وزرداسلام پيغمبر په يوه حديث کښي کوم چي ترمذي اوابن ماجه اواحمد ئې روايت کړيی فرمايلی دي لَوْكَانَتِ الدُّنْيَاتَعْدِلُ عِنْدَاللّٰهِ جَنَاحَ بَعُوْضَةٍمَاسَقَامِنْهُ كَافِرًاشُرْبَةً يعني که چري وای دنيا برابره برابره په نزددالله له وزرسره ديوه وړوکي غوماشي نونه بي وای څښلې له دغي دنيا څخه په کافر،نه بې وای ورکړې وکافرته له دغي دنيا څخه يوغړپ داوبو همدارنګه په يوه بل حديث قدسي کښي چي مذکوره کتابوئې روايت کړیدی راغلي دي چی،وَ لَوْاَنَّ اَوَّلَكُمْ وَاخِرَكُمْ وَحَيَّكُمْ وَمَيِّتَكُمْ وَرَطَبَكُمْ وَيَابِسَكُمْ اِجْتَمَعُوْعَلَى اَتْقَا قَلْبِ عَبْدٍ مِنْ عِبَادِيْ مَازَادَذَالِکَ فِي مُلْكِيْ جَنَاحَ بَعُوْضَةٍ، يعني اوکچيري اول اواخيرستاسي اوژوندي اومړه ستاسي اووچ اولانده ستاسي سره راټول سي پر يوه ډيرپرهيز ګاره زړه باندي ديوه بنده له بنده ګانو ځما څخه نونه به کړي زيات داکارپه باچاهي زم کښي وزرديوه غوماشي مطلب دحديث دادی چی الله پاک فرمايلی دي چې که له تاسي ټولوڅخه په اعلی درجه پرهيزګاران جوړسي نوپه سره زما په بادشاهی کی دغوماشی دوزرقدرزياتوالی نه راځی بلکه نفعه ددې بيرته وتاسي ته راجع کيږی پوسه چي دمثالو بيانه ول دبشرپه تاريخ کښی په دوامداره توګه يوجاري اومستمرعمل پاته سويدی اوالله پاک په خپل هراسمانی کتاب کښي وبنده ګانوته دالهی مطالبو دتوضيح په خاطرمثالونه بيان کړيدي په انجيل کښي چي کوم مثالونه راغلي ؤو نودهغوی له جملې څخه ځني مثالونه په دې ډول وه،اولمثال دادی‌چی،ای خلګومکيږی تاسی په مثل دغلبيل چي صاف وړه دباندي باسي اوسبوس په نس کښي رابنده وي دارنګه تاسي هم دخپلوخولوڅخه دحکمت اودپوهي اودپند خبري راباسی اوغل اوعداوت دخدای له مخلوق سره په خپلوسينوکښي باقي پريږدی مطلب داچي محاسن داخلاقووخلګوته بيانه وی اوله دی سره سره په خپلوسينوکښي ساتی،دوهم مثال دادی چي،اي خلګوزړونه ستاسی په مثل دميده ډبروګرځيدلی دي هغه ډبري چی نه يې اور پخولای سی اونه يې اوبه نرمه ولای سی ،دريم مثال دادی چی ،ای خلګومه را الوځوی ،مه راپاروی غالبوزی چی بياتاسی په نيښو و وهی همدارازله کم عقلانوخلګوسره خبری مه کوی چی بيانوښکنځل درته وکړي اوبې آبه موکړي

(انه الحق) دانه ضيريا ومثل ته راجع دی اوياوضرب المثل ته مرادله حقوالي څخه دلته موافق والي دمثل يادضرب المثل دی له ممثل له سره پوسه چي لفظ دحق په قرآن پاک کښی دوه سوه څلويښت کرته راغلی دی اودغه لفظ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اصل لغت کښي مصدر همراغلی دی په معنی دثبوت اوصفت مشبه هم راغلی دی په معنی دثابت اودالله پاک له نوموځخه هم یونوم الحق دی په قرآن کښی دغه لفظ په ډیرومعنی ؤوکښي راغلی دی مثلا په دغه آیت کښی په معنی د موافق یاپه بل عبارت په معنی دواقع په خپل ځای کښی راغلی دی اوددغه سورت په دوه څلویشتم آیت کښی په معنی دثابت په دلیل یقینی شرعی سره چی مقابل دباطل دی راغلی دی اودارنګه ددغه سورت په ،یوشپیتم ایت کښی په دې قول دخدای کښی چی بغیرالحق دحق لفظ په معنی دجرم شرعی راغلی دی اوددغه سورت په یواویا یم ایت کښی په معنی دکامل اوپوره بیان دخبری راغلی دی اوددغه سورت په یوسلو نونسم ایت کښی دصدق په معنی راغلی دی اوددغه سورت په دوه سوه اودواتیا یم ایت کښی په معنی دحق دبنده اودقرضوراغلی دی اودارنګه ددغه سورت په یوسل اویویشتم ایت کښی په معنی دوړاولائق راغلی دی اوددغه سورت په دوه سوه اوشپږدیرشم ایت کښی دامرواجب په معنی راغلی دی وهکذا( فیقولون )پوسه چی موافق له ماقبله سره خوداوه چی دفیقولون پرځای فلایعلمون فرمایل سوی وای خوداسی نه دي فرمایل سوي ځکه چی په مذکورکلام کښی اظهاردډیرقباحت اوجهالت ددغوکافرانوراغلی دی ځکه مذکورکلام دلیل دی پرسخت جهالت اوحماقت ددوی باندي (ماذا) پوسه چی په دغه لفظ کښی دوه احتماله دي اول دادی چی مااستفهامیه په معنی دای شیئٍ سی اوذا په معنی دالذی سی اودوهم داچی مجموع په معنی دای شیئ سی ، او(داراد)لفظ له ارادة څخه جوړدی اوارادة دالله جل جلاله له صفاتوذاتیه وو څخه ده کوم چی عبارت دي له هغوصفاتوڅخه چی په ضد سره یې خدای پاک نه موصوف کیږي پوسه چي اراده دالله پاک عبارت ده له هغه صفت څخه چی ترجیح ورکوي ویوه له دوو مقدوروفعلوته پرابل باندی اوپه اراده کښی دخدای پاک داناممکن دی چي هغه کاردی کوم چی الله اراده ورته وکړي ترسره نسي (بهذامثلا) پوسه چی دهذا په لفظ سره کله کله دتحقیر دپاره ویوشي ته اشاره کړه کیږي دلته هم دکفاروتحقیر دهغه مثال مقصود وو کوم چی په قرآنی آیاتونوکښي راځی اوله دغه تحقیرڅخه ئې طلب ودې ته اشره کول ووچی قرآن دالله کتاب ندی اودمثلا لفظ یاحال دی اویاتمیز دی له هذاڅخه(الاالفاسقین) پوسه چي دفاسقین لفظ دفاسق جمع دی کوم چي له فسق څخه ماخوذ دی اوفسق په لغت کښی ووتلوته ویل کیږی له یوشي څخه اوپه عرف کښي ووتلوته ویل کیږي له حداواندازې څخه په ضرررسولوکښي لکه چی په همدې وجه ومار،لړم اوخروړي سپي وغیره ته په یوه حدیث کښي فواسق ویل سویدي اوپه شریعت کښي فسق وخروج اووتلوته ویل کیږي له حکمه څخه دخدای اورسول قاضی بیضاوي رحمه الله ذکرکړیدی چی په شرعه کښي فاسق وهغه ته ویل کیږی چی دکبیرې ګناه په کولوسره دالله له امره څخه خارج سي اوبیادغه فسق درې مرتبې لری اوله مرتبه ئی تغابي بلله کیږي تغابي ودیته ویل کیږي چي انسان کله کله په داسی حال کښي یوه ګناه وکړي چي دکولوپه وخت کښی دغه ګناه ډیره بده ګڼي خودنفس دغلبې په وجه ورڅخه صادره سي اودوهمه مرتبه ئي انهماک بلله کیږي انهماک ودې ته ویل کیږي چي یوسړی ګناه په داسي حال کښي کوي چی ګناه خوئی بولي مګرپه کولوئي هیڅ باک اوپروانکوي اودګناه کول ئې عادت وګرځي اودریمه مرتبه ئې جحودبلله کیږي جحود ودې ته ویل کیږي چي یوسړی العیاذبالله ګناه په داسي حال کښي کوی چی رواکارئې بولي په اولودوومرتبوکښي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفسق انسان دایمان له دائرې څخه نه خارجیږي اوپه دریمه مرتبه کښي په اتفاق سره کافرګرځي نعوذبالله من ذالک پوسه چی دفسق لفظ په قرآن کښي په څلورومعنی ؤوکښی راغلی دی۔ اول دمطلق ګناه کبیره په معنی لکه ددغه سورت په یوسل اوه نویم آیت کښي دوهم دکفراوشرک په معنی لکه دالمائده په دریم آیت کښي دریم دهغی کبیرې ګناه په معنی چی له کفره څخه راکښته وي لکه دحجرات په یوولسم اودسورت نورپه څلرم آیت کښي څلرم په لغوی معنی سره لکه دسورت کهف په پنځوستم آیت کښي دلته له فاسقین څخه هغه مرادډي چی دکفر په درجه کښی فاسقان وی پوسه چی الله پاک په قرآن کښی لس شیان دفسق سبب بللی دی اول له له ایمان راوړلوڅخه اوله اتباع څخه دمحمدصلیالله علیه وسلم مخ اړه ول لکه دآل عمران پهدوه اتیایم ایت کښی دوهم په ماانزل الله سره حکم اوفیصله نکول لکه دالمائده په اوه څلویشتم آیت کښی دریم نفاق لکه دتوبه په اوه شپیتم ایت کښی څلرم کفرکول لکه دنورپه پنځه پنځوستم ایت کښی مسلمان ته دزنانسبت کول لکه دنورشپږم ایت کښی شپږم وشاهد اووکاتب ته بي ځایه تکلیف ورکول لکه ددغه سورت په دوه سوه اودوه اتیایم ایت کښی اوم تبدیل دشرعی احکامو لکه ددغه سورت په نهه پنځوستم ایت کښی اتم په شرعی احکاموکښی حله اوبهانه کول لکه دسورت اعراف په یوسل اوپنځه شپیتم ایت کښی نهم وبتانوته ذبحه کول اوپه غیښو سره قسمت معلومه ول لکه دمائده په دریم ایت کښی لسم دذبحی په وخت کښی په قصدسره دالله پاک نوم پرېښودل لکه دانعام په یوسل اویویشتم ایت کښی ، تمت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د البقره د سورت د اوه ویشتم آیت تفسیر اوعلمی تحقیق

## تفسیرفضل الرحیم لسمه برخه

---------------------------------------------------

لفظی ترجمه

(الَّذِينَ)هغه یعنی هغه فاسقان (يَنْقُضُونَ) چی ماتوی دوی ( عَهْدَ )تړون،پیمان،یاوعده (اللَّهِ )دخدای یعنی هغه تړون چی دوی له خدای سره کړیدی چی دخدای فرمان برداری به کوي اودالله په حکموبه عمل کوی اودالله پاک رسولان به منی نوهغه ماتوي اومخالفت یې کوي ( مِنْ) له (بَعْدِ)وروسته (مِيثَاقِ) دمحکم والی(ه)دده یعنی له وروسته ددې چی الله پاک ددویهغه عهداوتړون محکم هم کړلکه چی تفصیل بې راسی(و)او (يَقْطَعُونَ)پرې کوی دوی (مَا)هغه (أَمَرَ)چی امرکړیدی (اللَّهُ)خدای پاک (بِهِ )په ده سره (أَنْ)په دې(يُوصَلَ)چی پیوست دي کړ سی هغه (وَ)او(يُفْسِدُونَ)فسادکوي دوی (فِي)په ( الْأَرْضِ)ځمکه کښی ( أُولَئِكَ )هغه خلگ (هُمُ)خاص دوی ( الْخَاسِرُونَ) (27) هغه خلگ دی چی زیان ئې کړیدی یعنی ددنیا اودآخرت زیان ئې په برخه سویدی ، ،یعنی دغه فاسقان چی ذکرئې وسو هغه کسان دي چی په دوی کښی داخویونه موجوددی ،اول دا چی دوی هغه عهداوپیمان ماتوي کوم چی الله جل جلاله له دوی څخه اخستی دی یاپه بل تعبیردوی همیشه دهغه عهداوتړون نقض اوماتول کوی کوم چی دوی له الله سره کړیدی اودوهم داچی دوئ همیشه هرهغه شی پرې کوی اوقطع کوی ئې کوم چی الله پاک دوئ دهغه شی په وصل کولواوپیوسته کولوسره امرکړی دي لکه صله رحمی وغیره چی تفصیل بې راسی دریم داچی دوئ په ځمکه کښی همیشه فساداوتباه کاری کوی، دهمداډول فسقی اوکفری خویوپه سبب دوی ددنیا اودارنگه دآخرت په ابدی خسران کښی لویدلی دی ،

تفصیل اوعلمی خبری

)،الذین ینقضون عهدالله من بعدمیثاقه(

پوسه چی دغه موصول سره دخپلی صلې صفت دی د(الفاسقین) دپاره یادپاره دذم اودتقریر دفسق ددوئ راوړل سویدی اویامخصصه صفت دی خوهلته که له فاسقین څخه عام فاسقان مرادسی کوم چی ومومن فاسق ته هم ورشامل دی ،اودینقضون لفظ له نقض څخه جوړدی کوم چی په اصل کښی دپړی اودرسی ووُشْنلوته ویل کیږی په عرف کښی دغه لفظ دعهداوتړون وماتولو ته ویل کیږی ا ودا په دې وجه چی دعهددلفظ دپا ره کله دحبل لفظ کوم چی په معنی دپړی اورسی دی په استعاره راوړل کیږی په دې مناسبت چی دعهدپه واسطه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمتعاهدينوپه منځ کښې ارتباط راځی لکه دپړی دسنيو په منځ کښې چې ارتباط موجود دی،دعهد لفظ په معنی دپيمان اودتړون دی اوکله په معنی دوعدې هم راځی اودمن جاره کلمه دپا ره دابتدا ده ځکه چې ابتدا اوشروع دنقض دعهد وروسته له ميثاق دعهدڅخه کيږی اودميثاق لفظ ياپه معنی دوثوق يعنی محکموالی دی اوياپه معنی دتوثيق يعنی محکمولودی اوياپه معنی دمايوثق به دی يعنی هغه شی چې په هغه سره ديوشی لکه عهدمثلا محکموالئ راځی،

پوسه چې دآيت دمذکوره جملې په مطلب پوه کيدل وتفصيل ته حاجت لری نوتفصيل ئې دادی چې ددغودريوخبروپه حقيقت ځان پوهه ول په کاردی،اول داخبره چې له عهد څخه دالله دلته مرادڅه دی دوهم داخبره چې له نقض دعهد څخه مرادڅه دی دريم داخبره چې دميثاق دعهدڅه مطلب دی،ددې خبروتفصيل مفسرينوپه مختلفوډولوکړی دی اول په دې ډول چې کله چې يوانسان داسلام کلمه ووائې اوپيغمبرداسلام دالله رسول وګڼی نودغه سړی له الله سره داعهداوتړون وکړچې هرڅه احکام ستا چې ددغه رسول په واسطه وماته راورسيږی نوزه به په حتمی ډول هغه منم داخودعهد الله معنی سوه بيا چې کله دغه سړئ پيغمبر ووينې اويادده حالات په کتابو کښې وګوری اوهغه خلګ چې په اسلام ئې عمل کړئ وی ووينی چې دغتوغتوکرامتواومقاماتوخاوندان ګرځيدلی وی اودارنګه داسلام دحقانيت نوری نښانې ورته ښکاره سی نودده يقين اوايمان نورهم محکم سی دانوميثاق دعهدالله سو نوله دې څخه وروسته که بيادَیْ داسلام په حقوالی کښې شک وکړی نوبيشکه به دی غټ فاسق اوخارج له حدڅخه دعقل اودشرع ګڼل کيږی،اوځنومفسرينوفرمايلی دی چې له عهدالله څخه دلته مرادهغه عهددی کوم چې دالست بربکم په ورځ کښې انسانانوله الله سره کړيدی کله چې آدم عليه السلام الله پاک پيداکړ نودټولوانسانانوارواحونه دوړوکيوسُرُو ميږيانو په ډول الله پاک دآدم له ملا څخه راوايستل اودخپل وحدانيت علم ئې په دوئ کښې کښيښووی اوورته وې ويل چې الست بربکم يعنی ايانه يم زه رب ستاسی،قالوابلی،يعنی وويل دوی چې هوته ای پروردګاره ځموږرب يې نوپه دغه وخت کښې ټولوانسانانوله خپل رب سره داعهدوکړچې موږبه له تاسره شريک نه پيداکوواوستاله حکموڅخه به سرغړه ونه نه کوو اوميثاق اومحکمول ددغه عهدبياپه دوه ډوله سويدی اول په دې ډول سره چې دانسانانو په عقلوکښې يې ددلائلو دتوحيداودپيژندنی دالله پاک استعدادپيداکړاوپرخپل ذات اوصفاتوباندی ئې دلائل ورته نصب کړل اودوهم په دې ډول چې رسولان ئې سره له معجزواوسره له اسمانی کتابوپه دوی کښې مبعوث کړل اوځنی مفسرين وايی چې مرادله دغه عهدڅخه هغه عهددی چې په تورات کښې الله له بنی اسرائيلو څخه اخيستی ؤچې که هروخت اخيری نبی حضرت محمدصلی الله عليه وسلم پيداسونوخامخا به تاسی پرده باندی ايمان راوړی اودده مدداوکومک به کوی،،فتح العزيز،مظهری وغيره،

)ويقطعون ماامرالله به ان يوصل(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوسه چې د،ان یوصل، لفظ بدل دی ـ له ضمیرمجرورڅخه د،به، په لفظ کښې اودغه جمله دینقضون پرجمله باندی عطف ده اودماکلمه عبارت ده له علاقی څخه یعنی دغه فاسقان همیشه د هغی هری یوی علاقه قطع کوی کومه چې الله دهغې په وصل کولوسره امرکړیدی ـ ،همدارنګه پوسه چې دغه علاقه عبارت ده له څوقسمه علاقوڅخه ،

اوله داعلاقه ده چې دانسان روح یې له عالم علوی اوملائکوسره لری،وصل اوپیوسته کول ددې علا قې دادی چې انسان هغه اعمال اخلاق اومعارف په ځان کښی راولی کوم چې دملاکه ؤدی ځکه چې په دې سبب دانسان له عالم بالاسره مناسبت اوهمجنسوالئ پیداکیږی اوقطع کول ددې علاقې دادی چې انسان وشیطانی اعمالوته مخ کړی اودنفسانی خواهشاتوتابع سی ځکه په دې وجه دانسان تعلق اومناسبت له ملائکوسره قطع کیږی،دوهمه علاقه داده چې انسان یی له انبیاؤ،مرشدانواوعلماؤسره لری ددې علاقی وصل کول دادی چې انسان ددغومذکورومبارکواشخاصوکامله تابعداری وکړی او ټول نبیان ومنی اوداسی ونکړی چې ځنی پیغمبران منی اوځنی نه منی لکه نصاری اویهود،اوپرې کول ددې علاقې دادی چې انسان ددوی پرخلاف دکفارو،منافقانو،وغیره مصاحبت غوره کړی اوددوی شبهو اوغلطو خبروته غوږونه نیسی اوپردغومقدسوبندګانوداالله پاک طعنونه و ائې، دریمه علاقه دقرابت اودرحم ده اوقطع کول ددغی علاقی په ډیرووجوسره کیږی اول په دې وجه سره چې په هغووختوکښی وقریبانوته نه ورحاضریږی کوم چې دوی ئې په هغوئ کښی دده دحضورطمع کوی لکه دغم یادیوې خوشحالۍ وخت اودوهم په دې وجه سره چې له دوئ سره احسان اومروت نکوی اودریم په دې وجه سره چې ودوئ ته ضرررسوی وهکذا،فتح ا لعزیز وغیره ،ویفسدون فی الارض، پوسه چې دغوفاسقانوپه مختلفوطریقوسره په ځمکه کښی فسادکاوه،اول په دې طریقه سره چې خلګ بې له ایمان راوړلوڅخه منعه کول،

دوهم په دې طریقه سره چې کفاراودمسلمانانومخالفین بې دمسلمانانوپرخلاف په جنګ راپاره ول

دریم په دې طریقه سره چې کفاربې دمسلمانانو په پټواسراروخبره ول څلرم په دې طریقه سره چې دصحابه ؤاومسلمانودعیبوتجسس بې کاوه چې بیانوتشهیرورکړی اوخلګ ورڅخه ناڅ ماتی کړی پنځم په دې طریقه سره چې بدرسمونه اوبدعتونه بې په خلګوکښی رائجه ول شپږم په دې طریقه سره چې دشهوت اودغضب او دتباه کاری په کاروکښی بې په اخیره درجه توغل کاوه،،

تمت والله الموفق

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د البقرة ، د۲۸، آیت تفسیر او علمی تحقیق

## تفسیر فضل الرحیم (۱۱) برخه،

---

لفظی ترجمه:

، (كَيْفَ ) څرنګه (تكفرون)کافران کېږی تاسی (بِ)په (اللَّهِ) الله باندی( وَ)حال دادیٍ(كُنْ) واست (تُمْ ) تاسی (أَمْوَاتًا)مړه (فَ)بیا( أَحْيَا)ژوندی کړاست ده ،یعنی الله پاک(كُمْ )تاسي ، یعني په دې ډول چي ستاسي بدنونه ئی ستاسي دمیندوپه رحموکښی تیار اوجوړکړل اوبیا ئې روحونه پکښی داخل کړل(ثُمَّ )وروسته یعني وروسته له دغه ژونده ستاسي چی اجلونه موراسي (يُمِيتُ )وژني دَیْ یعنی الله پاک (كُمْ)تاسی( ثُمَّ)بیایعنی بیاکله چي دقیامت ورځ راسی( يُحْيِي)ژوندی کوی دَیْ یعني الله جل جلاله(كُمْ)تاسی( ثُمَّ )بیایعنی وروسته له دې چی دقیامت په ورځ کښی بیرته راژوندی کړه سیٍ(إِلَيْهِ)خاص وده ته یعنی خاص والله اودده وحساب،کتاب اودده وجزاته( تُرْجَعُونَ )ګرځه ول کړه کیږیٍ ،وروستل کیږیٍ یعنی له قبروڅخه،البقرة(28) آیت یعنی څرنګه تاسی کافران کېږیٍ په الله جل جلاله باندی ،پرکوم یوه حال باندی تاسی کافران کیږیٍ ایا په داسی حال کښی چی  جاهلان یاست په الله جل جلاله باندی اوکه په داسی حال کښی چی الله جل جلاله پیږنیٍ،که داوواياست چی دجهل په حال کښی کافران یو نوداخبره خومو ښکاره باطله ده ځکه چی تاسی پدې عالمان یاست چی الله له نیستیٍ څخه تاسی ووجودته راوستلاست ،اوکه داسی ووایاست چی سره له علمه موکفر غوره کړیدیٍ نوبیاخولانوره خبره بده سوه پردغه تقدیربه په آیت کښی ودیته اشاره راسی چی ددغوکافرنوکوم چی په تکفرون سره خطاب ورته سویدیٍ ،کفر،عنادی کفرؤیامطلب دآیت دادیٍ چی هیڅ یوحال له حالاتوڅخه ستاسی داسی نسته چی هغه دی لائق په دې سره وی چي تاسی په الله جل جلاله باندی کافران سیٍ ځکه ابتدائی حال ستاسی دموت اودمرګ حال ؤچی په مختلفومرحلودمرګ کښی تاسی قرارپیداکړځکه اول اول خوتاسی اوټول کائنات معدوم اونیستی واست بیاالله پاک دعناصروپه ضمن کښی وتاسی ته تحقق درکړبیائې دموراوپلاردغذا په شکل کښی وګرځولاست اوبیا دنطفوپه صورت کښی سولاست اوبیادمیندوپه رحموکښی یوواردکلکووینوټوټې اوبیا دغوښوټوټې په الهی قدرت درڅخه جوړی سوي اوبیاموهلته دبدنوټولی اجزا وی الله جل جلاله درپوره کړی په دغوټولو مرحلوکښی تاسي یوقسم معدومات اومړی واست بیا الله جل جلاله حیات درکړچی ستاسی په بدنوکښی ئې روحونه اوساوی داخلی کړې چی همدغه ژوند په دوومرحلوکښی تاسی  تیره ویٍ اوله مرحله ئې چی بیخی کوتاه مرحله ده دمیندوپه نسوکښی ده اودوهمه مرحله ئې له هغه وخت څخه پیل کیږی چی ستاسی زوکړه وسی بیادمرګ تروخته پوری اوبیا دوهم ځل بیرته تاسی الله جل جلاله مړه کوی اوددغه مرګ مرحله بیاتاسی په عالم برزخ کښی تیره ویٍ چی په دغه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرحله کښې به تاسی دقبروله راحت اویاعذاب سره مخامخ کیږی اودنکیراومنکردپښتنواوسوالووجوابوته به اړکیږی اودغه راز نورترخه یاخواږه حالات به په همدغه برزخی مرحله کښی دخپلوعملوپه وجه تیره وی اوبیاچی کله دقیامت ورځ راسی نوبیرته به الله جل جلاله تاسی له قبروڅخه ژوندی راپورته کوی اودالهی عسکرو،فرشتوپه ذریعه به دحشرګاه ومیدان ته وروستل کیږی اوبیابه هلته له قسم قسم سختوحلاتوسره مخامخ کیږی اوداعمالومحاسبې به درسره کیږی اوبیابه ودوزخ یا وجنت ته روانیږی ،نواوس تاسی فکروکړی چی په دغوحالاتوکښی ستاسی کوم حال ددې وړدی چی تاسی سرکښی وکړی اوپه الله جل جلاله باندی کافرا ن سی ،

روح المعانی وغیره مع توضیح،

تفصیل اوعلمی خبری،

)کیف(

پوسه چی دغه لفظ دپاره داستفهام دحال راځی په قرآن پاک کښی دغه لفظ درو اتیاځایه راغلئ دی خوپه ځینوځایوکښی مقصود ورڅخه انکار اوزجروی یاتعجیب وی لکه په دغه آیت کښی چی دواړه صحیح کېدلای سی، اوکله مقصودورڅخه اقراروی لکه دالغاشیة په ۱۸،،۱۷ وغیره آیاتونوکښی اوداسی په نورومعناؤ هم راځی اودبنده ګانوپه کلام کښی دتعجب دپاره هم راځی،(وکنتم) الخ،پوسه چی دلته د ځنو سوالواودهغوئ په جوابوځان پوه کول ضروردی ،اول سوال دادی چی ددغی جملې ربط خودتکفرون له جملې سره دادی چی حال دی له فاعل څخه دتکفرون اوسره له دې چی حالیت ئې له مختلفووجو څخه صحت نلری،

اول له دې وجی څخه چی ماضی هلته حال واقع کېدلای سی چی ماضی قریبه وی اودقدلفظ ظاهریامقدرورسره وی دلته که دقدلفظ ورسره مقدرهم سی خودغه ماضی بعیده ماضی ده ،ددې سوال جواب دادی چی کله ماضی بعیده ماضی قریبه فرض کړه سی نوحال واقع سی لکه په دې قول کښی �کیف تکذب وقدقال رسول الله صلی الله علیه وسلم المومن لاتکذب� یعنی څرنګه دروغ وایی ته اوحال دادی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چي مومن دروغ نه وایی.

دوهم له دې وجی دمذکوره جملې حالیت نه صحیح کېږی چی پردغه تقدیرد�ثم یمیتکم الخ� ددریوواړه جملوعطف پرجمله دوکنتم امواتاً باندی نه صحیح کېږی اوداپه دوه سببه اول په دې سبب چی ماضی اومستقبل په یوه وارله یوه شی څخه حال نسی واقع کېدلای دوهم په دې سبب چی دغه درې سره فعلونه دمضارع مستقبلی صیغې دی اومضارع چی مستقبل محض وی حال نسی واقع کېدای،ددې سوال

یوجواب دادی چی دغه درې سره جملې مستأنفی جملې دی اودوکنتم امواتاً پرجمله باندی عطف ندی همداسبب دی چی له ماقبل څخه په حرف عطف اوپه صیغه په دواړوکښی مخالفت لری.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودوهم جواب دادئ چې دغه ټولې جملې په حال والی کښې داخلې دی خوپه حقیقت کښې حال علم پردغوجملو باندی دئ نه په خپله دغه جملې اوتقدیردآیت په دې ډول دی،کیف تکفرون وانتم عالمون بانکم کنتم امواتاً الخ خوپردغه جواب باندی داسوال واردېږی چې اکثرودغوکفاروته کوم چې په دغوجملوسره مخاطب وه پردې باندی علم نه ووحاصل چې له مرګ څخه وروسته به دوئ دوباره راژوندی کړه کېږی اووحشرګاه ته به بیول کېږی ددغه سوال جواب په دې ډول سره کېدلای سی چې ځنې په کښې دارازخلګ شائی موجودووچې مذکورعلم ورته حاصل وواودغه قدردکلام دصحت دپاره دلته کفایت کوی

اودریم جواب کوم چې ځنومفسرینوورکړیدئ دادئ چې دلته دغو مذکوره صیغو داستقبال دثم دمعنی په وجه دماضی په صیغوسره اوښتې دی ځکه چې معنی دآیت په دې ډول ده ،،فاحیاکم وتراخی اماتته وتراخی احیا ءه ایاکم وتراخی رجوعکم الیه، صاحب دفتح العزیزویلی دی چې ترټولوزیاته صحیح توجیه داده چې وویل سی چې له فاحیاکم څخه وروسته چې کومې جملې دی نوهغه دکیف تکفرون پرمجموع جمله باند عطف دی اوحاصل دکلام دادئ چې ای کافرانوسره له دې چې په خپلوحالاتوباندی ښه علم لرئ خوبیاهم کافران کېږئ نودادېرمستبعدکاردئ اوکه له دغه سره سره چې له خپلواحوالوڅخه خبریاست کفرغوره کوئ نوپه دې هم پوه سئ چې بیرته به مړه کېږئ اوبیابه دوهم ځل بیرته راژوندی کېږئ اوپه دغودواړوحالتونوکښې به دهمدغه کفرسزاوینئ.

(ثم یمیتکم ثم یحییکم،)پوسه چې له دغه مبارک آیت څخه متعددی فایدې اومسائل ترلاسه کیږی چې تفصیل ئې په دې شرحه دئ ،اول دکافرانوکفرپه داسې حال کښې چې دوی له خپل ماضی اوحال اوآینده څخه ښه خبردی دډیرشدیدانکاراوتعجب اوتعجیب محل اوګای دئ،دوهم دمیت دلفظ اطلاق پرهغه شی باندی هم کېدلای سی کوم چې بې روحه وی اودمخه هم په حیات اوژوندسره نه وی مشرف سوی یعنی ددې دپاره چې پریوشی باندی دمړه اطلاق کول کېږی ودېته ضرورت نسته چې دغه شی به تردغه اطلاق دمخه یوځل ژوند ئ اوسېدلئ وی اوکوموعلماؤ چې ویلی دی چې ،میت، صرف وهغه چاته ویل کېدلای سی چې یوځل ژوندئ اوبیاساه ورڅخه وتلې وی نوداقول ددوی دقرآنی آیاتونوله مخې ناسم دئ ځکه په دغه ذکرسوی آیت کښې انسانان تردغه دنیوی ژوندله مخه اموات اومړه بلل سویدی سره له دې چې تردغه ژونددمخه خوانساناونوبل ژوندندئ لیدلئ اودغه رازالله پاک دکفاروو‌بتانوته اموات اومړه ویلی دی سره له دې چې جمادات دی اویووخت ئې هم ژوند ندئ موندلئ لکه چې دسورت نحل په،۲۱،آیت کښې دبتانوپه شان کښې الله پاک فرمایلی دی ،اموات غیر احیاء.

دریم،له دغه آیت څخه دامسأله راخارجیږی چې جنین یعنی هغه حمل چې دمورپه رحم کښې وی اوساه اوروح ئې لا په بدن کښې نه وی داخله سوئې له رحم څخه دمورراخارج سی نوده لره دژوندی حکم نسی ثابتیدلای همداسبب دئ چې غسل اوکفن نه ورکول کیږی اولمونځ دجنازې نه ورکړکیږی اووارث اومُوْرِث نه ګرځی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلرم ،په مذکورآیت کښې الله پاک دخپل عظیم قدرت له نښانوڅخه ځنی غټې اوستری نښانې وبندګانوته ذکرکړی دی چې هغه له غذا څخه دانسان دخلقت مواد په تدریج  اوترتیب سره جوړه ول لکه نطفه علقه مضغه وغیره اوبیا وروسته دمورپه رحم کښې دده دبدن ټول اعضاء برابره ول اوبیا په هغه کښې روح داخلول دی چې بیا ژوندی شخص ورڅخه جوړسی اوحرکت تکلم اوکښېنستل پریوتل تګ راتګ خوراک وغیره کوی.

پنځم، له مذکوره آیت څخه دوهم ژونداودهغه ډول اوڅرنګوالئ فهمېږی ،په انسانانوکښې خوځنی داسی څوک دی چې العیاذ بالله له دوهم ژوند څخه یعنی له بعث بعدالموت څخه منکر دی لکه دنبی علیه السلام په زمانه کښې چې مثال عرب مشرکان ؤاولکه په دغه موجودعصرکښې چې دهریه اودروسانودنظریې خلګ دی اوځنی بیا لکه فلاسفه دیونان وروسته له مرګ څخه  په یوداسی قسم روحانی ژوندباندی قائل دی کوم چې  له آسمانی  شریعتو څخه پرمخ مخالف قول دی،اوځنی بیالکه هندوان په تناسخ سره قول کوی دوی وائې چې کله چې یوانسان مړسی نوبیادده روح په یوه بل بدن کښې داخلیږی اودوباره په دنیاکښې ژوندئ سی خوداسلام دمقدس دین په شمول دټولواسمانی غیرمحرفوادیانو په دې باره کښې هدایت دادی چې  ټول انسانان به په یوه مشخصه ورځ کښې کومه چې دقیامت ورځ ده دالله په حکم دوهم ځل سره له روحونو او بدنوددوئ بیرته راژوندی کړه کیږی اوبیابه له دوی سره داعمالواوعقائدومحاسبه کړه کیږی اوبیابه مستحقین دجنت جعلنا الله منهم وجنت ته ځی اومستحقین ددوزخ به ودوزخ ته ځی نعوذبالله من ذالک اوبیابه دغه ژوند ابدی وی اوفنااومرګ به بیانه وی ،

تمت ومن الله التوفیق

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د البقره د سورت د۲۹، مبارک آیت تفسیر او علمی تحقیق

## تفسیرفضل الرحیم (۱۲) برخه

---

لفظی ترجمه

(هُوَ) دَی یعنی الله جل جلاله ( الَّذِي)هغه دی یعنی هغه وتاسی ته ای انسانانودغېوغېونعمتودرکوونکئ ذات دی (خَلَقَ)چی پیداکړي یې دي (لَكُمْ)تاسی لره، یایې داسی معنی وکړی، له وجی ستاسی ،یعنی له وجی دنفعی ستاسی (مَا)هغه یعنی هغه شیان (فِي)چی دي په (الْأَرْضِ) مزکه کښی (جَمِيعًا) ټول یعنی په داسی حال کښی چی ټول دی په دې معنی چی یوشی هم پکښی داسی نسته چی الله جل جلاله دی نه وی پیداکړئ بلکه بل چادی دهغه تخلیق کړئ وی اونه یوشی له همدغوځمکنی شیانو څخه داسی سته چی ستاسی نفعه اوفایده دی په هغه کښی نه وی ملحوظه سویې(ثُمَّ) بیایې (اسْتَوَى)قصدوکړ (إِلَى) وه (السَّمَاءِ)اسمان ته یعنی قصدیې وکړواسمان ته د دې چی پیدایې کړي (فَ)نویې (سَوَّا) برابرکړل، یاپیدایې کړل برابرله حکمت خپل سره (هُنَّ) دوی یعنی اسمانونه (سَبْعَ) أُوه (سَمَوَاتٍ)اسمانونه، یعنی په داسی حال کښی چی أُوه اسمانونه دي (وَ) او (هُوَ) دَی یعنی الله پاک (بِ) په (كُلِّ)هر (شَيْءٍ ) شی (عَلِيمٌ) ښه عالم دی) 29(،،،

پوسه چی پدغه مبارک آیت کښی الله جل جلاله بل عظیم نعمت خپل چی پرانسانانوباندي یې کړیدی بیان کړیدی اودغه نعمت مرتب دی پرنعمت دوجود ورکولو وانسانانوته چی په مخکی آیت کښی یې ذکروسو ځکه چی دادهغه نعمت بیان دی چی انسان له پیدایښت څخه وروسته په بقاوپه زندگی کولوکښی ورته محتاج دی پدغه آیت کښی الله پاک داسی فرمایلی دي چی دغه الله چی تاسی په کافران سوی یاست سره له دې چی ستاسی وجود اوستاسی مرگ اوژوند دده له لوري څخه دی اوتاسی بېا دده ومحاسبې ته هم ورځی، هغه ذات دی چی پیداکړي یې دي ستاسی دفایدې اونفع دپاره هغه ټول شیان چی په مزکه کښی دي چی ستاسی دژوندانه چاری ټولی دهمدغی مزکی په شیانوسمبالیږي اوقِسم قِسم دنیوي فایدې ورڅخه اخلی اودارنگه له همدغوشیانوڅخه دینی نفعی هم اخلی ځکه هرشئ چی په مزکه کښی دی داللهِ پاک پروجود اویووالی باندي اودارنگه دده پرکاملو صفاتوباندي لکه علم، قدرت، اراده،اوپرپاکوالی باندي داللهِ جل جلاله له ټولونقصاناتو اوعیبوروښانه دلیل دی اوالله پاک په پیژندل کیږي لکه چی مولاناعبدالرحمن جامی رحمه الله فرمایلی دي

زهرزره بدوروی وراهیست براثبات وجود اوگواهیست

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اویالکه شیخ سعدي شیرازی رحمه الله چی فرمایلی دي

برگ درختان سبز درنظرهوشیار هرورقش دفتریست معرفت کردگار

همدارنگه نبیان علماء مدرسی مسجدونه کتابونه کاغذان قلمان اوداسی نور بیشماره مزکنی شیان چی دینی گټی ورڅخه اخیستلي کیدلای سی همدارنګه دغه أوه اسمانونه چی وانسانانوته دنیوي اودینی فایدي پکښی موجودي دي همدغه الله جل جلاله پیداکړیدي اودغه ټول کارونه چی ده کړیدي ددې خبری کامل دلیلونه دي چی الله جل جلاله دزبردست اوکامل ترین علم خاوند دی اوپه هرشی ښه عالم دی ،،،

تفصیل اوعلمی خبری

،)هوالذی(

پوسه چی دلته مبتداچی دهولفظ دی اوخبرچی الذی سره له صلې دی دواړه معرفه دی نوپه دې وجه داکلام مفید دحصر دخبر دی په مبتدا کښی خوځرنګه چی دغه خبرپه اصل کښی دلیل دی پر استحقاق داالله پاک عبادت لره دبندګانونوحصر دهمدغی خبری په الله کښی مفید دی دحصر داستحقاق دعبادت په الله کښی ، اودغه جمله په تقدیردعاطف سره عطف ده پر جمله دوکنتم باندی اوحرف عطف له دې وجی ترک سویدی چی دغه معطوف لکه نتیجه داسی دی معطوف علیه لره ،د،هو،په لفظ کښی مختلف لغتونه دی ،اول په ضمه دهاء اوپه تخفیف اوفتحه دواوسره لکه چی مشهورهم دادی دوهم په حذف دواوسره خوپه شعرکښی فقط،دریم په ضمه دهاء اوپه تشدیداوفتحه دواوسره خوپه لغت دهمدان کښی څلرم په سکون دواوسره خو په لغت کښی دقیس اوداسد اودغه لفظ دهوداهل الله په نزددالله پاک دذات بحت نوم دی اوپه دغه لفظ کښی اصلی حرف یواځی دهاء لفظ دی اوواوپکښی زائد دی په دلیل ددې چی په تثنیه اوپه جمع کښی حذف کړکېږی نوداپه اصل کښی یوحرف دی اوپریوه ذات فرددالله باندی دلالت کوی اودغه مبارک لفظ دهو دهرانسان له تنفس سره جریان لری

-

)خلق(

پوسه چی دخَلَقَ لفظ دخَلْق څخه جوړ دی خلق په اصل کښی وتقدیر یعنی اندازه کولوته ویل کیږي یقال خلق النعل اذاقدرهاوسواهابالمقیاس بیاپه معنی کښی دایجادالشیئ علی تقدیر واستواءمستعمل سویدی( لکم) تقدیم ددغه جار اومجرور پرصریحی مفعول باندی کوم چی دمافی الارض لفظ دی دپاره دتعجیل دمسرَّت دی اولام جاره دپاره دتعلیل اودانتفاع دی،ای خلق لاجلکم جمیع مافی الارض لتنتفعوابه فی اموردنیاکم بالذات اوبالواسطه وفی اموردینکم با لاستدلال والاعتبار،پوسه چی ډیروداهل سنتولکه حنفیه اوشافعیه په دغه آیت سره پر دې خبره باندی دلیل نیولی دی چی اصل په هغوشیانوکښی چی دانسانانودپاره نافع وی اباحت او رواوالئ دی البته دمخه تراتللو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشریعت اواکثر دمعتزله ؤهم پردغه خبره باندی دی اوامام رازی په محصول کښی اوبیضاوی په منهاج کښی هم دغه خبره غوره کړیده خوځنوعلماؤپردغه استدلال باندی دااعتراض کړیدی چی لام جاره خوکله دپاره دغیردنفع هم راځی لکه په دې قول دخدای کښی چی،ان اسأتم فلها،بیا په دې ډول جواب ورکړسویدی چی دغیر نفع دپاره دلام جاره راتلل دمجازپه ډول دی نه دحقیقت په ډول، اوځنوویلی دی چی اصل په اشیاؤکښی له مخه تروروددشرع حظراوحراموالئ دی اوځینوبیا په دې مسأله کښی توقف کړیدی،روح المعانی

)ما فی الارض (

پوسه چی لکه څرنګه چی مافی الارض یعنی هغه شیان چی په ځمکه کښی دی الله پاک دانسانانودنفع دپاره پیداکړیدی نودارنګه ئې ځمکه په خپله هم ددوئ دنفع دپاره پیداکړیده نوپه دې وجه دلته داسوال کیږی چی دلته تخصیص دمافی الارض په څه وجه سویدی ؟ددې سوال په مختلفووجوسره جواب سویدی،اول په دې ډول چی بیان دامتنان په ځمکه سره الله پاک تردغه دمخه لا په خپل دغه قول کښی کړیدی چی،وجعل لکم الارض فراشا ،اودوهم په دې ډول چی دالارض له لفظ څخه خپله معنی نه ده مرادبلکه دارض لفظ دلته په معنی دجهة السفل دی نوبه دمافی الارض معنی مافی جهة السفل سی اودریم په دې ډول چی دځمکی پرهرجزباندی دمافی الارض لفظ صادقیږی نوله دغه وجی ځمکه هم په مافی الارض کښی داخله ده دلته یوسوال داهم کیږي چی ټول مافی الارض خوپه وخت دنزول ددغه آیت کښی خدای پاک نه ؤو پیداکړي ځکه ډیرله مافی الارض څخه وروسته پیداسویدي نوبیا څنګه خلق یعنی دماضی لفظ الله جل جلاله فرمایلی دی د دې سوال هم په مختلیفوډولو سره جواب کیدلاي سی اول پدې ډول چی له مافی الارض جمیعاً څخه هغه مافی الارض مراد دی چی دهمدغه آیت دنزول په وخت کښی موجود ؤو دوهم پدې ډول چی له خلق څخه دمافی الارض جمیعاً عام مراد دی که خلق دنفس مافی الارض وي اوکه خلق دمادې د ده وي اودریم پدې ډول چی هغه چی په وروسته کښی موجودسوی اویاموجودیږی دتغلیب په ډول مخلوق بلل سویدی څلرم پدې ډول چی خَلَقَ په معنی دقَدَّرَده له دغوجوابوڅخه دیوه بل سوال جواب هم وسوهغه داچی دمخه تراستواء اوقصدکولودالله پاک وپیدایښت داسمانوته خوجمیع مافی الارض نه ؤپیداسوی ځکه له مافی الارض څخه ډیرداسی شیان ؤچی وروسته ترتخلیق داسمانوالله پیداکړل اوبائې اوس لاهم ندی پیداکړی بلکه له دې څخه وروسته ئی پیداکوی، ، پوسه چی اباحیه چی یوه ګمراه کافره ډله ده او واسلام ته اووصوفیه ؤته منسوبه ده وایي چی کله انسان خدا ی پاک وپیژنی اوله خدای پاک سره یې محبت پیداسی نوبیا په هیڅ شي مکلف نه دی اوهرڅه ورته روادي او په مزکه کښی چی څه دي هغه دهرچادي او ورته مباح دوئ پدغه آیت کښی دخلق لکم مافی الارض جمیعاً په جمله سره دلیل نیسی اودارنګه اشتراکیه اودهریه کفارهم پرمسلمانانوباندی دالزام په ډول دغه آیت پرخپله دې خبره باندی چی ددنیا ټول شیان وهرچاته مباح دی اوزن زرزمین دټولوسره شریک دی دلیل ګرزه وی ، ددوی ددې فاسداستلال اول جواب دادی چی له دغه آیت څخه خوصرف دونه قدرفهمیږی چی په ځمکه کښی هرشی دانسانانودنفع دپاره دی اونفعه عامه ده که دنیوی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی اوکه دینی وی او دارنګه عام له دې څخه چی دغه نفعه اخیستل په مافی الارض مشروط په یوه شرط اومقید په یوه قیدسره وی او که نه وی نوپه دغه عامه معنی سره انتفاع اباحت دهرشی لره ندی مستلزم اودوهم جواب یې دادی چی قاضی بیضاوی رحمه الله ددوی دغه استدلال په دی ډول رد کړیدی چی مذکوره آیت پردې باندی دلالت نه کوی چی هریودمافی الارض مباح دی لپاره دهریوه له انسانانوبلکی پردی باندی دلالت کوی چی مجموع دمافی الارض دمجموع انسانانودپاره دی نوداله دې سره منافات نلري چی ځنی شیان دي ترځنوانسانانوپوری دځنوعارضی اسبابوپه وجه لکه رانیول یا په میراث ور پاته کیدل اختصاص پیداکړي او ونوروته دي نه وي مباح خوالبته له آیت څخه دغه مسئله معلومیږي چی اصل په مزکنی شیانوکښی اباحت دی اونه اباحت دعارضی اسبابو په وجه پکښی راځی لکه چی تفصیل ددې دمخه تیرسو، دلته په دې اړه ویوې بلی فائدې ته فهم وکړی،محب الله بهاری په مسلم الثبوت کښی ذکرکړیدی چی دغه اختلاف چی اصل په اشیاؤکښی اباحت دي اوکه حرمت دی اوکه په دې کښی توقف دی په هغه وخت کښی ممکن دی چی شریعت نه ؤراغلی اوکله چی شریعت راغی نوبیاخودهرشی حکم شریعت معلوم کړاوځنووېلی دی چی دشریعت له نزول څخه وروسته هم واصل ته رجوع کیدلای سی یعنی دهغه شی په باره کښی چی شریعت دهغه په باره کښی څه نه وی ویلی اوشاطبی په کتا ب الاعتصام کښی فرمایلی دی چی دغه اختلاف په عادی اموروکښی دی نه په عباداتوکښی اوصاحب ددرمختارویلی دی چی صحیح قول داهل سنت په دې مسأله کښی توقف دی اواباحت دمعتزله ؤرأیه ده پوسه چی دلته دیوې

بلی مسئلې څیړنه هم ضروري ده هغه داچی علماؤ پدې مسئله کښی اختلاف کړیدی چی افعال دالله جل جلاله معلول په اغراضو دي اوکه نه دي یعنی الله جل جلاله چی یوکارکوي نودیو غرض اوعلت په سبب یې کوي اوکه یا اکثرعلماء پردغه خبره باندی دی چی افعال دالله پاک معلول په اغراضو نه دي امام فخرالدین رازی رحمه الله په تفسیر کبیر خپل کښی ددغه آیت دتفصیل په ذیل کښی فرمایلی دي چی قال اصحابنا انه سبحانه وتعالی لایفعل فعلا لغرض لانه لوکان کذالک کان مستکملا بذالک الغرض والمستکمل بغیره ناقص بذاته ولان من فعل فعلالغرض کان عاجزاعن تحصیل ذالک الغرض الا بواسطة ذالک الفعل والعجز علیه تعالی محال انتهی باختصار په مذکور آیت کښی دغه قول الهی چی خلق لکم ظاهرا پردې خبره دلالت کوي چی الله جل جلاله فاعل للغرض دی ځکه چی خلق چی فعل دالله جل جلاله دي معلول په غرض ګرځیدلی دی چی دلکم لفظ دلالت باندی کوي اوله دې قسمه نوراياتونه هم سته لکه وماخلقت الجن والانس الا لیعبدون، امام رازی رحمه الله په جواب کښی د دې داسی فرمایلی دي ثم انهم تکلموافی اللام فی قوله تعالی خلق لکم مافی الارض جمیعا وفی قوله الا لیعبدون فقالوانه تعالی لمافعل مالوفعله غیره لکان فعله لذالک الشئ لاجل ذالک الغرض لاجرم اطلق الله علیه لفظ الغرض بسبب هذه المشابهة اوقاضی بیضاوي په اشاره کښی وجواب ته له امثالود داسی ایاتوفرمایلی دي چی خلق دمافی الارض لاجل انتفاعکم په دې معنی نه دی مراد چی انتفاع غرض دفعل دخلق دی بلکه په دې معنی مراد دی چی انتفاع یې لکه غرض داسی دی له دې حیثیته چی دغه انتفاع عاقبت دفعل دخلق دی اومؤدایې دی انتهی مافی البیضاوي،خو په حقیقت کښی دغه نزاع لفظی نزاع ده ځکه که دغرض تفسیرپدې ډول وسی چی غرض دفعل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دی چی فاعل لره باعث وي پرفعل باندی اوفاعل بې له فعله د ده پرتحصيل باندي قدرت نلري اوفاعل لره په ده کښې نفعه وي نوهيڅوک داسې نسې ويلای چې فعل دالله پاک معلول په غرض دی اوکه يې پدې ډول معنی وسی چی غرض هغه دی چی مرتب وي پر فعل دفاعل باندی عام له دې که فاعل لره باعث وي اوکه نه وي نفعه يې فاعل ته عائده وي او که وغير ته خوالبته بې نفعې به نه وي نوبيا افعال دالله پاک په اتفاق معلول په اغراضو سره کيږی ځکه پردغه تقدير حکمت اومصلحت هم په غرض کښې داخل دی اوافعال دالله جل جلاله حتما له مصالحواوحکمتو څخه خالی نه دي،او بله مسئله دلته دا مطرح کيږي چی ايا اول الله جل جلاله مزکه پيدا کړيده اوکه اسمانونه پدې مسئله کښې هم اختلاف دی ځوک چی مزکه په پيدايښت کښې له مخه بو لی نوپدغه مذکوره آيت سره دليل نيسی اوهغه اياتونه چی ظاهره پردې باندی دلالت کوی چی اسمانونه له مخه پيداسويدي نو په هغوئ کښې دوئ تاويل کوي اومقابل طرف يې بيا په هغواياتوکښې تاويل کوي چی دمزکی پرتقدم باندي دلالت کوي مثلا پدغه آيت کښې داسې وايې چی دثم لفظ دلته لپاره دتراخی فی الزمان نه ده بلکه لپاره دتراخی په رتبه کښې ده ځکه اسمانونه په مرتبه کښې بهتر اولوړ دي ترمزکه

(ثم ا ستوی)پوسه چی لفظ دثم موضوع دی دپاره دعطف سره له تعقيب اوتراخی خوکله کله دپاره داستبعاد اوکله دپاره دتعقيب ذکری اوکله له پاره دتراخی فی الرتبه اوتفاوت بين الامرين هم راځی اوتراخی فی الرتبه بيا دوه قسمه ده اول قسم ئې دادی چی مابعددثم اعلی وی په رتبه کښې ترماقبل دثم لکه په دغه آيت کښې بناپريوه قول باندی اودوهم قسم يې دادی چی ماقبل يې اعلی وی په رتبه کښې ترمابعد لکه په دې مثال کښې زيدابوک ثم جارک دلته له استبعادڅخه پرته دنوروټولوذکرسويومعناؤدهری يوې احتمال سته ،پوسه چی داستوی فعل له استواء څخه جوړدی ابن جريرذکرکړيدی چی استواء په پنځومعناؤ کښې مستعمليږی،اول په معنی دکمال اوپوره والی دځوانۍ دانسان ،دوهم په معنی داستقامت اوسيده و الی چی هيڅ کږ والی نه وی ورسره ،دريم په معنی دتوجه اومخ کول ويوشی ته ،څلرم په معنی دغلبه کولوپريوشی باندی،پنځم په معنی دارتفاع اواُوچتوالی، دلته له استواء څخه کومه معنی مراد ده؟په دې اړه اختلاف موجود دی ابن جريراستوی دلته ياپه معنی دعلااويا په معنی دارتفع اخيستې ده اوالی جاره يا په معنی دعلی اوياپرځپله معنی پاته ده نوکه دعلا په معنی سی نوبه معنی دآيت په دې ډول سی چی وروسته ترتخليق دمافی الارض جميعاً بلاکيفه لوړسوالله پراسمان باندی اوکه پرځپله معنی پاته سی نوبه معنی په دې ډول سی چی وروسته بلا کيفه پورته سوالله پاک واسمان ته اوابن کثيرفرمايلی دی چی استواء دلته په معنی دقصددی ،کله چی قصد ويوشی ته تام سی نوپه استواءتعبيرورڅخه کيږی،په قرينه ددی په معنی دقصددی چی په الی سره متعدی دی ځينومفسرينوهم دغه قول راجح بللی دی ،سوال، استواء اوقصدواسمان ته خوفرع دوجودداسمان دی حال داچی په وخت داستواءکښې خواسمان موجودنه وو،جواب دسماء لفظ دلته په معنی دجهت دعلو دی،اويامرا دورڅخه ماده دخلقت داسمان ده کومه چی په مثل ددخان يعنی ددوديوشی ووچی الله پاک اسمانونه ورڅخه جوړکړل لکه دحم سجده په يوولسم آيت کښې چی راغلی دی(فسويهن سبع سماوات) دهن ضميروچاته راجع دی اوله تسويه څخه مرادڅه دی اوايااسمانونه اُ وه دی اوکه نهه دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اواوااسمانونه مستقل اوخاص خاص جسمونه دی اوکه دهواګانومدارونه دی اویا له نمراوسپوږمۍ وغیره څخه عبارت دی؟ دایوڅوسوالونه دی چی جواب غواړی ،داول سوال جواب دادی چی دهن په ضمیرکښی دوه احتماله دی اول احتمال دادی چی دالسماء ولفظ ته راجع سی خوپه دې شرط چی له سماء څخه خپله متعارفه معنی مرادسی چی اجرام یعنی اسمانونه دی اودجمع ضمیرځکه ورته راجع سویدی سره له دې چی ظاهره دسماء لفظ مفرد ښکاره کیږی چی یاسماء دسماءة جمع دی اویادلته مؤل په جمع دی،اودوهم احتمال دادی چی دغه ضمیرضمیرمبهم دی اودسبع سماوات لفظ ئې تفسیرواقع سویدی لکه په دې قول کښی نعم رجلاً زید اوددوهم سوال جواب دادی چی تسوية یعنی برابره ول دیوشی دوې معنی وی لری اوله یې مشهوره معنی ده هغه داده چی یوشی موجودوی خوکوږوی بیابرابراوسیده کړسی،دوهمه معنی یې داده چی یوشی له اوله لاسیده بې کجوالی پیداکړسی دلته همدغه دوهمه معنی مراده ده ،ددریم سوال جواب دادی چی الله پاک په سورت ملک کښی اسمانونه په طباقاً سره اوپه سورت نبأ کښی په شدادًاسره اوپه سورت المؤمنون کښی په طرائق سره موصوف کړی دی اوداټول ددې دلائل دی چی اسمانونه مستقل جسمونه دی نه هوائې مداررونه دی اونه له لمر،سپوږمۍ اوستوروڅخه عبارت دی لکه چی دباطل پرسانوخیال دی،تنبیه په دې باره کښی به چی ایا څمکه دمخه پیداسویده اوکه اسمان مکمل تحقیق په بل ځای کښی ان شاء الله درته راسی دسبع سماوات د لفظ په نصب کښی پنځه احتماله دی اول احتمال دادی چی بدل سی دهن له ضمیرڅخه دوهم احتمال دادی چی مفعول به سی خوفسویهن به په معنی دفسوی منهن سی دریم احتمال دادی چی حال مقدره سی څلرم احتمال دادی چی تمیز سی پنځم احتمال دادی چی مفعول ثانی سی دسوّی خوسویهن پردغه تقدیر په معنی دصیرهن دی،(وهوبکل شیءعلیم) پوه سه چی دغه جمله تذییل اومقرره دماقبل ده چی خلق دمافی الارض اوداسمانودی اودعلیم په لفظ کښی هغه قسم مبالغه موجوده ده کومه چی په لفظ دعالم کښی نسته خودغه مبالغه ونفس صفت دعلم ته دالله پاک نده راجعه ځکه چی علم دالله پاک داسی واحددی چی تکثراوزیاتوالی پکښی نسی راتللای بلکه دغه مبالغه یې وتعلق اومتعلقاتوته راجع ده نوپه دې وجه چی علم دالله ترکلی اوجزئی اوترمتناهی اوغیرمتناهی اوترموجوداومعدوم ترهرشی پوری تعلق نیولی دی ، پرخپل ذات باندی ئې دداسی لفظ اطلاق کړیدی کوم چی پرمبالغه باندی دلالت کوی،سوال دعلیم لفظ خوله علم څخه جوړ دی کوم چی بنفسه متعدی دی نودلته چی دعلیم لفظ ترکل شیء پوری دباءجاره په واسطه تعلق نیولی دی که با دتعدیت دپاره وی نوعلیم خوپه خپله متعدی دی اوکه دتقویت دپاره وی نوتقویت خو په لام جاره سره کیږی،جواب ددې سوال دادی چی څرنګه چی دعلیم لفظ دمبالغې صیغه ده اودمبالغې صیغې په دې وجه چی پرزیادت باندی دلالت کوی نوداسم تفضیل په ډول په تعدیت کښی له خپلوافعالوڅخه مخالفی دی اوپه تعدیت کښی ئې قاعده داده چه که یی فعل متعدی ؤاودغه اسم تفضیل یاصیغې دمبالغې پرعلم اویا پرجهل باندی دلالت کاوونوپه باجاره سره متعدی کیږی لکه په دغومثالوکښی اعلم به،اجهل به په اسم تفضیل کښی، اولکه علیم به اوجهول به،په صیغودمبالغې کښی اوکه یی دعلم یادجهل معنی نه ورکوله نوبیا په لام جاره سره متعدی کیږی لکه داسم تفضیل په مثال کښی داقول اضرب لزید اودمبالغې په مثا ل کښی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داقول دخدای فعال لما یرید اوکه يې فعل متعدی نه ؤنوبیا په هغه حرف جارسره متعدی کیږی کوم چی د ده فعل په هغه سره متعدی کیږی خودااغلبی قاعده ده څکه رحیم دمبالغې صیغه ده اوفعل یی متعدی دی سره له دې په باجاره سره متعدی کیږی لکه رحیم به،روح المعانی وغیره ،

تنبیه،ددې خبری تحقیق به چی اسمانونه څودی په بل ځای کښی ان شاء الله درته راسی،

تمت ومن الله التوفیق

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د البقرة د سورت د (۳۰) مبارک آیت تفسیر اوعلمي تحقیق

## تفسیرفضل الرحیم، ۱۳، برخه

---

لفظي ترجمه :

( وَ ) او ( إِذْ )هغه وخت، یعني دریاد کړه اي محمده صلي الله علیه وسلم هغه وخت ( قَالَ ) چي و ویل ( رَبُّ )رب ( كَ) ستا( لِ ) وه (الْمَلَائِكَةِ إِنِّي)چي بیشکه زه( جَاعِلٌ)پیداکوونکي یم( فِي)په( الْأَرْضِ)ځمکه کښي( خَلِيفَةً)دیوه خلیفه ( قَالُوا) وویل دوي یعني ملائکو والله پاک ته وروسته له دې چي دالله پاک ذکرسوئې خبرېي واوریدله دپا ره دعلم حاصلولوپرحالاتوباندي ددغه خلیفه کوم چي الله ئې ودوي ته دپیدا کولواوخلیفه کولوذکروکړچي آدم علیه السلام دی( أَ)ایا(تَجْعَلُ)پیداکوي ته یاگرځوي ته، یعني اي الله پاکه( فِي)په (هَا ) دې کښي یعني په ځمکه کښي(مَنْ ) هغه څوک (يُفْسِدُ )چي فسادبه کوي (فِي) په (هَا)دې کښي یعني په ځمکه کښي( و)او(يَسْفِكُ)تویوي به( الدِّمَاءَ )ویني یعني په ناحقه سره ،مطلب دملا ئکوله دغي خبري څخه داووچي له خداي پاک څخه ئې ددې پښتنه کوله چي داخلیفه به هم دپیریانوپه ډول کوم چي ترآدم علیه السلام دمخه په ځمکه کښي اوسېدل فساد،تباه کاري کوي اوناحقه خونونه به کوي اوکه به ددې پرخلاف داصلاح کارونه کوي اوله نارواقتلونو څخه به ځان گوري ددې مزیدتفصیل به انشا ءالله په علمي خبرو کښي درته راسي( وَ)حال دادی(نَحْنُ)موږ( نُسَبِّحُ )تسبیح وایو (بِ)سره (حَمْدِ)ثناویلو(كَ )ستا یعني حال دادی چي موږ له ټونقصاناتواوعیبو څخه ستا، اي الله پاکه، پاکي بیانه وواوټول کامل صفتونه وتاته ثابته ووپه دې ډول چي وایوموږمثلاسبحان الله وبحمده (وَ)او(نُقَدِّسُ)نسبت دپا کي کووموږ( لَكَ)تالره( قَالَ )وویل ده یعني الله پاک وملائکوته ددوئ ددې خبري په جواب کښي( إِنِّي)بییشکه زه( أَعْلَمُ )پوهیژم (مَا)په هغه ،یعني په هغوپټواسرارو( لَا)چي نه(تَعْلَمُونَ) (30)پوهېږی تاسي، یعني په هغواسرارو۔

پوسه چي امام بغوي رحمه الله ویلي دي چي الله پاک چي اسمان اوځمکه اوملا ئکه اوجنیان پیدا کړل نووملائکوته ئې په اسمانوکښي اووجنیانو ته ئې په ځمکه کښي سکونت ورکړنوجنیان درازه زمانه په ځمکه کښي واوسیدل وروسته ئې په ځمکه کښي یودبل سره حسدکین اوبغي اوعدا وت شروع کړاوفسادکاري اوخپل منځي اختلافونه اوجنگونه ئې پیل کړل نوالله پاک یولښکردملائکوکوم چي جن ورته ویل کیدل اودجنت خازنان وواوجن هم په همدې وجه ورته ویل کیدل چي دجنت خازنان وو‌ددغه لښکرامیراومرشدابلیس وواودیْ تر دوي ټولوپه علم کښي زیات وونودغه لښکروځمکي ته راکښته سواوپیریانان یې دغروودرواوددریابووجزیروته وشړل اودغه لښکرپه ځمکه کښي سکونت غوره کړاوپه کوموعبادتوچي دوي مکلف ووالله پاک په هغوي کښي تخفیف وکړاوابلیس ته یې دځمکي اوداول اسمان باچاهي ورکړه اودارنگه یې دجنت خازن هم مقررکړنوده به کله په ځمکه کښي دالله پاک عبادت کاوواوکله بې په اسمان کښي اوکله بې په جنت کښي عبادت کاوو بیادده په زړه کښي عجب اوخودبېني پیداسوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوله خپله ځانه سره ئې وويل چې دغه باچاهي ماته الله پاک نده راکړې مګرپه دې سبب چې زه ترټولوملائکوپر الله باندي ډيرقدرمند يم نوپه همدې وجه الله وده اودده ولښکرته وفرمايل چې ښشکه زه په ځمکه کښي ديوخليفه پيداکوونکي يم ،دبغوي له دغه بيان څخه داخبره ثابتيږي چې ابليس په اصل کښي فرښته وه،مظهري،پوسه چې ددې خبري مکمل تفصيل به وروسته ان شاءالله راسي ـ

تفصيل اوعلمي خبري:

))واذ(

،پوسه چې دواوکلمه دلته عاطفه ده چې له پاره دعطف دقصې داستخلاف دآدم دی پرقصه دپيدايښت دمافي الارض اوداسمانونباندي،پوسه چې داذلفظ ظرف دی دماضي زمانې مبني دی په دې وجه چې له حرف سره له دوووجومشابهت لري اول له دې وجي چې په وضع کښي له حرف سره برابردی‌ځکه وضع ئې پردوه حرفه باندي راغلي ده اودوهم له دې وجي چې افتقارومضاف اليه ته لري،اومابعد داذدوه قسمه جمله راځي اول جمله فعليه نوزمانه له فعله څخه فهميږي دوهم جمله اسميه پردغه تقديرفهم دزماني يا له دې څخه کيږي چې خبر ئې فعل وي اويا له دې څخه کيږي چې مضمون ددغي جملې په دې سره مشهور وي چې په فلانی معلومه ماضي زمانه کښي واقع سوي دی اوکه پرفعل مضارع باندي دغه کلمه داخله وه نووماضي ته ئې اړه وي اودغه لفظ له ظرفيت سره لازم دی مګرپه هغه وخت کښي چې زمان ورته مضاف سي په دې خبره کښي اختلاف دی چې مفعول به اوحرف تعليل اودمفاجات دپا ره اوظرف مکان اوزائده راتلاي سي اوکه يا، دلته په دغه آيت کښي اذدڅه دپاره ده؟په دې کښي هم اختلاف دی ځني وايي چې زائده ده اوځني وايي چې په معني دقد ده اوځني وايي چې په محل کښي درفع ده دمحذوفي مبتدا خبر ده اي ابتداء خلقکم اذ الخ اوځني وايي چې په محل کښي دنصب ده بنا پرظرفيت باندي دمقدر فعل دپا ره اي ابتدأ خلقکم اذ،اواحياکم اذ،اوځني وايي چيې دمذکور خلقکم مفعول دی اوواوزائده‌دی اوځني وايي چې مفعول به دی داذکرمقدردپاره اوپه اصل کښي مفعول به بل شي دی کوم چې اذ دهغه دپا ره مفعول فيه دی اي اذکر الواقع اذ، اوځني وايي چې دقالوا دپا ره کوم چې په آيت کښي ورسته ذکر دی مفعول فيه دی،( روح المعاني) ،

)قال(

پوسه چې په قرآن کريم کښي دقال نسبت والله ته يوشپيته واره راغلي دی اودقلنا نسبت ورته څلير ويشت واره راغلي دی

)ربک(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوسه چي په لفظ درب کښي اودارنګه په اضافت دده کښي وضميرته دنبي عليه السلام اودارنګه په مخاطب ګرځه ولوکښي دده مبارک ومختلفوشيانوته اشاره ده اول وديته چي کوم قسم ربوبيت دالله پاک چي مقتضي دخلق اوپيدا ښت دخليفه يعني د آدم عليه السلام وونوهغه هغه ربوبيت ووکوم چي ترحضرت محمدصلي الله عليه وسلم پوري متعلق ؤيعني تخليق دآدم په طفيل دده مبارک سويدی لکه چي ابن ا لفارض رحمه الله دحقيقت محمدي له ژبي څخه په يوه شعرکښي داسي حکايت کړيدی �واني وان کنت ابن آدم صورة،،فلي فيه معني شاهد بابوّتي� ،دوهم ودې شي ته اشاره ده چي دخليفه پيداکول په ځمکه کښي دالله پاک درېوالي له جملې څخه ده دريم په دغه اضافت اومخاطب ګرځه ولوکښي اظهاردکامل عظمت اولوړوالي دشان دجناب سرورکائنات دی

)للملائکة(

لام جاره دلته هغه لام دی چي پرمقول لهم باندي داخل دی اوداااکثر هم دی په استعمال کښي اوکله دقال له باب څخه وروسته چي لام جاره ذکر سي نومدخول يې مقول له نه وي اولام اجليه وي ،اودملائکه لفظ په مشهورقول جمع دملأک دی لکه شمائل اوشمأل ،اوملأک مقلوب دمألک دی کوم چي له الوکة څخه جوړدی چي په معني درسالت دی په دغه لفظ کښي دتالفظ ځني وايې چي دمبالغي دپاره دی اومشهوردادی چي دپاره دتانيث دجمع دی ځکه په هره جمعه کښي دوئ تانيث معنوي معتبره وي په سبب ددې چي دهري جمع په جماعت سره تاويل کيږي ـ

دملائکوحقيقت څه دی؟

په دې باره کښي اختلاف دی سره له دې چي پردې خبره باندي ټول متفق دي چي ملائکه موجوددي،اکثرودمسلمانانوداويلي دي چي ملائکه نوراني جسمونه دي کوم چي په اذن دالله په مختلفواوبيلابيلوشکلوکيدلاي سي ،اودنصاري ؤعقيده داده چي ملائکه عبارت دي له هغواروحونودانسانانوڅخه چي له بدنوڅخه جلاسوي وي اونيک ارواحونه وي او کوم چي شريرارواحونه وي اوله بدنوڅخه جلاسي نوهغه دوي له شيطانانوڅخه عبارت بولي ، اوبت پرستان بياپه دې عقيده دي چي ملائکه عبارت دي له ستوروڅخه کوم چي سعداونيک بخته ستوري دي نوهغه ملائکه درحمت دي اوکوم چي نحس اودبدبختی ستوري دي نوهغه ملائکه دعذاب دي اوفلاسفه وايي چي ملائکه له مادې څخه مجردجواهردي کوم چي له انساني روحونوڅخه په حقيقت کښي مخالف دي اوځني ددوي وايي چي ملائکه عبارت دي له عقولوعشره ؤڅخه اوله نفوسوسماويه ؤڅخه کوم چي اسمانوله حرکت ورکوونکي دي،

پوسه

چي زموږاهل سنت والجماعت په نزدملائکي پر دوه قسمه دي يوقسم هغه ملائکه دي چي دالله پاک په معرفت کښي غرق دي اومنزه دي له مشغولتيا څخه په غيرالله پاک سره ودغوملائکوته عليون اومقربون ملائکه ويل کيږي اوداهغه فرشتې دي چي ددوي په شان کښي الله پاک فرمايلي دي چي،يسبحون الليل والنهار لايفترون،اوبل قسم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ملائکه دي چي له اسمان څخه بياترځمکي پوري دمخلوقاتودکارتدبيرکوي ودغوملائکوته، مدبرات امرا،ويل کيږي اودهمدغوملائکوپه باره کښي االله فرمايلي دي چي �لايعصون الله ماامرهم ويفعلون مايؤمرون�، بيا په دوي کښي ځني سماوي دي اوځني ارضي دي اوپه عدداوشميردملائکوماسوي له الله پاک څخه هيڅوک علم نلري اودوي په هيئتواوپه لوي والي کښي تفاوت سره لري اودوي په خپل شکل کښي يواځي دپاکونفسوخاوندان ليدلاي سي وبس اوکله ملائکه په شکل کښيي دداسي بدنوشکاره سي چي عام اوخاص خلګ يي ټول ليدلاي سي سره له دي چي دوي په خپل اصلي شکل کښي باقي وي حتي ځنوعلماؤوويلي دي چي کله چي به حضرت جبريل دنبي عليه السلام په حضورکښي ددحيه کلبي په شکل کښي ښکاره سونوپه دغه وخت کښي به دي په سدرة المنتهي کښي ؤ،روح المعاني،

)جاعل(

پوسه که جاعل په معني دمصيرسي نوبې اول مفعول دخليفة لفظ سي اودوهم مفعول بې دفي الاض لفظ سي اوکه په معني دخالق سي نوخليفة بې مفعول سي اوفي الارض بې متعلق مقدم سي

)خليفة(

پوسه چي خليفه وهغه چاته ويل کيږي چي دبل چاخِلاِ فت کوي دلته مرادله خليفه څخه آدم عليه السلام دی اومرادله خلافت څخه دده ياخلافت دده دی داالله پاک په دې ډول چي دي به په ځمکه کښي داالله حکمونه جاري کوي اوداالله پاک بندګانوته به هدايت کوي اوواالله ته بي راجذبه وي خودانه په دې وجه چي الله پاک العياذباالله عاجزدی محتاج دی وخليفه ته اوياپي په علم کښي کوم کمبوددی بلکه له وجي دقصوردخلګوله قبول څخه دفيض له الله پاک څخه بي له واسطې دارنګه هرنبي په دغه مذکوره معني داالله داالله پاک خليفه ګڼل کېږي ،مظهري ،اويامرادله خليفه څخه په دې معني خليفه مراددی چي دهغه چاپرځاي باندي به وي کوم چي ترانسان دمخه پې په ځمکه کښي هستوګه کوله لکه جنيات اوياله خليفه څخه دامطلب دی چي ددغه خليفه ځني افرادبه دځنونورودده له افرادوڅخه خليفه ګان ګرځي لکه چي همداسي ده ځکه ځني له انسانانوڅخه مړه کيږي اوځني نوريې پرځاي باندي پاتيږي پراول تقديرخليفه په معني داسم مفعول دی اوپردهم تقديرپه معني داسم فاعل دی اوپردريم تقديرددواړواحتمال لري ،پوسه چي دخليفه دلفظ مصدرخَلْفاًاوخِلافَةً راځي چي په معني دوروسته راتللويا وروسته کيدلويادبل پرځاي قائم کيدلوراځي اوتاء پکښي دپاره دمبالغي ده اوخليف هم په دغه معني راځي خودخليف جمعه خلفاءراځي لکه مثلا دالاعراف په نهه شپيتم آيت کښي اودخليفه جمعه خلائف راځي لکه دالانعام په يوسل اوپنځه شپيتم آيت کښي،ابن کثير وغيره،

)اتجعل فيها من يفسدالاية(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوسه چي دلته يو سوال کيږي چي جواب غواړي سوال دادی چي داخودملائکودخوايوقسم اعتراض ووپرالله پاک باندي په دې ډول چي ته اي خدايه ولي داسي خلگ په ځمکه کښي پيداکوې چي هغه به فسادپه ځمکه کښي کوي اوناحقه ويني به تويه وي اودارنگه داقول ددوي طعن ووپربني آدم باندي اودادواړه دملائکه ؤله شان سره بيخي نامناسب وو؟ددې سوال مفسرينومختلف جوابونه کړيدي خوله جملې دهغوئ څخه زه دوه جوابونه کوم چي زماپه فکرډېرپه زړه پوري دي درته ذکرکوم اول جواب دادی چي ددوي په دغه قول کښي اعتراض اوطعن مقصودنه ووبلکه ددې کارپرسر اوپرالهي حکمت باندي يې علم حاصول مطلب ووچي الله پاک داسي څوک په ځمکه کښي خليفه کوي چي فساد اوخون به ورڅخه صادريږي اوموږدځمکي خليفه گان نه مقرره وي سره له دې چي د تسبيح اوتحميد اودتقديس وظيفې ترسره کوواوله هرقسم گناه څخه اجتناب کوونوپه دې کښي به الله جل جلاله کوم قسم عظيم حکمت لري خوپردغه تقديرداسوال پيداکيږي چي وملائکوته داپه څه معلومه سوه چي دغه خليفه به فساداودوينوتويول کوي؟جواب ددې سوال دادی چي دالله پاک په اخبارسره دوئ ته دامعلومات وسواويادوئ ددغه خليفه قياس پرجنياتووکړ،اودوهم جواب دادی چي ددوي مقصدداوو،چي اي الله ته چي دغه خليفه پيداکوې نودابه داسي څوک وي چي دده په افرادوکښي به داسي اشخاص پيداکيږي چي په ځمکه کښي به فسادکوي اوويني به تويوي اوکه به علي الاطلاق دغه خليفه صالح اوتالره حامداومسبح اومقدس وي نوکه اول ډول وي نوبياخوظاهراًدده نه پيدا کول مناسب ښکاري نواي الله هغه دقيق اوپټ حکمت ستا په پيداکولودده کښي څه دی اوکه دوهم قسم وي نوبياخو دغه وظيفه همداموږاجراکوونوچي موږ ته دځمکي خلافت نه سپارې اوبل خليفه پيداکوې په دې کښي دي الهي حکمت څه دی ،امام شعراني له خپل شيخ خواص رحمهما الله څخه نقل کړيدی چي له گناؤڅخه معصوم والي داسمانودملائکوصفت دی نه دځمکي دفرشتوهمداسبب دی چي له ابليس څخه عظيمي گناوي صادري سوي ځکه چي دئ دځمکي له ملائکوڅخه ووکومي چي به په جبل ياقوت کښي چي په مشرق کښي په نزددخط استواکښي واقع دی اوسيدلې نوبنا پردغه خبره باندي که دغه قول دوی داعتراض په ډول کړي و ي هم امکان به ولري اوپه ځينورواياتوکښي راغلي دي چي دغه اعتراض کوونکي لس زره تنه ووچي اورباندي نازل سواوټول يي وسوځل اوچاويلي دي چي دغه معترض تنهاابليس وونوروفرشتوته مجازا ددې قول نسبت سويدی لکه په دې قول کښي، بنو فلان قتلوزيدا،حال داچي قاتل يونفروي په دوئ کښي،مظهري ،روح المعاني وغيرهما

)ونحن نسبح(

پوسه چي ددغه واوپه لفظ کښي دوه احتماله دي اول داچي علتيه سي اومدخول يې علت سي دکلام محذوف ،اي لم نقل هذا القول اعتراضا عليک ياربنا لانانسبحک الخ فکيف نعترض عليک ،اودوهم احتمال دادی چي حاليه سي،سوال داقول خودملائکوپرتزکيه باندي دځانوددوئ اوپرفخرکولوددئ په تسبيح وغيره سره دلالت کوي سره له دې چي داکارگناه اوملائکه له گناؤڅخه معصوم دي؟ددې سوال يوجواب دادی چي تزکيه دځان هلته گناه ده چي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکبراودفخرپه ډول وي اوملائکه لکه انبیاء له فخراوکبرڅخه معصوم دي اوبل جواب یې دادی چي داکلام ددوئ دتزکیې په نیت نه ووبلکه بیان دواقع یې وکړدپا ره دمعرفت دالهي حکمت په پیداکولودمذکورخلیفه کښي

)بحمدک(

با جاره دلته دپاره دمصاحبت ده اي نسبحک تسبیحا مصحوبا بحمدک اونسبحک متلبسین بحمدک ـ

دتسبیح اوحمد اوتقدیس فرق،

پوسه چي دالله پاک په صفاتوکښي علماؤمختلف تقسیمونه دمختلفواعتباراتوپه وجه کړیدي مثلایوتقسیم یې په دې ډول کړیدی چي صفتونه دالله دوه قسمه دي اول سلبي صفتونه لکه داچي الله پاک عاجز ندی جسم اوبدن نلري جوهرندی عرض ندی اوداسي نور اودوهم ثبوتي صفتونه لکه داچي الله عالم دی قادردی سمیع دی بصیردی نوتسبیح دخداي پاک دادی چي دالله دسلبي صفتوبیان اواظهار وکړي مثلا داسي ووایې چي سبحان الله یعني پاکي ده الله لره له ټولوناقصوصفتوڅخه اوله ټولوعیبوڅخه یعني مثلا الله بې قدرته ندی بي علمه ندی فناه کیدونکي ندی او ثبوتي صفتونه دالله بیادوه قسمه دي اول جمالي صفتونه کوم چي عبارت دي له هغوصفتوڅخه چي په معني کښي یې وبندګانوته نفعه موجوده وي لکه رحمت مغفرت حلم اوداسي نوراواودوهم جلالي صفتونه کوم چي عبارت دي له هغوصفتوڅخه چي په معني کښي یې وبنده ګانوته تکلیف اوضررپروت وي لکه قهاروا‌ول قسم ته اکرام اوودوهم ته جلال ویل کیږي لکه په دې قول دخداي کښي ،ذوالجلال والاکرام، حمدودې ته ویل کیږي چي دالله دثبوتي صفتوله جملې څخه داکرام دصفتواثبات اواظهار وکړسي مثلا داسي وویل سي چي الحمدلله یعني هرکامل صفت داکرام اودجمال ثابت دی خاص الله لره چي هغه کامل صفت لکه کامل حلم اوکامل رحمت وغیرهمااوتقدیس ودیته ویل کیږي چي دجلال صفتونه والله ته ثابت کړه سي مثلاداسي وویل سي چي الله قدوس یعني الله موصوف دی په صفاتوکامله ؤدجلال سره همداسبب دی چي قرطبي اوابن جوزي د،نقدس، دلفظ معني په ،نعظمک ونکبرک،سره کړیده ،اودوهم فرق دتسبیح اودتقدیس ځني علماء په دې ډول کوي چي تسبیح بیان دتنزه اوپاکوالي دصفتو دالله دی له نقصاناتوڅخه اوتقدیس بیان دتنزه دذات دالله دی له نقصاناتوڅخه ،اوقاضي ثناءالله رحمه الله دتسبیح اوحمد فرق له تقدیس څخه دلته په دې ډول بیان کړیدی چي اول دوه له الله سره تعلق لري اوتقدیس دلته راجع دی ونفسودملائکوته اولام جاره په لفظ دلک کښي اجلیه دی نوبه معني د ونقدس لک، داسي سي،ونقدس انفسنا اي نطهرهامن الذنوب لاجلک اي لاجل رضاءک (قال اني اعلم مالاتعلمون) پوسه چي داقول الله پاک دملائکوددې قول په جواب کښي الله فرمایلي دی چي اتجعل فیهاالخ،الله پاک په دغه مبارک قول سره وملائکوته په اجمالي ډول داسي جواب ورکړیدی چي سره له دې چي ددغه خلیفه دپیداکیدووروسته به په ځمکه کښي هغه څه رامنځ ته کیږي کوم چي تاسي یې ذکروکړ چي فساداوپه ناحقه وینه تویول دي،داسي ډیرمصلحتونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوحکمتونه سته چي ددغه خليفه وتخليق ته ترجيح ورکوي اودپيداکولوتقاضاياپ کوي البته تاسي ته پرهمدغوحکمتونوباندي علم نسته اوتنهاوماته هغوئ معلوم دي،

پوسه چي دغه قول دخداي پاک همدارازنورشرعي اوعقلي دليلونه پردې باندي دلالت کوي چي الله پاک يوکاربې حکمته نه کوي خوسره له دې به هرمسلمان داعقيده لري چي په ايمان اوپه شرعي اعمالوکښې دا ضرورنه ده چي مسلمان ته به دالله دهرکاراوحکم حکمت معلوم وي همداسبب دی چي شريعت دالله داوامرواونواهيوودحکمتوله بيانه ولوڅخه په اکثرو ځايو کښې ساکت پاته سويدی‌دی،

اعلم،

لفظ يادواحدمتکلم صيغه ده اوياداسم تفضيل صيغه ده مضافه ده ومالاتعلمون ته خوتفضيلي معني ورڅخه مرادنه ده مګرعلامه آلوسي په روح کښې داسم تفضيل احتمال ردکړيدی۔

تمت ومن الله التوفيق،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دالبقره دسورت د،۳۱،مبارک آیت تفسیر اوعلمي تحقیق

## تفسیرفضل الرحیم،۱۴،برخه

---------------------------------------------------------------

وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلَائِكَةِ فَقَالَ أَنْبِئُونِي بِأَسْمَاءِ هَؤُلَاءِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ) 31(

لفظي ترجمه:

(وَ)او(عَلَّمَ )وښودل ده، یعني الله پاک(آدم )آدم علیه السلام ته (الْأَسْمَاءَ )نومونه (كُلَّ)ټول(هَا)ددوئ یعني دنومو،یعني الله پاک وآدم ته دپاسنیواوځمکنیودټولوشیانونومونه وروښودل مثلاًپه دي ډول چي ددغه شي نوم کاسه ده اوددغه نوم بدنۍ ده اوددغه شي نوم ډوډۍ ده په دغه ډول یې دهرشي له مخلوقاتو څخه نوم وده مبارک ته وروښودۍ نورمکمل تفصیل ددې به په علمي خبروکښې ان شاء الله درته راسي( ثُمَّ )بیائې (عَرَضَ)وروړاندي کړل ده یعني الله پاک (هُمْ ) دوئ ،یعني دغه شیان کوم چي ددوئ نومونه ئې وآدم علیه السلام ته وروښودل (عَلَى)پر( الْمَلَائِكَةِ )ملائکوباندي ،یعني هغه شیان الله پاک وملائکوته وروپیش کړل( فَ)نو(قَالَ)وویل ده ،یعني الله پاک وفرښتوته( أَنْبِئُو)خبرراکۍ تاسي(ني)ماته( بِ)په (أَسْمَاءِ)نومونو( هَؤُلَاءِ ) ددغو،یعني ددغوشیانویعني راوښه یاست تاسي وماته نومونه ددغوشیانو(إِنْ )که چیري( كُنْ)یاست(تُمْ)تاسي یعني اي فرښتو( صَادِقِينَ) 31) رښتیا ویونکي ،یعني په خپل دغه قول ستاسي کښي چي ویل موچي ترهرچا په خلافت دځمکي سره موږلایق یوامام بغوي فرمایلي دي چي کله چي الله پاک وملائکوته وویل چي زه په ځمکه کښي یوخلیفه پیدا کوم نوملائکوپه خپل منځ کښي سره وویل چي پیداکوي دي رب ځموږهرهغه چي اراده یې وي اوخوښه ئې وي موږباک نه په کوځکه الله پاک هیڅ داسي څوک نه پیدا کوي چي ترموږدي پرده باندي عزتمند وي اوکه بیا داسي هم وسي نوداخبره خوبه خامخاوي چي موږبه ترهغه زیات عالمان یوځکه چي موږترهغه دمخه پیداسوي یواوهغه څه مولیدلي دي چي ده نه دي لیدلي نوپه دې وجه الله علمي فضیلت دهمدغه خلیفه حضرت آدم علیه اسلام پردوئ باندي ودوی ته ور ښکاره کړ ،مظهري،

،تفصیل اوعلمي خبري

،)وعلم آدم(

ایادآدم دخلیفه ګرځولوخبره الله پاک وملائکوته دمخه ترتخلیق دده وکړه اوکه وروسته؟علامه آلوسي په روح کښي فرمایلي دي چي له دغه کلام څخه دالله پاک چي ،وعلم آدم، الآیة داسي فهمیږي چي دغه خبره ئې ترتخلیق دده وروسته وفرښتوته وکړه اودده په حضورکښي ئې ورته وکړه ځکه الله پاک ابتداپه بیان دتعلیم دده کړیده اودده دتخلیق ذکرئې له اني جاعل في الارض الخ څخه وروسته ندۍ کړي پردغه تقدیرباندي د،وعلم آدم ،جمله دقال اني

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعلم مالاتعلمون پرجمله باندي عطف ده اوځينوويلي دي چي داخبره دده ترتخليق دمخه الله وفرښتوته وکړه اودوئ جمله دوعلم آدم الخ پرمقدره جمله باندي معطوفه بولي، اي فخلقه وعلم،روح وغيره، آدم عليه السلام ته الله پاک دشيانودنومونوتعليم په څه ډول وکړ؟ددې پښتني جواب دادی چي شاه عبدالعزيز رحمه الله فرمايلي دي چي ځينوداسي ويلي دي چي تعليم دنومونوآدم ته په دوه ډوله وساول ډول يې داووچي دونه قدري نومونه چي تخاطب اوافاده اواستفاده پرهغه قدرموقوفه وه بې له واسطې دالفاظوعلم دهغوئ دده په زړه کښي الله پاک ورواچاوه اودوهم ډول يې داؤچي له قدرضروري څخه پرته دنورونوموتعليم يې په واسطه دکلام اوالفاظوورته وکړخوداخبره شاه صاحب نامناسبه ګڼلي ده اودايې ويلي دي چي دټولونومونوتعليم الله پاک وده ته په دې ډول وکړچي علم دهغوئ ئې په زړه کښي ورواچوئ بې له کلام اوالفاظوڅخه البته دځنوتعليم خوئې دده له پيدايښت سره سم ورته وکړلکه چي روايت دی چي دده مبارک روح لاوټول بدن دده ته نه وه داخله سوئې چي عطسه اوتُرُچَل ئې وکړل اوددې په شکريه کښي ئې الحمدلله وويله اوددې په جواب کښې يې له سامعينوملائکوڅخه يرحمک الله واوريدل اودنوروټولونومونوتعليم ئې له پيدايښت څخه وروسته ورته وکړاوځنوعلماؤويلي دي چي تعليم داالله پاک بنده ګانوته دوه قسمه دی اول قسم تعليم داالله پاک دی انبياؤته داپه واسطه دوحي دی دوهم تعليم داالله پاک دی نوروخلګولره داپه واسطه دانبياؤاوغيرهم دی وآدم ته تعليم دنومونوپه ذريعه دوحي سره ؤ(آدم)پوسه چي جواليقي اونوروډيروعلماؤويلي دي چي دآدم لفظ عربي لفظ دی اوپروزن دافعل دی اوله آدمة څخه په ضمه دهمزه اوپه سکون سره ددال جوړ دی اومعني ئې سمرة يعني غنم رنګي ده اوځني دسمرة معني په سپينوالي سره کوي آدم عليه السلام په رنګ کښي سپين اوسورووواوياله اَدَ مَة څخه په فتحه سره دهمزه اوددال جوړدی کوم چي په معني دقدوه اودمقتدا دی اوياماًخوذ دی له اديم الارض څخه کوم چي ومخ اوظاهري برخي دځمکي ته ويل کيږي لکه چي په صحيح حديث کښي کوم چي ترمذي اوحاکم ئې روايت کړيدی راغلي دي چي الله پاک آدم عليه السلام له داسي يوه موټي خاوري څخه پيدا کړچي له ټوله مخه دځمکي رااخيستل سوی ؤنوپه همدې سبب اولاددده پيدا کيږي پرطريقه درنګو اوصفتو دځمکي يعني لکه دځمکي داجزاؤاوقطعوچي رنګونه اوصفتونه سره بدل دي نودانساناونورنګونه اوصفتونه هم دغه ډول بدل سره راځي اوځينوعلماؤويلي دي چي دآدم لفظ عجمي لفظ دی اوپر وزن دفاعل دی لکه چي اکثرعجمي نومونه په همدغه وزن راغلي دی لکه تارح، آزروغيره پر اول تقدير د آدم اصل أآدم وو، تنبيه، پوسهچي الله پاک په قرآن کريم کښي د اوويشتو نبيانوعليهم السلام نومونه ذکر کړيدي، (۱) آدم (۲)موسي (۳)ابراهيم (۴)اسماعيل (۵)اسحاق (٦)يعقوب (۷)عيسي (۸)هارون (۹)داؤد (۱۰)نوح (۱۱)عمران (۱۲)زکريا (۱۳)يحيي (۱۴)ايوب (۱۵)يونس، ذوالنون، (١٦)سليمان عليه السلام (۱۷)يوسف (۱۸)الياس (۱۹)اليسع (۲۰)هود (۲۱)شعيب (۲۲)صالح (۲۳)لوط (۲۴)ادريس (۲۵)ذوالکفل (۲٦)عزير (۲۷)محمد، علي نبيناوعليهم الصلاة والسلام (الاسماءکلها) دغه نومونه چي الله وآدم ته وروښودل د کوموشيانو نومونه وو؟ په دې باره کښي مفسرينو مختلف قولونه ذکرکړيدي چي تفصيل ئې دادې، اول دا د ستورو نومونه وو، دوهم د آدملائکو نومونه وو، دريم دا نومونه عبارت وو له مختلفو لغتو او ژبو څخه لکه عربي فارسي پښتو وغيره چي بيا همدغه لغتونه د آدم عليه السلام په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولاده کښي تقسيم سويدي، څلورم دا د ټولو هغو شيانو نومونه وو کوم چي په هغه وخت کښي موجود وو او دا راز د هغو ټولو شيانو نومونه وو کوم چي د قيامت تر ورځي پوري پيدا کيږي، پنځم مراد له دغو اسماؤ څخه صفتونه او خاصې دا شياؤ دي ځکه الله پاک وآدم عليه السلام ته دهرشي صفات اوخواص وروښودل،شپږم مرادله دغواسماؤڅخه نومونه دټولوشيانودي که پاسني وي اوکه ځمکني وي جوهري وي اوکه عرضي وي خوپه اعتبارددلالت ددغوشيانوپرالله جل جلاله باندي اوپه اعتباردظهوردالله پاک په بلاکيفه ډول په دغوشيانوکښي اودغه شيان په همدغودواعتباروسره نومونه دالله پاک بلل کيږي په همدې وجه ويل کيږي چي نومونه دالله پاک غيرمتناهي دي ځکه هرشي چي ووجودته راسي نوهغه دالله پاک له نوموڅخه يونوم بلل کيږي دغه اخيري قول علامه آلوسي داهل ا لله اوصوفيه ؤبللي دی اودغه قول ته ئې ترجيح ورکړيده،اوم قاضي ثناءالله رحمه الله په تفسيرمظهري کښي وروسته له دې چي اکثرذکرسوي قولونه ئې غيرمرضي بللي دي په دې استدلال سره چي مداردفضيلت خوپه کثرت دثواب اوپه مراتبو دقرب سره دی نه په مذکوره شيانوسره ودې قول ته ترجيح ورکړيده چي مرادله دغواسماؤڅخه نومونه دالله پاک دي خونه په هغه معني سره چي علامه آلوسي ذکرکړيده بلکه مراد دده له اسماؤدالله پاک څخه هغه دي کوم چي په متعارف ډول دالله پاک نومونه بلل کيږي لکه الله يارحمان يارحيم بياده پرخپل ځان باندي په دې ډل سره اعتراض کړيدی چي نومونه دالله پاک خوغيرمتناهي دي په دليل ددې قول دالله چي،لوکان البحرمدادالکلمات ربي لنفد البحر قبل ان تنفدکلمات ربي،اودارنګه رسول عليه السلام په يوه دعاکښي داسي ويلي دي، اسئلک بکل اسم سميت به نفسک اوانزلته في کتابک اوعلمته احدا من خلقک اواستأثرت به في علم الغيب عندک،رواه الحاکم وابن حبان وابن ابي شيبه والطبراني واحمد،نودغه حديث خوپردې باندي دلالت کوي چي دالله پاک په نومونوکښي ځني داسي نومونه سته چي له الله څخه پرته وبل هيچا ته ندي معلوم ؟بياده ددې سوال جواب په دې سره کړيدی چي مرادله تعليم څخه داسماؤوآدم ته تعليم په وجه اجمالي سره دی اوآدم عليه السلام ته علم اجمالي پراسماؤدالله پاک حاصل سو ځکه چي وده ته معيت دذات دالله پاک حاصل سونوپه دې وجه دده دالله له هرنامه اوصفت سره مناسبت تامه پيداسونودئ په دې ډول سوچي وهرنامه ياصفت دالله ته ئې توجه کړيواي نوهغه وده ته تجلي کوله شاه عبدالعزيزرحمه الله دابن عباس اوبن جريردروايت مطابق ويلي دي چي مرادله دغواسماؤڅخه داشياؤنومونه دي لکه اوښ غويئ پسه اوداسي نورده ويلي دي چي الله پاک وآدم ته دهرشي نوم وروښودي ځکه چي دده دخلافت دپاره علم پرحقائقوداشياؤضرور وواودارنګه داهم ورته ضروروچي داشياؤخواص اوګټي اوفائدې اوضررونه وپيژني نودمقدمې په ډول يې اول دهرشي نوم وروښودئ او بيائې داتعليم ورته وکړچي فلان شي داخاصي اوفائدې لري اودائې ضرررونه دي وهکذامذکورپه حواله دابن عساکر اودحاکم يومرفوع حديث هم په دې ډول ذکرکړيدی چي داسلام پيغمبرفرمايلي دي چي الله پاک وآدم عليه السلام ته په ضمن کښي دتعليم داسماؤپه زرهاؤحرفتونه اوکسبونه ورايزده کړل اوورته وې فرمايل چي اي آدمه وخپل اولادته ووايه چي که له دنياڅخه صبرنسی کولاي نو ددغوکسبوله لاري دنيا حاصله وی اوپه دين سره د دنياطلب مه کوی ځکه دين ځمادپاره دی افسوس دی پرهغه چاباندي چي ددين په کاروسره طلب ددنيا کوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)كُلها (

پوسه چي مرادله دغه استغراق څخه استغراق عرفي مراددی نه استغراق حقيقي اوقرطبي له نحاس څخه نقل کړيدی چي مرادله الاسماءڅخه اسماءاجناس اواسماءانواع دي لکه انسان حيوان ځمکه اسمان ښځه نروغيره نه داشخاصونومونه،ديلمي له ابونافع څخه روات کړيدی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي چي ځمادامت تصويرونه په ختې اواوبوکښي الله را ښکاره کړل اوپرټولواسماؤعالم سوم لکه څرنگه چی آدم پرټوواسماؤعالم سوي ؤ،فتح العزيز

(ثم عَرضهم)پوسه چي دهم ضميردعرضهم په جمله کښي واشياؤاومسمياتوته راجع دی کوم چي دهغوئ نومونه وآدم ته وروښودل سول داسوال دي نکيږي چي په دې سره خواضمارقبل الذکرلازميږي ځکه چي پردغومسماګانوباندي دالاسماءلفظ التزاماًدلالت کوي اوداپه ذکردمرجع کښي کافي دی اوداسوال دي هم نکول کيږي چي په دغومسمياتوکښي خوذوي العقول اوغيرذوي العقول دواړه داخل دي اودهم ضمير خوتنها دذوي العقولودپاره دی ځکه چي دلته دشرف په وجه دذوي العقوپرغيرذوي العقولوباندي تغليب سويدی ،الله پاک ددغوشيانوعرض پرملائکوباندي په څه ډول وکړ؟صاحب دفتح العزيزويلي دي چي ددغوشيانوتصويرونه يي وملائکوته پيښ کړل اوورته وې فرمايل چي ددغونومونه څه دي اوځنونورومفسرينوذکرکړيدي چي دهمدغوشيانوله جملې څخه ئې يوشي و دوئ ته عرض کړاوورته وې فرمايل چي ددغه نوم اوصفتونه راوښه ياست اوعلامه آلوسي په روح المعاني کښي ددې مختلفي طريقي ذکرړيدي اول داچي ددغوشيانوتصويرونه ئې دملائکووزړونوته ورواچيول ،دوهم داچي چي دکوچنيوسرومېړانوپه شکل ئې ورته ښکاره کړل دريم داچي ددغوشيانو صورعلميه ئې ورته ښکاره کړل کوم چي داهل الله په اصلاح کښي اعيان ثابته ورته ويل کيږي څلورم داچي دغه شيان يې په هغه عالم کښي ورته ښکاره کړل په کوم کښي چي اعراض هم جسدونه لري(فقال انبئوني) دفالفظ يا دپاره دتفصيل دی اويادتعقيب دپاره دی ،تدبر،اوامردلته دتکليف دپاره ندی چي تکليف بمالايطاق لازم سي بلکه دتعجيز دپاره دی يعني دپاره داظهار دعجز ددوئ دی دانبئوافعل له انباءڅخه جوړدی اوانباء په اصل کښي ومطلق اخبارته ويل کيږي اوکله يي اطلاق پرداسي خبرورکولوباندي هم کيږي کوم چي په هغه کښي غټه فائده موجوده وي اوعلم اوياغلبه دظن په حاصليږي اوځينوويلي دي چي وهغه خبرورکولوته ويل کيږي چي اعلام پکښي موجودوي، دانبئوني لفظ دلته دعلموني پرلفظ باندي له دؤوجوغوره سويدی اول له دې وجي چي په تعليم کښي خوافاده دعلم مقصود وي کوم چي دلته صحت نلري اوانباءعامه ده اودوهم له دې وجي چي دلات راسي پرعظمت دشان ددغواسماؤځکه انباءله نبأ څخه جوړدی کوم چي وهغه خبرته ويل کيږي چي عظيم اوخطير وي ـ

،تمت ومن الله التوفيق والحمدلله رب العلمين،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بقرې د،۳۲، آیت تفسیر او علمی تحقیق

## تفسیر فضل الرحیم، ۱۵ برخه، پ، الم،

---------------------------------------------------------------

سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنْتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ) 32 (

لفظي ترجمه

(قَالُوا)وويل دوئ ،يعني ملائكووالله پاک ته (سُبْحَانَ)پاكي ويل( كَ)ستا،يعني پاكي وايوپاكي ويل ستا،مطلب داچي اي الله پاكه نسبت دپاكي كوومږ تاته له ټولونقصاناتواواعتراضاتو څخه په دې ډول چي ته له ټولوعيبواونقصاناتوڅخه پاک يې اوستا پرهيڅ كاراوگفتارباندي داعتراض گنجايش اوځاي نسته( لَا)نسته( عِلْمَ )هيڅ علم (لَنَا) موږلره،يعني پرهيڅ شي باندي ( إِلَّا)مگريعني مگرسته موږلره علم( مَا)پرهغه باندي ( عَلَّمْ)چي راښودلي دی.(تَ)تا(نا)موږته،يعني فرښتووالله ته وويل چي موږته صرف پرهغوشيانوباندي علم سته كوم چي تا هغه وموږته اي الله پاكه راښودلي دي( إِنَّ)بيشكه(كَ)ته،يعني اي ربه( أَنْتَ)ته خاص( الْعَلِيمُ)ښه عالم ئې( الْحَكِيمُ ) (32) خاونددحكمت يې يعني هيڅ كاراوگفتارستاله حكمت څخه خالي ندی ،

تفصيل اوعلمي خبري،

)قالواسبحانک (

داجمله مستانفه ده په استيناف بياني سره جواب دسوال دی گواكي دلته داسي سوال وسوچي كله چي الله وملائكوته داسي وفرمايل چي ددغوشيانوله نوموڅخه خبرراكی نودوئ په جواب كښي والله پاک ته څه وويل نوالله وفرمايل چي قالوا،الخ ،پوسه چي علامه آلوسي ذكركړيدي چي هغه جملې چي په قول سره مصدري وي اوځني ددوئ پرځنونوروباندي مرتبي وي نوددئ په منځ كښي په حرف عطف سره راتگ نكول كيږي بلكه په معنوي ترتيب اوربط سره اكتفا كړه كيږي ،پوسه چي دسبحان په لفظ كښي دصيغې په اعتباردرې احتماله دي چي درې سره دائمه ؤدلغت اودمفسرينوپه قول ثابت دې لكه قاضي بيضاوې اوجارالله زمخشري وغيره اول احتمال دادې چي مجردمصدرسي دوهم احتمال دادی چي علم مصدرسي په معني دتسبيح هغه تسبيح چي په معني دتنزيه دی دريم احتمال دادی چي اسم مصدر سي په معني دتسبيح،دسبحانک لفظ يامفعول به دمحذوف فعل دی اي نعتقدسبحانک يعني اي خدايه عقيده لروموږپرپاكي ستا اويا مفعول مطلق دفعل محذوف دی اي نسبح سبانک اي تسبيحک اوحذف دفعل يې پردوهم صورت باندي دشيخ رضي وغيره دقول مطابق وجوبي قياسي دی ځكه بنا پرقول ددوئ هرمصدرچي دده فاعل يامفعول به له ده څخه وروسته په دې ډول ذكرسي چي دغه مصدر ورته مضاف

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي لکه دلته اويا په حرف جرسره لکه په دې قول کښي حمداًله نوفعل ئې په حذف وجوبي قياسي سره حذف کيږي دلته که سبحان مجردمصدرسي نواضافت ئې وفاعل ته دی چي د،ک،ضميردی اوکه اسم مصدرسي په معني دتسبيح اوياعلم مصدرسي نواضافت ئې ومفعول ته دی، پوسه چي تسبيح دتفعيل باب دی کوم چي کله دايجاددپاره راځي لکه بالفرض چي تسبيح په دې معني واخلې چي جعل الشخص منزهاً نودپاره دايجادسواوکله دانتساب دپاره راځي مثلازه ووايم عظمت زيداً اومرآد مي داوي چي نسبت دلوئې مي وکړوزيدته ،والله پاک ته چي هرځاي نسبت دتسبيح په نسبت ايقاعي سره راسي نودانتساب په معني وي،بيا انتساب دپاکي والله ته دوه قسمه ده اول اختياري دی،اودوهم غيراختياري دی غير اختياري انتساب دپاکي والله ته ترمومن اوترذي عقله پوری اختصاص نه لري بلکه جماد اوکافرته هم شامل دی ځکه غيراختياري انتساب دپاکی والله ته عبارت دی له دلالت څخه دوجوددهرممکن پرپاکوالي دالله له نقصاناتو څخه کوم چي دهرممکن شي ووجودته ورشامل دی اواختياري تسبيح دالله پاک دکافرکارندی بلکه دمومن اوپرصحيح قول دحيواناتونباتاتواوجماداتوکاردی بيا دغه اختياري تسبيح دري ډوله ده اول اعضائې چي په ظا هري اندامورسره له ژبي څخه پرته په نورواندامورسره دفعل په شکل کښي ادا کړه سي دوهم لساني چي په ژبه سبحان الله مثلاًوويله سي دريم قلبي چي په زړه کښي دالله پرپاکی عقيده وکړه سي ياپه زړه کښي دتسبيح الفاظ ووېل سي ـ

تمت ومن الله التوفيق ـ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د البقره د سورت د۳۳، مبارک آیت تفسیر او علمي تحقیق

## تفسیر فضل الرحیم (۱٦) برخه

------------------------------------------------------

قَالَ يَا آدَمُ أَنْبِئْهُمْ بِأَسْمَائِهِمْ فَلَمَّا أَنْبَأَهُمْ بِأَسْمَائِهِمْ قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا كُنْتُمْ تَكْتُمُونَ) 33(

لفظي ترجمه

،( قَالَ)وويل ده،یعني الله پاک وآدم علیه السلام ته( يَا)اي( آدم)آدمه (أَنْبِئْ) خبرکړه ته (هُمْ)دوئ( بِ)په (أَسْمَائِ )نومو(هم) ددوئ،یعني ددغوشیانو،مطلب داچي الله پاک وآدم ته وفرمایل چي اي آدمه دغه ملائکي خووعلم تهْ دنوموددغوشیانوعاجزه سوي نواوس ته ددوي استاذځان جوړکه اوددغوشیانونومونه ودوئ ته وروښیه( فَ)نو(لَمَّا)هغه وخت( أَنْبَأَ)چي خبرکړل ده ،یعني دالله له حکمه سره سم چي کله خبرکړل آدم(هُمْ) دوئ یعني ملائکه( بِ )په (أَسْمَائِ)نومانو(هِمْ) ددوئ یعني ددغوشیانو( قَالَ)نوو‌ویل ده ،یعني الله وملائکوته( أَ)ایا(لَمْ )نه وُ(أَقُلْ) ویلي ما( لَكُمْ) تاسي لره( إِنِّي)بیشکه زه( أَعْلَمُ)عالم یم زه( غَيْبَ )په غیب (السَّمَوَاتِ)داسمانو( وَ)او(الْأَرْضِ) دځمکي یعني ماله پخوالاوتاسي ته ویلي وُچي زه په هغوشیانوداسمانواودځمکي عالم یم کوم چي له تاسي ټولومخلوقاتوڅخه غائب دي( وَ)او،یعني اووم زه (أَعْلَمُ ) چي پوهیدم (مَا) په هغه( تُبْدُونَ) چي ښکاره کاووتاسي یعني هغه،چي عبارت دی له دې قول ددوئ څخه چي،اتجعل فیهامن یفسدفیها الآیة،( وَ)او(مَا)په هغه( كُنْ)چي واست (تُمْ)تاسي( تَكْتُمُونَ) (33) چي پټاووتاسي یعني هغه چي عبرت ووله دې قول څخه ددوئ چي هیڅکله خداي داسي څوک نه پیداکوي چي ترموږدي پرالله پاک باندي عزتمنداوقدرمن وي

تفصیل اوعلمي خبري:

پوسه چي له دغومبارکوآیاتوک څخه ډیري مهمي فائدې ترلاسه کیږي چي بیان یې په دې ډول دی،اوله دافائده ترلاسه کیږې چي بنده چي یومهم کارکوي نوبایدپه مشوره سره کړي ،دوهمه دافائده ورڅخه ترلاسه کیږي چي حاکم اواميربايدکارونه دخپلوخواصواوذوي الرأیوپه مشوره سره ترسره کوي ،دریمه دافائده ورڅخه ترلاسه کیږي چي یوڅوک چي دعظمت اولوړمنزلت خاوندوي نوپه کاروکښي که دېْ مشوره کوي نودادډهله عظمت سره نامناسب کارنه بلکه ورسره ضروري کاردی ،څلرمه دافائده ورڅخه ترلاسه کیږي چي که دمشوره ورکوونکورأیه په یقیني ډول ومشوره غوښتونکي ته نامناسبه ښکاره سي اوخپله رأیه ورته منایبه ثابته سي نوبایدپه خپله رأیه عمل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي ،پنځمه دافائده ورڅخه ترلاسه کېږي چي تنقيدپريوه خبره ياپريوه کارديوچاباندي په صحيح نيت سره نامناسب کارندی، بلکه بايدوکړسي ځکه دملائکوکه څه هم په دغه قول سره چي اتجعل الآية پرالله پاک باندي تنقيدمطلب نه ؤخوپه دې کښي چي ددوئ له خولې څخه الله داسي جمله راوايستله چي په ظاهره تنقيدورڅخه فهميږي حکمت دالله پاک بنده ګنولره دتنقيدتعليم ؤ،اوشپږمه دافائده ترلاسه کيږي چي هغه څوک چي پرده باندي کوم تنقيدوکړسې نوهغه بايدياتنقيدکوونکي ته قناعت بخښنه جواب ووايې اودخپل کارياګفتارصحت ورته ثابت کړي اويادده په تنقيدعمل وکړي اودخپل کاريا قول اصلاح وکړي لکه چي په يوه مشهورحديث کښي چي په مشکاة وغيره کښي يې روايت سويدی، راغلي دي چي داسلام پيغمبرواوبوهريره رضي الله عنه ته خپل نعلين مبارکان ورکړل اوورته وې فرمايل چي هرڅوک چي په درځې اوکلمه داسلام وايې مني يې نووهغه دجنت زېري کوه اوکله چي عمرپه مخه ورغي اوابوهريره دمبارک عليه السلام خبره ورته وکړه نوعمردي سخت وواهه اوبيرته يې واپس کړاوداسلام وپيغمبر ته هم وويل چي داډول خبربايدو نکړه سي ځکه چي خلګ بيا ددغي خبري پرظاهرباندي ځي اوواعمالوته شا ورګرځوي اواسلام پيغمبردعمررضي الله عنه دغه خبرفي الحاله ورسره ومنله،اومه دافائده ورڅخه ترلاسه کېږي چي دمشيرتوب اوخلافت داستحقاق دپاره چي کوم شرطونه دي نوپه هغوئ کښي علم ترټولومهم شرط دی ،همداسبب دی،چي بني اسرائيلودطالوت په باچاکيدلوکښي ترددوکړپه دې وجه چي ددوئ په فکروکښي مداردفضيلت اوداستحقاق دباچاهي دمال اودولت ډير والي وواوطالوت يومسکين سړئ وونودهغه وخت نبي ددوي دغه استدلال ردکړاومدارداستحقاق دبادشاهي يې علم اوجسمي عظمت وباله لکه الله چي په قرآن کښي په دې ډول حکايت ورڅخه کړيدی،وزاده الله بسطة في العلم والجسم،اتمه دافائده ورڅخه رااوځي چي معيا ردفضيلت ديوه پربل باندي علم نافع دی، مولانا رومي رحمه الله دعلم نافع په باره کښي داسي فرمايلي دي:

،خاتم ملک سليمان است علم ـ جمله عالم صورت وجان است علم

آدم خاکي زحق آموخت علم ـ تابهفتم آسمان افروخت علم

بوالبشرچون علم الاسماءګشت ـ صدهزاران علمش اندرهرګ است ،

علم چون بردل زني ياري شود ـ علم چون برتن زني ماري شود

هين مکش بهرهواآن بارعلم ـ تابه بيني ازدرون انبرعلم

بيني اندردل علوم انبيا ـ بي کتاب وبي معيدواوستا

قالرابګذارمردحال شو ـ پيش مردکاملي پامال شو

حکمت دنيا فزايدظن وشک ـ حکمت ديني بردفوق فلک

جان جمله علمها اين است اين ـ که بداني من کيم دريوم دين

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دانش نوراست درجان رجال ـ ني زدفترني زراه قيل وقال

تمت ومن الله التوفيق

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بقرې د سورت د څلور ديرشم مبارک آيت لفظي ترجمه اوعلمي تحقيق

## تفسير فضل الرحيم ،

------------------------------------------------------

لفظي ترجمه:

(وَ)او(إِذْ)هغه وخت يعني درپيادکړه اې محمده هغه وخت ياورپيادکه وخلګوته اې محمده هغه وخت(قُلْ)چې وويل(نَا)موږ(لِلْمَلَائِكَةِ)ټولوملايکولره (اسْجُدُوا)چې سجده وکړئ تاسي (لِ)له وجي(آدم)دآدم يعني له وجي د دې چې دآدم وجود الله پاک ستاسي دپاره يولوي رحمت وګرځاوه نوپدې وجه والله پاک ته دشکرسجده وکړئ اويا يي داسي معناوکړئ چې سجده وکړئ تاسي(لِ)وطرفته (آدم ) دآدم يعني سجده خوخداي پاک ته وکړئ خوآدم دخپلي سجدې قبله وګرځوئ ،،نورتفصيل به په علمي خبروکښي بيادرته راسي (فَ)نو(سَجَدُوا)سجده وکړه دوئ يعني ټولوفرشتودالله جل جلاله له حکمه سره متصل دآدم وطرفته والله جل جلاله ته پرسجده باندي سول (إِلَّا)ماسوا(إِبْلِيسَ)له ابليسه يعني ماسواله شيطان ملعونه چې ده ملعون سجده ونکړه(أَبَى)منعه يي وکړه ده يعني له سجدې کولوڅخه وآدم ته (وَ)او(اسْتَكْبَرَ)لويي ئي وکړه يعني ځان ئي لوي اوغڅ وبالوله دې څخه چې وطرف دآدم ته سجده وکړي (وَ)او(كَانَ)وګرځېدواويائي داسي معني وکړئ چې (و)او(کان )وودی يعني ابليس ملعون له پخوا لا په علم دخداي کښي (مِنَ)له(الْكَافِرِينَ) (34)کافرانو څخه يعني الله جل جلاله ته په ازل کښي دامعلومه وه چې ابليس ملعون دخاتمې په اعتبار العياذبالله له جملې څخه دکافرانو دی.

پوسه چې هرکله چې حضرت آدم عليه السلامو ملايکه ووته له نوموڅخه دشيانوخبرورکړ او ودوئ ته يي هغه څه وروښودل چې ودوئ ته نه وومعلوم نو وروسته له دې څخه الله جل جلاله ملائکه په دې سره امر کړل چې دحضرت آدم عليه السلام وطرفته سجده وکړي د دې کارپه ظاهر کښي درې سببونه موجود وو

اول دا چې پدغه سجده کولوسره دملائکه وو وحضرت آدم ته په عملي ډول سره اعتراف را سي دفرشتو له طرفه په فضيلت اوپه بهتري دآدم عليه السلام

دوهم دا چې پدغه سجده کولو سره دآدم عليه السلام داستاذي حق اداکړسي

دريم داچې پدغه سجده کولو سره دفرشتودهغي خبري جبران اواعتذار راسي کومه چې دآدم عليه السلام دتخليق په وخت کښي يي د ده مبارک په وخت کښي کړې وه چې ، اتجعل فيها من يفسد فيها الاية ، اوځنوعلماوو ويلي دي چې وفرشتو ته چې الله پاک امرپدې سره وکړ چې وآدم ته سجده وکړئ داله مخه تردې وو چې دآدم عليه السلام دپيدايښت اودده دخلقت تسويه کيدله په دليل د دې قول دخداي پاک چې ،فاذاسويته ونفخت فيه من

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



روحي فقعوله ساجدين ،فوائد،پوسه چي له دغه مبارک آيت څخه دمختلفو فائدواستنباط کيږي،اوله فائده داده چي تکبرډيرنروا اوبرباده وونکي عمل دی،دوهمه فائده داده چي دتکبرپه وجه کله انسان وکفرته هم رسيږي ،ديمه فائده داده چي دالله پاک دحکم په عملي کولوکښي تلوار پکار دی لکه ملائکوچي وکړ

څلرمه فائده داده چي دالله پاک داحکامودااسرارودمعلومه ولوپه لټه کښي بايدتوغل ونکړسي

پنځمه فائده داده چي دامرصيغه چي له قرائنوڅخه مطلقه وي نودپاره دوجوب ده،شپږمه فائده داده چي اعتبار وخاتمې ته دی حقيقي مومن هغه دی چي دده خاتمه پرايمان باندي وي،بيضاوي،

تفصيل اوعلمي خبرې

) واذقلنا (

پوسه چي کلمه دواو عاطفه ده اودغه ظرف عطف دی پرظرف سابق باندي پدې شرط چي ظرف سابق منصوب په اذکر مقدرسره سي اوعلامه يي الوسي دغه عطف له قبېلې دعطف دقصې پرقصې بللي دی په داسي حال کښي چي قاضي بيضاوي عطف دقصې پر قصې يواحتمال له احتمالاتو دقصې پرقصې بللي دی ،دلته داسوال کيږي چي په مخکښي آيت کښي واذقال ربک فرمايل سويدی اودلته اذقلنا فرمايل سويدی نوددغه بدلون وجه څه ده؟

جواب ددې دادی چي دمخه دآدم عليه السلام دخليفه کيدواودده دتعليم بيان ووملائکوته کوم جي ترتربيې پوري تعلق لري اودلته دالهي امرذکردی وملائکوته دسجدې کولوآدم ته کوم چي مناسب ورسره دآمرتعظيم اوتکلم دی نوځکه دلته دقلنا لفظ چي دمتکلم صيغه ده اوجمعوالئ ئې دتعظيم دپاره دی فرمايل سويدی

)للملائكة(

په دې مسأله کښي اختلاف دی چي ماموربه په سجده سره کوم ملائکه ؤظاهرله دې څخه چي دملائکه لفظ مطلق ذکردی اوسره له دې چي جمع محلي په لام سره عامه اومستغرقه وي،دادی چي ټولي فرښتې په سجده سره امرسوي وې اودسورت حجرديرشم آيت هم پردې باندي دلالت کوي ،اوداکثروعلماؤقول هم دادی،اوځينوعلماؤويلي دي چي خاص هغه فرشتې په سجده سره ماموري وې چي په ځمکه کښي اوسيدلې(،اسجدوالآدم )پوسه چي سجده په لغت کښي مطابق دقول دقاضي بيضاوي ودې ته ويله کېږي چي ويوچاته عاجزي ښکاره کړي سره له يوڅه سرکښته کولواوابن منظوروغيره ذکرکړيدي چي سجده په لغت کښي درې معني وي لري اولسرکښته کول ويوچاته دوهم خضوع اوعاجزي کول دريم اطاعت اوانقيادکول اوپه عام عرف کښي سجده ودې ته ويله کيږي چي يوسړي ويوچاته تندي په ځمکه باندي کښيږدي عام له دې څخه که دپاره دتعظيم وي اوکه دپاره دتحيې ودسلام وي اوکه دپاره دعبادت وي،اوپه شريعت کښي سجده ودې ته ويله کيږي چي تندي پرځمکه باندي کښيږدي پروجه دعبادت اودبندګۍ،تراسلام له مخه په خلګوکښي دوه قسمه سجدې رواج وې،اول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سجده په صرف سرکښته کولوسره يوچاته دپاره دتحيې اوداکرام،دوهم سجده په اينبولوسره دتندي پرځمکه باندي دپاره دتعظيم دادواړه قسمه سجدې په اسماني حقوشريعتوکښي جائزي وې لکه چي شربيني اوخازن اونسفي ذکرکړيدي،کله چي اسلام راغلئ‌نودغه دوهم قسم سجده خوپه اتفاق منسوخه سوه اووهابي مزاجه خلګ اول قسم سجده هم منسوخه بولي البته دسلام له مخه يوبل قسم سجده هم رواج وه چي هغه اينبوول دتندي ؤو پرځمکه باندي ويوشي ته په قصددعبادت لکه مشرکانوچي به وبتانوته دغه ډول سجده کوله دغه قسم سجده په هيڅ اسماني دين کښي نه ده رواکړسوې،

وآدم عليه السلام ته الله جل جلاله ملائکه په کوم قسم سجده کولو سره امرکړل؟

جواب : قاضي بيضاوي په دې کښي مختلف احتمالات ذکرکړيدي،اول احتمال دادئ‌چي مرادله سجدې څخه په (اسجدوا)کښي شرعي سجده وه خومسجودله په حقيقت کښي الله جل جلاله ؤواوآدم عليه السلام دملائکودسجدې دپاره الله جل جلاله قبله وګرځاؤو نوپه دغه تقديرباندي به لام جره په معني دالي جاره سي اويابه لام جاره لپاره دتعظيم سي، اي اسجدوالله الي آدم اولاجل آدم اي لاجل انّ تخليقه صاررحمة عليکم،دوهم احتمال دادئ چي مرادله سجدې څخه لغوي معني ده چي عبارت ده له تواضع څخه آدم عليه السلام لره له وجي دتحيې اودتعظيم دده لکه سجده دوروڼوديوسف عليه السلام ويوسف عليه السلام ته،اي تواضعوا لآدم تحيةً وتعظيما له، اودريم احتمال دادئ چي مرادله سجدې څخه انقياداوتابعداري دآدم عليه السلام لره په حاصلولوکښي دهغوشيانو چي دآدم عليه السلام اودده داولادې معاش اړه ترپوري لري پردغودواړواحتمالوبه لام جاره صله سي لپاره داسجدوا،اوابن انباري له فراء څخه دغه دوهم احتمال رانقل کړيدئ‌اوامام رازي هم غه احتمال راجح بللئ دئ اوصاحب دتفسيرخازن ودغه احتمال ته اصح ويلئ‌دئ‌اوصاحب دتفسيرنسفي دغه احتمال له ابن عباس رضي الله عنه څخه منقول بللئ دئ،

)فسَجدوااِلّاابليس(

پوسه چي دفاءکلمه پردې باندي دلالت کوي چي ملايکوبې چون وچرا په تلوارسره دالله پاک دحکم مطابق سجده وکړه، پوسه چي دلته درې سوالونه کيږي چي جواب غواړي اوله سوال دادئ‌چي دغه استثنا استثنا متصله ده اوکه منقطعه ده،ددې سوال جواب دادئ‌چي دااستثنا متصله ده ياله دې وجي ابليس ملعون هم په اصل کښي له جنس څخه دملائکوؤو اوياله دې وجي چي دَيْ ملعون تغليباً فرشته ګڼل سويدي اوياله دې وجي چي ابليس خوله جنس څخه دپيريانوووااوپيريان هم له ملائکوسره سم الله جل جلاله په سجده کولوسره وآدم عليه السلام ته امرکړيووخوددوئ ذکريې له دې وجهي نه دئ کړئ چي دوئ دملائکوتابع وو،دقاضي بيضاوي دکلام له سياق څخه ددې خبري ترجيح معلوميږي چي دغه استثنا متصله ده اوځني علماءدغه استثنامنقطعه بولي په دليل ددې چي مستثني منه ومستثني ته نه دئ ورشامل ځکه چي ابليس دملائکوله جنس څخه نه وو،دوهم سوال دادئ چي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابلیس ملعون له جنس څخه دملائکوؤاوکه دجنیاتو؟علامه آلوسي رحمه الله په روح المعاني کښي دې سوال په جواب کښي ذکرکړیدي چي په دې کښي خلګواختلاف کړیدی. یوې ډلي داسي ویلي دي چي ابلیس له جنیاتو څخه دی اوپردې خبره دوئ متعدددلیلونه پیش کړیدي اول داچي په یوه آیت کښي الله داسي فرمایلي دي چي،الاابلیس کان من الجن،اودوهم داچي ملائکه استکبارنکوي اوده خواستکباروکړ،دریم داچي ملائکه خو لکه چي دمسلم په یوه روایت کښي راځي له نورڅخه پیداکړه سویدي اوابلیس خوله اورڅخه پیدا سویدی. لکه چي الله پاک دده له قوله څخه حکایت کړیدی. چي خلقتني من نار وخلقته من طین،اوجمهوردصحابه ؤاودتابعینوداویلي دي چي دي له ملائکوڅخه ؤددوی‌قوي دلیل دادی. چي الله پاک دده استثنا له ملائکوڅخه کړیده اواصل په استثنا کښي اتصال دی،پرجمهوروباندي بیا ځیني سوالونه کیږي اول سوال دادی. چي الله جل جلاله په قرآن کریم کښي فرمائي چي، کان من الجن، یعني ؤابلس له جنسه دپیریانو؟بیا دوئ ددې سوال دوه جوابونه ورکړي دي ،اول جواب دادی‌چي مراد له آیت څخه دادی‌چي دَيْ دفعل اودکارپه اعتبارله جملې څخه دجنیانووونه داچي دحقیقت په اعتبار له دوی‌څخه وو،

دوهم جواب دادی. چي دکان لفظ په کان من الجن کښي دصارپه معني دی. یعني ابلیس دستکباراودتمردپه وجه له ملکي حقیقت څخه دمسخي په ډول له جملې څخه جنیانووګرځیدی‌لکه یهودان چي دمسخي په ډول بیزوګان یاخنزیران وګرځیدل اودریم جواب دادی‌چي په دې کښي منافات نسته چي دي جن هم سي اوملک دي هم سي ځکه دجن اطلاق لکه چي مقابل دملائکوکیږي دارنګه یې دملائکوپریوخاصي نوعي باندي هم اطلاق کیږي ځکه چي په ملائکوکښي یوقسم ملائکي دي چي دجنت خازناني دي اویادجنتیانودګېنوجوړونکي دي اوځني علماوو ویلي دي چي جن په ملائکوکښي یوداسي قسم دی. چي ملائکي یې هم نسي لیدلای. لکه موږچي یې هم نسولیدلای. اوابن اسحاق ویلي چي وملائکوته مطلقا په دې اعتبارجن ویل کیدلای. سي چي زموږله سترګوڅخه پټې دي،اودوهم سوال دادی. چي ابلیس چي فرشته سي نوبیایې دالله پاک له حکمه څخه سرکښي اواستکبارڅنګه وکړځکه چي فرشتې خوله ګناووڅخه معصومي دي ددې سوال جواب یوپه دې ډول ورکړسویدی‌چي په ملائکوکښي ځني داسي ملائکي سته چي معصومي نه دي داخبره چي ملائکه معصوم دي ددې مطلب دادی‌چي عصمت په دوی. کښي غالب دی. لکه څرنګه چي عدم دعصمت په موږ کښي غالب دی‌اوبل جواب په دې ډول ورکړسویدی‌چي ابلیس ملعون هلته سرکښي اواستکباروکړچي الله جل جلاله جامي دملکي صفتوله ده څخه وکښي اودشیطاني صفاتوجامې یې ورواغوستي دریم پرجمهوروباندي داسوال کیږي چي ابلیس له اورڅخه پیداسویدی‌اوملائکه له نورڅخه پیداسویدي نوبیابه څنګه ابلیس له ملائکوڅخه سي ، ددې سوال جواب یوپه دې ډول ورکړسویدی. چي اوراونورپه ماده اوپه جنس کښي متحددي صرف په عوارضوکښي اختلاف سره لري، اوبل په دې ډول چي داخبره چي ملائکه له نورڅخه پیدادي پرغلب بناده ځکه ډیرله اثاراوله روایاتڅخه پردې باندي دلالت کوي چي ځني ملائکه له اورڅخه پیداکوي اوځني له واوري څخه وغیرذالک اوپه یوه روآیت کښي داسي راغلي دي چي ترعرش عظیم لاندي یونهردی‌چي کله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جبرئیل علیه السلام غسل په کښې وکړي اوبیاخپل وزرونه وڅنډي نوله هرڅاڅکي څخه یوه فرشته الله جل جلاله پیداکوي،

فایده: پوسه چي مخلوقات ټول که علوي دي سفلي سعیددي اوکه شقي دي له حقیقتمحمدي څخه پیداسویدي لکه چي روایات اواثارپردې باندي دلالت کوي البته علوي ملائکه له ده مبارک څخه من حیث الجمال پیداسویدي اوابلیس ملعون له ده مبارک څخه من حیث الجلال پیداسویدی،

روح المعاني

)ابي واستکبر(

دایامستأنفه جمله ده ګواکي کله چي الله جل جلاله داسي وفرمایل چي ،الاابلیس، نویوسائل داسي سوال وکړچي ابلیس نوڅه وکړل نوالله پاک جواب ورکړچي ،ابي واستکبر، اویاحال دی له له لفظ څخه دابلیس په تقدیردقَد،پوسه چي دابَي لفظ له هغوبابوڅخه دی چي دعي کلمه يې په ماضي اومضارع کښې خلاف القیاسه مفتوحه راغلې ده اودغه لفظ په کسره دعین کلمې سره هم اوریدل سویدی لکه رَضِيَ نوبیایې په مضارع کښې مخالفت دقیاس نسته ده لفظ له اِباڅخه مأخوذدی چي معني يې ده اَلامتناع من الفعلِ مع التَّمکن علیه لِلأنفة،اواستکباروتکبرته ویل کیږي اوچاویلي دي چي تکبرودې ته ویل کیږي چي یوڅوک تربل چا خپل ځان لوی وګڼي عام له دې څخه که په واقع کښې هم لوی وي اوکه نه وي اواستکبارودې ته ویل کیږي چي لوی نه وي ځان لوی وګڼي، اوداِباذکردمخه راغلی دی سره له دې چي په وجودکښې تراستکباروروسته دی په دې سبب چي اِباله احوال ظاهره وو څخه ده اواستکبارله احوال نفسانیه وو څخه دی،

روح المعاني

)وکان من الکافرین(

داجمله هم یامستأنفه ده اویاحالیه ده،دکان لفظ یاپرخپل حال پاته دی‌نوبه معني په دې ډول سي ،وکان في علم الله من الکافرین اوکان من القوم الکافرین الذي کانوافي الارض قبل خلق آدم’اوچاویلي دي چي کان دلته په معني دصاردی اوابوالعالیه ویلي دي چي معني دوکان من الکافرین داده چي وکان من العاصین، پوسه چي دابلیس کافرکیدل په دې وجه نه ؤچي ترک دواجب ئې وکړچي سجده کول ؤوآدم ته بلکه په سبب ددې ووچي دالله پاک امرئې قبیح وګاڼه داخودعلامه آلوسي خبرده ځما په فکرکه څه هم ځمورږپه شریعت کښې خوحکم دادی چي په ترک دواجبوسره څوک نه کافرکېږي خوممکن دهغه وخت حکم دي له دي څخه جلاووسره له دې چي داخوداسي ترک دواجبوووچي دالله دبالمشافهه حکم مخالفت وواودالله په حضورکښې مخالفت وو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



روح المعاني مع توضيح وزيادة پوسه چي امام رازي دلته يوعجيب تحقيق کړيدی چي ستاسي دنفع په وجه يې عبارة رانقل کوم ،عبارت دادي،

المسألة السادسة، للعقلاء في قوله تعالي (وكان من الكافرين)قولان احدهماان ابليس حين اشتغاله بالعبادة كان منافقاً كافرا وفي تقريرهذالقول وجهان ،احدهما،حكي محمدبن عبدالكريم الشهرستاني في اول كتابه المسمي بالملل والنحل عن ماري شارح الاناجيل الاربعة وهي مذكورفي التوراة متفقة علي شكل مناظرة بينه وبين الملائكة بعدالامربالسجود قال ابليس للملائكة اني اسلم ان لي الها هوخالقي، وموجدي،وهوخالق الخلق لكن لي عي حكمة الله تعالي اسئلة سبعة، مالحكمة في الخلق لاسيما ان كان عالما بان الكافرلايستوجب عندخلقه الآلام؟ ،الثاني، مالفائدة في التكليف مع انه لايعودمنه ضرولانفع وكل مايعودالي المكلفين فهوقادرعلي تحصيله لهم من غيرواسطة التكليف؟،الثالث،هب انه كلفني بمعرفته وطاعته فلماذاكلفني السجودلآدم؟،الرابع، ثم لماعصيته في ترک السجود لآدم فلم لعني واوجب عقابيمع انه لافائدة له ولالغيره فيه ،ولي فيه اعظم ضرر ؟،الخامس، ثم لمافعل ذالک فلم مكنني من الدخول الي الجنة ووسوسة لآدم عليه السلام؟،السادس،ثم لما فعلت ذالک فلم سلطني علي اولاده ومكنني من اغوائهم واضلالهم؟،السابع، ثم لما استمهلته المدة الطويلة في ذالک،فلم امهلني،ومعلوم ان العالم لوكان خاليا عن ا لشر لكان ذالک خيراً،قال شارح الاناجيل فاوحي الله جل جلاله اليه من سرادقات الجلال والكبرياء،ياابليس انک ماعرفتني،ولوعرفتني لعلمت انه لااعتراض علي في شئ من افعالي فاني ان الله لااله الاانالااسئل عماافعل،واعلم انه لواجتمع الأولون والاخرون من الخلائق وحكموابتحسين العقل وتقبيحه لم يجدواعن هذه الشبهات مخلصا وكان الكل لازماً،امااذا أجبنا بذالک الجواب الذي ذكره الله تعالي زالت الشبهات واندفعت الاعتراضات وكيف لا وكما انه سبحانه واجب الوجودفي ذاته واجب الوجود في صفاته فهومستغن في فاعليته عن المؤثرات والمرجحات اذلوافتقرلكان فقيراً لاغنياً فهوسبحانه مقطع الحاجات ومنتهي الرغبات ومن عنده نيل الطلبات واذاكان كذالک لم تتطرق اللمية الي افعاله ولم يتوجه الاعراض علي خالقيته وماحسن ماقال بعضهم جل جناب الجلال عن ان يوزن بميزان الاعتزال فهذالقائل اجري قوله تعالي (وكان من الكافرين)علي ظاهره،وقال انه كان كافراً منافقا منذكان ،الوجه الثاني في تقريره انه كان كافرا ابداقول أصحاب الموافاة وذالک لأن الايمان يوجب استحقاق عقاب الدائم والجمع بين الثواب الدائم والعقاب الدائم محال فاذاصدرالايمان من في وقت ثم صدرعنه والعياذبالله بعدذالک كفرفامان يبقي الاستحقاقان معاً وهومحال علي مابيناه اويكون الطارئ مزيلاللسابق وهوايضا محال لان القول بالاحباط باطل فلم يبق الان يقال ان هذالفرض محال وشرط حصول الايمان ان لايصدرالكفرعنه في وقت قط فاذاكانت الخاتمة علي الكفرعلمنا ان الذي صدرعنه اولاماكان ايمانا اذاثبت هذافنقول،لماكان ختم ابليس علي الكفرعلمنانانه ماكان مومناًقط،القول الثاني، ان ابليس كان مومنا ثم كفر بعدذالک وهؤلاءاختلفوافي تفسيرقوله تعالي(وكان من الكافرين) فمنهم من قال معناه وكان من الكافرين في علم الله تعالي اي كان عالماً في الازل بأنه سيكفر فصيغة كان متعلقة بالعلم لابالمعلوم،والوجه الثاني،انه لماكفرفي وقت معين بعدان كان مومنا قبل ذالک فبعدمضي كفره صدق عليه في ذالک الوقت انه كان في ذالک الوقت من الكافرين ومتي صدق عليه ذالک وجب ان يصدق عليه انه كان من

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



الكافرين جزءمن مفهوم قولناكان من الكافرين في ذالک الوقت ومتي صدق المركب صدق المفردلامحالة،الوجه الثالث، المرآدمن كان صاراي وصارمن الكافرين،وهاابحاث،البحث الاول،اختلفوافي ان قوله تعالي(وكان من الكافرين)هل يدل علي انه وجدقبله جمع من الكافرين حتي يصدق القول بانه من الكافرين،قال قوم ان يدل عليه لان كلمة من للتبعيض،فالحكم عليه بانه بعض الكافرين وجودقوم اخرين من الكافرين حتي يون هوبعضالهم والذي يؤكدذالک ماروي عن ابي هريره انه قال(ان الله تعالي خلق خلقا من الملائكة ثم قال لهم اني خالق بشرا من طين فاذاسويته ونفخت فيه من روحي فقعواله ساجدين قالواله لانفعل ذالک فبعث الله عليهم نارافاحرقتهم وكان ابليس من اولئک الذين أبوا،وقال آخرون هذه الآية لاتدل علي ذالک ثم لهم في تفسيرالآية وجهان،احدهما،معني الاية انه صارمن الذين والقوه في الكفربعدذالک وهوقول الأصم وذكرفي مثاله قوله تعالي(والمنافقين والمنافقات بعضهم من بعض،فاضاف بعضهم الي بعض بسبب موافقة في الدين فكذاههنالما كان الكفرظاهرامن اهل العالم عندنزول هذه الآية صح قوله وكان من الكافرين،وثانيها،ان هذاضافة لفردمن افرادالماهية االي تلک الماهية وصحة هذه الاضافة لاتقتضي وجودتلک الماهية كماان الحيوان الذي خلقه الله تعالي اولايصح ان يقال انه فردمن افرادالحيوان لابمعناانه واحدمن الحيوانات الموجودة خارج الذهن بل بمعني انه فردمن افرادهذه الماهية وواحدمن آحآدمن هذه الحقيقة،واعلم انه يتفرع علي هذالبحث ان ابليس هل كان اول من كفربالله،والذي عليهاالاكثرون انه اول من كفربالله،

تمت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بقرې د مبارک سورت د پنځه دیرشم مبارک آیت لفظي ترجمه او علمي تحقیق

## تفسیرفضل الرحیم ،۱۸برخه،

---------------------------------------

لفظي ترجمه:

(وَ)او(قُلْ)وويل(نَا)موږيعني وآدم علیه السلام ته مووويل (يَا) اې (آدم) آدمه(اسْكُنْ)واوسیږه،سکونت غوره کړه (أَنْتَ)ته (وَ)اویعني اوسکونت دي غوره کړي،ودي اوسيږي(زَوْجُ)ښځه (كَ)ستایعني چي بي بي حواء رضي الله تعالي عنهاده (الْجَنَّةَ)په جنت کښي (وَ)او(كُلَا)خورئ یعني تاسي دواړه (مِنْ)له (هَا)ده څخه یعني له جنت څخه مرادداده چي له میووډجنت څخه خورک کوي (رَغَدًا)پريمانه،پراخ یعني خورک کوي خورک کول فراخ (حَيْثُ)هرچيري یعني په جنت کښي هرچيري (شِئْ)چي خوښه سي (تُمَا)ستاسي دؤو (وَ)او (لَا)مه (تَقْرَبَا)نزدیکیږئ تاسي دواړه (هَذِهِ)ودغي (الشَّجَرَةَ)درختي ته (فَ)نوبه یعني کچيري تاسي ودغي درختي ته ورنزدې سئ اوخورک ورڅخه وکړئ نوبه (تَكُونَا)سئ تاسي دواړه (مِنَ)له (الظَّالِمِيْن) (35) ظالمانوڅخه،پوسه چي کله چي واقعه دسجدې کولودملائکوآدم علیه السلام ته اوشخړه دانکاردابلیس له سجدې کولوڅخه وآدم ته اودارنګه سلسله دملعون کیدلودده پاي ته ورسیده نوآدم علیه السلام تنها په ځمکه کښي اوسیدئ اوپرته له حیواناتوڅخه ئې بل شي په ځمکه کښي نه لیدئ اوهمجنس يې نه درلودئ اوپه خپل زړه کښي بې داآرزواوخواهش کاووچي کاشکي مي یوهم جنس درلودلاي چي صحبت اومجلس مي ورسره کولائ نو الله پاک چي ارحم الراحمین رب دئ دده دخواهش په وجه پرده باندي رحمت وکړاو ددوهمي جمعي په ورځ په داسي حال کښي چي دئْ ویده وو ملائکودالله د حکم مطابق دآدم علیه السلام چپه بغل څیري کړ اوله هغه ځاي څخه يې یوه ښائسته دښه شکل خاونده ښځه راوه ایستله چي په یوه لمحه کښي يې قداوقامت برابرسوبیا فرشتوبیرته دآدم علیه السلام څیري سوئ بغل سره پیوسته کړ اوپدې واقعه کښي وآدم علیه السلام ته هيڅ کوم ربړ اوتکلیف نه دئ رسېدلي کله چي حضرت آدم علیه السلام له خوب څخه رابیدارسو نودغه ښځه يې ولیدله چي وبغل ته يې ناسته وه نوپوښتنه يې ورڅخه وکړه چي ته څوک يې د الله جل جلاله له طرفه ورته و ویل سول چي داځما مینځه ده لپا ره دانس اوالفت نیولوستا مي پیداکړه حضرت آدم علیه السلام وغوښتل چي ودېته لاس ور وغځه وي نو د الله جل جلاله له طرفه حکم ورته وسو چي ترهغه پوري به وحوا ته لاس نه وروړې چي د دې مهر اوو رول دي اداکړي نه وي آدم علیه السلام عرض وکړ چي اې الله د دې مهر اوورول څه دي الله جل جلاله ورته وفرمایل چي ورول يې دادي چي پر محمد صلي الله علیه وسلم اوپر اهل د ده باندي لس واره درود و وایې آدم علیه السلام بیاوالله تعالي ته عرض وکړ چي محمد څوک دي الله پاک ورته وفرمایل چي محمد خاتم دانبیاوو دئ اوستاله اولاد څخه دئ اوکه د ده پیدایښت ځما منظور نه واي نوته مانه پیداکولې نوبیا حضرت آدم علیه السلام پرحضرت محمد صلي الله علیه وسلم باندي درود و وایو اوبیا دملائکوپه شاهدي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوگواهي سره د دوي په منځ کښي نکاح وتړله سوه داکارونه ټول دجمعې په ورځ کښي ترسره سول دهمدغي ورځي په اخيرکښي الله جل جلاله وپرشتوته حکم وکړ چي حضرت آدم عليه السلام اوحوا دواړه په قسم قسم زېوراتو اودښايست په شيانو ښائسته کړئ اوپرډول دبادشاهانويي دزروپرتخت باندي کښېنوئ او وجنت ته يي داخل کړي ، داهغه څه دي چي شاه عبدالعزيز رحمه الله په فتح العزيز کښي ذکر کړيدي ، همدارنګه پوسه چي پدې خبره کښي اختلاف دي چي دحضرت حوا پيدايښت تردې دمخه سويدی چي حضرت آدم عليه السلام وجنت ته ورداخلېدی اوکه په جنت کښي سويدی لکه چي امام رازي په تفسير کبيرکښي داسي فرمايلي دي ، واختلفوافي الوقت الذي خلقت زوجته فيه ،فذکر السدي عن ابن عباس وابن مسعود وناس من الصحابه ان الله تعالي لما اخرج ابليس من الجنة واسکن آدم الجنة فبقي فيها وحده وما کان معه من يستأنس به فألقي الله تعالي عليه النوم ثم أخذ ضلعا من اضلاعه من شقه الأيسرووضع مکانه لحما وخلق حواء منه فلما استيقظ وجد عندرأسه امرأة قاعدة فسألها من انت ؟ قالت : امرأة قال ولم خلقت ؟ قالت لتسکن الي فقالت الملائکة مااسمها ؟ قال حواء ، قالو ولم سميت حواء ؟ قال لأنها خلقت من شئ حي ،وعن عمر وابن عباس رضي الله عنهما قال : بعث الله جندا من الملائکة فحملوا آدم وحواء عليهماالسلام علي سرير من ذهب کماتحمل الملوک ولباسهما النور علي کل واحد منهما اکليل من ذهب مکلل بالياقوت واللؤلؤ وعلي آدم منطقه مکللة بالدروالياقوت حتي ادخل الجنة .فهذاالخبريدل علي ان حواء خلقت قبل ادخال آدم الجنة والخبر الأول يدل علي انها خلقت في الجنة والله اعلم بالحقيقة .پوسه چي دقران کريم څني اياتونه پردې خبره باندي دلالت کوي چي حضرت حواء رضي الله تعالي عنها له حضرت آدم عليه السلام څخه الله جل جلاله پيداکړه چي اول له هغواياتوڅخه دسورت نساء دغه مبارک آيت دی ( الذي خلقکم من نفس واحدة وخلق منها زوجها ) يعني هغه خداي چي پيداکړي يې ياست تاسي له نفسه يوه څخه ، چي آدم عليه السلام دی ، اوپيداکړي يې ده له همدغه يوه نفسه څخه ښځه د ده ، چي حواء رضي الله عنها ده ،اودوهم آيت دسورت اعراف دغه قول دخداي پاک دی ( وجعل منها زوجها ليسکن عليها) يعني اوپيدايې کړه له دغه يوه نفسه څخه ښځه د ده د دې دپاره چي سکون اوارامي ونيسي ودېته اوهمدا رنګه احاديث دنبي عليه السلام پردې باندي قاطع دلالت کوي چي حواءرضي الله تعالي عنها له حضرت آدم عليه السلام څخه الله جل جلاله پيداکړېده لکه داقول درسول عليه السلام [ ان المرأة خلقت من ضلع الرجل فان اردت ان تقيمها کسرتها وان ترکتها انتفعت بها واستقامت ] يعني ښځکه ښځه ، حواء ،پيداکړه سوېده له پښتئ څخه دسړي ،د آدم عليه السلام ،يعني نوشان د دې داډول دی لکه دپښتي ،نو کچيري تا داسېده کوله نوماته بې کړې اوکه دې چيري پرېښو وه دايعني پرخپل حال باندي نوبه نفع واخلې پدې باندي اومستقيمه به سي دا ،تفسيرکبير ،تنبيه پوسه چي په موجوده زمانه کښي کافران اوځني صرف په نامه سره مسلمانان نارينه اوښځي داخبره دپسخند په ډول تعبيره وي چي حواء له آدم څخه پيداکړه سوې ده اوحتي په ځنوراديو ګانو کښي هم کله کله دپسخند په ډول پردې خبره باندي بحثونه سوي دي داقسم خلګ داسلام دښمنان دي اوکه يوڅوک دجهالت په وجه داخبر وکړي چي داخبره صحيح نه ده چي حواء له آدم څخه پيداکړه سوې ده نوضرور بايد تجديد دايمان وکړي اووپردغه خپله خبرباندي توبه وکاږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفصيل اوعلمي خبري

)أسكن(

پوسه چي د�اسکن�لفظ په اصل کښي له �سکني� څخه هم احتمال داخذلري اوله سکون څخه هم، �سکني� و،�اتخاذالمسکن� يعني و نيولو دځای د سکونت،ته ويل کيږي ،اوسکون وترک ،پرېښوول دحرکت ته ويل کيږي،په دغه آيت کښي د�اسکن�لفظ له �سُکني�څخه جوړدی نوبه د�اسکن�معني داسي چي،ونيسه ته اوستاښځه جنت ځای دسکونت،نه له �سکون� څخه،ځکه چي بياد�أسْکُنْ� معني داسي کيږي چي ساکن سه ته اوستاښځه يعني په جنت کښي حرکت مه کوئ نودامعني خوصحيح نه ده ځکهچي منع له حرکت څخه په جنت کښي خويوقسم دعذاب دئ اونعمت نه دئ.

)انت(

دانت لفظ چي په اسکن کښي دمستترضميرتائيددئ ددي لپاره راوړل سويدئ چي د�زوجک� عطف پرمستترضميرباندي صحيح سي ځکه چي ضميرمستتر متصل ضمير دی اوعطف پرضميرمتصل باندي بې له تاکيده په منفصل ضميرسره نه صحيح کيږي او په � أسْكُنَا� سره يې په يوه صيغه ودوی دواړوته خطاب ونه فرمايو،له پاره ددي چي داخبره ښکاره سي چي آدم عليه السلام اودارنگه هرنر،مېړه اصل دئ اوحواء رضي الله عنها اوهره ښځه يې تابع ده

)الجنة(

د�الجنة�په لفظ کښي الف اولام لپاره دعهدخارجي دي،اشاره ده وهغه جنت ته چي دقيامت په ورځ به مومنان ورځي،رزقنا الله الرحمن الرحيم اياها،

)ذالک(

پوسه چي اهل سنت والجماعت په دي عقيده دي چي جنت اودوږخ له پخوالا خدائ پاک پيداکړيدي اوکوم جنت چي آدم عليه السلام اوحواءرضي الله عنهااول وارداخل سول اوبياورڅخه راووتل همدغه جنت ووچي مقابل ددوږخ دئ،اومعتزله چي يوناروا اومبتدعه ډله ده وايي چي جنت اودوږخ تراوسه پوري نه دي پيداسوي اوکوم جنت چي حضرت آدم عليه السلام اوحواءرضي الله عنهاپکښي وو هغه يوباغ ووپه ځمکه کښي دفلسطين اوياپه منځ کښي دفارس اودکرمان چي دآدم عليه السلام اوحواءرضي الله عنه دابتلادپاره خدائ پاک پيداکړيوو.

بياچي دوی ته داعتراض په ډول وويل سي چي دوی دواړه چي الله جل جلاله له جنت څخه ايستل نود�اهبطوا�په لفظ سره يې امرورته وکړ،،اواهباط خوله لوړه ځايه وکښته ځاي ته کيږي نومعلومه سوه چي داهغه جنت ووکوم چي په اسمانوکښي دئ چي دارالثواب دئ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نودوی ددې سوال په جواب کښې وايې چې �اهباط�ونقل کولوته له يوه ځايه وبل ځای ته هم ويل کېږي لکه په دې قول دخدای پاک کښې �اهبطوا مصرا�..

)رغدا(

دغه لفظ د�واسعا� په معني دئ صفت دئ دمصدرمحذوف، اي اکلارغداً،اومجموع مفعول مطلق دئ،

د�کلا� دپاره،

)حيث شئتما(

يعني په هرځای کښې له جنت څخه چې ستاسي خوښه سي،

پوسه چې لفظ د�حيث� وضع دئ لپاره دمکان مبهم، دلته عام مکان ورڅخه مراددئ ځکه مکان مبهم دعموم تقاضا کوي اوپه خصوص قرينه هم نسته،دغه ظرف تعلق تر�کُلا�نيسي نه تر�أُسْکُنْ� ځکه مقصود له دغه ظرف څخه عموم ده اجازې په خور ک کولو کښې ودوی دواړوته له هرقسمه خورکه دجنته لپاره ددې چې دوی ته له هغي درختي څخه چې ورڅخه منعه سول دخوړلوعذر نسي پاته،ځکه چې ټول خورکي شيان دجنت ورته رواسول ماسواله هغي يوې درختي، مولاناعصام الدين دلته يوه عجيبه دقيقه خبره کړېده هغه داچې،تر�کلا�پوري له دې وجې تعلق نيسي چې پردې دلالت وکړي چې په ډکه خېټه خورک مه کوئ، ځکه چې د�شئتما� لفظ چې له�حيث� سره ضم سويدئ پردغه مفهوم دلالت کوي ځکه په ډکه خېټه خورک په مشيت سره نه کيږي،نودعصام دقول مطابق به په آيت مذکوره کښې ددغه آيت مضمون راسي چې (کلواواشربواولاتسرفوا)

يوبزرگ فرمايلي دي، گرچه خداگفت کلوا واشربوا ، ليک نگفته است کُلوا تاگلو

پوسه چې په ډک نس خورک هم شرعاً ممنوع دئ اوهم دډاکټيري او طبي په مسلک کښې ممنوع دئ،ځکه چې دااسرا ف دئ او دمرضوپيداکونکئ دئ،پوسه چې الله جل جلاله داسي نه دي ويلي چې (ولاتأکلامن هذه الشجرة،الخ) بلکي داسي يې وفرمايل چې(ولاتقربا)يعني مه نزدې کيږئ داپه دې سبب چې په منع کولوکښې ددوی مبالغه راسي ځکه يوڅوک چې ته له يوه کارڅخه منع کوې نوچې داسي ورته ووايې چې داکارمه کوئ تردې داډېرتاکيدفايده کوي چې ورته ووايې ودې کارته مه ورنږدې کېږه لکه چې په منع کښې له زنا څخه الله جل جلاله فرمايلي دي (ولاتقربوالزناء)الآيَة، اوپه دې کښې وبندگانوته داتعليم هم دئ چې هغه کارونه چې په شرعه کښې ممنوع دي له هغوڅخه دځان ساتلوطريقه داده چې وشاخواته يې ورنږدې نه سي ځکه چې نږدېکت ويوشي ته سبب ددې گرځي چې په هغه شي سره سړي مبتلاسي.

دغه کومه د رخته وه؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې باب متعددروآيتونه راغلي دي له حضرت كعب اوابن عباس رضي الله عنهماڅخه روآيت دئ چي دادغنمودرخته وه اومشهورهم دغه قول دئ،خودلته داسوال پيداکيږي چي دغنموبتي خودرخته نه بلل کيږي،

جواب يې په مختلفوډولوکيږي اول جواب چي زماپه ذهن کښي راغلئ دادئ چي دجنت شيان خوددنياله شيانوسره صرف په نامه کښي ګډدي نوښايي چي دغه بوټئ دغنمودي ددرختي په شکل کښي وو اومفسرينويې په نوروډولوهم جواب کړيدئ،اوله حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه روآيت دئ چي دادانګورودرخته وه اوله حضرت ابن جريج رضي الله تعالي څخه روآيت دي چي دادانځردرخته وه،اوله حضرت علي رضي الله تعالي عنه څخه روآيت دئ چي دادکافوردرخته وه،مولاناعصام الدين رحمه الله تعالي په يوه رقم کښي چي په ځينونسخودبيضاوي شريف کښي موجوددئ فرمايلي دي چي مايوځای ددغي شجري تفسيرپه علم سره وليدئ بيايې په فهم کښي حيران سوم ترڅوچي په خوب کښي واسمانوته وختلم اوآدم عليه السلام مي وليدئ بيامي له ده څخه پوښتنه وکړه چي ته په جنت کښي الله جل جلاله له کوم شي څخه منع کړيوې ده راته وويل چي زه يې له علم استدلالي څخه منع کړيوم ځکه چي په جنت کښي خومعرفت دخدای پاک وماته دمشاهدي له لاري حاصل وو خوبهتره خبره داده چي په تعين کښي ددې درختي څه نه وويل سي لکه چي د مخه يې ماذکروکړ،پوسه چي علماووپه دې کښي اختلاف کړيدئ چي دغه نهي تحريمي وه،يعني الله جل جلاله دغه درخته پرآدم عليه السلام اوحواءرضي الله تالي عنه باندي حرامه کړېوه اوکه تنزيهي وه، يعني له درختي څخه خورک ورته حرام نه ووخو خلاف اولي وونوپه دې سبب د�فتکونامن الظالمين�په معني کښي هم اختلاف راغلئ دئ ځکه هغه څوک چي دغه نهي تحريمي بولي نودمذکوري جملې معني په دې ډول کوي چي که تاسي له دې درختي څخه خورک وکړ نودګناکولوپه وجه به له ظالمانو څخه سئ،يعني ګنهګاران به سئ اوهغه څوک چي دغه نهي تنزيهي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بقرې د سورت د شپږ دیرشم مبارک آیت لفظي ترجمه اوعلمي تحقیق

## تفسیر فضل الرحیم،۱۹ برخه

مرجع العوام والخواص العلامة ابوالفضل محمدمعین الدین کان الله له ودامت برکاته

-----------------------------------------------

لفظي ترجمه

(فَ)بیا(أَزَلَّ)وښویول (هُمَا)دوی دواړه (الشَّيْطَانُ)شیطان یعني په دې سبب چي دهغې ونې په خوړلوېې مبتلاکړل (عَنْ)له (هَا)ده څخه یعني له جنت څخه (فَ)نو(أَخْرَجَ) وې ایستل ده،یعني شیطان (هُمَا) دوی داړه (مِمَّا)له هغه ( كَانَا)چي وودوی دواړه (فِي)په(هِ) ده کښې (وَ)او(قُلْ)وویل (نَا)موږ،یعني ودوی ته (اهْبِطُوا)چي کښته سي،یعني له جنت څخه ومځکي ته (بَعْضُ)چي ځني (كُمْ)ستاسي به یعني په داسي حال کښې چي ځني ستا سي به(لِبَعْضٍ)ځنونورولره (عَدُوٌّ)دښمنان وي (وَ)او (لَكُمْ)تاسي لره،یعني سته تاسولره (فِي) په (الْأَرْضِ)مځکه کښې (مُسْتَقَرٌّ)ځای دقرار،یعني ځای دسکونت ،دهستوګي (وَ)او (مَتَاعٌ)سامان دنفعي اوفایدې اخستلو (إِلَىٰ)تر (حِينٍ)یووخته پوري) 36(

یعني چي وخت داجل ستاسي دی اویادقیامت ورځ ده ،پوسه چي کله چي آدم اوحواء

دواړودشیطان ملعون په وسوسه چي تفصیل بې په علمي خبروکښې راسي له هغې درختې څخه خورک وکړکومه چي دوی ورڅخه منع سوي وو نوحکم ورته وکړسوچي اوس له جنته څخه وځمکي ته کښته سئ په داسي حال کښې چي ځني ستاسي به دشمنان وي ځنونورولره یعني نسل ستاسوبه په دې ډول وي چي بعضي ددوی به دښمنان وي بعضونورولره لکه چي ددغي خبري اول مصداق په قابیل اوهابیل اوبیا په کافرانواوبیاپه مومنانوکښې پیداکړسو اوپه ځمکه کښې به ترهغه پوري وتاسي ته دقراراوهستوګي ځایونه اوستاسي دفایدواوګټواسباب اووسائل موجودوي چي دقیامت ورځ راځي ،

تفصیل اوعلمي خبري

)فأزلهما(

پوسه چي دغه فعل له زلَّة یازُلل څخه جوړدی کوم چي په اصل کښې وبې اختیاره ښوئېدلوته په خټه کښې ویل کېږي امام نسفي ویلي دي چي دغه قول دخدای پاک دلیل دی پردې خبره باندي چي دانبیاؤپرفعل باندي دزلة دلفظ اطلاق کېدلای سي ځکه چي زلة وهغه فعل ته ویل کېږي چي خلاف له حکمه څخه دشرع وکړسي خوپه بې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختیاره توګه لکه یوڅوک چي بې اختیاره په ختېه کښې وښوئېږي ،اوګناه وهغه فعل ته ویله کېږي چي په خلاف دحکم دشرع وکړسي اوپه قصداوپه اراده سره وي

(الشیطان)الف لام پکښې دپاره دعهدخارجي دی مرادورڅخه ابلیس ملعون دی دالفظ یا له شطن څخه ماخوذدی په معنی دبَعُداویاله شاط یشیط څخه جوړدئ په معني دهَلَک اواحتدفي غضبه یعنې تېره اوتېزسوېه غضب خپل کښې

(عنها)پوسه چي د�عنها� ضمیرددې احتمال هم لري چي ولفظ د�الشجرة� ته راجع سي اوددې احتمال هم لري چي وجنت ته راجع سي،پراول تقدیرد�عن�کلمه لپاره دسببیت ده معنی یې په دې ډول ده �فاصدر زلتهما بسببها�نوبه دازل په فعل کښې هغه قسم تضمین راسي کوم چي په معنی کښې مصدردمتضمِّن فعل مفعول وي لپاره دمتضمَّن فعل اوپردوهم تقدیرمعني په دې ډول ده،فاذهبهماعن الجنة، نوبه �عن� لپاره دمجاوزت سي، ابو حیان دلته دوه نوراحتمالونه هم ذکرکړي دي اول داچي داضمیرراجع سي وطاعت ته کوم چي له دلالت دکلام څخه فهمېږي دوهم دا چي راجع سي وحالت دلذت اوخوشحالی ته په جنت کښې

،شیطان په څه طریقه سره په آدم علیه السلام اوپه حوارضي الله عنهادغه کاروکړ ،

علماووپه دې باب مختلفي وېناوي کړیدي، ځني وایي چي دوسوسي له لاري یې دوی خطاکړل لکه څرنګه چي موږته په زړوکښې وسوسي را ا چوي،اوځني وایې چي دَیْ په خپله وجنت ته ورداخل سو ځکه چي له جنت څخه دي ملعون په دې ډول منع سوچي دپخواپه ډول په عزت سره ورسي،اوپه حقارت اوپه سپک حالت کښې دوسوسې اودشیطاني وظیفي داجراکولودپاره وجنت ته له ورتللوڅخه نه وومنع سوئ، څوک وایي چي دجنت په دروازه کښې ودریدواونعره یې وروکړه،څوک وایي چي دجنت دیوي دابې اوخزندې په شکل یې ځان وګرځاوواوورننوتئ اوپېره درانواومحافظینونه وپېژندئ اوڅوک وایې چي دیومارپه خوله کښې ورغلئ،بهرحال نوچي ورغئ څه یې ورته وویل اوبهانه یې وخبروته څنګه جوړه کړه،

امام بغوي رحمه الله تعالي فرمایلي دي چي کله چي آدم علیه السلام دجنت نعمتونه اومېوي ولیدلي نویې داوویل کاشکي ثابته وای داچي بېشکه مالره وای همېشه توب یعني په جنت کښې نوئې دې خبري وشیطان ملعون ته طمع پیداکړه ددې چي یوڅه وکړي نوورغئ دآدم اودحواء رضي الله عنه په منځ کښې ودرېدی او دوی په دې نه پوهېدل چي دغه ابلیس دئ ځکه چي ده شکل بدل کړیووبیا شیطان په زوره چغي اوبغاري کړي دَیْ خبیث اول هغه څوک دئ چي نوحه اوچغاري یې کړیدي اوپه دروغوېې ژړلي دي بیادیعقوب علیه السلام ځامنوچي کله یې یوسف علیه السلام وڅاه ته وغورځاوه اوپلارته راغلو نوپه درواغوېې وپلارته وژړل لکه چي الله جل جلاله فرمایي(وجاءواباهم عشاء یبکون)اوهم له دغه ملعون ابلیس څخه وشځوته چي پرمرده باندي حرامه نوحه اوچغه کوي اوپه نادرډول یې ځني نارینه هم کوي په میراث پاته ده ،بهرحال آدم علیه السلام اوحوارضي الله تعالي عنها

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وويل چي ولي ژاړې ده ملعون ورته وويل چي ستاسي پرحال باندي ژاړم ځکه چي تاسي به يووخت مړه سیاودغه نعمتونه به درڅخه پاته سي، نودوی په دې خبر ډېر پرېښانه سول اوورته وې ويل چي يوه چاره راوښيه نوده ورته وويل ايازه وتاسوته داسي درخته دروښيم چي له هغې څخه که تاسي خورک وکړی نوبه هميشه په جنت کښي پاته ياست لکه چي په يوه مبارک آيت کښي راغلي دي(هل ادلکم علي شجرةالخلد وملک لايبلي)اوهم يې ورته وويل چي له دغي درختي څخه چي الله جل جلاله تاسي منع کړي ياست په دې وجه که تاسي خورک ورڅخه وکړی نوبيابه تاسي دواړه ملکي وګرځی اويابه له همېشه اوسېدونکوڅخه په دې جنت کښي سی،لکه چي الله جل جلاله فرمايلي دي(مانهاکماربکماعن هذه الشجرة الاان تکونا ملکين اوتکونا من الخالدين) اوقسم يې ورته وکړ چي زه ستاسي لپاره له خيرخواهانويم،لکه چي الله جل جلاله فرمايلي دي (وقاسمهماانی لکما لمن الناصحين)بغوي،بيضاوي،مع بعض توضيح،

)فاخرجهما(

پوسه چي نسبت د�اخرج� وشيطان ته مجازعقلي دئ ځکه چي دي سبب داخراج ددوی دواړو وګرځيدی اوحقيقي فاعل داخراج الله جل جلاله دئ،

)مماکانافيه(

پوسه چي د�ما�په کلمه کښي درې احتماله دي ،اول داچي مرادورڅخه طاعت سي يعني وايستل شيطان دوی دواړه له هغه طاعت اوفرمانبرداری څخه دالله پاک چي دویدواړه په هغه کښي وو ، دوهم داچي مرادورڅخه نعمت دجنت سي ،او دريم داچي مرادورڅخه لوړوالی دمرتبې سي،

)قلنااهبطوا(

دغه صيغه دجمع صيغه ده سره له دې چي مخاطب دوه شخصه وو چي آدم عليه السلام اوحواءرضي الله تعالي عنها وه نوجواب په دوه ډوله ورکړکيږي اول په دې ډول چي څرنګه چي دوی دوه دټول بشراصل دي نوځکه خطاب دجمع په صيغه ورته سويدئ داتسليمي جواب دی، دوهم په دې ډول چي خطاب يوازي ودوی دووته ندی بلکي شيطان په دې خطاب کي ورسره داخل دی ځکه دي هم په دغه وخت کښي دوسوسي اچولولپاره هلته وو، بيضاوي بالحاصل،

)بعضکم لبعض عدو (

دلته داسوال کېږي چي داخو جمله اسميه حاليه ده اوپه واوسره نه ده مصدره سره له دې چي اکتفاءپه ضميرسره په جمله اسميه حاليه کښي ضعيفه ده اودقرآن کريم له معجزنظم سره لياقت نلري،قاضي بيضاوي ددې سوال جواب په دې شکل ورکړيدی چي که ددغه قسم جملې اسميې تاويل په مفرد سره کيدلای سوای نوبياااکتفاپه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضمیرضعیفه نه ده دلته يې تاويل په مفردسره کيدلاي سي چي دمتعادين لفظ دی،اوځني په دې ډول جواب ورکوي چي دغه حال حال دائمه ده په دائمه حال کښي واومنع دی خوتحقيقي خبرداده چي جمله اسميه حاليه په درې ډوله ده اول داچي سببيه دذوالحال وي لکه جاء زيدابوه قائم په دې قسم کښي واو او ضمير دواړه لازم دي مگر نادر لکه کلمته فوه الي في دوهم دا چي له ذوالحال څخه اجنبيه وي لکه قدم عمرو وبشر قام اليه په دې قسم کښي واو لازم دئ خو دغه واو نائب له ضمير څخه هم دی اوکله دواړه سره جمع سي لکه په مذکور مثال کښي اوبي له دواړو هم راځي دريم دا چي دغه جمله صفت دذوالحال وي لکه په دې قول کښي توليتم وانتم معرضون په دې کښي دواړي وجي په اطراد سره روادي په مذکور قول دآيت کښي که خطاب آدم اوحواء اواولادې د دوئ ته سي او يا ودوئ دوو اوابليس ته سي نوله دغه اخيري قِسم څخه گرځي نوسوال نه واردېږي (ومتاع ) دمتاع لفظ په اصل کښي دشپانه وخوري ته ويل کيږي دلته ياپه معني دمصدر دی چي تمتع يعني نفع اخيستل دي اويا په معني دسامان دنفعي اخيستلو دی او له حين څخه يا وخت دمرگ يا دقيامت ورځ مرادده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دبقري دسورت د(۳۷) اوه دیرشم آیت لفظي ترجمه اوعلمي تحقيق

## تفسيرفضل الرحيم: :

---------------------------------------------------------

لفظي ترجمه :

(ف)بیا(تَلَقَّى)زده کړې(آدم)آدم ( مِنْ )له (رَبِّ)رب څخه (هِ) دده( كَلِمَاتٍ ) یو څوکلیمې (فَ)نو(تَابَ)رجوع وکړه ده یعني الله په رحمت اوپه قبول دتوبې سره (عَلَيْ)پر(هِ )ده یعني پر آدم علیه السلام باندي (إِنَّ)بېشکه (هُ)دَی یعني الله پاک (هُوَ ) خاص دَی (التَّوَّابُ)ښه توبه قبلوونکی دی ،یا ډېرتوبه قبلونکئ دئ (الرَّحِيمُ) ښه مهرباني کوونکی دی) 37(

پوسه چي کله چي آدم علیه السلام دالله جل جلاله له لوري داعتابي حکم واوریدی چي، اهبطوا، یعني کښته سی له جنته نوپداسي حال کښي چي ډېر پرېشانه وو اوسخت پښېمانه اوله افسوس څخه ډک وو په ژړا سو اوپه همدغه حال کښي الله جل جلاله د داسي کلموالهام ورته وکړ چي مضمون يې توبه اوبخښنه غوښتل وو مکمل تفصیل به په علمي خبروکښي راسي خو مشهور اوله قرآنه سره موافق قول دادی چي دغه کلمې هغه وې چي بل ځای په قرآن کریم کښي الله جل جلاله ذکرکړئي دي چي (ربنا ظلمنا انفسناوان لم تغفرلناوترحمنا لنکونن من الخاسرين) یعني ای ربه موږ ظلم وکړ پر نفسو ، ځانو څموږ او کچیري نه وکړې ته بخښه موږ لره اونه وکړې رحم پرموږ نوخامخابه سوموږ له زیان والاوو څخه په هرباب کښي هم دغه روآیت له حسن بصري رحمه الله تعالي اوله ځینو نورو علماوو څخه راغلی دی بهر حال آدم علیه السلام دتوبې یوڅوکلِمې له خپل رب څخه زده کړې اوهغه يې ویلې نوبياالله پاک پرده باندي دتوبې په قبلولو سره رجوع وکړه د ده توبه يې قبوله کړه ځکه په دې کښي شک نسته چي الله جل جلاله ښه توفيق ورکوونکی دتوبې ده یا ښه توبه قبلوونکی دی و بنده ته توفیق دتوبې هم دی ورکوي اوتوبه يې هم قبلوي اوډېر رحم کوونکئ دئ چي سره له قبلولودتوبې نور احسان هم دتوبه ګار سره کوي .

تفصيل او علمي خبري :

پوسه چي دآدم اودکلمات په لفظونو کښي دوه قرائته راغلي دي اول په رفع دآدم اوپه نصب دکلمات سره بناپر دغه قرائت باندي بیضاوي دتلقي معني په استقبال سره کړېده پدې ډول چي بيااستقبال وکرآدم په زده کولواوقبلولو اوعملي کولوسره دیوڅوکلمواوپه بل قرائت کښي عکس د دې دی نوبیامعني دآیت په دې ډول ده چي بيااستقبال وکړ دآدم یوڅوکلمویعني ورته راغلې له ربه د ده څخه .

دآدم علیه السلام توبه څه وخت قبوله سوه ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اصلي حقیقت خو الله جل جلاله عالم دئ خوپه تفسیرقرطبي کښي راغلي دي چي اول آدم علیه السلام والله ته توبه وکښه یعني اوتوبه یې قبوله سوه بیاومزکي ته کښه سو اوپه روح البیان اوتفسیر مظهري کښي یوروآیت له ابن عباس رضي الله عنه څخه ذکردی چي آدم اوحواء دوه سوه کاله وژړل اونه یې خورک کړیدی اونه یې څښل کړیدي اویوسل او څلوېښت کاله وحواء ته نه دی ور نزدې سوی له دې څخه داسي معلومیږي چي دآدم علیه السلام د توبې کښل په مزکه کښي هم دوام درلودی اوقبلېدل یې په مزکه کښي وسول، له یونس بن حباب اوله علقمه بن مرثد څخه روآیت دی چي که د ټولو مزکني مخلوقاتواښکي راټولي سي بیابه هم دداود علیه السلام اښکي پرډېري سي اوکه دغه ټولي بیاسره یوځای سي نو دآدم علیه السلام اښکي به پر ډېري سي پوسه چي په ډېرو کتابو کښي داسي هم راغلي دي چي آدم علیه السلام حضرت محمد صلي الله علیه وسلم والله ته شفیع کړ نوپه دې وجه الله د ده توبه قبوله کړه،او بیضاوي دقیل په حواله ذکرکړیدي چي بیهقي یې اخراج کړئ دئ چي هغه کلمې چي وآدم ته یې الهام وسو دغه وي : سبحانک اللهم وبحمدک وتبارک ا سمک وتعالي جدک ولااله الا انت ظلمت نفسي فاغفرلي انه لایغفر الذنوب الا انت .

یعني پاکي ده تالره اې خدایه اوتلبس کوم یعني پیوستون کوم له ثنا ستاسره اوډېر برکتناک دئ نوم ستا اوډېر لوړ دئ شان ستا اونسته هیڅ لایق دعبادت موجود مګرته ، ظلم وکړ ماپر ځان خپل نوبخښه وکړه ماله ؛ ځکه نه سي بخښلای ګناهونه هیڅوک ماسوي له تاڅخه.

## د بقرې د سورت د (۳۸)آیت لفظي ترجمه اوعلمي تحقیق

## تفسیر فضل الرحیم : ۲۱برخه

---------------------------------------

لفظي ترجمه :

( قُلْ)و ویل (نَا)موږیعني وآدم او وحواء ته ( اهْبِطُوا ) کښته سئ (مِنْ)له (هَا) جنت څخه، یعني ومزکي ته ( جَمِيعًا)ټول ،یعني په داسي حال کښي چي ټول یاست او یوهم پاته نه سئ ( فَ)نو(إِمَّا )کچیري (يَأْتِيَنَّ)راغي خامخا (كُمْ) وتاسي ته ( مِنِّي) له ما څخه یعني له طرفه ځما څخه ( هُدًى) هدآیت ،یعني لاربښو ونه په واسطه درسول اوکتاب ځما( فَ)نو(مَنْ)هغه څوک( تَبِعَ )چي پیره وي وکړي (هُدَا)دهدآیت (يَ)ځما ( فَ)نوبه (لَا)نه وي ( خَوْفٌ)وېره ( عَلَيْ)پر (هِمْ) دوئ باندي ، یعني پر دوئ باندي به دقیامت په ورځ کښي هیڅ قسم وېره نه وي (وَ)او(لَا)نه به (هُمْ)دوی (يَحْزَنُونَ) (38) غمجن کیږي .

یعني وروسته له دې چي یووار خومو له مخه وآدم علیه السلام اودده وملګریوته چي په دغه ساعت کښي په جنت کښي ول چي حواء رضي الله تعالي عنها اوابلیس ملعون ؤ حکم وکړ چي له جنت څخه ومځکي ته کښته سئ ، دوهم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځل مو بیا دتاکید لپاره هغه حکم ورته مکررکړ ، خوپه اول ځل مو دوی په دې وپوهه ول چې په زمکه کښې به ستاسي ژوندپه دې ډول وي چې ځنې ستاسي به دځینو نورو دښمنان وي، او په دوهم وار مو په دې پو ه کړل چې په ځمکه کښې به ستاسي ژوندپه دې ډول وي چې ځما له طرفه به دځنو کارو په کولو اودځنوکاروپه نه کولو مکلف ګرځئ، ځما له خوا به هدایت، شرعي احکام ، دپیغمبرانو او کتابو په ذریعه درځي ، نو که هرچاپه تاسي کښې ځما داحکاموتابعداري وکړه په منلواوپه عمل کولو سره نوبیا چې کله دقیامت ورځ سي اودوی دوباره راژوندي سي نوبه دوی ته هیڅ وېره له عذاب څخه او له ضائع کېدودعملو نه وي ، اونه به په دې غمجن کیږي چې ددنیاژوندئې له لاسه ووتئ اوياې په دنیاکښې عبث عمرتېرکړ ؛ ځکه خوعبث عمرئې نه دئ تېرکړئ اونه به په دې غمجن کېږي چې بېرته راژوندي سول ـ

تفصیل اوعلمي خبري :

پوسه ! چې که ددوو جملو په منځ کښې کامل اتصال ؤ نو هم یوه پرهغه بله نسي عطف کیدائ اوکه ئې ترمنځ کامل انقطاع ؤ نوهم یوه پرهغه بله نسي عطف کېدلا ئ ؛ ځکه چې دمعطوف اودمعطوف علیه تر منځ به نه کمال اتصال وي اونه به کمال انقطاع وي ، دلته د�قلنا اهبطوا،الخ � جمله یا تاکیددئ دله مخه جملې نو ددوی دوو ترمنځ کمال اتصال موجوددئ نوځکه حرف عطف نه دئ ورسره راغلئ ،او یا مقصود ور څخه دادئ چې کښته کېدل ددوی لپاره دمکلف کېدودي ، اواول امرپه دې باندي دلالت کوي چې کښته کېدل ددوی به وداسي حال ته وي چې هغه به ددوی ترمنځ دعداوت حال وي اوځمکي ته چې ورسي نوهلته به هم دهمېش دپاره نه وي نوپردغه تقدیر ددغودووجملوترمنځ په دې وجه چې مقصدونه ئې سره جلادي کمال انقطاع راغله نوبیا هم دعطف مانع موجودسو .

پوسه ! چې په اوله جمله کښې امر تکویني دئ اوپه دوهمه کښې تکلیفي دئ، اوځنو علماوو ویلي چې اول امرلپاره دراوتلو ددوی ووله جنت څخه واول اسمان ته اودوهم امر لپاره دراکښته کېدو ددوی وولە اول اسمان څخه چې سماء دنیا ورته ویل کیږي وځمکي ته، خودغه قول له دوو وجهوضعیف بلل سویدئ : اول له دې وجي چې له اهباط څخه په دواړوځایوکښې اهباط وځمکي ته مراددئ ځکه هبوط ونزول الی الارض ته ویل کیږي ،لکه صاحب دکشاف چې ذکرکړیدي، دوهم له دې وجهي چې ددغوځینو په قول به خامخا ضمیردمنها په دوهم امرکښې واسمان ته راجع وي سره له دې چې داسمان ذکرمخکي نه دئ راغلئ بلکي دجنت ذکرراغلئ دئ .

)جمیعاً(

دجمیعالفظ ، په لفظ کښې دماقبل لپاره حال وي اوپه معني کښې تاکیدوي دماقبل نوپه دې سبب مقتضي داجتماع په یوه زمانه کښې ندئ لکه په دې قول کښې�جاءواجمیعا�په خلاف ددې قول �جاءوامعا� ـ

)فمن تبع : (

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوسه چي داشرطيه جمله جزاد�فاماياْتينكم الخ �ده اوپه دغه فعل مضارع پسي نون تاكيديه ثقيله ځكه پيوسته سويدئ چي يوله هغوځايوڅخه چي په مضارع پسي په هغوځايوكښي دتاكيدنون پيوسته كيږي دادئ چي مضارع له داسي اِن شرطيه څخه وروسته راغلې وي چي دهغه تاكيدپه مَاسره سوئ وي ، لكه دلته، ځكه �فاما� په اصل كښي � فا ن ما� ده .

پوسه ! چي سره له دې چي دهدآيت راتلل خوپه علم دالله جل جلاله كښي يقيني وو سره له دې ئې په اِنْ شرطيه سره مصدركړئ دئ كوم چي پرمحتمل اومشكوك كلام باندي داخليږي ،په دې وجه چي نظر و بندګانو ته اودارنګه په خپل حدذات كښي ئې راتلل محتمل ؤ .

پوسه چي د � هداي� لفظ اسم ظاهرپه ځائ كښي دضمير راغلئ دئ ځكه چي د,,هدي'' لفظ مخكښي ذكرسوئ دئ ، اووضع دظاهر پرځائ دضميرنكته غواړي , نونكته دلته داده چي له اول هدي څخه هدآيت درسولانواوكتابوپه واسطه مراددئ ،اوله دوهم څخه عام مراددئ كه درسولانو اوكتابوپه واسطه وي اوكه دعقل په واسطه وي .

)بيضاوي مع زيادة من حواشيه وغيره. (

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بقرې د سورت د (۳۹) مبارک آيت لفظي ترجمه اوعلمي تحقيق

## تفسيرفضل الرحيم ـ

---------------------------------------------------------

لفظي ترجمه:

(وَ)او (الَّذِينَ )هغه کسان (كَفَرُوا)چي کافران سوي دي( وَ)او (كَذَّبُوا)نسبت ددروغوئي کړي دی. يعني دروغ يې بللي دي( بِ)و(آيَاتِ)اياتوته(نَا)زموږ( أُولَئِكَ ) هغه خلګ به (أَصْحَابُ )خاوندان (النَّارِ)داور وي ،،يعني دقيامت په ورځ(هُمْ) دوی به ( فِي)په (هَا)ده کښي يعني په اورکښي (خَالِدُونَ) (۳۹)همېشه اوسېدونکي وي ـ

يعني ځمادهدايت له درتګ څخه وروسته که چا ځمادهدآيت تابعداري وکړه نودهغه حال خوله مخه ذکرسواوبالمقابل هغه کسان په تاسي کښي چي په ځماپه اياتو په زړوکښي کافران سي، ځمادهدآيت تابعداري ونکړي ورڅخه منکرسي اوپه خولو سره د درغو نسبت ورته وکوي نودهغوحال به بيا دقيامت په ورځ کښي داوي چي د دوږخ خاوندان به وي په دې معني چي په دوږخ کښي به وي اوهمېشه به پکښي اوسي ـ

تفصيل او علمي خبري:

پوسه چي ځموږ عقيده دنبيانو په شان کښي داده چي دوئ له ګناوو څخه معصوم اوپاک دي يوه مبتدعه ګمراه ډله چي حشويه ورته ويل کيږي داعقيده لري چي انبياء عليهم السلام له ګناوو څخه پاک نه دي دوئ اول دحضرت آدم عليه السلام په قصه دليل نيسي دوئ وايې چي حضرت آدم عليه السلام نبي وو اوسره له دې يې ګنا کړېده نومعلومه سوه چي انبياء معصوم نه دي پاته سوه داخبره چي آدم عليه السلام په څه سبب دوئ ګناکوونکی بو لي د دې دپاره دو ئ څو وجهې وړاندي کوي : اوله وجه داده چي الله جل جلاله چي دَی د کومي درختي له خوړلو منعه کړی‌وو ده له هغې درختي څخه خورک وکړ ـ دوهمه وجه داده چي الله جل جلاله وآدم عليه السلام ته فرمائلي دي چي که تاسي له دغه درختي خورک وکړ نوبه تاسي دواړه له ظالمانو سی. نوظالم خو دګنا په سبب يوڅوک ګرځي ـ

دريم دليل يې دادی. چي الله جل جلاله وده ته دعصيان اود غوايت نسبت کړيدی. لکه چي الله پاک فرمايلي دي فعصي آدم ربه فغوي ـ

اوڅلرم دليل يې دادی. چي الله پاک وآدم ته توبه ورزده کړه اوتوبه خوله ګنا څخه کيږي ـ

پنځم دليل يې دادی. چي آدم عليه السلام پخپله و ويل چي که ته ای. ربه مغفرت راته ونکړې اورحم پرموږ ونکړې نوموږ به له خاسرينو سو اوخاسر خو په سبب دګنا سړی. ګرځي ، ـ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږم دليل يې دادی چي که آدم عليه السلام گنا نه وای کړې نوهغه قصې به پر ده باندي نه راتللائ کومي چي پرراغلې ـ

پوسه چي زموږ علما ءدآدم عليه السلام په دغه کارکښي مختلف تاويلونه کوي:

اول دا چي دغه نهي تنزيهي وه تحريمي نه وه ـ

دوهم داچي آدم عليه السلام په اجتهاد کښي خطاسو يا په دې ډول چي نهې تحريمي وه ده دتنزيهي خيال باندي وکړ ياپه دې ډول چي نهې له جنسه د درختي وه اود ده خيال راغی چي دغه منعه د دغه جنس له يوې معلومي درختي څخه ده اويا په دې ډول چي شيطان چي کله قسم ورته وکړنو د ده په فکر کښي داورغلل چي صادق د ی ځکه په خدای په دروغو قسم څوک نه کوي اوپه دغه وخت کښي ئې له الهي منعي څخه ذهول راغی ـ

دريم داچي د ده الهي منعه هېر سوه دهېري په حال کښي يې خورک وکړ پاته سوه دحشويه وو دليلونه نوځموږ علما وو مفسرينو لکه قاضي بيضاوي دهغوئ په زړه پوري جوابونه کړيدي دلته يې بيان ډېر طوالت ته مفضي کيږي ـ

والسلام ومن الله التوفيق

## دبقرې دسورت د(۴۰)آيت تفسيراوعلمي تحقيق

## تفسيرفضل الرحيم ـ

------------------------------------

لفظي ترجمه :

(يَا)ای (بَنِي)اولاده (إِسْرَائِيلَ)ديعقوب (اذْكُرُوا)درپيادکړئ (نِعْمَتِيَ)نعمت ځمايعني انعام اواحسان ځما (الَّتِي)هغه (أَنْعَمْ)چي کړي دی (تُ)ما (عَلَيْ)پر(کم)تاسي باندي يعني اي بني اسرائيلوما چي کوم نعمتونه وتاسي ته درکړيدي هغه په دې ډول درپيادکړی چي شکرئې اداکړی په منلوسره درسول اوکتاب زما چي حضرت محمد صلي الله عليه وسلم اوقرآن پاک دی (وَ)او (أَوْفُوا)وفاوکړئ (بِ)په (عَهْدِي) عهد،وعده زما،يعني اواي بني اسرائيلو په هغه وعده او ترون چي تاسي له ما سراسره له پخوالادتورات دمنلوپه ضمن کښي راسره کړئ دی،وفاوکړئ ( أُوفِ )نوبه وفاوکړم زه (بِعَهْدِ)په ترون ياوعده(كُمْ)ستاسي يعني که تاسي په خپله وعده اوترون وفاوکړی نوبيابه زه په هغه وعده او ترون له تاسي سره وفاوکړم کوم چي ماله تاسي سره ستاسي دوعده پالني په صورت کښي کړيدی (وَ)او (إِيَّايَ)خاص له ما څخه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



( فَ)نو(ارْهَبُو)و وېرېږی (نِ) (40)له ماځخه ـ

بني اسرائيلو څه قِسَم تړون اووعده له الله جل جلاله سره کړې وه چي په ذکرسوي آيت کښي الله جل جلاله ودوئ ته امر کړيدی چي تاسي په هغه تړون او وعده اوعهد چي له ماسره موکړيدی وفاوکړی ؟اودارنګه الله پاک بيا څه قِسم تړون اوعهد له دوئ سره کړی وو چي فرمايلي يې دي چي نوزه به په هغه خپل عهد او وعده وفا وکړم چي له تاسي سره مي کړېده ؟

داول سوال جواب دادی چي له بني اسرائيلو ځخه الله پاک داعهد او وعده اخيستې وه چي که اخيري نبي حضرت محمد صلي الله عليه وسلم هر وخت پيدا اومبعوث سو نوتاسي به د ده تابعداري کوی اود دوهم سوال جواب د ادی چي الله پاک بيا په مقابل کښي له دوئ سره دا عهد او وعده کړې وه چي په دې شرط که تاسي داخيري نبي(صلي الله عليه وسلم) متابعت وکړنوزه به بيادوه اجره وتاسي ته درکړم يعني يواجربه په سبب د متابعت ددين دحضرت موسي عليه السلام درکړم اودوهم اجرپه سبب د متابعت ددين دامام الانبياء محمد صلي الله عليه وسلم درکړم ـ

پوسه چي په دغه آيت کي ځلورقسمه تعليم الله جل جلاله وبندګانوته کړيدي ،اول داتعليم دئ چي بندګان ضروربايددخدای پاک په نعمتوکښي کوم چي ودوی ته يې ورکړيدي فکرکوي اودهغوشکر اداکوي اودخدای پاک داحساناتومننه اوقدردانی کوي اودوهم داتعليم دئ چي بندګان بايد په خپلوعهدواوعدو وفا کونکي وي اودريم داتعليم دئ چي دبندګانونېک عمل داالله جل جلاله په درباركښي نه ضائع کيږي بلکي الله جل جلاله دهغه نېکه جزاپه آخرت کښي ورکوي اوڅلورم داتعليم دی چي بندګان ضروربايدتنهااويوازي له الله جل جلاله څخه په وېره کښي وي نه له بل چاڅخه ـ

تفصيل اوعلمي خبري :

)بني (

پوسه چي لفظ دبني جمع دابن ده نون ئې په سبب داضافت غورځېدلئ دی اولفظ دابن له بناڅخه مأخوذدئ چي وښوولوديوشي ته پربل شي باندي ويل کيږي،وځوی ته ځکه ابن ويل کيږي چي دَيْ مبني دپلاردئ په همدې سبب يوڅوک چي يوشي جوړکړي نودابن يادبنت په لفظ سره وصانع ته منسوب ګرځي اويوه خبره چي څوک په فکرسره معلومه کړي نوودغي خبري ته بنت فکرويل کيږي۔

)اسرائِيل (

اوداسرائيل لفظ په اصل کښي عبراني لفظ دئ لقبي نوم ديعقوب عليه السلام دئ معني يې عبدالله ياصفوة الله دی ځکه اسراء په معني دعبداويادصفوت دئ اوايل په معني داالله (جل جلاله)دئ ۔

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)اذکروا (

د الفظ له ذکر څخه مشتق دئ ذکرپه ضمه سره د ذال يادول د شي دي په زېره سره او په کسره د ذال يادول دشي دي په ژبه سره۔

)نعمتي (

دنعمتي لفظ دمفرد لفظ دی وضمېر دمتکلم ته مضاف دئ خودلته معني دجمع ورڅخه مرادده ۔

)بعهدي (

لفظ دعهد په دواړوځايوکښي ومفعول ته مضاف دئ ۔

)ایاي (

دایاي لفظ ما اضمرعامله علي شريطة التفسيردی ۔

)فارهبون (

دفاکلمه په فارهبون کښي جزائيه ده اصل دکلاپه دي ډول دئ,,ان کنتم راهبين فاياي فارهبون'' اورهبة وداسي ويري ته ويل کيږي چي تحرزله يوشي څخه ورسره وي، مظهري مع زيادة تفصيل واختصار۔

پوسه چي کله چي الله جل جلاله په تېرآيت کښي وبني اسرائيلوته امرپه شکر اوذکردنعمتودخدای جل جلاله اوپه وفاکولوسره دعهد ا ووعدې اوپه وېره خاص له الله پاک څخه وکړ نوپه راتلونکي آيت کښي يې دوی په داسي شي امرکړل چي دهغه په عملي کولوسره هغه درې سره امرونه پرځای کيږي اوپه نه عملي کولوسره دهغودريوسره امرومخالفت راځي گويابني اسرائيلوويل چي الله جل جلاله ستادنعمتوذکراوپه خپل عهدسره وفا اوخاص له تاڅخه وېره په څه ډول وکړو نوالله پاک په جواب کښي راتلونکي آيت ورته وفرمايو۔

والسلام ومن الله التوفيق ۔

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دبقرې دسورت د ۴۱ آیت تفسیراوعلمي تحقیق

## تفسیر فضل الرحیم ، :

-----------------------------------------------------------

وَآمِنُوا بِمَا أَنْزَلْتُ مُصَدِّقًا لِمَا مَعَكُمْ وَلَا تَكُونُوا أَوَّلَ كَافِرٍ بِهِ وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا وَإِيَّايَ فَاتَّقُونِ) 41(

لفظي ترجمه :

(وَ)او (آمِنُوا)ایمان راوړئ ،یعني اي بني اسرائیلو (بِمَا) په هغه ،یعني په هغه کتاب ( أَنْزَلْتُ )چي نازل کړیدی ما،)یعني چي نازل کړیدی ماهغه کتاب پرحضرت محمد صلي الله علیه وسلم باندي چي قرآن شریف دئ (مُصَدِّقًا) چي تصدیق کونکئ دی دي٘،یعني هغه کتاب چي قرآن پاک دی یعني په داسي حال کښي مانازل کړیدی چي تصدیق کونکی دئ (لِمَا) دهغه ،یعني دهغه کتابو (مَعَ)چي سره (كُمْ)له تاسي دي ،یعني چي هغه کتابونه له تاسي سره دی،چي تورات اوداسي نور الهي کتابونه دي (وَ)او (لَا)مه ( تَكُونُوا)کېږی تاسي ( أَوَّلَ)اول (كَافِرٍ)دکفرکونکي ( بِهِ) په ده ،یعني داسي مه کیږی چي په دغه قرآن ترټولواول کافران تاسي سی (وَ)او(لَا)مه (تَشْتَرُوا)اخلی تاسي ( بِ) په بدل کښي (آيَاتِي)دایاتوځما، یعني په بدل کښي دایمان راوړلو په ایاتوځما چي دقرآن پاک ایاتونه دي (ثَمَنًا)عوض ( قَلِيلًا)لږ ،یعني په دي وجه له ایمان راوړلوڅخه په قرآن باندي مخ مه ګرځوی چي که موږایمان راوړو نوبیابه هغه مالي کومکونه چي عوام اومشیران دبني اسرائیلوپې راسره کوي اوهغه احترام چي دوی یې ځموږسره کوي اوهغه مرتبې اومقامات چي اوس یې موږلرو ځموږله لاسوڅخه ټول خارج سي ( وَ)او (إِيَّايَ)خاص له ماڅخه ( فَ)نو (اتَّقُو) وویرېږی (نِ) (41) له ماڅخه ۔

تفصیل اوعلمي خبري :

دغه مبارک آیت پنځه برخي دی اوله برخه ئې دغه قول دی چي�وامنوبماانزلت� په دغه قول کښي الله جل جلاله ټول بني اسرائیل په دې سره امرکړي دي چي په قرآنکریم ایمان راوړی اودغه ایمان راوړل به ذکراوشکردنعتوهم سي اووفاپه وعده اوعهدبه هم سي اوخاص له الله جل جلاله څخه به وېریدل هم سي کوم چي په مخکښي آیت کښي ئې ذکرسویدئ ۔

دوهمه برخه ئې دغه قول دئ چي �مصدقالمامعکم� یعني چي تصدیق کونکی دئ دغه قرآن پاک دهغوالهي کتابو چي هغه له تاسي بني اسرائیلوسره دي چي تورات وغیره دي ۔

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته ددوو خبرو په تفصیل سرخلاصول ضروردئ اول داخبر چي دقرآن کریم دتصدیق هغوکتابولره چي له بني اسرائیلوسره وو مطلب څه دی، سره له دې چي بیخي ډېرحکمونه دقرآن کریم له تېرو اسماني کتابوسره مخالفت لري ـ

دوهم داخبرچي دغه قول الله پاک دڅه مقصد دپاره ویلئ د ی، داولي خبري تفصیل دادی چي قرآن کریم له دوولارو دتېروکتابوتصدیق کونکی دئ اول له دې لاري چي په تېروکتابوکښي ددې ذکرسوی وو چي اخیري نبي به راځي اوپرده باندي به قرآن پاک نازلیږي نوکله چي قرآن مجید نازل سونو دتېروکتابورښتیاوالی ښکاره سو دوهم له دې لاري چي تېروکتابوچي په کوموشیانوایمان راوړل ضروري بللی وو، قرآن کریم هم په هغه ډول دایماني شیانوبیان کړیدئ اوکوم مخالفت چي ورسره لري هغه صرف په عملي شیانوکښي دی لکه لمونځ روژه وغیره ـ

دلته یوه دریمه لارهم سته هغه داچي قرآن کریم دتېروکتابو په دې معني هم تصدیق کونکئ دی چي قرآن پاک وخلګوته داهدایت هم کوي چي مخکني کتابونه لکه تورات انجیل زبور حق کتابونه دي اوحق ووا دخدای پاک له طرفه نازل سویدي البته دقرآن کریم په نازلېدوسره منسوخ وګرځېدل ـ

او ددوهمي خبري تفصیل دادئ چي یوخوپه تورات کښي دقرآن پاک په شان کښي د تصدیق کونکي یعني د مصدق صفت فرمایل سوي وو،اوبل دالهي کتاب یوه غټه علامه داوه چي دَيْ به دله مخه الهي کتاب موافق اوتصدیق کونکی وو،په هغومعناووچي ذکرسوې ـ دریمه برخه یې داقول دئ چي � ولاتکونوا اول کافربه� په دې قول کښي الله جل جلاله بني اسرائیل ودې لوري ته متوجه کړیدي چي مناسب له حال ستاسي سره خودادی چي ترټولواول مومنان سی په قرآن کریم ځکه تاسي دمشرکانو دعربوپه شان ناخبره نه یاست بلکي دعلم اوداسماني کتابو خاوندان یاست اوددغه نبي حضرت محمد صلي الله علیه واله واصحابه وسلم اودقرآن کریم له حال څخه له پخوالاخبرواست نوکه ددې پرځای تاسي اول کافران په دغه قرآن پاک سئ نوبه داډېره بدمرغه واقعه وي ـ

دلته یوسوال پیداکیږي په دې ډول چي اول کافران خوپه دغه قرآن دمکې مکرمې مشرکان ګرځېدلي وو ځکه یهود دقرآن اودحضرت محمد مصطفي (صلي الله تعالي علیه وسلم) له وجودڅخه خبرلانه وه چي مشرکان دمکې مکرمې ئې په دښمني اخته سوي وو نوکه بني اسرائیل په هروقت کښي په قرآن پاک کافران سویوای اول کافران نه بلل کېدل نوڅنګه الله جل جلاله فرمایلي دي چي �ولاتکونوا الخ�؟

جواب ددې دادی چي مراد دادئ چي له جملې داهل کتابو څخه تاسي اول کافران مه جوړیږی،اوددې نورجوابونه هم سته چي په تفاسیروکښي مذکوردي ـ

څلورمه برخه ئې دغه قول دئ چي �ولاتشتروا الخ� په دې برخه کښي الله جل جلاله دبني اسرائیلووعلماووته هدایت فرمایلئ دی دبني اسرائیلوعلماوولره وجهي ددې چي که ایمان راوړي اودتورات هغه ایاتونه وخلګوته ښکاره کړئ کوم چیدمحمدمصطفي(صلي الله تعالي علیه وسلم) په شان کښي راغلي وو نوبیابه بني اسرائیل هغه کومکونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دوی ځخه بندکړي کوم چي دوی به ماهواره یاسالانه ورسره کول اوهم به عزت اوقدرددوی بیاپه بني اسرائیلوکښي ختم سي له اېمان راوړلواودحق له بیانولوڅخه ډډه کوله نوالله پاک دوی ته له دې کارڅخه منع وفرمایله ـ

اوپنځمه برخه ئې دامبارک قول دی‌چي�وایاي فاتقون� په دې برخه کښي اَلله جل جلاله ددوی دایمان راوړلودیوبل مانع ودفع ته اشاره کړئې ده هغه داوو چي ښایي په دوی کښي وځنوته دایمان دراوړلودامانع موجودوو چي که موږ ایمان راوړو نودغه نوربني اسرائیل به موږمړه کړي یابه نورضرر ونه راورسوي یعني خوف اووېره ورته مانع وه نوالله پاک ودوی ته داسي هدایت وفرمایو چي اصلي عذاب ورکونکی خوزه یم اوځمابې اذنه یوڅوک هیڅ نسي کولای که تاسي ایمان رانه وړئ نوبیاخوځماله عذاب سره مخامخ کېږئ نوخاص له مابایدوویرېږئ نه له بل چاڅخه ـ

والسلام ومن الله التوفیق ـ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بقرې د سورت د۴۲، آیت تفسیر او علمي تحقیق

## تفسیر فضل الرحیم ،:

---------------------------------------------------------------

(وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ (42 )

لفظي ترجمه :

(وَ) او (لَا) مه( تَلْبِسُوا)پټه وئ ( الْحَقَّ)حق،یعني هغه بیان چي په تورات کښي دمحمد صلي الله تعالي علیه وسلم په باره کښي الله جل جلاله درته نازل کړیدی (بِالْبَاطِلِ)په سبب دباطل، یعني په سبب دهغه غلط بیان چي تاسي ئې په تورات کښي داخله وی (وَ)او تَكْتُمُوا)مه پټه وی ( الْحَقّ)حق(وَ) حال دادی (أَنْتُمْ)تاسي (تَعْلَمُونَ ) (42)پوهېږی ،یعني په دې چي حق پټول ځونه غټه گناه ده.

تفصیل اوعلمي خبري :

پوسه چي په یهودویعني په بني اسرائیلوکښي خاص بیاپه علماووددوی کښي دوه قسه نارواخویونه موجودوو:

اول کفراوگمراهي چي په خپله گمراهان اوکافران وو،دوهم داچي دنوروخلگوپه گمراه کولوکښي ئې کوښښ کاوو اوداکوښښ یې په مختلفوشکلوکښي وو اول په دې شکل کښي چي دتورات هغه ایاتونه چي دحضرت مُحمد صلي اللهُ تعالي علیه وسلم په صفتوکښي نازل سوي ؤهغه بې وخلگوته نه بیانه ول اویابې بیانول خوترجمه اوبیان بې غلط کاوو۔

اودوهم په دې شکل کښي چي دتورات په هغوځایوکښي بې لاس وهنه کوله اوله ځانه بې خبري په گډه ولې کوم چي دنبي علیه السلام بیان به پکښي راغلئ وو۔

اودریم په دې شکل کښي چي وخلگوته بې داسي شبهې اوخبري ذکرکولې چي درسول الله صلي الله علیه وسلم په شان کښي بې خلگ په شک او ترددکښي اچول ۔

څلورم په دې شکل کښي چي له ځانه بې دموسي علیه السلام په دین پسي داخبره تړله چي په دې دین کښي داحکم سته چي دغه دین به ترقیامته پوري وي او منسوخ به نه گرځي ۔

اوپنځم په دې شکل کښي چي په عامو‌واقعاتوکښي به هم ددوی دعلماوو داعادت ووچي دمال په لالچ بې دحق خبره پټه وله ۔

له اولي قسم بدخویي څخه چي کفراو گمراهي وه الله جل جلاله دوی په دې قول سره منع کړل چي وامنوا۔

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوله دوهم قسم بدخويي ځخه ئې په دې قول سره رامنع کړل چي �ولاتلبسوا الحق الخ�ـ

پوسه چي ددغه قول په دې ډول هم معني کيدلایسي (ولا تلبسوا)اومه ګډه وۍ تاسي(الحق)حق،يعني هغه حق چي الله جل جلاله نازل کړيدئ(بالباطل)له هغه باطل سره چي تاسي ئې له ځانه جوړوئ پوسه چي پټول دحق سخته لويه ګناه ده خاص بيا علماوو لره په يوه روايت کښي راغلي دي چي کله چي بدعتونه نوي کارونه مخالف له دين ځخه په خلګو کښي ښکاره سي نوعالم لره دا پکار دي چي و خلګوته دهغوئ نارواوالئ ښکاره کړي اوکه داډول ونکړي نوپر ده باندي دي دخداي اودملائکه وواو دټولو خلګو لعنت وي ـ

والسلام ومن الله التوفيق.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بقرې د سورت د (۴۳) آیت ترجمه او تفسیر

## تفسیر فضل الرحیم:

------------------------------------------

وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ) 43 : (

لفظي ترجمه :

(وَ)او(أَقِيمُوا) سم اداکوئ ( الصَّلَاةَ )لمونځ [یعني په صحیح طریقه سره لمونځ کوئ یعني پدې ډول چي دلمانځه فرضونه ، واجب ، مستحب اوسنت کارونه ټول په لمانځه کښې پر ځاي کوئ] (وَ) او (آتُوا) ورکوئ ( الزَّكَاةَ) زکاة ( وَ) او (ارْكَعُوا)رکوع کوئ ( مَعَ)سره ( الرَّاكِعِينَ ) له رکوع کوونکیو [یا] (وارکعوا)اولمونځ کوئ (مع الراکعین)سره له لمونځ کوونکو) 43 . (

پراول ډول به مطلب داسي چي اې بني اسرائیلو ! ستاسي په پخوانۍ طریقه اوس لمونځ مه کوئ ځکه چي هغه طریقه منسوخه سوه ، دبني اسرائیلو په لمانځه کښي رکوع نه وه نو الله پاک چي ودوئ ته فرمایلي دي چي تاسي رکوع کوئ له دې څخه مطلب دادئ چي اضافه لمونځ داسلام پر طریقه کوئ . له �راکعین� څخه مراد رسول علیه السلام اواصحاب د ده دي .

او پر دوهم ډول به مطلب داسي چي په جماعت سره لمونځ کوئ .

پوه سه ! چي ترڅو پوري چي سړي ایمان نه وي راوړئ نو د ده هیڅ عبادت صحت نه لري ، نو ځکه الله (جل جلاله) اول ځل بني اسرائیل په ایمان راوړلو سره امر کړل ، وروسته یې په دغه آیت کریمه کښي په عباداتوسره امر کړیدي ، چي لمونځ ، زکات او وجماعت ته حاضرېدل دي ، اوپه دغه آیت کښي یې ودوئ ته د دې تعلیم وکړ چي تنها ایمان راوړل کافي نه دي ، بلکه نور حکمونه به هم عملي کوئ .

پوه سه ! چي دجماعت لمونځ دځینو علماؤ په نزد (لکه داؤد ظاهري) دلمانځه رکن دئ یعني که لمونځ په جماعت سره نه وي نوصحت نه لري ، اوداامام محمد رحمه الله تعالي په نزد لمونځ په جماعت سره فرض دئ ، مگر دلمانځه رکن نه دئ ، نوکه یوسړ ئ بې جماعته لمونځ وکړي نو لمونځ خوبه صحیح سي مگر په دې وجه چي یوفرض یې پرېښووئ (چي جماعت دئ) گنهگار دئ ، اوداکثرو علماؤ په نزد د جماعت لمونځ داسي ټینگ سنت دئ چي واجبوته نژدي دئ ، په متفق علیه حدیث کښي چي بخاري اومسلم یې روایت کړئ دئ راغلي دي چي دجماعت لمونځ پر بې جماعته لمانځه باندي په اوه ویشتو درجو سره فضېلت اوبهتري لري [تفسیر مظهري مع توضیح ].

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دبقرې دسورت د (۴۴) آیت تفسیراوعلمي تحقیق

## تفسیرفضل الرحیم

------------------------------------------

أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ وَأَنْتُمْ تَتْلُونَ الْكِتَابَ أَفَلَا تَعْقِلُونَ) 44 . (

لفظي ترجمه :

( أَ)ایا (تَأْمُرُونَ)امر کوی تاسي (یعني اې ملایانو دبني اسرائیلو! ) ( النَّاسَ)خلګ ( بِالْبِرِّ )په نېکی (وَ)او(تَنْسَوْنَ)هېروئ تاسي ( أَنْفُسَ)ځانونه (كُمْ)ستاسي [یعني په خپله هیڅ نیکي نه کوی ، وخپلوځانوته هیڅ توجه او حکم په نېکی سره نه کوی ، ګویاخپل ځانونه په قصد سره هیره وی ] ( وَ)حال دادئ ( أَنْتُمْ) تاسي ( تَتْلُونَ )تلاوت کوی (الْكِتَابَ) دکتاب ستاسي [چي تورات دئ] (أَ)ایا(فَ)نو(لَا)نه (تَعْقِلُونَ) پوهېږی تاسي [یعني په دې چي قول اوعمل چي سره برابر نه وي نوداڅونه لوی جرم اوبدکاردئ]) 44 . (

تفصیل او علمي تحقیق :

دغه آیت دبني اسرائیلو دعلماؤ په شان کښي الله جل جلاله فرمایلئ دئ ، دبني اسرائیلو علماء عمومًاپه دغه غضب اخته وه چي نور خلګ بې دخیر پر کارو امر کول اوپه خپله بې نه کول ، یوه طائفه په دوی کښي بیا داسي وه چي په پټه بې وځینو خلګوته داویل چي دغه محمد (صلي الله علیه وسلم) حق نبي دئ ایمان باندي راوړئ ، دارنګه په اصحابوکښي بې و هغو خلګو ته چي له دوی سره بې تعلق درلو دئ ویل چي دغه نبي حق نبي دئ ګوری ! چي له دغه ایمان څخه چي پرده باندي مو راوړئ دئ وانه وړی ، پردغه خپل ایمان باندي تینګ سی ، ونورو ته خو بې دغه ویل مګر په خپله یې ایمان نه راوړئ اوصرف داکاریې د نجات سبب بالئ چي موږ ونوروته په نیکي اوپه ایمان راوړلو پر محمد (صلي الله علیه وسلم) باندي امر کوو ، نوکه موږ نیکي ونکړو اوایمان رانه وړو هم داسي یو لکه چي نیک کارونه موږ وکړو اوایمان راوړو ؛ ځکه چي «الدال علي الخیر کفاعله» یعني کوم سړئ چي ونورو ته ښوونه دخیر وکړي نوداسي بلل کیږي لکه چي په خپله هغه کارونه وکړي .

دغه مبارک ایت ددغو علماؤ ددغې غلطي طریقې اوباطلي مفکورې په رد کښي الله پاک نازل کړئ دئ ، له حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول علیه السلام و ویل چي په شپه داسراء (معراج) کښي پر یوه داسي قوم راغلم چي شونډان د دوی داور په غچیانو ور پرې کېدل ، ما و یل چي اې ځما وروره ! اې جبرائیله ! دغه خلګ څوک دي ؟ ده راته وویل چي دا داهل دنیا له خلګو څخه هغه خطیبان دي چي دوی به نورو خلګوته په نیکی سره امر کاوو اوخپل ځانونه بې هېره ول .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



والسلام ومن الله التوفيق .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تفسیر فضل الرحیم د بقرې د سورت د، ۴۵،آیت تفسیر او علمي تحقیق

---------------------------------------------------------------

لفظي ترجمه :

(وَ)او(اسْتَعِينُوا)مددوغواړی( بِالصَّبْرِ)په صبر سره (وَ)او (الصَّلَاةِ)لمانځه سره ( وَ) او (إِنَّ)بېشکه (هَا)دَا ، یعني دغه لمونځ یامددغوښتل په صبراولمانځه ( لَ) خامخا (كَبِيرَةٌ)ډېره درنه ده ،یعني داډېردروندکار دی( إِلَّا)مګر،یعني مګرنه دی دروند (عَلَى) پر(الْخَاشِعِينَ) (45)وېرېدونکېو، یاعاجزي کونکیو،یاخونداخستونکوله طاعت څخه دخدای جل جلاله ـ

تفصیل :

پوسه چي دیهودو ورئیسانوته دریاست پرېښوول اووعلماووته ئې دهغه جاه اوجلال چي دیهودو په منځ کښې ئې درلودی اودهغومالي کومکوچي یهودوبه ورسره کول داسلا م دمقدس دین دمنلوپه وجه پرېښوول ،اودارنګه ودغودواړو ډلوته اوعامویهودوته داسلام داحکاموپابنده کېدل اوداسلام دمنلوپه وجه چي کوم تکلیفونه ددوی ومخ ته راتلل دهغوی ګالل اوسربېره پردې دیهودیت دین چي له پېړیودوی عادت ورسره نیولئ وو پرمخ پرېښوول ډېرمشکل اوله طاقت څخه وتلي کارونه ښکاره کېدل.

نوالله پاک ودوی ته په دغه آیت کښې داسي طریقه ورښوولې ده چي په هغې سره دغه ټول کارونه چي ودوی ته مشکل معلو مېدل اسانه ګرځېدل چي هغه صبراولمونځ کول دي؛ځکه هر څوک چي له کومي سختۍ اومشکل سره مخامخ کیږي نوددې دپاره چي دغه سختي باندي اسانه سي اویا ورڅخه لیري سي اوخوشحالي ورباندي راسي، اوسره له دې الله پاک دقیامت په ورځ لوی اجرهم ورکړي بایددغه څوک له خدای‌پاک څخه کومک او مدد په صبر کولو او په لمانځه کولو سره وغواړي ځکه په صبر سره هم مشکل لري کیږي او په لمانځه کولو سره هم.

داسلام پیغمبر صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي «الصبرمفتاح الفرج » یعني صبر کِلي اوچابي دخوشحالۍ اودلري کېدو دغم دی مولانارومي رحمه الله تعالي فرمایلي دي : « صبرتلخ آمدولیکن عاقبت ،، مېوه شیرین دهدپر منفعت »

یعني صبرکول په سختي کښي خوپه ظاهره تریخ دئ خوپه اخیرکښي له فایدې اومنفعت څخه ډکه خوږه مېوه وصبرکوونکي ته ورکوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دارنگه دلمانځه په باره کښي په یوه حدیث کښي چي احمد اوابوداؤد اوابن جریرېي روایت کړیدی راغلي دي چي کله چي به دخدای رسول له یوه مشکل اودپرېشانی له کار سره مخامخ سو نو ولمانځه ته بې پناه وړله ،په یوه بل روایت کښي راځي چي چټکي بې کوله ولمانځه ته.

همدارنگه په یوه بل حدیث کښي چي امام تر مذي یې له عبدالله ابن ابي اوفي رضي الله عنه څخه اوپه مثل د دې ئې حاکم په مستدرک کښي روایت کړیدی،راغلي دي چي هرچاته که یو حاجت وخداي ته اویا ویو چاته له بني آدم څخه پیداسو نواودس دي وکړي بیادي دغه اودس نېک وګر ځوي یعني په صحیح طریقه سره دي اودس وکړي بیادي دوه رکعته لمونځ وکړي یعني نفلي دحاجت لمونځ بیادي خداي لره حمد و وایې بیا دي پرنبي صلي الله علیه وسلم باندي درود و وایې اوبیا دي دادعا و وایې « لااله الاالله الحلیم الکریم سبحان الله رب العرش العظیم الحمدلله رب العالمین أسئلک موجبات رحمتک وعزائم مغفرتک والغنیمة من کل بر والسلامة من کل اثم لا تد ع لي ذنبا الا غفرته ولاهما الافرجته ولاحاجة هي لک رضا الا قضیتها یا ارحم الراحمین ـ پوسه چي په سختئ کښي صبر کول اودارنگه په عبادت اولمانځه سره کومک غوښتل وهرچاته نه اسانه کیږي بلکه هغه څوک داکار کولای سي چي دخدای پاک له عبادت سره دونه تعلق لري چي خوند پر اخلي اودخدای وېره اوعاجزي اوتواضع پکښي موجوده وي ـ

پوسه چي ځني علماءد«بالصبر» معني په دغه آیت کښي په روژه سره کوي ، اوځني بیا له «والصلوة »څخه دلته دعا اخلي ،همدارنگه پوسه چي صبرپه شریعت کښي درې قسمه دی اول صبرکول پر عبادت باندي دوهم صبرکول له گناه څخه دریم صبر کول پر مصیبت باندي.

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**